**دکابل پوهنتون**

# د کابل پوهنتون کټلا ګ

**سال: ۱۴۰۱ هـ ش**

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتلاګ پېژندنه


| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند: | کابل پوهنتون |
| کتنپلاوی: | پوهنوال ډاکټر اجمل ښکلی، پوهنوال محمد شفیق وردک، څېړنوال رحیم الله حریفال، پوهندوی رحیم الله زیرک، پوهنمل شریف الله ایوبي، پوهنیار محموده تقوا، پوهنیار خاټول شفیق، پوهنیار ضیاء الاسلام شېرانی، پوهنیار شفیق الله امیرزی، پوهنیار عزت الله نورزی، پوهنیار صلاح الدین مومند، پوهنیار روح الله سروان، پوهنیار حسیب الله حسیب. د پښتو ډیپارټمنټ د ۱۴۰۱ هـ ل د ماسټرۍ دورې محصلین عبدالحق سلامزوی، ارباز خان ساپی او محمد مصطفی سمون. |
| د کتنپلاوي مشر : | د کابل پوهنتون رییس ډاکټر اسامه عزیز |
| منځپانګیزه بیا کتنه: | پوهاند محمد شفیع شریفي |
| ژبکتنه: | پوهنوال محمد شفیق وردک |
| چاپچارې: | پوهنیار علی امید، محمدحسین راسخ |
| چاپځی: | د کابل پوهنتون چاپخونه |
| د تالیف کال: | ۱۴۰۱ هـ لمریز |

# د پیل خبرې

الحمد لله و الصلاة والسلام علی رسول الله و علی آله و صحبه و من والاه؛

کابل پوهنتون په خپل څه کم یوه پېړۍ عمر کې د علمي، سیاسي و ټولنیز ځای ځایګي او بشري سرچینو له پلوه خورا لوړې ژورې تېرې کړې دي. یو مهال د نړۍ په پېژندل شویو او د سیمې په معتبرو پوهنتونونو کې شمېرل کېده او په ټولنه کې د یوه پاموړ، باوقاره او ملي بنسټ په توګه مطرح و، خو له بده مرغه بهرنیو تاړاکونو او کورنیو ستونزو پر مهال پرې دایره دومره راتنګه شوه چې د سلګونو کادرونو، زرګونو محصلینو، لسګونو زرو عنوانه علمي او څېړنیزو اثارو پر ضایع کېدو سربېره یې؛ ان خپله جغرافیه هم له لاسه ورکړه. الحمد لله د دې ستونزمنو شپو ورځو تر ګاللو وروسته دا دی یو ځل بیا کابل پوهنتون؛ خپل پخواني برم او علمي موقف ته ورو خو؛ کوټلي ګامونه اخلي.

د پوهنتونونو د پېژندنې او ټولنیز باور د ترلاسي لپاره د نړۍ ټول علمي- څېړنیز بنسټونه په تېره پوهنتونونه خپل خپل کټلاګونه خپروي، چې پر تاریخچې سربېره یې؛ یکې پراختیایي او پرمختیایي بهیر، علمي- څېړنیزې لاسته راوړنې، ستونزې او بریاوې له ټولنې سره شریکوي، چې دا چاره ورته په لنډ مهال کې دوه ګټې لري، یوه دا چې د خپلو معلوماتو، لاسته راوړنو، وړتیاو او ظرفیتونو د شریکونې له لارې ټولنیز باور ترلاسه کوي او دویمه دا چې خلکو ته فرصت ورکوي چې په اړه یې فکر وکړي او خپل نظرونه او وړاندیزونه ورسره شریک او له هغې نظرونو او وړاندیزونو څخه د خپلو پرمختیایي تګلارو په تدوین کې استفاده وکړي.

کابل پوهنتون هم اته دېرش کاله وړاندې پر ۱۳۶۳هـ ل کټلاګ خپور کړی و، چې له هغه وخته تر دا مهاله په افغانستان او نړۍ کې بلها بدلونونه، پرمختګونه او فرصتونه رامنځته شوي دي، نو اړینه ده چې کابل پوهنتون د نویو ملي او علمي- څېړنیزو اړتیاوو په پامنیوې خپلې موخې، لیدلوری، وړتیاوې او ان ستونزې له ټولنې سره شریکې کړي، له نېکه مرغه چې دا فرصت د کابل پوهنتون له نویمې کلیزې سره برابر شو.

هیله ده دا کټلاګ د کابل پوهنتون له درنو استادانو، محصلینو او اداري کارکوونکیو سره د خپلو چارو په علمي او کاري لیدلور ټاکنه کې مرسته وکړي.

کابل پوهنتون هر کال د دولسمو ټولګیو د زرګونو فارغانو کوربه وي چې د کانکور ازموینې له لارې بېلابېلو ډیپارټمنټونو ته راځي، خو د خپلې خوښې د رشتو په غوراوي کې له ستونزو او زړه نازړه توب سره مخ وي، دا کټلاګ به له هغوی سره هم مرسته وکړي چې د کابل پوهنتون د هر ډیپارټمنټ موخې، لیدلوری، ستراتیژیک اهداف، ټولنې ته وړاندې کېدونکې خدمات او ان درسي مضمونونه یې مطالعه او تر کره او دقیقې ارزونې وروسته د خپلې خوښې رشته انتخاب کړي، چې بې له شکه دا چاره به په اوږده مهال د ټولنې د مسلکي کونې پر لور یو مستحکم ګام وي.

دا کټلاګ ممکن ستونزې او تېروتنې هم ولري، خو تر کومه چې ما کتلي او ارزولی دی، باوري یم چې پورته یادو شویو موخو په رسېدو کې به ستونزې ونه لري. پر کټلاګ کارکوونکې کمېټه وار له مخه ټاکل شوې او مواد یې راټول کړي وو، چې زیاتره یکې د پوهنتون، بېلابېلو پوهنځیو، ډیپارټمنټونو او د پوهنتون اړوندو علمي- څېړنیزو مرکزونو پر تاریخچې تمرکز شوی دی دی، هڅه کوم چې د کټلاګ د لا مسلکي کونې، معیاري کونې او بډاینې لپاره یوه ځانګړې، فعاله او مجربه کمېټه وګومارم؛ چې د پوهنتون د ریاست تر مخامخ څار لاندې پر کټلاګ نور کار هم وکړي، چې د پوهنتون سلمې کالیزې په ویاړ د پوهنتون یو دقیق انځور له ټولنې او علمي کړیو سره شریک کړو.

د افغانستان د اسلامي امارت له چارواکیو او په تېره له لوړو زده کړو وزارته مخکې له مخکې مننه او هیله کوم چې له ورپېښو ستونزو څخه د پوهنتون په وتلو کې پاملرنه وکړي.

په پای کې د کابل پوهنتون د درې واړو مرستیالیو، د پوهنځیو د ریاستونو، د بېلابېلو امریتونو او د هغو درنو استادانو مننه کوم چې د دې کټلاګ په چمتوکولو کې یې مرسته کړې ده.

په دې هیله چې کابل پوهنتون یو ځل بیا د علم او څېړنې په ډګر کې د هېواد، سیمې او نړۍ د پېژندل شوي او معتبر پوهنتون په توګه خپل اصلي ځای ترلاسه کړي.

ډاکټر اسامه عزیز

د کابل پوهنتون رییس

# لړلیک


د کابل پوهنتون پېژندنه ........ ۱
موخې او پروګرامونه ........ ۳
د پوهنتون ریاست ........ ٤
د کابل پوهنتون شوراګانې ........ ۵
د کابل پوهنتون معاونیتونه ........ ۷
د علمي چارو معاونیت ........ ۷
د محصلینو د چارو معاونیت ........ ۱۱
د مالي او اداري چارو معاونیت ........ ۱۳
د کابل پوهنتون پوهنځي ........ ۱۵
د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي ........ ۱۷
د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی ........ ۲۰
د اقتصاد پوهنځی ........ ۲۷
د انجینیرۍ پوهنځي ........ ۳۸
بیولوژي پوهنځي ........ ٤۹
د معلوماتي ټکنالوژۍ پوهنځي ........ ۵٤
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ........ ٦۰
اروا پوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی ........ ۷۱
د ریاضیاتو پوهنځی ........ ۸۵
د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی ........ ۹۱
د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځی ........ ۱۰۵
د کرنې پوهنځی ........ ۱۲۲
د ځمکپوهنې پوهنځی ........ ۱۳۵
د شرعیاتو پوهنځی ........ ۱٤۸
د ټولنیزو علومو پوهنځی ........ ۱٦۱
د وترنري علومو پوهنځی ........ ۱٦۸
فارمسي پوهنځی ........ ۱۸۳
د فزیک پوهنځی ........ ۱۹۳
کمپیوترساینس پوهنځی ........ ۱۹۹
دکیمیا پوهنځی ........ ۲۱۱
د چاپېریال‌پوهنې پوهنځی ........ ۲۲۷
د ښکلو هنرونو پوهنځی ........ ۲۳٦
د کابل پوهنتون کمېټې ........ ۲٤۳
د مشاور او اروایي درملنې مرکز ........ ۲٤۵
د څېړنو او پالیسي ملي مرکز ........ ۲٤٦
په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) ........ ۲٤۷

# د کابل پوهنتون پېژندنه

ګران افغانستان چې بډای کلتور او اوږد و زرین تاریخ لري، د کابل پوهنتون بنسټ پکې د ۱۳۱۱هـ ل د لړم په میاشت کې د طب پوهنځي په جوړېدا سره کېښود شو. طب پوهنځي تر ۱۳٦۰ هـ ل د کابل پوهنتون برخه وه چې د ریاست چارې یې یوه ترکي پروفیسر ډاکټر رفیقي کامل بیګ پرمخبیولې او لومړني محصلین یې د کابل ښار د لېسو اته تنه فارغان وو. هغه مهال د طب پوهنځي لپاره ودانۍ او تر څنګ یې علي اباد روغتون جوړ شول.

د کابل پوهنتون د اوسنۍ محوطې بنسټ هم د طب پوهنځي له ودانۍ کېښود شو، ورپسې د ۱۳۱۷هـ ل د تلې پر یوولسمه د حقوقو او سیاسي علومو د اکاډمۍ په نامه دحقوقو پوهنځی تاسیس شو، چې د کابل ښار د لېسو د دولسمو ټولګیو پنځه فارغان پکې په تحصیل بوخت شول. تر حقوقو وروسته پر ۱۳۲۱ هـ ل ساینس پوهنځی رامنځته شو چې ۱٦ محصلینو پکې زده کړې پیل کړې. پر ۱۳۲۳ هـ ل د ادبیاتو چې وروسته د ادبیاتو او بشري علومو په نامه او اوس د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په نامه یادېږي د لسو محصلینو په درلودا سره پیل شو.

د ۱۳۲۵ هـ ل په وري کې څلور واړه پوهنځي د باچا اعلیحضرت محمدنادرشاه د یوه فرمان له مخې کابل پوهنتون کې شامل کړای شول چې ریاست یې د ډاکټر عبدالمجید پر غاړه و. له دې سره سم ورته «د کابل پوهنتون قانون» په نامه قانون هم تدوین شو چې په اوومه ماده کې یې راغلي وو.« پوهنتون د حقوقي شخصیت درلودونکی دی، چې نماینده ګي یې د پوهنتون د رییس پر غاړه ده او له مالي او اداري پلوه مستقل او محامخ د پوهنې وزارت ته مسؤول دی»

. کابل پوهنتون ته هله پام ورواوښت چې پر ۱۳۳۵هـ ل د سردار محمد داوودخان د صدارت پر مهال د افغانستان لومړنی پنځکلن اقتصادي پلان د دې پوهنتون د استادانو په مرسته طرح او د کاغذ پر مخ راوړل شو، چې له مخې یې کابل پوهنتون هم یو پنځکلن پرمختیایي پلان طرح او د دولتي چارواکو تاییدې یې پرې ترلاسه کړه.

له ۱۳۳۰هـ ل څخه تر ۱۳۴۰هـ ل پورې کلونه د کابل پوهنتون د پراختیا لسیزه بلل کېدای شي، پر ۱۳۳۰ هـ ل کال پکې په اسلامي زده کړو د سمبال ځوانانو د رزونې لپاره دشرعیاتو پوهنځی تاسیس شو، چې په دارالامان کې یې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي تر څنګه د شپاړسو محصلینو په درلودا پیل وکړ. پر ۱۳۳۳هـ ل د ښوونې او روزنې او پر ۱۳۳۵ هـ ل د کرنې او انجینرۍ پوهنځي جوړ شول چې پر ۱۳۴۲ هـ ل د کرنې او انجینرۍ پوهنځي د کرنې او انجنیري په دوو جلا پوهنځیو ووېشل شو.

پر ۱۳۴۰ هـ ل د حیواني طب، مالدارۍ د چارو، د څارویو له ناروغیو سره د مجادلې او حیواني سرچینو لرونکیو خوراکتوکو د کنټرول په برخه کې د ځوانانو د روزنې په موخه د وترنرۍ علومو پوهنځی تاسیس شو، چې ٦۰ محصلینو پکې مسلکي زده کړې پیل کړې.

پر ۱۳۳٦ هـ ل په هېواد کې د اقتصادي برخې د مخ په زیاتېدونکې اړتیا له کبله د دې رشتې د مسلکي کسانو د روزنې په موخه د اقتصاد عالي انستیټیوټ جوړ شو، چې پر ۱۳۳۷ هـ ل د اقتصاد پوهنځي ته لوړ او د کابل پوهنتون په تشکیل کې له نورو پوهنځیو سره یو ځای شو. دا لړۍ ونه درېده بلکې په کابل پوهنتون کې د عالي زده کړو مؤسسې یو په بل پسې جوړېدې چې ورسره دې علمي بنسټ هم ورځ تر بلې پراختیا موندله. پر ۱۳۳٦هـ ل په طب پوهنځي کې د ښځینه وو برخه پرانیستل شو چې ورسره ښځینه محصلینو هم د لوړو زده کړو مؤسسو ته لار ومونده. پر ۱۳۳۸ هـ ل د درملسازۍ په برخه کې د اړتیا د پوره کونې لپاره د فارمسۍ پوهنځی پرانیستل شو.

د یادونې وړ ده چې د ۱۳۴۲ په تله کې د پوهنې او کانونو او صنایعو وزارتونو په دویم پرمختیایي پلان کې د پولیتخنیتک انستیټیوټ جوړل هم په پام کې نیول شوي وو، هم کابل پوهنتون ته وسپارل شو. د نوموړي انستیټیوټ موخه په ښاري و صنعتي

ودانیو، سرکونو، بندونو، کانالونو، ویالو، د تېلو او ګازو د کانونو او نویو تخنیکي او کیمیاوي برخو کې مسلکي انجینیرانو روزنه وه چې پر ۱۳۴۸هـ ل د نوموړي انستیټیوټ لپاره د جلا ودانۍ تر جوړېدا وروسته په رسمي ډول پرانیستل شو.

پر ۱۳۵۸ هـ ل لـه ادبیاتو او **بشري** علومو څخه د جغرافیې او د علومو لـه پـوهنځي څخه د جیولوجي او میټرولوجي د ډیپارټمنټونو په جلا کېدو د دواوړ له مجموعي څخه د ځمکپوهنې نوی پـوهنځی جوړ شـو. همدارنګـه د تـاریخ، ژورنالېزم او ټولنیزو علومو له مجموعي څخه د ټولنیزو علومو په نامه نوی پوهنځی رامنځته شو. پر ۱۳٦۵هـ ل د ژورنالېزم ډیپارټمنټ له ټولنیزو علومو څخه جلا او د یوه مستقل پوهنځي په توګه تاسیس شو.

پر ۱۳۸۸هـ ل د لوړو زده کړو وزارت د مخکیني ستراتیژیک پلان له مخې د کابل پوهنتون په تشکیل کې د کمپیوټر ساینس پوهنځی جوړ شو چې په دې برخه کې پرتو اړتیاوو ته په پام د کمپیوټر په برخه کې د مسلکي کادرونو پر روزنې سربېره د لوړ زده کړو لپاره د لیسانس په کچه یوه غښتلې ببخښاء هم وي. دا پوهنځي د ساینس پوهنځي د کمپیوتر ساینس ډیپارټمنټ لـه ارتقـاء څخه چې پر ۱۳۸٦ تاسیس شوی و؛ رامنځته شو.

د ښکلیو هنرونو د پوهنځي بنسټیي طرح پر ۱۳۴۵ هـ ل جوړه شوې وه چې پر ۱۳۸۹ کال ورته جلا ودانۍ جوړه کړی شوه. پـر ۱۳۹۱ هـ ل د اداري او عامه پالیسۍ پوهنځی جوړ شو.

د چاپېریال ساتنې په برخه کې علمي او مسلکي کادردونو ته مخ په زیاتېدونکیو اړتیاوو له کبله پر ۱۳۹۲ کال د کابـل پوهنتـون او لوړو زده کړو وزارت په وړاندیز د وزیرانو شورا په تایید پر ۱۳۹۲ کال د چاپېریال ساتې پوهنځی جوړ شو، چـې ۴۳۰ محصـلین یې جدیدالشمول او ۱۵۰ یې د چاپېریال ساتنې او پېښو د مدیریت ډیپارټمنټ د بېلابېلو ټولګیو محصلین و.

پر ۱۳۹۳ هـ ل ساینس پوهنځي پر څلور جلا(ریاضیو، فزیک، کیمیا او بیولوژي) پوهنځیو ووېشل شو. پر۱۳۹۹ هـ ل د ژبو او ادبیاتو پوهنځی د داخلي ژبو او ادبیاتو او بهرنیو ژبو او ادبیاتو په دوو جلا پوهنځیو ووېشل شو.

د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ پوهنځی چې پر ۱۳۴۲ هـ ل د مخابراتو د تخنیکي ښوونځي په نامه جوړ شو و او پـر ۱۳۸٦ یې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژي وزارت تر قیمومیت لاندې د معلوماتي ټکنالوژۍ انستیټیوټ ته لوړ شو و، پر ۱۳۹۹هـ ل پـه بشپړ ډول د یوه مستقل پوهنځي په توګه د کابل پوهنتون پـه تشـکیل کـې شـامل کـړی شـو، چـې پـه دې سره د کابـل پوهنتـون د پوهنځیو شمېر دوه ویشتو ته ورسېد.

۱۳۹۰هـ ل کلونه د کابل پوهنتون په تاریخ کې د یوه استثنایي څپرکي په توګه د ځانګړنې پاملرنې وړ موده ده. په دې لسیزه کې کابل پوهنتون د لیسانس له کچې لوړ او د ماسټرۍ او پي ا ېچ ډي پروګرامونو پر لور یې یو بشپړتیایي پهیر پیل کړ. د ماسـټرۍ دوه پروګرامونه چې یو ځل یې د لغو څپېړه هم خوړلې وه له نوي هوډ سره پیل شوې. په دې لسیزه کې په کابل پوهنتون کې د ټـولنیزو اوو طبیعي علومو په برخو کې د ماسټرۍ دوه ویشت او د پي ایچ ډي دوه پروګرامونه پیل شول.

دا مهال په کابل پوهنتون کې په بېلابېلو ډیپارټمنټونو او پوهنځیو کې ٦۵۱ استادان په تدریس و څېړنه بوخت دي، چې زیـات شمېر د ماسټرۍ او پي ایچ ډي تر کچې زده کړې لري. د پوهنتون اداري چارې د ۳٦۰ اداري کـارکوونکیو لـه خـوا پـر مـخ بیـول کېږي. کابل پوهنتون دوه ویشت پوهنځي، یوسل یو ډیپارټمنټونه، د لیسانس اووه اویا، د ماسـټرۍ دوه ویشـت او د پـي ایـچ ډي دوه پروګرامونه څلور څېړنیز او څلور روزنیز مرکزونه لري. چې د لیسانس، ماسټرۍ او پي ایچ ډي په درېـو پروګرامونـو کـې پکـې دشپې او ورځې په سکشنونو کې ۲۴ زره محصلین په زده کړه بوخت دي.

**موخې او پروګرامونه**

کابل پوهنتون؛ د یوه پېژندل شوي، لوی او معتبر علمي بنسټ په توګه د مسلکي کادرونو د رزونې په لړ کې د خپلو پرله پسې زیارونو له کبله ځانګړی ټولنیز ځای ځایګی لري، په خپل ټول واک او ځواک سره په بېلابېلو برخو کې په ملي او اسلامي روحیه سمبالو بشري سرچینو د روزنې، د علم او پوهې د تولید او ترویج په برخه کې هڅه کوي.

**لیدلوری**

په ملي او نړیواله کچه د متخصصو، متعهدو او متدینو کادرونو د تربیې، علمي څېړنو او د علم د تولید او تحصیلي خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې د یوه معتبر او پېژندل شوي بنسټ په توګه د خپل ځای ځایګی تثبیت.

**دنده**

د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د پراختیایي بهیر ګړندي کولو په موخه په اسلامي او ملي روحیه د سمبالو، ژمنو او متحصصو کاردونو روزنه.

**عملي موخې**

1. د هېواد د ټولنیزې او اقتصادي ودې په لړ کې د علمي څېړنیزو هڅو په پامنیوي، د بشري پانګې د پیاوړتیا په موخه؛ د لوړو زده کړو وده او لوړتیا.
۲. د کاري مارکېټ د اړتیاو په پامنیوي په بېلابېلو رشتو کې د لیسانس، ماستر او ډاکتر په کچه په تیورۍ او عملي مهارتونو د سمبالو علمي کادرونو روزنه او پالنه
۳. د کتابتونو، ټولګیو، ټولنیزو او سپورتي کلبونو، تدریسي ځایونو، څېړنیزو لابراتوارونو، تمثیلي محکمو، تیاټر او تطبیقاتي راډیو او ټلویزیون توسعه
٤. د کادرونو د علمي- څېړنېزې سویې د لوړونې په موخه د لنډمهالو، منځمهالو او اوږدمهالو پروګرامونو طرح .
٥. له ټولنیزې اړتیا سره د معاصر، اغېزناک او فعال درسي میتود سره سم د درسي پروګرامونو پراختیا او نوی والی.
٦. د تدریس او تیزیسونو د فاع پر مهال د اکاډمیک نظم او ډسپلین رامنځته کول.
۷. د علمي- تخصصي کادرونو او محصلینو لپاره د خدمتونو او کاري حالت د ښه والي په موخه د چارو تنظیم.
۸. د علمي غونډو (کانفرنسونو، سمینارونو، سمپوزییمونو او ورکشاپونو) دائرول.
۹. معیاري لوړو زده کړو ته د پوره لاسرسي لارسازي.
۱۰. د معیاري او غوره خدماتو د وړاندې کونې لپاره د مجهزو او پرمختللیو بېخبناو رامنځته کونه.

**۱. مدیریتي پروګرامونه**

- د مالي، اداري او علمي خپلواکۍ لپاره هڅې
- له فساد او بیوروکراسی سره مبارزه
- د علمي تړونونو(توامنیتونو) او نړیوالو اړیکو پراختیا.
- د مرستو راماتونه او د عایداتي سرچینو موندنه.

**۲. علمي پروګرامونه**

- د علمي او مسلکي کادرونو ګومارنه او روزنه
- د څېړنیزو چارو طرح او پرمخ وړل
- د علمي خپرونو پراختیا

- ✍ تر لیسانس پورته پروگرامونو پراختیا، غښتلتیا او معیاري کونه
- ✍ د تحصیلي نصاب پراختیا او بیا کتنه
- ✍ د درسي موادو او کتابونو نوي کونه او چمتو کونه
- ✍ د تدریس د میتودونو عصري کونه
- ✍ د نویو تحصیلي څانگو رامنځته کونه
- ✍ برېښنایي زده دکړې
- ✍ د ټکنالوژی او معلوماتي بېخ بناو پراختیا

**۳. معقولونه**

- ✍ د محصلینو جذب
- ✍ د کریډیټ سیسټم ته لارسازي
- ✍ د روزنیزو پروگرامونو د عملي چارو پراختیا او اسانونه
- ✍ کلتوري، هنري او سپورتي چارو ته لارسازي
- ✍ د کارموندنې، اروایي روغتیا، مشورې او روغتیایي خدمتونو وړاندې کونه
- ✍ د پوهنتون له چاپېریال سره د نویو چذب شویو محصلینو بلدونه.

**٤. بېخ بنایي پروگرامونه**

- ✍ د معیاري ټولگیو، لابراتوارونو او کتابتونونو چمتو او سمبالونه.
- ✍ د جمنازیوم، لوبغالي، اډیټوریمونو او کلنیکونو چمتوکونه؛
- ✍ د سمسورو سیمو رامنځته کول او چاپېریال ساتنه
- ✍ د موجودو ودانیو رغونه، د درسي ودانیو او استادانو او نورو کارکوونکیو ته د استوگنځیو جوړونه
- ✍ تشکیلاتی جوړښت

د کابل پوهنتون اوسنی تشکیل د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې په دې ډول دی:

## د پوهنتون ریاست

د هېواد په کچه یو وړ، علمي او تجربه لرونکی استاد د پوهنتون د رییس په توگه ټاکل کېږي، د پوهنتون رییس ټولې هغه دندې او مسوولیتونه پر مخ وړي چې د دې لوی ملي علمي مرکز د چارو د انسجام لپاره ورته قوانینو، لایحو او مقررو سپارلې وي. د کابل پوهنتون رییس د دې دندو پر ترسرینه مکلف دی: د کابل پوهنتون قانوني استازي، د علمي شورا ریاست او پر پرېکړو یې د عملي کېدا څار، د معاونیتونو، پوهنځیو، نورو اړوندو اداري واحدونو، د پوهنتون اړوندو ملکیتونو او شتمینو څارنه، د پوهنتون دننه د تحصیلي وضعیت د ښه والي او پراختیا په اړه د اړینو گامونو اخیستنه، په ملي او نړیواله کچه له نورو پوهنتونو او علمي بنسټونو سره د اړیکو ټینگښت، له قانون سره سم د علمي- څېړنیزو ټرونونو لاسلیك او نورې چارې یې قانون یې ورسپاري. د علمي چارو، محصلینو چارو او مالي او اداري چارې معاونیتونه د پوهنتون له رییس سره د چارو په اجراء کې لاس کوي. د پوهنتون د ریاست تشکیل په دې ډول دی؛




(دکابل پوهنتون د رياست تشکيل)

## د کابل پوهنتون شوراګانې

په کابل پوهنتون کې د هېواد د يوه لوی علمي او ملي بنسټ په توګه زياتره پرېکړې او تصميمونه د شوراګانو له لارې ترسره او اړوندو مرجعو ته استول کېږي. دلته د کابل پوهنتون بېلابېلې شوراګانې له اړوند مسوولیتونو او واکونو سره تشريح کېږي.

**علمي شورا**

علمي شورا د کابل پوهنتون تر ټولو لوړه اکاډميکه مرجع ده، چې د ډيپارټمنټونو او پوهنځيو د شوراګانو، د تقرر او انفکاک، علمي ترفيعاتو د کمېټو پرېکړو، د تګلارو د طرح، د څېړنيزو لارښودونو او نورو ټولو علمي چارو په اړه د بحث او تصميم نيونې صلاحيت لري.

د علمي شورا جلسه د کابل پوهنتون د رييس په مشرۍ جوړېږي چې علمي مرستيال يې د شورا د مرستيال، د استادانو امر يې د منشي او مالي و اداري چارو او محصلينو چارو مرستيالان، د پوهنځيو رييسان او د هر پوهنځي يو يو لوړ رتبه استازي[لړ تر لږه د پوهنوال علمی رتبې په درلودا سره] او د کابل پوهنتون کادري امران يې د غړيو په حيث ګډون کوي.

د کابل پوهنتون علمي شورا دا دندې او واکونه لري: په پوهنتون د څېړنو او تګلارو طرح او د لوړو زده کړو وزارت ته يې وړانديز، د دوره يي ياکتنې د کمېټې د علمي پروګرامونو ياکتنه، رد، په اړه يې وړانديز او يا يې تصويب، د څېړنيزو پلانونو ارزونه او په پوهنتون کې يې د تطبيق لپاره د لارښودونو وړانديز او د شرايطو په پامنيوي د لوړو زده کړو په تقنيني اسنادو کې د طرح يا تعديل وړانديز.

پر دې سربېره د کابل پوهنتون اړوندو علمي پروګرامونو، ډيپارټمنټونو او پوهنځيو د تاسيس، پراختيا، مدغمېدا يا منحلېدا ، تر ليسانس پورته علمي پروګرامونو او د ظرفيت لوړونې د لنډمهالو تخصصي-کورسونو د جوړېدا، د علمي کادر د غړيو د تقرر، انفکاک و تقاعد، د تحصيل د کچې او د لوړو زده کړو وزرات د اصولو په پامنيوي د علمي کادر د غړيو د علمي رتبو د تثبيت او د علمي کادر د غړيو د علمي سويې د لوړونې اړوند وړانديزونو ارزونه او نورې دندې او واکونه چې د لوړو زده کړو د تقنيني اسنادو له مخې ورکول کېږي؛ هم د علمي شورا په صلاحيتونو کې راځي.

د کابل پوهنتون دعلمي شورا پرېکړې په رسمي ډول(له نېټې او پروتوکول شمېرې سره) د پرېکړو په کتاب کې درج او ژر تر ژره اړوندو مرجعو ته استول کېږي.

**رهبري شورا**

دکابل پوهنتون دکاري ساحې پراختیا، دګومارونکیو د غوښتنې دکچې له امله د ټولنیزو بدلونونو او په نړیواله و ملي په تېره د لوړو زده کړو په کچه دکیفي معیارونو د سیالۍ له امله اړینه ده چې له حقوقي پلونه ځینې ګامونـه واخیسـتل شي، کابـل پوهنتـون لومړی ځل پر ۱۳۹۶هـ لمریز په دې تشکیل سره رهبري شورا تاسیس کړه.

دکابل پوهنتون د رهبري شورا غړي؛

- دکابل پوهنتون رییس د شورا د رییس په توګه؛
- علمي معاون د شورا د مرستیال په توګه؛
- د محصلانو چارو معاون د شورا د منشي په توګه؛
- د مالي او اداري چارو مرستیال د غړي په توګه؛
- د پوهنځیو رییسان د غړیو په توګه؛
- دکابل پوهنتون عمومي امران د غړیو په توګه.

دکابـل پوهنتـون د رهـبري شـورا واکونـه: د پوهنتـون اړونـد کمېټـو غـوراوی او پـر چـارو یـې څـار، دکابـل پوهنتـون د تړنونو(تواميتونو) د موادو برابرونه او په پلي کېدا کې يې اسانچاري، په سمسترواره بڼه د پوهنځيو د رييسـانو د راپورنـو اورېدنـه[ د پوهنتون مرستيالان او د پوهنځيو رييسان مکلف دي چې خپل راپورونه په ليکلـې بڼـه ترتيـب او شـورا تـه يـې وړانـدې کـړي]، د پوهنتون د اداري او حمايتي چارو د لا ښه والي په موخه اداري تصميم نيونه او له اکاډميکې ساحې ور هاخوا د ځينو مسالو پـه اړه پرېکړه او تصميم د بېلګې په ډول د استادانو او کارکوونکيو د شکايتونو اورېدنه او پر دې سربېره نور هغه مسـايل چـې د وخـت او ځايي غوښتنو له مخې لاربښودې شورا ته راجع کېږي.

**اداري شورا**

دکابل پوهنتون اداري شورا د پوهنتون د مالي او اداري چارو د مرستيال په مشرۍ رامنځته شوې ده، چې د پوهنتون د سرچينو د ښې کارونې او مديريت، علمي چارو ته د لاسرسۍ او د پوهنتـون د شـتمنو د سـاتنې او ژغـورنې پـه اړه د پرېکـړو مرجـع ده. د اداري شورا پرېکړې د پوهنتون د رييس تر تاييد وروسته د تطبيق وړ دی.

د اداري شورا غړي دا دي؛

- د مالي او اداري چارو مرستيال د شورا رييس؛
- د محاسبې امر غړی؛
- د خدماتو امر غړی؛
- د خپرونو امر غړی؛
- د مرکزي کتابتون امر غړی؛
- د ساتنې او ژغورنې(حفظ و مراقبت) امر غړی؛
- د ليليو امر غړی؛
- د زېرمتونونو(ډيپوګانو) عمومي امر غړی؛
- د پوهنتون د اداري واحدونو عمومي مديران چې د پوهنتون د معاونيتونو په تشکيل کې کار کوي؛ غړي.

دکابل پوهنتون د اداري شوار دندې: د پوهنتون د مالي او حسابي ستونزو حل، پوهنتـون د پـاکۍ، سمسـورتيا او ارام علمـي چاپېريال د رامنځته کېدا په موخه پرېکنده او جدي تصميم، د پوهنتون د امنيت په اړه مشوره او تصميم، د پوهنتون د لګښتي

بودجې د تدوین تصمیم، د پوهنتون د اداري چارو د ښه والي په موخه د پلانونو طرح او تطبیق او نورې هغه دندې چې د اړتیا پر مهال ورسپارل کېږي.

**کلتوري(فرهنګي) شورا**

د علمي او کلتوري غونډو د جوړېدا، د علمي و څېړنیزو سمینارونو او علمي- څېړنیزو بحثونو د اړتیا په زیاتېدا سره پر ۱۳۹۵هـ ل کال د کابل پوهنتون د علمي شورا د پرېکړې له مخې د کابل پوهنتون کلتوري شورا رامنځته شوه، چې د کابل پوهنتون ټول پوهنځي پکې کاري ونډه لري، په تېره د علمي او محفلونو او مجلسونو د جوړونې له لارې.

د کلتوري شورا رییس د درېو کالو لپاره د شورا د غړیو د پټو رایو له لارې غوره کېږي. نوموړې شورا یو مرستیال، د دارالانشاء مسوول او د علمي، شعر او داستان، مالي، ارتباطاتو، هنر او سپورت په نامه شپږ کمېسیونونه لري.

کلتوري شورا د تخصصپالنې د اصل په پامنیوي د کابل پوهنتون اړوند سمینارونو او غونډو د جوړېد مسوولیت لري.

**د ډیپارټمنټونو د امرانو شورا**

د کابل پوهنتون په اداره، مدیریتي چلن او علمي فعالیتونو کې د ژور بدلانه له امله دې موخو ته د رسېدا لپاره د کابل پوهنتون د امرانو شورا د جوړېدا پرېکړه وشوه، چې د علمي معاونیت په مشرۍ دایرېږي.

د کابل پوهنتون د ډیپارټمنټونو د امرانو شورا؛ د ډیپارټمنټونو د امرانو مجموعه ده چې د کابل پوهنتون د لارښودې شورا پرېکړې عملي کوي. پر دې سربېره د ډیپارټمنټونو امران باید د کابل پوهنتون د علمي فعالیتونو د مرکزي هستو په توګه د پوهنتون د راتلونکي په اړه د پوهنتون د عمومي موخو په پامنیوي خپلې مدیریتي- علمي طرحې او تصمیمونه ونیسي. د ټولو ډیپارټمنټونو امران د نوموړې شورا غړیتوب لري.

د نوموړې شورا دندې: د ډیپارټمنټونو د کمېټو ټاکنه، فعالونه او پر څارو یې څار، د ډیپارټمنټ په کچه د کیفیت لوړونې د چارو ارزونه، د ډیپارټمنټونو د علمي پروګرامونو د کالنۍ ارزونې د راپور او هڅو تحلیل او راپور او لارښودې شورا ته یې ورکول، د ډیپارټمنټونو د ستراتیژیکو پلانونو د بطبیق څارنه او ارزونه او نورې هغه دندې چې له وخت او شرایطو سره سمې ورته سپارل کېږي.

## د کابل پوهنتون معاونیتونه

## د علمي چارو معاونیت

علمي معاونیت د کابل پوهنتون په مهمو بستونو کې دی، چې پر علمي چارو سربېره یې ځینو امریتونه هم تر لاس لاندې دي. علمي معاونیت دویم بست دی چې لاندې دندې ترسروي: د پوهنتونو د رییس په نشت کې د هغه دندې پر مخ بیول، د پوهنځیو له اړتیا سره سم د علمي او قراردادي کادرونو په ګومارنه کې علمي او اصول اجراات؛ په پوهنتون کې د علمي او څېړنیزو پلانونو طرح او پلېینه؛ د پوهنتون د علمي مجلې او نورو خپرنیزو چارو مشري او څار؛ د پوهنتون علمي شورا ته د کاري پلان جوړول او د تصویب په موخه یې د هر کال په سر کې په علمي شورا کې وړاندې کول؛ د پوهنتون په اړه د مقررو، لایحو او طرالعملونو ځېرنه او ارزونه او د اړتیا پر مهال یې لوړو مراجعو ته د تعدیل وړاندیز کول؛ د درسي نصاب ارزونه او د وخت له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره یې د برابرولو وړاندیز؛ د محصلینو د علمي- ساحوي کارونو د ترسراینې لپاره د امکاناتو برابرول.همدا راز نورې دندې چې علمي معاونیت ته یې د ترسرولو دنده ورسپارل شوې ده.

د کابل پوهنتون ټول علمي پروګرامونه د تشکیلاتو له پلوه؛ د علمي معاونیت په واکونو کې راځي. پر لیسانس، ماستری او دوکتورا پروګرامونو سربېره ځینې امریتونه هم د علمي معاونیت برخه دي. البته د پوهنځیو په چوکاټ کې د لیسانس، ماستری او دوکتورا په کچه خپل علمي فعالیتونو پر مخ بیایي. دلته د علمي معاونیت تر لاس لاندې ټول امریتونه معرفي کېږي.

**د علمي معاونیت امریتونه او ښوونیز مرکزونه**

**۱- د حقوقي زده کړو ملي مرکز**

دا یو علمي تحصیلي بنسټ دی، چې پر ۱۳۷٦ هـ لمریز رامنځته شو. د دې مرکز موخه د عدلي او قضایي ادارو د کارکوونکیو د وړتیا لوړونې او د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو فارغانو تـه د محـاکمو او څـارنوالی اړونـد د عملي مهارتونو تدریس دی، چې له تشکیلاتي او بودجوي پلوه د یوه مستقل اورګان په توګه یې په کابل پوهنتون کې کار پیل کړ. دا مرکز هر کال د عدلیې وزارت، لوی څارنوالۍ، له درغلۍ سره د مبارزې د لـویې ادارې او د دولتـي او خصـوصي پوهنتونونـو د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځینو ۲۵۰ فارغان روزي. دا مرکز پر ۱۳۹۰هـ ل له بودیجې او تشکیل سره؛ په کابل پوهنتـون کـې مـدغم شو، چې لا ترې دمه فعال دی.

د دې مرکز دندې: ټاکلیو موخو ته د رسېدا لپاره؛ د حقوقي زده کړو اړوندو پالیسیو طرح، تسوید او مشري، د مرکـز د تمویـل لپاره د هېوادنیو قوانیو په پامنیوي د کورنیو او بهرنیو مرستو د ترلاسي هڅې، په مسلکي او حقوقي کانکور کې د ستاژرانو د شاملولو لپاره د معیاري لارو چارول جوړول؛ د علمي شورا په سلا د وړیا مرستو د وړاندیز طرح جوړول او له ملي او نړیوالـو مرسـتندویانو سره مخامخ اړیکه کول او نورې هغه دندې چې لوړ مقامونه یې د قوانینو، مقررو او نوموړې ادارې د موخو په پامنیوي ورسپاري.

**۲- د علمي څېړنو او علمي مجلو امریت**

دا مرکز پر ۱۳۴۲ هـ لمریز د یوه علمي او اکادمیک ارګان په توګه جوړ شو، دا ډول مرکزونه علمي او اکاډمیکو مرکزونو په تېره پوهنتونونو ته خورا اهمیت لري. همدې اهمیت ته په پام؛ پکار ده چې علمي څېړنې د ټولنې د اړتیا او هوسـاینې پـه پـامنیوي او د علمي و څېړنیزو بنسټونو د ضرورتونو له مخې د کره او معیارونو سټنډرډونو له مخې ترسره شي. د پوهنتونـو د علمـي کـاردونو لـه مهمو دندو څخه یوه هم علمي- څېړنیزو چارو ترسره کونه ده، چې په همدې لړ کې په کابل پوهنتون کې د علم پرمختیا ته پاملرنـه کېږي، په ملي کچ د ټیکنالوجۍ د دودونې هڅې کېږي او د کادرونو د سویې د لوړولو او د څېړنې د عاملو او د ښه کولو په موخه د تدریس بهر ځیرل کېږي.

د کابل پوهنتون د علمي څېړنو مرکز د پورتنیو موخو په ترلاسي او په طبیعي او ټولنیزو څـانګو کـې د علمـي څېړنـو د چـارو د انسجام، تنظیم او لارښوونې لپاره په ښه ډول خپلې چارې ترسره کوي. علمي څېړنیزې مقالې چې د علمـي کـادر د غړیـو لـه خـوا لیکل کېږي، د ټولنیزو علومو او طبیعي علومو په نامه دوو جلا جلا مجلو کـې خپرېږي. دا امریـت پـه بېلابېلـو پوهنځیـو کـې لـه خپرېدونکیو مجله لکه د ا رتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي له «ژورنالېزم» او فارمسی پوهنځي لـه «درمـل» مجلـې سره هـم همکـاري لري.

**۳- د مرکزي کتابتون امریت**

دا امریت د اړوندو لایحو او موخو په پامنیوي، د استادانو، محصلینو او نورو مراجعه کوونکیو لپاره د څېړنې لارسازي کوي. د کابل پوهنتون مرکزي کتابتون د پوهنتون له جوړېدا سره سم پر ۱۳۱۱ هـ ل کال تاسیس شـو چـې ورو ورو یـې د پرمختیـا پړاوونـه وهلي دي. یو مهال دا کتابتون د هېواد او سیمې په کچه په خورا مهمو کتابتونو کې شمېرېده. اوسمهال په دې کتـابتون کـې د بـېلا بېلو برخو اړوند شاوخوا یو لکو پنځوس زره کتابونه شته.

دا مهال مرکزي کتابتون دا شعبې لري: عمومي امريت، عمومي مسلکي مديريت، د کتلاگ د کارتونو مديريت، د کتابونو د وېش او تنظيم مديريت، د ريفرينس مديريت، د ټولنيزو علومو اړوند د افغانستان پېژندنې مديريت، د ساينسي-علومو اړوند د افغانستان پېژندنې مديريت او د جرايدو او مجلو مديريت. همدا راز د کتابونو د رغولو په موخه په کتابتونو کې د صحافت اداره هم لري، چې د کتابونو د خرابېدو مخه نيسي.

**۴- د استادانو د چارو امريت**

دا امريت د کابل پوهنتون له خورا مهمو امريتونو څخه دي، چې د استادانو او متخصصو علمي کاردونو د انکشاف او پرمختيا په برخه کې کار کوي. د استادانو د امريت په تشکيل کې د استادانو پر آمر سربېره د استادانو مديريت هم شته چې له استادانو سره پر همکارۍ سربېره ، د اسنادو د رسمي پړاوونو په طي کولو، د اړوندو اسنادو په ساتنه او ژغرنه او نورو ورسپارل شويو دندو کې د استادانو له امر سره مرسته کوي.

د استادانو د چارو د امريت دندې دا دي: د پوهنتون د تقرر او انفکاک د کمېټې له لارې د تقرر او د مراحلو د طي کولو په موخه د کادري غړيو د اسنادو څېړنه او دقيقونه؛ د علمي کادري غړيو د تقرر په اړه د غونډو جورول او په دې غونډو کې د منشي دنده اجراکول، د لوړو زده کړو د ملکي قانون پر بنسټ د کادري غړيود تقرری د اسنادو بشپړول، خونديتوب او د مراحلو طي کول؛ د بېلابېلو کمېټو او د پوهنتون د علمي شورا له لارې د استادانو د ترفيع د اسنادو څېړنه او بشپړول؛ د پوهنتون د علمي شورا د اجنډا جوړول او شريکول او د پوهنتون د علمي شورا پرله پسې غونډو لار هوارول؛ د متقاعدو استادانو ليست جوړول او په اصولي ډول يې مراحل بشپړول. همدا راز نورې دندې، چې د لوړو زده کړو ملکي قانون ورسپارلې دي.

**۵- د فوق ليسانس پروگرامونو امريت**

لوړې زده کړې، په تېره د ماسترۍ او دوکتورا په کچ لوړې زده کړې د هر هېواد يوه مهمه اړتيا وي. کابل پوهنتون همدې اړتيا ته په کتو د استادانو او د نورو ادارو او وزارتونو د کادري غړيو د ظرفيت د لوړولو په موخه ځينې پروگرامونه پيل کړي، چې په هېواد دننه ځينو مينه والو ته د زده کړو د بشپړولو امکانات برابر شي او له بله پلوه د هېواد د انساني سرچينو استفادې ته لار سازي وشي.

همدا لامل و، چې په ۱۳۸۵ هـ لمريز په ژبو او ادبياتو پوهنځي کې د ماسترۍ پروگرام بيا پيل شو، چې ورپسې په نورو پوهنځيو کې هم پيل شو، چې د کارونو د انسجام، همغږۍ، د کيفيت لوړونې بهير ارزونې ته يې يو امريت پکار و. دې اړتيا ته په کتو، پر ۱۳۹۲ کال په کابل پوهنتون کې د ماسترۍ او دوکتورا د پروگرامونو امريت جوړ شو.

د دکتورا لومړی پروگرام پر ۱۳۹۳ هـ ل د کابل پوهنتون ژبو او ادبياتو پوهنځي کې په پښتو او دري ژبه پيل شو. اوس کابل پوهنتون د ماسترۍ ۲۲ او د دکتورا ۲ پروگرامونه لري؛

۱. دا مهال په کابل کې پوهنتون کې په دې رشتو کې د ماسترۍ پروگرامونه شروع دي.
۲. د برېښنا او الکترونيک انجينرۍ د ماسترۍ پروگرام
۳. د انرجۍ د اغېزمنيا او نوې کونې ماسترې
۴. دعربي ژبې او ادبياتو ماسترې
۵. د پښتو ژبې او ادبياتو ماسترې
۶. د دري ژبې او ادبياتو ماسترې
۷. د مالي او بانکي چارو ماسترې
۸. د ا دارې او سوداگرۍ ماسترې
۹. د هستوي فزيک ماسترې

۱۰. د ځارویو د کلینیکي طب ماسټري
۱۱. د معلوماتي ټکنالوجی ماسټري
۱۲. د معلوماتي سیسټمونو ماسټري
۱۳. د تجسمي او ننداري هنرونو ماسټري
۱۴. د شریعت او قانون ماسټري
۱۵. د تفسیر او حدیثو ماسټري
۱۶. د پالیسی او عامه اداري ماسټري
۱۷. د نړیوالو اړیکو ماسټري
۱۸. د حیواني علومو ماسټري
۱۹. د اګرانومي ماسټري
۲۰. د جنډر او ښځینه مطالعاتو ماسټري
۲۱. د روزنیز مدیریت ماسټري
۲۲. د ریاضیاتو ماسټري
۲۳. د جزا او جرم پیژندنې ماسټري

پر دې سربېره په پښتو او دري کې د پي ایچ ډي په کچه پروګرامونه هم تاسیس شوي او دا مهال روان دي.

سربیره پر دې، ډېر ژر به په ارتباطاتو او ژورنالېزم، کیمیا او افغانستان پېژندنـه کـې د ماسـټری، او پـه عـربي او شرعیـاتو کـې د ډاکټری پروګرامونه پیل شي.

د ماستری او دوکتورا د پروګرام د چارو د لا انسجام، د کارونو د چټکتیا او د سمو پرېکړو پـه موخـه پـه کابـل پوهنتـون کـې د علمي معاونیت په مشری تر لیسانس لوړو زده کړو یو بورد هم شته، چې د ماستری او دکتورا لـه هـر پروګرامـه پکـې یـو یـو اسـتاد غړیتوب لري. پر دې سربېره چې کوم پوهنځي د ماستری او دوکتورا پروګرامونه لري، د پوهنځي په کچ تر لیسانس لوړو زده کـړو یوه کمېټه هم لري، چې د خپل پروګرام په اړه پرېکړې کوي.

**٦- د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکونې امریت**

دا امریت پر ۱۳۹۱ هـ لمریز د کابل پوهنتون پر تشکیل ورزیات شو، چې هممهاله ورسره د کیفیت لوړونې کمېټـه هـم جـوړه شوه. د دې امریت چارې دا دي: له رییس، مرستیالانو او د پوهنځیو له رییسـانو سره پـه مشـوره د پوهنځیـو د علمـي او تدریسي- چارو څار او کنترول، اړوندې سرچینې ته د نورو اجراآتو لپاره د کیفیت د لوړولو د کمېټې د مکتوبونـو او پرېکـړو اسـتول. همـدا ډول نورې دندې چې کیفیت د کنترول په موخه د خپل امر له خوا ورکول کېږي. د کیفیت د تضمین امریت له هر پوهنځي نه د یو یو استازي په لرلو سره ۲۲ غړي لري.

**۷- د استادانو د مسلکي پرمختیا امریت**

د کابل پوهنتون د استادانو د مسلکي پرمختیا امریت د پوهنتون د علمي کادرونو او کارکوونکیو د وړتیالوړونې په موخه د هغـو د علمي او مسلکي وړتیاوو د انکشاف لپاره رامنځته شوی دی چې د مسلکي پرمختیا د مرکز د کاردود( طرزالعمل) له مخې خپلې چارې پر مخ بیایي.

د مرکز په څېړنیزو، خپرنیزو، تدریسي، زده کړه یزو د مسلکي وړتیا لوړونې په برخو کې ډول ډول پروګرامونو د عملي کونې له لارې هڅه کوي چې په یادو برخو کې پرنې ستونزې هوارې کړي او دې ستر او لرغوني مرکز (کابل پوهتون) ته د ظرفیت لـوړونې لارسازي وکړي.

# د محصلینو د چارو معاونیت

دا د کابل پوهنتون له درېو معاونیتونو څخه یو دی، چې د محصلینو چارې تنظیموي، د محصلینو په اړه پالیسی جوړوي، دیپلومونه او ترانسکریپټونه وېشي، د محصلینو د شمولیت او فراغت اسناد ساتي، د نظم مقررات تطبیقوي، د جدیدالشمول محصلینو نوملیکنه کوي، لیلیو ته یې ورپېژني، د محصلینو د تبدیلی او تاجیل چارې ترسروي، د محصلینو سپورتي چارې څاري او د مهمو فعالیتونو پایلې جدول کوي. د محصلینو په اړه د دې معاونیت چارې په لایحه کې تنظیم شوې دي.

د دې معاونیت مهمې دندې دا دي: د محصلینو په چارو کې د کابل پوهنتون له رییس سره مرسته او د محصلینو د چار په اړه اړینې مشورې ورکول؛ د محصلینو د چارو اړوندو بنسټونو د چارو څار او مشري؛ د تدریسي چارو د ښه والي هڅې؛ د محصلینو اړوندو مقررو، لایحو او طرزالعملونو ارزونه او څېړنه؛ د ازموینو څار، د پوهنتون د کلني اکاډمیک تقویم جوړول او د پوهنتون علمي شورا ته یې د تصویب په موخه استول؛ د نویو محصلینو د جذب په اړه د اړینو ګامونو اخیستل؛ د محصلینو د پایلو ثبت؛ اکاډمیک تاجیل، د ازموینو د محرومانو او غایبو محصلینو تثبیت، د اداري معاونیت په مرسته د لوبو، هنري، ټولنیزو فعالیتونو په ګډون محصلینو ته له ټولګي بهر د سالمو بوختیاوو رامنځته کول؛ د دیپلومونو، تصدیقلیکونو، ټرانسکریپټونو او محصلینو ته د کارتونو وېش او تر فراغت وروسته یې راټولول.

د محصلینو چارو معاونیت د کابل پوهنتون د مستقیم څار په پایله کې د محصلینو لپاره ستاینوړ فعالیتونه ترسره کړي. دا معاونیت د لوړو زده کړو له قانون سره سم د محصلینو د چارو پر تنظیم او مدیریت کار کوي. دا معاونیت په خپل تشکیل کې څلور امریتونه لري:

۱. د محصلینو د چارو امریت
۲. ورزشي امریت
۳. د لیلیو امریت
۴. د محصلینو د خدمتونو د انسجام امریت

**۱- د محصلینو د چارو امریت**

دې امریت تر ۱۳۹۰ هـ ل مخکې د محصلینو د عمومي مدیریت په نامه فعالیت کاوه، چې پر همدې کال د محصلینو د چارو امریت ته لوړ شو. دا امریت د محصلینو د چارو په امریت کې خپلې چارې پر مخ بیایي. دا امریت یو منظم تشکیل لري، چې د ثبت او راجستر په مدیریت کې دوه کارکوونکي، د فارغانو په عمومي مدیریت کې دوه کارکوونکي او د ډیټابیس په مدیریت کې یو رسمي کارکوونکی او دوه خدماتي کارکوونکي لري.

**۲- ورزشي امریت**

دا امریت د محصلینو د چارو د معاونیت په چوکاټ کې خپل فعالیتونه کوي. دا امریت د بېلابېلو لوبو لپاره ډګرونه لري، چې د محصلینو د روزلو لپاره پر مسلکي استادانو سربېره قراردادي استادان هم د محصلینو د روزنې لپاره لري. دا امریت دا خپله دنده بولي، چې: د ورزش په برخه کې مخکښ محصلان په ګوته کړي او د روزلو لپاره یې اسانتیاوې برابرې کړي؛ په کابل پوهنتون کې ورزش عام کړي، د پوهنځیو د محصلینو ترمنځ د بېلابېلو لوبو سیالۍ جوړې کړي، نوې نوې لوبډلې جوړې کړي او لېواله محصلان ورته رامات کړي. همدا راز هغو محصلینو ته هم یو پلان ورکړي، چې ورزش په حرفوي ډول نه کوي.

سپورتي رشتې معمولاً په دوو برخو وېشل کېږي، ډله ییز او انفرادي. ډله ییزې رشتې لکه فوټبال، والیبال، کرکټ، بیسکټبال.... او انفرادي رشتې لکه پهلواني، جیدو، سامبوکرش، جي جیوسو، وشو، فټنس.

**۳- د لیلیو امریت**

د کابل پوهنتون، کابل طبي پوهنتون او ښوونې روزنې پوهنتون پر شرایطو برابرو محصلینو ته د لیلیې اړوندو خدمتونو برابرونه، د کابل پوهنتون مرکزي لیلیه دوه ودانۍ لري، هره ودانۍ په څلورو، څلور پوړیزو بلاکونو کې جوړه شوې، چې ۱۹۲ خونې لري او د ۱۵۳۶ محصلینو ظرفیت لري. د محصلینو چارو د معاونیت او پوهنځیو له لورې ورپېژندل شوي محصلین په لیلیه کې له دې خدمتونو برخمنېږي، کټ او بستره (ابابه)، خوراک او څښاک، برېښنا، مرکز ګرمي، د بایومیټریک سیستم او راجستر، کمپیوټرلب او انټرنیت، سپورتي پروګرامونه او د علمي و کلتوري پروګرامونه.

د یادونې وړ ده، چې پاسني خدمتونه د ۹۶ کسیز تشکیل په مټ برابرېږي او د مرکزي لیلیې د عمومي مدیریت، اداري معاونیت، د محصلینو د چارو معاونیت، د کابل پوهنتون د ریاست او د لوړو زده کړو د وزارت له خوا څارل کېږي او د کابل، کابل طبي، کابل پولیتخنیک او ښوونې روزنې پوهنتونونو د محصلینو پر مخ پرانیستل شوه، چې اوس د ۱۱۹۷ محصلینو ظرفیت لري.



د کابل پوهنتون د لیلیې یوه ودانۍ.

**۴- د محصلینو د خدمتونو د انسجام امریت**

د محصلینو د خدمتونو د انسجام امریت د کابل پوهنتون د محصلینو د چارو د معاونیت په چوکاټ کې فعالیت کوي، چې تر اوسه د (۳۰۰) شاوخوا ښځینه او نارینه محصلینو له بېلابېلو پوهنځیو د مایکرو سافټ افس، کسبونو او لیډرشپ کې زده کړې کړې، چې ګډونوالو محصلینو ته سرټیفکیټونه ورکړل شوي او په دې ډول هڅول شوي.

# د مالي او اداري چارو معاونيت

د مالي او اداري، د ساتنې او ژغورنې پاليسيو طرح او پلانول، د بودجې ترتيب او د تحقق څارنه يې، د بودجې دفاع، د بودجې په وېش کې د تدابيرو ترسرول، د ترانسپورت او معلوماتي ټيکنالوجۍ څار او کنترول او د کارکوونکيو گومارنه د دې معاونيت مهمې دندې دي. د مالي او اداري چارو معاونيت د کابل پوهنتون په چوکاټ کې يو ادارکي بست دی، چې د لوړو زده کړو د ملکي قانون پر بنسټ لاندې مسؤوليتونه د پوهنتون د رييس له خوا ورسپارل شوي دي:

په مالي، اداري او خدماتي برخه کې د پوهنتون له رييس سره مرسته؛ په مالي، اداري او خدماتي برخه کې د پوهنتون رييس ته اړينې سلاوې ورکول؛ د پوهنتون د ناکاډميکو غړيو د تقرر، ترفيع او انفکاك په لړ کې قانوني اجراات؛ د پوهنتون د متقاعدو منسوبانو د تقاعد د حقوقو غم خوړل، د خپلو اړوندو دفترونو د فعاليتونو څار او مشري، په مالي وحسابي برخه کې قانوني اجراات ؛ د اړينو وسايلو پېر، د اموالوقيد، راټولول، د نورو اداري او مالي خدمتونو پر ترسراينه سربېره منسوبينو ته د ترانسپورتي اسانتياوو برابرول؛ د پوهنتون اړتياو ته په کتو پر عادي او پرمختيايي بودجه کار کول، د ودانيو د ساتنې اړوندو چارو، د پوهنتون د بېلابېلو ساحو د سمسورتيا، د روغتيايي شرايطو د ټينگښت، ودانيو ته د اوبو، برېښنا رسولو او د ودانيو د گرمولو، د کفتريا د سالمو خدمتونو او محصلينو ته د عملي کار د زمينې جوړولو په لړ کې گټور فعاليتونه ترسرول.

د مالي او اداري چارو د معاونيت تر څېر لاندې دا امريتونه خپل فعاليتونه ترسروي:

**د خپرونو امريت**

په دې امريت کې د اطلاعاتو اړوند چارې مديريت کېږي او د آثارو د خپراوي پر لارو چارو فکر کېږي. دا آمريت مجهزه چاپخونه لري چې د پوهنتون ټولې چاپچارې پرمخ وړي.

د دې امريت مهمې دندې دا دي: د کابل پوهنتون ويبپاڼې ته د خبرونو چمتو کول؛ د کابل پوهنتون له پاليسۍ سره د نشراتو د پاليسۍ جوړول او د نشراتو تصحيح؛ د کنفرانسونو، سيمينارونو، ورکشاپونو او له خپلو لاسته راوړنو او فعاليتونو د عامه پوهاوي لپاره د کابل پوهنتون د مقاماتو ځانگړې مرکو کول؛ د جريدو، مجلو او نورو اسنادو د چاپ او خپراوي لارښوونه؛ د تاليف شويو کتابونواو نورو آثارو د چاپ کنترول او څار.

**مالي او حسابي امريت**

دا امريت د عادي او پراختيايي بوديجې ټول لگښتونه څاري.

د مالي او حسابي امريت مهمې دندې دا دي: د مالي او اداري معاونيت په مرسته د کابل پوهنتون د رياست د عادي بودجې طرح جوړول او وزارت/ اداري ته يې وړاندې کول؛ د بودجې د دقيق تثبيت لپاره د عادي او پرمختيايي بودجې د ترتيب کنترول؛ په چارو کې د شفافيت په موخه عادي او پرمختيايي بودجې ته اغېزناك مالي سيستم جوړول؛ د م (۱۲) او م (۱۳) فورم د ثبت او معاملې په موخه د م(۱۰) فورم د حسابي اسنادو څار او راټولول؛ د حسابونو د تصفيې په موخه د پرمختيايي او عادي پروژو د فورمو جوړول؛ مخ حواله جاتو د برخې په مرسته وزارت ته د مياشتنيو لگښتونو د حسابي راپور استول؛ له اړوندو دفترونو سره د حسابي اسنادو معامله او داسې نورې دندې ترسروي، چې له قوانيو سره سم د لوړو مقامونو له خو وروسپارل شي.

**د بشري منابعو امريت**

د دې امريت لومړنۍ بڼه په ۱۳۱۵ کې د ذاتيه په نامه د تحريراتو د مديريت په نامه جوړه شوه، چې دوه کارکوونکي يې لرل. په ۱۳۲۵ کې يې د مامورينو د مديريت په نامه ارتقا وکړه. د کابل پوهنتون په چوکاټ کې يې پر ۱۳۴۳ کال د مامورينو عمومي مديريت ته لوړ شو او د استخدام، سوانحو او تصنيف مديريتونه پکې جوړ شول. دې مديريت تر ۱۳۸۹ په همدې نامه فعاليت

وکړ؛ خو په ۱۳۹۰ کال کې د بشري منابعو د امریت په نامه یاد شو، چې اوس یې تر څېر لانـدې د اسـتخدام، د زده کـړې او د اداري د پرمختیا او د سوانحو د ارزونې او ډیټابیس عمومي مدیریتونه کار کوي او د خوندیتوب او شکایتونو د اورېـدو مـدیریت ورسره فعالیت کوي.

د بشري منابعو مهمې دندې دا دي: د اداري د پروگرامونو او موخو د بـلـاینې پـه موخـه مـالي او اداري مرسـتیال تـه د سـلاوو ورکول؛ د پروگرامونو مدیریت او څار؛ د یوه کاندید د استخدام اړوند چـارو څـار، د اجراآتـو ارزونـه، انفکـاک، بـدلون، ترفیـع، تقاعد، مجازات، مکافات، شکایات، د کارکوونکو روغتیا، هوساینې، خوندیتوب، د اداري نظم او ډسپلین، د کارکوونکو ورځنۍ حاضري، د کارکوونکو د سوانحو د ډیټابیس د سیستم څار، د ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول. همدا راز د مامورینو د ظرفیـت د لوړولو په موخه د پلانونو جوړول.

**د خدمتونو امریت**

دا امریت چې په ۱۳۹۱ کې جوړ شوی، په پوهنتون کې ترمیماتي او زرغونتیا چارې ترسروي. تر دې امریت لاندې د حفـظ و مراقبت، ترانسپورت، د مېلمستون عمومي مدیریتونه او د کلوپ مدیریت خپلې چارې پر مخ بیایي.

**د معلوماتي ټینکالوجۍ امریت**

دا امریت پر ۲۰۰۳ کال د برلین د تخنیکي پوهنتون په مرسته جوړ شو. دا امریت د آی ټـي پـه برخـه کـې د پوهنتـون پـه کـچ محصلینو، کارکوونکیو او استادانو ته خدمتونـه وړانـدې کـوي. د دې امریـت موخـه د ټیکنـالوجۍ پـه برخـه کـې د الکترونیکـي خدمتونو او زده کړو جوړول دي.

**د تهیې او تدارکاتو امریت**

دا امریت د پوهنتون تدارکاتي چارې ترسروي. د دې امریت مهمې دندې: د قراردادونو د داوطلبۍ د اعلان خپراوی او د پېر د چارو کنترول، په دې امریت کې د فرمایشونو عمومي مدیر، د فرمایشونو مدیر، جنسي عمومي مدیر، د ډیپوگانو مدیر، د اجناسـو د محاسبې مدیر، د پېر مدیر او د تړونونو مدیر راځي.

**د کابل پوهنتون فزیکي اسانتیاوې**

کابل پوهنتون پر تدریسي ودانیو سربېره څو ایلډیټوریمونه هم لري چې یو یې د ۲۰۰ تنو بل یې د ۳۰۰ او دریم یې د ۱۵۰۰ تنو د ځایېدو وړتیا لري، چې زیاتره علمي غونډې په همدې دریو ایلډیټوریمونو کې کېږي. پر دې سربېره یو مېلمستون هم لـري چـې په ټولو اړینو وسایلو او امکاناتو سمبال دي چې زیاتره یکې بهرني استادان او مېلمانه اووسي.

### د کابل پوهنتون پوهنځي

پوهنځی د کابل پوهنتون ترټولو لوړ اداري او تدريسي واحد دی، چې په رأس کې يې د پوهنځي له استادانو څخه يـو تـن؛ د پوهنتون د رياست په وړانديز لوړو زده کړو وزارت لخوا د رييس په توگه گومارل کېږي. د پوهنځي ريـيس د هماغـه پـوهنځي لـه استادانو څخه وي، چې د رهبرۍ، مديريت او اداري چارو تر څنگ درسي مکلفيت هم لري. د پوهنځي رييس د لاندې دنـدو د ترسره کولو مسووليت لري:

### د پوهنځي د رييس د دندو لايحه

د ملکي لوړو زده کړو د قانون پر اساس د پوهنځي رييس لاندې دندې لري؛

۱. ټاکل شويو موخو ته د رسېدو لپاره د پوهنتون د عمومي پلان په پامنيوي سره د پوهنځي د مياشتنيو، درې مياشتيو او کالنيو پلانونو طرح؛
۲. د ستراتېژيک پلان پر اساس ټاکل شويو موخو ته د رسېدو لپاره د پوهنځي د اداري او اکاډميکو چارو مديريت او رهبري؛
۳. د تدريس د کيفيت د لوړاوي په موخه د تدريسي مېتودولوژۍ او درسي پلانونو د پلي کولو کنټرول او څارنه؛
۴. د پوهنځي د استادانو ترمنځ د تجربو شريکولو او د زده‌کړه‌ييز بهير د کيفيت د ښه والي په موخه د پاليسيو جوړول؛
۵. د درسي موادو د برابرولو، څېړنيزو چارو او ټاکل شوو موخو ته د رسېدو په برخه کې له کمي او کيفي اړخه د علمي کـادر د غړو د سويې لوړول؛
٦. د زده‌کړه ييزو چارو د ښه والي په موخه د نظم و ډسيپلين پالنه او څارنه، د هر سمسـټر د درسـونو او ازموينـو د مهـالوېش جوړول؛
۷. د کاري بهير د لا اغېزمنتيا په موخه د قانون د احکامو، مقررو، لايحو او د پوهنځي د علمي شورا د پرېکړو پلي کول؛
۸. له نورو ورته بنسټونو سره د علمي او اکاډميکو تجربو تبادله، چې په بېلابېلو زده‌کړه‌ييزو برخـو کـې د يـو بـل لـه علمـي او څېړنيزو لاسته راوړنو څخه هممهاله معقوله گټه پورته کړي؛
۹. د پوهنځي د کارکوونکو د څېړنيزو او تجربي پروگرامونو د ښه والي په موخه د مؤسسو او نورو ادارو د دوامداره همکـاريو د جلب په موخه د طرحو وړاندې کول؛
۱۰.د علمي کادرونو د سمبالتيا او اکمال په موخه د بشري او تخنيکي اړتياوو کنټرول او څار؛
۱۱.له نورو ورته داخلي او خارجي پوهنځيو سره د علمي- څېړنيزو تجربو د تبادلې او کاري اړيکې درلودو په موخه د پوهنتون رياست ته د اغېزناکو طرحو وړاندې کول؛
۱۲.د کاري کيفيت د لوړواوي په موخه تر خپل لاس لاندې کارکوونکيو د کار او کړنو کنټرول او څار؛

### د ډيپارټمنټ د امر د دندو لايحه

د ملکي لوړو زده کړو د قانون پر اساس د ډيپارټمنټ امر لاندې دندې لري؛

۱. د ډيپارټمنټ د جلسو مشري؛
۲. د لوړو بنسټونو پر وړاندې د ډيپارټمنټ استازولي؛
۳. د ډيپارټمنټ د کاري پلان او اجنډا جوړول؛
۴. د ډيپارټمنټ د پرېکړو اړوند اصولي اجراات، لکه: د ډيپارټمنټ د غړيو د تقرر، علمي ترفيع او انفکاک د اسنادو پـوره کول؛
۵. په ديپارټمنټ کې د درسي نصاب د تطبيق او په نظري، علمي او ساحوي توگه د درسونو د پرمختگ پر څرنگوالي څار؛

۶. د ډیپارټمنټ او پوهنځي د پرمختګ او ښه والي په موخو د نوښتونو وړاندې کول؛
۷. د ډیپارټمنټ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هڅې؛
۸. د ډیپارټمنټ د اکاډمیکو او اداري چارو تنظیم؛
۹. په اکاډمیکو فعالیتونو کې د ډیپارټمنټ د فعالو استادانو د ستاینې او د غیر فعالو او پر تخلفاتو تورنو استادانو لپاره د مجازاتو وړاندیز؛
۱۰. د پوهنځي ریاست او علمي شورا ته د ډیپارټمنټ د فعالیتونو راپور ورکول؛
۱۱. په هر سمستر کې د اکاډمیکو فعالیتونو او د ډیپارټمنټ د علمي کادر د غړیو ارزونه او د ډیپارټمنټ ناستې ته یې وړاندې کول؛
۱۲. نورې هغه دندې چې د قانون له حکمونو سره سم د ډیپارټمنټ په امر پورې اړه لري؛

**د تدریسي مدیریت د دندو لایحه**

عمومي تدریسي مدیر د پوهنځي د رییس تر مستقیم نظارت لاندې فعالیت کوي او د لاندې دندو پر ترسره کولو مکلف دی:

۱. ټاکل شویو موخو ته د رسېدو په پار د پوهنځي له پلان سره سم د اوونیز، میاشتني، درې میاشتني او کالني کاري پلان ترتیب او تنظیم؛
۲. په پوهنځي کې د جدیدالشمولو محصلانو د نوملیکنې، حاضرۍ او مهالوېش د ترتیب څارنه او کنټرول؛
۳. د ترانسکرپټونو او ډیپلومونو د جوړولو په موخه د محصلانو او فارغانو د جدولونو، اسنادو او سوابقو ترتیب او تنظیم؛
۴. په پوهنځي کې د نظم او ډیسیپلین په موخه د قانون د احکامو، مقررو، لایحو، کړنلارو او علمي شورا د پرېکړو پلي کول؛
۵. د وخت د ضایع کېدا د مخنیوي او د درسي بهیر د تنظیم په موخه د ډیپارټمنټونو د استادانو د مهالوېش ترتیبول؛
٦. د علمي شورا د کتنې او تأیید په موخه د استادانو د علمي ترفیع د اسنادو ترتیب، تنظیم او وړاندې کول؛
۷. د ډیپارټمنټونو د اړتیاوو او جوړ شوي مهالوېش پر بنسټ د ټېکنېشنو د تجربې او کتنیزو پلانونو ترتیب او نظیم؛
۸. د پوهنځي د شپې برخې او ماسټري دورې د موجودیت په صورت کې د استادانو د درسي مهالوېش تنظیم او ترتیب؛
۹. له کړنلارې سره سم د پوهنځي د محصلانو او فارغانو لپاره د سرټیفیکېټ، ترانسکرېپټ او ډیپلوم اجرا؛
۱۰.د تدریس اړوند نور هغه اجراآت چې د پوهنځي د ریاست لپاره ورته سپارل کېږي؛

د دې پر دوام د کابل پوهنتون هغه پوهنځي چې د لیسانس، ماسټري او دکتورا په کچه زده‌کړه‌ییز او څېړنیز فعالیتونه ترسره کوي، له خپلو ټولو زده‌کړه‌ییزو او څېړنیزو فعالیتونو سره په دریو برخو (لیسانس، ماسټري او دکتورا) کې معرفي شوي دي.

د کابل پوهنتون د اجتماعي او طبیعي علومو په برخو کې ۲۲ پوهنځي لري، چې د لیسانس، ماسترۍ او دکتورا علمي برنامو چارې پرمخ وړي.

# د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی



**۱- د پوهنځي پېژندنه**

د عامه ادارې او پالیسي پوهنځی پر ۱۳۹۰ هـ لمریز په کابل پوهنتون کې تأسیس شوی دی. دغه پوهنځی د تأسیس په لومړیو کې د سیاست، حکومتولی او د دولتي پراختیایي پروګرامونو د مدیریت په برخه کې د مختصصو کادرونو پر روزنه بوخت و. په دغه پوهنځي کې د زده‌کړو موده اته سمستره ده، چې په لومړیو دوو کلونو کې یې اساسي او پوهنتونشموله مضمونونه او په وروستیو دوو کلونو کې یې د عامه ادارې او پالیسي اړوند تخصصي مضمونونه تدریسیږي. په دې پوهنځي کې په ملي او انګلیسي ژبو تدریس ترسره کېږي، دا راز ټول عملي او نظري درسونه له نوې ټیکنالوژۍ څخه په ګټې مخته وړل کېږي او د لیسانس دوره د کاري زده کړې د یوې عملي دورې په ترسره کولو سره بشپړیږي. د پوهنځي درسي نصاب د افغاني ټولنې له غوښتنو سره سم په معیاري توګه د جرمني د پوټسدام پوهنتون له لوري او د جي آی زیډ (GIZ) موسسې په مالي ملاتړ جوړ شوی دی. یادو بنسټونو د دې پوهنځي د استادانو د ظرفیت لوړونې په برخه کې هم همکاري کړې ده. د دې پوهنځي محصلان د تیوریکو مسایلو د زده کړې تر څنګ په اووم او اتم سمستر کې د عملي زده کړو لپاره دولتي ادارو ته لېږل کېږي، چې د هغو نظري مسایلو عملي مشاهده وکړي چې دوی په پوهنځي کې زده کړي دي.

د عامه ادارې او پالیسي پوهنځي په لومړي کال کې ۱۰۰ محصلان درلودل؛ خو په را ورسته کلونو کې دا شمېر زیات شو. په ۱۴۰۰ کال کې د کانکور ازموینې له لارې دغه پوهنځي ته ۳۲۷ محصلان جذب شول. باید ووایو چې دغه پوهنځي ټولنې تر دې دمه د لیسانس په کچه اته دورې فارغان وړاندې کړې دي.

**۲- د پوهنځي موخې**

- د سالمې، ځواب‌ویونکې او وړ ادارې رامنځته کول،
- په دولتي ادارو کې د اصلاحاتو راوستو په برخه کې همکاري،
- د عامه خدمتونو معیاري کول،
- په عامه ادارو کې د خدمت کولو په موخه د وړ او ژمن کادر روزنه،

**الف. لیدلوري**

د عامه ادارې او پالیسي پوهنځی د یوه نوښتګر، منظم او پیاوړي پوهنځي توګه ژمن دی، چې د ټولنې د اړتیاوو او شرایطو په پامنیوي، د زده کړو او څېړنې له لارې د معیاري تحصیلي خدمتونو د وړاندې کولو له لارې د ښې حکومتولۍ د رامنځته کېدو په

موخه د مختصصو کادرونو په روزنه او د سالمې اداري لپاره د پراخو او کارنده پالیسیو جوړولو په برخه کې د هېواد په کچه د یـوه پیاوړي علمي بنسټ په توګه ځان مطرح کړي.

**ب. مأموریت**

د ښې حکومتولی، سیاستولی او دولتي سازمانونو د پراختیا په برخو کې د متخصصو کادرونو د روزنې لپاره د علمـي او عمـلي زده کړو رامنځته کول.

**۳- توأمیتونه**

د عامه اداري او پالیسي پوهنځي د خپل تأسیس له نېټې نه تر ۱۳۹۵ کال پورې د جرمني د پوټسدام پوهنتون سره د اسـتادان د ظرفیت لوړونې او درسي نصاب د تدوین په برخه کې توأمیت درلود.

**٤ ـ ډیپارټمنټونـه**

د عامه اداري او پالیسي پوهنځی درې ډیپارټمنټونه لري. دا ډیپارټمنټ فارغ ورکونکې نه دي، له همدې امله په عمـوم کـې د دې پوهنځي محصلان د رشتې له تفکیک نه پرته فارغېږي. دا پوهنځی د عامه اداري، عامه پالیسي او د پراختیا مدیرت ډیپارټمنټ لري.

**الف. د عامه اداري ډیپارټمنټ**

دا ډیپارټمنټ په ۱۳۹۰ کال کې د پوهنځي له تأسیس سره د دغه پوهنځي په چوکات کې په پام کې و. د یوې علمي رشـتې او دیسیپلین په توګه د عامه اداري له تأسیس څخه، مختلفو پوهانو خپل فعالیتونه د خپلو هېوادونو پر عامه ادارو د تحقیق او مطـالعې لپاره وقف کړي دي. د عامه اداري ډېری مضمونونه د اداري علومو له ډلې څخه دي، دغـه مضـمونونه تـر ډېـره د عامـه ادارو پـر جوړښت، د جوړښتونو پررتشکیلاتو، په عامه ادارو کې د ریفورم جوړول، له اداري فساد سره مبارزه، حقـوقي چوکاټونـه، د عامـه ادارو فعالیتونه او نورو موضوعاتو باندې خبرې لري.

**ب. د پراختیا د مدیریت ډیپارټمنټ**

دا ډیپارټمنټ له ۱۳۹۰ کال وروسته په دې پوهنځي کې تأسیس شوه. د درسي محتوا ساحه یې اداري علوم او دولتي سازمانونو پراختیا جوړوي.

**ج. د عامه پالیسي ډیپارټمنټ**

دا ډیپارټمنټ په ۱۳۹۰ کال کې له پوهنځي سره همماله تأسیس شوه، چې د پروګرام جوړونې او دولتي سیاستولی په برخه کې علمي کادرونه روزي.

**ب. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د عامه اداري بنسټونه(۱) | PA160 | ۳ | ۱۵ | عامه اداره ۴ اداري فساد | PA510 | ۳ |
| ۲ | د سازمان او مدیریت بنسټونه | PA110 | ۳ | ۱۶ | دولتي محاسبه | PA520 | ۳ |
| ۳ | عامه اداره (۲) (سازمانونه) | PA270 | ۲ | ۱۷ | د بشري سرچینو مدیریت | PA530 | ۳ |
| ٤ | عامه اداره ۳ (بربنسنایي دولت) | PA310 | ۳ | ۱۸ | (پلانګذاری)/ ستراتېژیک مدیریت | PA540 | ۳ |
| ۵ | د سیمه‌ییزو حکومتونه اداره | PA420 | ۳ | ۱۹ | (۱)د عامه پالیسي جوړونې اساسات | PA550 | ۲ |

د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي/۱۹

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | د سازماني ارتباطاتو مدیریت | PA450 | ۳ | ۲۰ | مالي حقوق او بودجه | PA560 | ۳ |
| ۷ | په افغانستان کې عامه اداره | PA460 | ۳ | ۲۱ | پرتلیزه عامه اداره | PA570 | ۳ |
| ۸ | د سازماني شخړو مدیریت | PA660 | ۳ | ۲۲ | اداري ریفورم | PA710 | ۳ |
| ۹ | د پالیسي جوړونې اساسات۳ | PA610 | ۲ | ۲۳ | څېړندود | PA720 | ۳ |
| ۱۰ | د عمومي تدارکاتو مدیریت | PA620 | ۳ | ۲۴ | د هبرئ اصول او لارې چارې | PA730 | ۳ |
| ۱۱ | د سازماني چلن مدیریت | PA640 | ۳ | ۲۵ | د چاپېریال او طبیعي سرچینو مدیریت او پالیسي جوړونه | PA740 | ۳ |
| ۱۲ | د سازماني پراختیا مدیرت | PA650 | ۳ | ۲٦ | نړیواله دایمي پراختیا | PA750 | ۳ |
| ۱۳ | اداري اخلاقیات | PA670 | ۲ | ۲۷ | د معدنونو مدیریت | PA760 | ۲ |
| ١٤ | د پروژې مدیریت | PA840 | ۳ | | | | |

# د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی




**۱. د پوهنځي پېژندنه**

په افغانستان کې د ژورنالېزم لومړنی تخصصي زده کړې پر ۱۳۴۰ هـ ل د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په چوکاټ کې پیل شوې چې لومړي فارغان یې ۱۷ تنه وو.

د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي پر ۱۳۶۵هـ ل د مطبوعاتو او راډیو ټلوېزویون په نامه د دوو ډيپارټمنټونو په درلودا سره د جلا پوهنځي په توګه پيل شو. د وخت په تېرېدا او په کريکولم کې د بدلونو له مخې د ډيپارټمنټونو نومونه هم بدل شو، راډيو ټلوېزون په ژورنالېزم او مطبوعات د عامه اړيکو پا يي ار په ناهه شول. پر ۱۳۹۷هـ ل د ارتباطاتو د مطالعې ډيپارټمنټ هم جوړ او په کانکور ازموينه کې FHI360 کوډ شمېرې سره راجستر شو. له تاسيسه تر ۱۳۹۹هـ ل د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي څلور سمستر عمومي لوستل کېدل، په پنځم سمستر کې محصلين پر دوو ډيپارټمنټونو وېشل کېدل، چې دا لړۍ د ۱۳۹۹ کانکور پر مهال پای ته ورسېده اوس د درېواړو ډيپارټمنټونو لپاره محصلين دکانکور له لارې راپېژندل کېږي او له لومړي سمستر جلا او تخصصي- زده کړې کوي.

په ژورنالېزم ډيپارټمنټ کې محصلين پر تيوريکي درسونو سربېره د راډيو او ټلوېزيون پرمختلليو سټوډيوګانو کې عملي چارې زده کوي چې تر فراغت وروسته د په رسنيو کې د وياند، رپورټر او د خپرونې د چلوونکي په توګه دنده ترسره کولای شي.

په عامه اړيکو ډيپارټمنټ کې هم پر تيوری سربېره عملي چارې د دولتي او نادولتي ادارو د عامه اړيکو د رياستونو يا مديريتونو د ليد کتو له لارې زده کوي او تر فراغت وروسته په همدې ادارو کې د عامه اړيکو د متخصص، کارپوه، رپورټر او... په توګه کار کولای شي.

د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي تر دې مهاله شپېته دورې فارغان ورکړي دي، چې د ژورنالېزم ډيپارټمنټ فارغان يې په غږيزو، انځوريزو او چاپي رسنيو او خبري اژانسونو کې او د عامه اړيکو فارغان يې د دولتي او نادولتي ا دارو د عامه اړيکو په ادارو کې پر دندو بوخت دي.

د ارتباطاتو او ژورنالېزم ودانۍ پوهنځي ودانۍ اووه ټولګي، یو کتابتون، د راډیو او تلویزیون سټوډیو، چاپخونه، د سلامشـورې مرکز او یو کانفرنس روم لري. د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی نصاب پر ۱۳۹۵ هـ ل د نړۍ له پنځو مشهورو پوهنتونو سره په ګـډه تعدیل او پر ۱۴۰۰ هـ ل د لوړو زده کړو وزارت د نصاب جوړونې تر کلستر وروسته پلی شو.

### ۲. موخې

د یوه هېواد پرمختګ او پرمختیا د علم او پوهې له پرمختګ سره تړلې ده، چې په دې برخه کې پوهنتونونه بنسټي ونډه لري. د زده کړو د کیفیت لوړونې لپاره پکار ده چې پر منځپانګه(محتوا) یې کار وشي. د زده کړې محتوا پر ځـای درېـدای نشي-ځکـه د خت په تېرېدو نوي بدلونونه او پرمختګونه راځي چې انسان اړ چې ځان ورسره برابر کړي

د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی هم له دې څخه مستثنی نه دی، چې د لوړو زده کړو د قانون په رڼا کې دا موخې پالي،

- د اطلاع رسونې د اصولو زده کړه او تدریس
- په بېلابېلو ځایونو او حالاتو کې د اطلاعاتو او ارتباطاتو د څېړندود زده کړه.
- د روانو واقعیتونو د خپراوي، ترتیب، راټولونې په برخه کې د ځوانانو رزونه
- اطلاعاتو د ترلاسي او خپراوي لپاره د لیکوالی، رپوټرۍ، او مرکې د لارو چارو تدریس
- په انلاین، چاپي او انځوریزو رسنیو کې د مسلکي چارو د ترسره کونې زده کړه
- د وینا د فن زده کړه

#### الف. لیدلوری

د سولې او میډیا پروډکشن د ډیپارټمنټونو پر تاسیس کـار د ارتباطـاتو او ژورنـالېزم پـوهنځي پـه لیـدلوري کـې شـامل دي. د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي هڅه کوي چې د تدریس د معیارو لارو، د زده کړو د کیفیت لوړونې او تخنیکي امکاناتو د برابرونې له لارې په رسنیزو چارو کې د څېړنې د پراختیا په مټ په ملي، سیمه ییزه او ان نړیواله کچه د ژورنالېستانو لپاره کار وکړي.

هڅه کوي چې تر راتلونکو اوو کالو پورې په کور دننه د ژورنالېزم په برخه کې ماسټرۍ او پي ایچ ډي پروګرامونه ولري.

#### ب.دنده

- د ارتباطاتو او ژورنالېزم په برخه کې پرمختیا او رسنیو د تولید په برخه د لارښود ونډه.
- د هېواد په کچه د وړ، مستعدو، مسلکي او پر نوې ټکنالوژۍ د سمبالو ژورنالېستانو روزنه
- د معیاري رسنیزو خدماتو له لارې د رسنیزو بنسټو پرمختیا
- د دې ځانګې کارکوونکیو ته د ژورنالېزم د معیاري زده کړو تدریس
- د اوسمهالو اړتیا سره سم د زده کړې د کیفیت او ظرفیتونوتو لوړونه
- په رسنیو کې د چلوونکي، د خپرونو د چمتو کوونکي، ایډیټر، خبریال او... په محصلانو دعلمي ظرفیتونو لوړونه.
- د ژورنالېزم، ارتباطاتو او عامه اړیکو په برخو کې دنوې څېړنو ترسره کونه.
- د ماسټرۍ او پي ایچ ډي د زده کړو د مرکز او د سیمې له هېوادو سره د یوه برابر مرکز په توګه د دې پوهنځي لوړونه.

#### ج.ارزښتونه

۱-د رسنیزو مسلکي اصولو( عدالت، انصاب او بې پرېتوب) پامنیوی

۲. د علمي، څېړنیزو او تالیفي اثرونو او رسنیزو خپرونو په تولید کې د کیفیت پامنیوی

۳. د کابل پوهنتون تر چتر لاندې د علمي، مالي او اداري استقلالیت ترلاسی

٤. ؛ په ټولو علمي او رسنيز چارو کې د روڼتيا اصل پامنيوی؛
٥. ملي او اسلامي ارزښتونو ته ژمنتيا او ربښتينوالي
٦. په ټولو علمي او رسنيزو چارو کې نوښت هڅې
٧. افغانستان ته د خدمت اراده

**ډيپارټمنټونه**

د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی درې ډيپارتمنټونه لري چې محصلين پکې مسلکي او لوړې زده کړې ترلاسه کوي، دلته هر يو جلا جلا معرفي کېږي.

**۱. د ژورنالېزم ډيپارټمنټ**

**۱. پېژندنه**

دا ډيپارټمنټ پر ۱۳٦٥هـ له د پوهنځي له جلاکېدو سره سم د راډيو او ټلوېزيون په نامه تاسيس شو، پر ۱۳۹٦ يې نوم د ژورنالېزم په ډيپارټمنټ واوښت چې هر کال د رسنيو په برخه کې لسګونه مسلکي کسان ټولنې ته وړاندې کوي. پخوا دې ډيپارټمنټ محصلينو ته د پوهنځي دننه د عملي زده کړو اسانتياوې نه وې برابرې خو د پوهنځي د نوي ودانۍ په ودانيدلو او د راډيو او ټلوېزيون پرمختللو ستوډيوګانو په جوړېدو سره محصلين هم خپلې عملي چارې د استادانو تر څارنې او لارښوونې لاندې همدلته ترسره کوي، د دې ډيپارټمنټ زيات استادان د ماسټرۍ په کچه زده کړې لري چې په هېواد او له هېواده بهر( روسيه، چين، هند او ايران)کې ترلاسه کړي دي.

**۲. لرليد**

د ژورنالېزم ډيپارټمنټ هڅه کوي چې محصلينو ته د وينا د ازادۍ په برخه کې د ملي او نړيوالو ارزښتونو په پامنيوي مسلکي زده کړې ورکړي. هڅه کوي چې د ماسټرۍ او پي ايچ ډي په کچه زده کړې پيل کړی.

**۳. دنده**

- د دې ډيپارټمنټ محصلينو ته د معياري او علمي ژورنالېزم زده کړه
- د اوسمهالو اړتياو سره سم د درسي محتوا او کيفيت لوړونه
- په رسنيو کې د چلوونکي، د خپرونو د چمتو کوونکي، ايډيټر، خبريال او... په محصلانو دعلمي ظرفيتونو لوړونه.
- بلند بردن قابليت‌های حرفه‌يی محصلان برای هماهنگی با بازار کار و دريافت توانايی‌های ارتباطی با محيط‌های کار؛
- په دې رشته کې د استادانو له خوا د علمي- څېړنيزو تحقياتو ترسره کول.
- د پوهنځي له لابراتوارونو او امکاناتو څخه مناسبه ګټنه
- د ماسټرۍ او پي ايچ ډي د زده کړو د مرکز او د سيمې له هېوادو سره د يوه برابر مرکز په توګه د دې ډيپارټمنټ لوړونه.

**٥. نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ارتباطاتو بنسټونه | CJGe1f08 | ۲ | ۱۵ | په راديو و ټلوېزيون کې خ بر ليکنه | CJGe4s03 | ۳ |
| ۲ | د افغانستان د ژورنالېزم تاريخ | CJGe2s03 | ۳ | ۱٦ | نوې(رسنيز) ټکنالوژی | CJGe4s04 | ۳ |
| ۳ | پـه مطبوعــاتو او ويـــب کــې خپرليکنه | CJGe3f03 | ۳ | ۱۷ | د خبرونو ايډيټ او مديريت | CJGe4s05 | ۲ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | فوتوژورنالیزم (نظری او عملی) | CJGe3f05 | ۴ | ۱۸ | په مطبوعاتو کې ګزارش لیکنه | CJGe4s07 | ۳ |
| ٥ | د نړۍ د رسنیو تاریخ | CJGe3f07 | ۲ | ۱۹ | رسنی او ټولنه | CJGe4s08 | ۴ |
| ٦ | د راډیوخپرونو تولید | CJJ5f01 | ۴ | ۲۰ | ټلوېزیوني راپور لیکنه | CJJ6s01 | ۳ |
| ٧ | رسنیز اخلاق او حقونه | CJJ5f03 | ۴ | ۲۱ | انلاین ژورنالېزم | CJJ6s03 | ۳ |
| ٨ | د چاپي رسنیو چمتونه اوچاپ | CJJ5f04 | ۳ | ۲۲ | په ټولیزو ارتباطاتو کې څېړندود | CJJ6s04 | ۲ |
| ٩ | د سوداګریزو اعلانونو بنسټونه | CJJ5f05 | ۳ | ۲۳ | څېړنیز ژورنالېزم | CJJ6s01 | ۲ |
| ١٠ | د خبر ایډیټ او مدیریت | CJJ5f06 | ۳ | ۲٤ | ویدیو ژورنالیزم | CJJ6s07 | ۳ |
| ١١ | ټلوېزیوني مستند | CJJ7f6s01 | ۳ | ۲۵ | د رسنیو مدیریت | CJJ8s01 | ۳ |
| ١٢ | پراختیایي ژورنالېزم | CJJ7f01 | ۲ | ۲٦ | د ټلوېزیوني خپرونو علمي کار | CJJ68s04 | ۴ |
| ١٣ | د ټلوېزیوني خپرونو تولید | CJJ7f01 | ۴ | ۲۷ | ډیټا ژورنالیزم | CJJ8s01 | ۳ |
| ١٤ | ګڼ رسنیز رپورټنګ | CJJ8s06 | ۳ | | | | |

### ۲. د ارتباطاتو د مطالعې ډیپارټمنټ

#### الف. پېژندنه

د ارتباطاتو د مطالعې ډیپارټمنټ پر ۱۳۸۷هـ ل د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي په چوکاټ کې رامنځته شو، چې د ارتباطاتو په برخه کې خورا پرمختللی تحصیلي نصاب لري.

#### ب. موخې

د دې ډیپارټمنټ د رامنځته موخه د مسلکي او علمي زده کړو د کیفیت لوړونه، کارپنځونه، په اوږده مهال د کاري تخصصي-وړتیاو وده او په ملي او نړیواله کچه د ارتباطاتو په برخه کې د اړتیاوو پوره کول دی.

#### ۱. لیدلوری

د ارتباطاتو د مطالعې ډیپارټمنټ بېلابېلې موخې لري، د دې ډیپارټمنټ فارغان په خصوصي او دولتي شرکتونو او مؤسسو کې کار کولای شي، په هره اداره کې د ارتباطاتو تنظیم او انکشاف یو اړینه چاره ده. بېلابېلې اداري د خپلو ارتباطاتو د تنظیم لپاره متخصصو کارکوونکیو ته اړتیا لري چې له نورو ادارو سره یې اړیکې تنظیم کړي. په دې ډیپارټمنټ کې په تخصصي-او مسلکي زده کړو سره فارغان دا وړتیا پیداکولا شي چې د کار په برخه کې ښه وځلېږي، له بېلابېلو ننګونو سره مبارزه وکړي او د ارتباطي مفاهیمو په ژور درک سره په اړوند مؤسسو کې ښه خدمات ترسره کړای شي او ځانته له کاري او فرهنګي پلوه یو ښه او مناسب چاپېریال برابر کړي.

#### ۲. دنده

د ارتباطاتو د مطالعې ډیپارټمنټ د تدریس د معیاري امکاناتو په مټ د دې برخې ژمنو او مستعدو محصلینو ته د ښې زده کړې اسانتیاوې برابروي. د خپلو محصلینو د وړتیا په لوړونه کې البته له مارکیټ سره اوږه په اوږه د ټولنې د اړتیاو د پوره کونې لپاره اغېزناک ګامونه پورته کوي، چې په پایله کې به یې په ملي او نړیواله کچه لایق اوکارپوه کادرونه وړاندې کړي.

#### ۳.ارزښتونه

- ✓ د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي، کابل پوهنتون او د لوړو زده کړو د تګلارو، قوانینو او پالیسیو پامنیوی.
- ✓ پر ورځینو معیارونو د برابرو محصلینو او مسلکي کسانو روزنه.

- ✓ د ډيپارټمنټ د استادانو او محصلينو د ټولو علمي- څېړنيزو چارو ملاتړ.
- ✓ د ډيپارټمنټ د غړو او محصلينو تر منځ د علمي، تدريسي او څېړنيزو چارو پر مهال د صداقت، اخلاقو او ژمنتيا پياوړي کول.
- ✓ د تدريس پر مهال د اطلاعاتي او ټکنالوژيکي پرمختياوو څخه استفادې، کريډيټ او کيفيت لوړونې ته ځانګړې پاملرنه
- ✓ د استادانو او محصلينو د مسلکي او علمي مهارتونو لوړونه
- ✓ د ارتباطاتو په برخه کې د څېړنې د نويو اصولو او لارو چارو د مهارتونو زده کړه.

د هېوادپالنې د روحيې د پراختيا په ميله د ټولو انساني، ملي او اسلامي ارزښتونو پامنيوي او د هر ډول ژبنيو، قومي او بېلتونپالو هڅو پر خلاف مبارزه د دې ډيپارټمنټ په اساسي ارزښتونو کې راځي.

**د. تحصيلی نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ارتباطاتو ته کتنه | C&J115 | ۳ | ۲۰ | رسنيز سواد | C&J550 | ۳ |
| ۲ | ارتباطات او انساني اړيکې | C&J17 | ۲ | ۲۱ | ارتباطات او شخړه | C&J551 | ۳ |
| ۳ | وګړمنځي ارتباطات | C&J18 | ۲ | ۲۲ | کمپيوټر | C&J552 | ۲ |
| ٤ | د کوچنيو ډلو لارښوونه | C&J19 | ۳ | ۲۳ | روزنيز ارتباطات | C&J655 | ۲ |
| ۵ | څېړندود | C&J224 | ۳ | ۲۴ | ګڼ رسنيز ارتباطات | C&J656 | ۳ |
| ٦ | د اطلاعـاتو او ارتباطـاتو نـوې ټکنالوژي | C&J225 | ۲ | ۲۵ | په سازمانونو کې مـديريت، رهـبري او قدرت | C&J657 | ۳ |
| ۷ | ټولنيزه هڅونه | C&J226 | ۲ | ۲٦ | پراختيايي ارتباطات | C&J659 | ۴ |
| ۸ | کلتور منځي اترباطات | C&J227 | ۳ | ۲۷ | مخاطب پېژندنه | C&J763 | ۳ |
| ۹ | کمپيوټر | C&J228 | ۲ | ۲۸ | د ارتباطاتو نظريې | C&J764 | ۲ |
| ۱۰ | احصاييه | C&J334 | ۲ | ۲۹ | سازماني ارتباطات | C&J765 | ۳ |
| ۱۱ | ناژبني ارتباطات | C&J335 | | ۳۰ | رسنيز کمپين | C&J766 | ۳ |
| ۱۲ | روغتيايي ارتباطات | C&J336 | ۳ | ۳۱ | کار زده کړه | C&J767 | ۲ |
| ۱۳ | کره کتنه | C&J439 | ۳ | ۳۰ | د کړکېچ ارتباطات | C&J870 | ۲ |
| ۱۴ | خبرليکنه | C&J442 | ۳ | ۳۳ | ډله ييز کار او اسانچاري | C&J871 | ۲ |
| ۱۵ | مرکه او استدلال | C&J44 | ۳ | ۳۴ | د ارتباطاتو قانون | C&J872 | ۲ |
| ۱۶ | د ويناوالي بنسټونه | C&J45 | ۲ | ۳۵ | مونوګراف | C&J873 | ٦ |
| ۱۷ | ويب پلټنه | C&J46 | ۲ | ۳٦ | کار زده کړه | C&J874 | |
| ۱۸ | ارتباطات او جنډر | C&J547 | ۲ | ۳۷ | تخصصي انګليسی | C&J875 | ۲ |
| ۱۹ | مرکه | C&J548 | ۳ | | | | |

**۳. د عامه اړيکو ډيپارټمنټ**

**د عامه اړيکو د ډيپارټمنت تعريف، لرليد، دنده، شعار، ارزښتونه او موخې**

**تعريف**

عامه اړيکې يو ستراتيژيک ارتباطي سيستم دی، چې د يـوه سـازمان او مخاطبـانو تـرمنځ پـر متقـابلو ګټـو او دومـدارپوهاوي ولاړې، اوږدمهالې ماناوالې اړيکې ټينګوي.

**لرلید**

د عامه اړیکو ډیپارټمنټ؛ د اسلام مبارک دین د اصولو، د هېواد د کلتوري شرایطو او د عامه اړیکو د مسلکیتوب په پامنیوی، د افغانستان د دولتی او نادولتي سازمانونو لپاره د عامه اړیکو د اغېزمنو او ټولګټو پروژو په برخه کې د پلان او تګلار جوړونې او د پروژو د ترسره کونې په موخه په تحصیلي او څېړنیزو برخو کې د لیسانس او ماسټرۍ په کچه تخصصي پروګرامونه وړاندې کوي.

**دنده**

د عامه اړیکو ډیپارټمنټ په خپله څلور کلنه تحصیلي دوره کې د رښتینیو، رغنده او پرانیستي مهارتونو په وړاندې کولو سره، په محصلینو کې د دې وړتیا پیدا کوي چې په دولتي او خصوصي مؤسسو کې د دوه اړخیزو ارتباطاتو په غښتلتیا کې خپل لاربښوونېز او تخصصي مهارتونه پلي کړای شي.

**شعار**

د عامه اړیکو دیپارټمنټ؛ د افغانستان په کچه د دوه اړخیز ارتباط لپاره یوازینی علمي او تخصصی مرکز.

**ارزښتونه**

- غوره والی، درناوی، اړیکې او لېوالتیا
- احتیاج او خدمتونه
- ستراتیژیکه سلا او ګډ کار
- له ټکنالوجۍ ګټنه
- تنوع او د فرصتونو رامنځته کونه
- دوامداره پرمختیا
- رښتینوالی، درېدا، امانت ساتنه او جوتتیا
- برتری، احترام ، مناسبات و جذابیت
- ټولنیزوالی
- تحلیلي ارزونه

**اصلي موخه**

د افغانستان د دولتي او نادولتي سازمانونو د مسلکي کونې او د ټولګټو پروژو د تګلارجوړونې، طرح او ترسرینې په برخه کې د مشورتي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د عامه اړیکو د متخصصو کادرونو روزنه او ورپېژندنه

فرعي موخې

۱. د عامه اړیکو فارغان به؛ د سازمان د فعالیتونو او مدیریت په برخه کې د خلکو، کارپوهانو او رسنیو د نظرونو او تحلیلونو د راټولونې او وړاندې کونې وړتیا ولري.
۲. د عامه اړیکو فارغان به؛ د سازمان د مدیرانو او کارکوونکیو تر منځ د پوهاوي د روحیې د پیاوړي کونې علمي وړتیا ولري.
۳. د عامه اړیکو فارغان به، د سازمان د کړو وړو په اړه د عامه افکارو د روښانونې په موخه؛ پر وخت د اطلاع رسونې وړتیا ولري.
۴. د عامه اړیکو فارغان به د کړکېچ د مخنیوي او د کړکېچ د مهال د ارتباطاتو د مدیریت وړتیا ولري.

۵. د عامه اړیکو ډیپارټمنټ؛ د عامه اړیکو د محصلانو په روزنې سره په اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي برخو کې د مسلکي ارتباطاتو بهیر بدای کوي.

**متوقعه پایلې**

- د ټولنیز عدالت، انساني کرامت او ملي هویت د ساتنې په موخه د دیني، ملي او انساني ارزښتونو دودونه.
- د افغانستان د کار په بازار کې د عامه اړیکو د متخصصینو روزنه
- په دولتي او خصوصي سکټر او نادولتي مؤسسو کې د دوه اړخیز ارتباطات پرمختیا.
- په هېواد کې د څېړنې، نوښت او تالیف پراختیا

**ج. تخصصي مضمونونه**

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د عامه اړیکو بنسټونه | CJPR0106 | ۳ | ۱۸ | تولید چند رسانه یی | CJPR0418 | ۳ |
| ۲ | د ارتباطاتو بنسټونه | CJPR0107 | ۳ | ۱۹ | بربښنایی عامه اړیکې | CJPR0419 | ۲ |
| ۳ | د عامه اړیکو تاریخ | CJPR0108 | ۲ | ۲۰ | کره کوونکې عامه اړیکې | CJPR0420 | ۲ |
| ۴ | عامه اړیکې او ټولنه | CJPR0209 | ۳ | ۲۱ | بازار موندیزې عامه اړیکې (MPR) | CJPR0421 | ۲ |
| ۵ | انځورګری | CJPR0211 | ۴ | ۲۲ | شرکتي عامه اړیکې | CJPR0522 | ۲ |
| ٦ | عامه اړیکلیکنه | CJPR0313 | ۲ | ۲۳ | سازماني ارتباطات او چلن | CJPR0524 | ۲ |
| ۷ | عامه وینا | CJPR0312 | ۳ | ۲۴ | همغـــږي بـــازار مونـــدیز ارتباطات | CJPR0525 | ۲ |
| ۸ | عامه اړیکتیوري او ماډولونه | CJPR0314 | ۳ | ۲۵ | سازماني ستراتیژیکه لیکنه | CJPR0526 | ۳ |
| ۹ | ټولنیزه هڅونه او نفوذ | CJPR0315 | ۲ | ۲٦ | د عامه اړیکو کیس سټډیز | CJPR0630 | ۳ |
| ۱۰ | سوداګریز تبلیغات | CJPR0416 | ۳ | ۲۷ | د عامه اړیکو مدیریت | CJPR0631 | ۲ |
| ۱۱ | رسنیزې عامه اړیکې (عملي) | CJPR0417 | ۳ | ۲۸ | عامه اړیککمپین | CJPR0632 | ۲ |
| ۱۲ | د عامه اړیکو اخلاق | CJPR0523 | ۲ | ۲۹ | پرمختللې عامه اړیکې | CJPR0633 | ۲ |
| ۱۳ | عامه اړیکحقونه او مقررې | CJPR0635 | ۲ | ۳۰ | عامه اړیکڅېړنه | CJPR0738 | ۲ |
| ۱۴ | کړکیچ ارتباطات او مدیریت | CJPR0736 | ۲ | ۳۱ | په عامه اړیکو کې د مېرمنو ونډه | CJPR0740 | ۲ |
| ۱۵ | دولتي عامه اړیکې | CJPR0737 | ۲ | ۳۲ | مونوګراف / انټرنشیپ | CJPR0741 | ۱۱ |
| ۱٦ | نړیوالې عامه اړیکې | CJPR0845 | ۲ | ۳۳ | په نادولتي ادارو کې عامه اړیک ې | CJPR0847 | ۳ |
| ۱۷ | برانډ جوړونه او مدیریت | CJPR0846 | ۲ | | | | |

# د اقتصاد پوهنځی



**۱ـ د پوهنځي پېژندنه**

په بېلابېلو اقتصادي برخو کې د ځانګړي او مسلکي پرسونل د روزنې په موخه د اقتصادي لوړو زدکړو فکر په هېواد کې د پينځه کلن اقتصادي او ټولنيز پلان شوي سيستم د مطرح کېدو او منل کېدو څخه وروسته منځ ته راغی. د همدې لپاره د هغه وخت پوهنې وزارت له لوري د داسې يوې مؤسسې د تشکيل لپاره د يو شمېر استادانو او متخصصانو يوه ګډه کمېټه جوړه شوه او د يادې کمېټې نظر د پوهنتون عالي شورا له تائيد څخه وروسته اړوند مقاماتو ته وړاندې شوه ،چې د هغې پر بنسټ په ۱۳۳۶ ه ش ۱۹۵۷ م د افتصادي زده کړو مؤسسه د اقتصاد انستېټيوټ په نوم د يو فرمان په صادرېدو منظوره شوه،چې په هماغه کال يې يوازې دربېم ټولګی درلوده،چې ۲۰ محصلا نو په کې زده کړې کولې،د تأسيس په لومړي کال يې څلور استادان درلوده، په داسې حال کې چې نوموړې مؤسسې په خپل جوړښت کې اته استادان اته مدرسين او اته اسستانټان درلودل. په هماغې کال کابل پوهنتون د درس دطرحې او پراختيا لپاره اتريشي عالم پروفيسور فونمن د مشاور په توګه وګوماره.د يادونې وړ ده چې نوموړی انستيټيوټ يو کال وروسته د پوهنتون د پوهنځيو په کتار کې شامل شو.

د پوهنځي د علمي پراختيا لپاره د استادانو د لازم وړانديز څخه وروسته په ۱۳۳۷کال محصلين لومړي ټولګي ته جذب شول،چې په هماغه کال د محصلينو شمېر ۹۰ تنو ته ورسېده. د يادونې وړ ده چې اقتصاد پوهنځي تر ۱۳۴۰ ه ش کال پورې د حقوقو پوهنځي سره ګډ درسي پروګرام درلوده،په ۱۳۴۰ ه ش تعليمي کال په پيل کې يې لومړی او دويم ټولګی له حقوقو څخه بيل او مستقل درسي پروګرام يې پيل کړ.

اقتصاد پوهنځي په ۱۳۴۱ ه ش کال کې د المان د کولن پوهنتون اقتصاد پوهنځي سره د تړون (توامیت ) تړون لاسليک کړ.په ۱۳۴۵ کال کې د المان د بوخو او بن پوهنتون په دې تړون کې شامل شول.

د يادونې وړ ده ،چې په ۱۳۳۹ ه ش کې ( اقتصادي څېړنې ) مجله د ياد پوهنځي د نشراتي ارګان په توګه خپره شوه.

پوهنځی د تأسيس له ورځې څخه تر اوسه پورې د اقتصاد په بېلابېلو ډيپارټمنټونو کې متخصص او مسلکي کادرونه روزي او د څلور کلنو درسي پروګرامونو په لړ کې يې لس زره فارغان ټولنې ته وړاندې کړي.

اقتصاد پوهنځي په اوس وخت کې د لېسانس په کچه د ورځې په برخه کې پينځه څانګې او د شپې په برخه کې درې څانګې لري او د اقتصاد او مديريت په برخه کې د ماستری دوه پروګرامونه لري ،چې ټولنې ته علمي کادرونه وړاندې کوي.

**۲ـ موخې**

**الف. لرلید**

د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځی ژمن دی،چې د معیاري زده کړو او علمي څېړنو په وړاندې کولو او ترسره کولو کې نه یواځې په افغانستان بلکې په سیمه کې د رهبرۍ دریځ ولري او د معیاري تحصیلي خدماتو د پراختیا له لارې د ملي او نړیوالو بنسټونو سره د پیوستون (توامیت) څخه په ګټه اخیستنې خپل دریځ وساتي او نور یې هم ځواکمن کړي.

**ب. دنده**

د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځی د هېواد په کچه د یو ستر علمي بنسټ په توګه د اقتصاد او مدیریت په ډیپارټمنټونو کې په شپه نیو او ورځنیو برخو کې ژمن دی چې:

ـ په لوړ کیفیت دتحصیلي او څېړنیزو چوپړتیاوو وړاندې کول؛

ـ د معصاصرو اقتصادي وړتیاوو او پوهې د لېږد زمینه برابرول او محصلانو ته د هغو ارزښتونو ښودل ،چې هغوی بریا ته رسوي؛

. د کار او مطالعې د امن اوسالم چاپېریال ملاتړ کول؛

. د پوهنځي د استادانو او محصلانو په لارښوونه د ښوونیزو پروګرامونو ،مشورو او څېړنیزو چوپړتیاوو وړاندې کول او په ټولنیزو ټولګټیو کارونو کې فعاله ونډه اخیستل؛

. د اقتصادي وړتیاوو د لېږد زمینه برابرول او هغه ارزښتونه ،چې محصلان د دې وړ وګرځوي ،ترڅو د ځانګړتیاوې په خپلو مسلکي ډیپارټمنټونو کې په بریالیتوب سره پلي کړي؛

. د اقتصاد په برخه کې د تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کول ،تر څو په ملي او نړیواله کچه د بازار اړتیاوې پوره کړي؛

. د استادانو د علمي کچې لوړول او د پوهنځي پیاوړتیا او ښه والی، ترڅو وکولی شي ابتدایي او پرمختللې څېړنې ترسره کړي،علمي سطح یې لوړه اود هېواد د دولتي ادارو شته ستونزو ته ګټورې حل لارې پیدا کړي؛

. په ملي او محلي سطح د دولتي بنسټونو ،سوداګریزو تصدیو،مدني ټولنو او ټولګټیو کارونو په بډاینه کې د استادانو ،کارمندانو او محصلاونو ونډه اخیستنه، باید وویل شي چې د اکار د پوهنځي د استادانو په لارښوونه د منظمو څېړنیزو چوپړتیاوو،مشورو او علمي پروګرامونو له لارې د محصلا نو لخوا ترسره کېږي.

**ج. بنسټي موخې**

۱. د اقتصاد او مدیریت په برخو کې د باکېفیته لوړو زدکړو برابرول؛

۲. د علمي کادرونو او اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛

۳. د اقتصاد او مدیریت په برخو کې د علمي څېړنو پیاوړتیا او ترویج؛

۴. د داخلي او بهرنیو اکاډمیکو بنسټونو او د کار د بازار سره د پیوستون(توامیت) لرل او د هغې پیاوړتیا؛

۵. د اقتصاد او مدیریت په برخه کې د غونډو ،علمي سیمینارونو او کنفرانسونو وړاندې کول؛

٦. د پوهنځي په ټولو برخو کې ریفورم او اداري اصلاحات؛

۷ـ داخلي او نړیوال اعتبار تر لاسه کول؛

۸ ـ د مالي ،فزیکي او بشري بنسټونو پرمختیا؛

**توأمیتونه**

اقتصاد پوهنځي له بېلابېلو کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره ځینې توامیتونه لاسلیک کړي دي چې په لاندې ډول یې یادونه کوو.

۱. د کارپنځونې او د کوچنیو ، ډېرو کوچنیو او منځینو تشبثونو د پرمختیا له ریاست سره د ۱۵/۸/۱۳۹۸ نېټې تفاهمليک.

۲. د اقتصادي پوهنځي او د هندوستان د Apeejay school of Management تر منځ ۲۴/۱۰/۲۰۱۷ نېټې تفاهمليک.

۳. د هندوستان له Amity University سره د ۲۴/۱۰/۲۰۱۷ نېټې تفاهمليک.

۴. د هندوستان له Jindal Global Business School سره ۲۳/۱/۲۰۱۷ نېټې تفاهمليک.

۵. له USWDP سره د ۱۷/۱۲/۲۰۱۴ نېټې تفاهمليک

٦. له UNFPA سره د ۳۰/۵/۲۰۱٦ نېټې تفاهمليک

۷. له باختر بانک سره د ۲۰۱۴/ ۱۱/ ۱ نېټې تفاهمليک

۸. د بشري ځواک د پراختیا او د پوهنتونونو د ملاتړ له پروګرام سره د ۳۰/۵/۲۰۱٦ نېټې تفاهمليک

۹. له بال ستېټ پوهنتون سره تفاهمليک

**لابراتوار او ښوونيز توکي**

اقتصاد پوهنځيي یو کمپیوټرلب لري،چې ۳۳کمپیوټرونه په کې دي او ټولې ځانګې ترې په مساوي توګه ګټه اخیستی شي.

**۵.ډیپارټمنټونه**

**د. اداري تشبثاتو اومنجمنټ ډیپارټمنټ :**

د مدیریت او اداري تشبثاتو ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځي په چوکاټ کې د لېسانس او ماسټرۍ په برخه کې د خدماتو په کولو کې یو مخکښ ډیپارټمنټ دی،ځکه د مدیریت او اداري تشبثاتو ډیپارټمنټ د پوهنځي له نورو ډیپارټمنټونو سره توپیر لري،ددې په نسبت چې یوه تحصیلي ډیپارټمنټ وي د یوې تحصیلي پروګرام سره ورته والی لري ،نوموړی ډیپارټمنټ د مالي مدیریت او خطر ،د بشري سرچینو مدیریت او بازار موندنې او تشبث د ښو کادرونو څخه جوړ شوی دی.

د منجمنټ او اداري تشبثاتو ډیپارټمنټ په ۱۹۷۴ م کال کې د اقتصاد پوهنځي په ملاتړ جوړ شو او د کار بازار اړتیا ته په کتلو د اقتصاد د تصدی په نوم یاد شو،په ۱۹۹۲ م کال کې ددې ډیپارټمنټ نوم شرایطو او اقتصادي وضعیت ته په کتلو د منجمنټ او صنعت په نوم یاد شو.په ۱۳۸۷ هـ ش کال کې د منجمنټ او صنعت ډیپارټمنټ د محاسبې ډیپارټمنټ سره یو ځای شو. او دا نوې ډیپارټمنټ یوځل بیا اقتصادي تصدی په نوم ونومول شوه .خوله هغې څخه څو کاله وروسته د افغانستان په اقتصاد کې د نوښتونو د رامنځ ته کېدو ته په کتلو د اقتصادي تصدی ډیپارټمنټ په منجمنټ او اداري تشبثاتو ډیپارټمنټ بانـدې واوښـت او دا نومونـه پـه نړیوال اقتصادي بازار کې د شته رقابتونو سره اړیکه لري.

په ۲۰۱۵ میلادي کال کې د یو ایس ایډ په تخنیکي او مالي ملاتړ د سوداګرۍ اداره د پوهنتونونو د ملاتړ او د افغانستان د بشري ځواک د پرمختیا په نوم د منجمنټ او اداري تشبثاتو په چوکاټ کې یـو پروګـرام جوړشـو. پـه افغانسـتان کـې وروسـتي اقتصـادي بدلونونه د دې سبب شول ،تر څو د اقتصاد پوهنځی د افغانستان د اقتصاد په رهبري کولو کې رغنده رول ولوبوي.

د افغانستان اقتصادي پیاوړتیا او رقابت د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي سره نه شلېدونکې اړیکې لري.

په ځانګړي ډول دغه وړاندیز شوی بدلون د منجمنټ او اداري تشبثاتو ډیپارټمنټ ته دا وړتیا ورکوي تر څو د افغانسـتان تـر ټولو ارزښتمنه پانګه یعنې بشري ځواک د لازمو وړتیاوو او مهارتونو په درلودلو سره و روزي او اقتصادي پیاوړتیا ته د رسېدو لپـاره یې ټولنې ته وړاندې کړي.

**ب ـ د ډیپارټمنټ موخې**:

**لرلید**

اقتصاد پوهنځي د منجمنټ او اداري تشبثاتو ډیپارټمنټ د کسب او کار د پراختیا لپاره د تشبثاتو مدیریت،باکېفیته او تحقیقي زدکړو په برخه کې د رهبرۍ رول ته ژمن دي.

**ماموریت**:

د کسب او کار د مهارتونو په وړاندې کولو سره د محصلانو د ځواکمنول او د تشبثاتو بریالۍ رهبري.دا ماموریت کولی شـو د لاندې مواردو له لارې لاسته راوړو:

ـ د محصلانو لپاره د ملاتړ کوونکي اکاډمیک چاپېریال برابرول؛

. د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو دتحصیلي نصاب پلي کول؛

. د محصل محوره تحصیلي کړنلارو په کار اچول؛

. د تشبثاتو او نورو بنسټونو سره ددوه اړخیزو اړیکو جوړول او ساتل

. د اوږد مهاله روزنیزو مهارتو سره د مصلانو بلدول.

**ج. تړونونه(توامیتونه)**

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د لېسانس او د اداري او تجارب ماسترۍ پروګرامونو د تخنیکي ملاتړ او ظرفیت لوړونې پـه مخه د امریکا د Ball State University ترمنځ د همکارۍ تړون.

**د. تحصیلی نصاب (تخصصی مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | Management | EC514 | ۳ | ۱۵ | Consumer Behavior | ECBA0549 | ۳ |
| ۲ | Introduction to | ECBA0131 | ۳ | ۱٦ | Investment | ECBA0549 | ۳ |
| ۳ | Principles of | EC130 | ۳ | ۱۷ | E-Commerce | ECBA0539 | ٦ |
| ۴ | Marketing | ECBA0334 | ۳ | ۱۸ | Marketing Research | ECBA0578 | ۲ |
| ۵ | Business | ECBA0435 | ۳ | ۱۹ | کار عملی | EC618 | ۳ |
| ٦ | Financial | EC230 | ۳ | ۲۰ | Business Research | ECBA0645 | ۳ |
| ۷ | Leadership | ECBA0874 | ۳ | ۲۱ | International Human Resource Management | ECBA0563 | ۲ |
| ۸ | Human Resource | EC713 | ۳ | ۲۲ | Entrepreneurship | EBA0642 | ٦ |
| ۹ | Project | ECBA0521 | ۳ | ۲۳ | Business Strategy | ECBA0642 | ۳ |
| ۱۰ | International | ECBA0540 | ۲ | ۲۴ | Seminar | EC7814 | ۳ |
| ۱۱ | Organizational Behavior | ECBA0436 | ۳ | ۲٦ | Strategic Human Resource Management | ECBA0873 | ٦ |
| ۱۲ | Cost Accounting | EC440 | ۳ | ۲۷ | Monograph | EC815 | ۵ |
| ۱۳ | Financial Management | EC714 | ۳ | ۲۸ | Total Quality Management | EC516 | ۳ |

**د مالي او بانکي چارو ډيپارټمنټ**

الف ـ د ډيپارټمنټ پېژندنه

په ۱۳۵۴ کال کې د نورو ډيپارټمنټونو سره درې نور ډيپارټمنټونه د سوداګرۍ ډيپارټمنټ،د پیسو او بانکدارۍ ډيپارټمنټ او د مالي چارو ډيپارټمنټ جوړ شول.چې د ۱۳۵۹ کال تر پایه يې په همدې نومونو خپلې چارې مخ ته وړې،په ۱۳۶۰ کال کې درې واړه ډيپارټمنټونو د سوداګرۍ مالي او کرېډټ د يوه واحد ډيپارټمنټ په توګه خپل فعالیت پیل کړ او تر ۱۳۶۹ کال پورې نوموړي ډيپارټمنټ د منجمنټ او سوداګرۍ ، مالي او کرېډټ په برخو کې تولنې ته محصلان وړاندې کړل.

په ۱۳۶۹ کال کې نوموړي ډيپارټمنټ د مالي او کرېډيټ ډيپارټمنټ په نوم ونومول شوه.په ۱۳۶۹ کال کې يې د ځینو دلایلو پر بنسټ د نوم د مالي او پولي چارو په نوم بدل شو،په پای کې د ډيپارټمنټ د پرېکړې ،د پوهنځي د علمي شورا او د ذیصلاح مقاماتو د منظورۍ څخه وروسته په ۱۳۸۷ کال کې خپل وروستی نوم د (مالي او بانکي چارو ) د ډيپارټمنټ نوم خپل کړ.

ب ـ د ډيپارټمنټ موخې:

۱:لرلید:

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د مالي او بانکي چارو ډيپارټمنټ ژمن دی چې په مالي برخه کې معیاري تحصیلي او څېړنیز خدمات وړاندې کړي او د مالي او بانکي سیستم د پیاوړتیا لپاره وړ کدرونه وړاندې کړي.

**۲ـ ماموریت:**

د مالي او بانکي چارو ډيپارټمنټ په هېواد کې د یوستر علمي بنسټ په توګه د لاندې مکلفیتونو تر سره کولو ته ژمن دی:

۱ـ د تحصیلي خدماتو ښه والی او پیاوړتیا،د سیمې په کچه د لوړ کیفیت څېړنو وړاندې کول؛

۲ـ په مالي او بانکي برخه کې د کار بازار اړتیاوو ته په کتو ،د زدکړې او مهارتونو د انتقال زمینه برابرول.

۳ـ د سټندرډ او باکیفیته نصاب تدوین؛

۴. په ملي او محلي سطح د دولتي بنسټونو ،سوداګریزو تصدیو،مدني ټولنو او ټولګټو کارونو په بډاینه کې د استادانو ،کارکوونکیو او محصلاونو ونډه اخیستنه، باید وویل شي چې د اکار د پوهنځي د استادانو په لارښوونه د منظمو څېړنیزو خدماتو ،مشورو او روزنیزو پروګرامونو له لارې د محصلانو لخوا ترسره کېږي.

**ج. د ډيپارټمنټ نصاب (تخصصي مضامين)**

**تحصیلي نصاب(تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د عامه مالي چارو اساسات | EC270 | ۳ | ۱۱ | عامه اقتصاد | EC544 | ۳ |
| ۲ | پولي اقتصاد | EC350 | ۳ | ۱۲ | بیمه | EC546 | ۲ |
| ۳ | سوداګریز حقونه | EC480 | ۳ | ۱۳ | بانکوالي | EC741 | ۲ |
| ۴ | د بودجې تیوري | EC540 | ۳ | ۱۴ | مالي سیاست | EC744 | ۳ |
| ۵ | د بودجې سیاست | EC643 | ۳ | ۱۵ | سمینار | EC844 | ۲ |
| ٦ | عامه اقتصاد | EC545 | ۳ | ١٦ | مونوګراف | EC845 | ۴ |
| ۷ | طبیعي سرچینې | EC647 | ۲ | ۱۷ | پوراخیستنه | EC843 | ۲ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | دولتي محاسبه | EC645 | ۳ | ۱۸ | پولي سیاست | EC842 | ۳ |
| ۹ | مالي او پولي بازارونه | EC646 | ۳ | ۱۹ | عملي چارې | EC648 | ۲ |
| ۱۰ | دمالي خطرانو مدیریت | EC743 | | | | | |

**د ملي اقتصاد ډیپارټمنټ**

**الف) د ډیپارټمنټ پېژندنه**

د ملي اقتصاد ډیپارټمنټ پخوا د پلان ګذارۍ په نامه یادېده. په ۱۳۵۲ کـال کـې د انکشـاف او پلانګـذارۍ تـر عنـوان لانـدې تأسیس شو. د نوي درسي پلان په منظمېدو سره یې نوم د ملي اقتصاد د پلانګذارۍ په ډیپارټمنټ بدل شو او اوس د مـلي اقتصـاد په نامه یادېږي..

**ب) د ډیپارټمنټ موخې**

**۱. لرلید:**

د ملي اقتصاد ډیپارټمنټ ژمن دی ،چې د لېسانس اوماسټرۍ په برخه کې وړ او ځوان نسل تـه د معیـاري تحصـیلي خـدماتو د وړاندې کولو زمینه برابره کړي، چې هغوی وکولی شي د مهمو او بنسټي زدکړو په کولو او د شرایطو او وخت غوښتنو ته په کتلو په دولتي مهمو ادارو کې دنده اجرا او هیواد او هېواد والو ته د خدمت جوګه وګرځي.

**. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | نام مضامین | کودنمبر | کریدت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د لوی اقتصاد بنسټونه(۱) | EC110 | ۳ | ۱۳ | سیمه ییز اقتثاد | EC622 | ۳ |
| ۲ | دکوچني اقتصاد بنسټونه(۱) | EC120 | ۳ | ۱۴ | د طبیعي سرچینو اقتصاد | EC627 | ۳ |
| ۳ | د لوی اقتصاد بنسټونه(۲) | EC210 | ۳ | ۱۵ | د پرمختیا سیاست | EC625 | ۲ |
| ٤ | دکوچني اقتصاد بنسټونه(۲) | EC220 | ۲ | ۱۶ | علمي کار | EC628 | ۳ |
| ٥ | د اقتصادي تیوریو تاریخ | EC360 | ۲ | ۱۷ | عمومي اقتصادي سیاستونه | EC722 | ۲ |
| ٦ | کوچنی اقتصادی | EC310 | ۳ | ۱۸ | څېړندود | EC725 | ۳ |
| ۷ | لوی اقتصاد | EC410 | ۲ | ۱۹ | مالي سیاستونه | EC724 | ۳ |
| ۸ | نړیوال اقتصاد(۱) | EC521 | ۲ | ۲۰ | سمینار | EC824 | ۳ |
| ۹ | د چاپېریال اقتصاد | EC524 | ۳ | ۲۱ | مونوګراف | EC825 | ۴ |
| ۱۰ | د پرمختیا تیوری | EC523 | ۲ | ۲۲ | اسلامی اقتصاد (اسلامی تمدن) | EC821 | ۳ |
| ۱۱ | د افغانستان اقتصاد | EC624 | ۳ | ۲۳ | ارزونه او څار | EC823 | ۳ |
| ۱۲ | نړیوال اقتصاد (۲) | EC621 | ۲ | ۲۴ | پولي تګلارې | EC822 | ۲ |

**داحصائیه او اکونومتری ډیپارټمنټ**

**الف. د ډیپارټمنټ پېژندنه**

د احصایې او اکونومټری ډیپارټمنټ په ۱۳۵۲ کال کې تاسیس شو،په نوي درسي پلان کې چې په ۱۳۶۵ کال کې پلی کېده په دې ډیپارټمنټ باندې یې د دیموگرافۍ او احصائې نوم کېښود،په هغه وخت کې په کې اوو داخلي او یو خارجي استاد د تـدریس چارې په مخ وړې،په ۱۳۷۴ کال کې یې نوم په احصایه او کمپیوټر باندې بدل کړ.په نوي نصاب کې دا ډیپارټمنـټ د احصـایې او اکونومټری په نوم ثبت دی.

**ب. د ډیپارټمنټ موخې**

**۱. لرلید**

د احصائې ډیپارټمنټ ژمن دی چې نه یوازې په افغانستان بلکې په سیمه کې د معیاري زدکړو او علمي څېړنو په وړاندې کولو سره د رهبری دریځ ولري او د معیاري او بې پرې روزنیزو خدماتو پـه وړانـدې کولـو سره د احصـائې ،پـه اقتصـاد کـې د ریـاضي کارونې،د شمېرنو تحلیل،ډیموګرافۍ او نفوس شمېرنې په برخه کې د معتبرو نړیوالو بنسټونو سره تړونونه ولري او په دې برخه کـې خپل دریځ وساتي او نور یې هم پیاوړی کړي.

**۲. مأموریت**

دا ډیپارټمنټ د احصایوي او په اقتصاد کې د ریاضي کارونې د زدکړې د یوازینی ځانګې په توګه د ورځې او شـپې پـه برخـو کې ژمنه ده ترڅو لاندې خدمات وړاندې کړي:

ـ د احصائې ،دیموګرافۍاود وګړو مطالعې په برخه کې د چوپړتیاوو وړاندې کول؛

ـ د احصایو د راټولونې، د ارقامو د ډلبندی ،د استنباطي اوتشریحي احصایي په مرسته د ارقامو تجزیـه او تحلیـل او د معـاصرو مهارتو او زدکړې زمینه برابرول او په دې مسلکي برخه کې د محصلانو روزل.

. د وګړنیو مطالعاتو په برخه کې د پوهې اومهارتونود لېږد زمینه برابرول؛

د استادانو د ظرفیت لوړونې په موخه د لوړو زدکړو لپاره هغوی بهرنیو هېوادونوته استول؛

**ج.تحصیلي نصاب (تخصصی مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د اقتصادي تیوریو تاریخ | EC260 | ۳ | ۱۶ | نړیوال اقتصاد(۲) | EC621 | ۳ |
| ۲ | د لګښتونو سنجش | EC440 | ۳ | ۱۷ | ریاضیاتي اقتصاد | EC532 | ۳ |
| ۳ | انګلیسي د سوداګری لپاره | Eng115 | ۲ | ۱۸ | د ملي عاید محاسبه | EC633 | ۳ |
| ٤ | دلګښتونو سنجش | EC440 | ۳ | ۱۹ | د بېلګ اخیستنې تخنیک | EC634 | ۳ |
| ۵ | تمویل او پانګونه | EC470 | ۳ | ۲۰ | انفارمیټیک | EC319 | ۳ |
| ٦ | انګلیسي د سوداګری لپاره | EC150 | ۱ | ۲۱ | د دیموګرافۍ بنسټونه | EC534 | ۲ |
| ۷ | نړیوال اقتصاد I | EC531 | ۳ | ۲۲ | عملي چارې | ECA617 | ۲ |
| ۸ | ریاضیاتي اقتصاد | EC532 | ۳ | ۲۳ | بربښنایي سوداګري | MGT320 | ۳ |
| ۹ | د پرمختیا تیوري | EC543 | ۳ | ۲۴ | عمومي اقتصادي سیاستونه | EC742 | ۳ |
| ۱۰ | د دیموګرافۍ بنسټونه | EC534 | ۳ | ۲۵ | خطي پروګرام جوړونه | EC733 | ۳ |
| ۱۱ | انفارمیټیک | EC319 | ۳ | ۲٦ | اکونومتری | EC734 | ۳ |
| ۱۲ | د پروژې مدیریت | MGT213 | ۳ | ۲۷ | سیمینار (څېړندود) | EC735 | ۳ |
| ۱۳ | سیمینار | MGT495 | ۴ | ۲۸ | اسلامي ا قتصاد | EC821 | ۳ |

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | EC734 | اکونومتری | ۲۹ | ۴ | ECOM490 | مونوګراف | ۱٤ |
| | | | | ۳ | EC833 | د شمېرو تحلیل | ۱۵ |

د محاسبې ډیپارټمنټ

**الف) د ډیپارټمنټ پېژندنه**

د محاسبې ډیپارټمنټ په ۱۳۹۵ کال کې د کار د بازار ته په کتلو دکابل پوهنتون،لوړو زدکړو او مالي وزارت تر منځ د هوکړې پربنسټ داقتصادپوهنځي په چوکاټ کې بیاځلي جوړ شو.

د دې ډیپارټمنټ د اکثرو مضمونونو تدریس په انګلسي ژبه دی، همدا راز د نوموړې ډیپارټمنټ تدریس د هغه تړون پر بنسټ چې مالېزیا اسلامي پوهنتون د نوماډیول د مسلکي پروګرام څخه هم برخمن دی،هغه محصلان چې د نوموړې ډیپارټمنټ څخه فارغېږي د لېسانس سند تر څنګ د نوماډیول د مسلکي محاسبې سند هم تر لاسه کوي چې نړیوال اعتبار لري،نو له همدې کبله په هېواد د مساعد وضعیت شتون او د مالېزیا د نړیوال پوهنتون محاسبې مسلکي پروګرام سره د تړون په لرلو سره به وکولای شي د کار د بازار سره سم مسلکي کدرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

**ب. موخې**

**۱. لرلید**

په علمي او مسلکي محاسبه کې په ملي او سیمه ایزه کچه د رهبرۍ دریځ درلودل دمحاسبې څانګې لرلید دی؛

**۲. مأموریت**

د یو رغنده سالم چاپېریال د پیاوړتیا اورغونې له لارې د محاسبې د مسلك پیاوړتیا او ښه والي ترڅومحصلان د علمي ،مسلکي او اخلاقي معیارونه په رڼا کې محاسبه زده کړي،چې په ملي اونړیواله کچه ننګونو ته ځواب وییونکي وي،پر دې سربېره نوموړی ډیپارټمنټ ژمن دی تر څو د معیاري او بې پرې زدکړییزو خدماتو په پراختیا او دملي او نړیوالو بنسټونو سره د پیوستون له لارې خپلو چوپړتیاوو ته نورو پراختیا هم ورکړي.

**تحصیلي نصاب( تخصصي مضمونونه)**

| کود نمبر | د مضمون نوم | ګڼه | کود نمبر | د مضمون نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|
| EC-A-631 | مالي مدیریت ۲ | ۱۴ | EC-A-110 | د مالي محاسبې اساسات ۱ | ۱ |
| EC-A-614 | پرمختللې مالي محاسبه | ۱۵ | EC-A-209 | نظري او عملي مدیریت | ۲ |
| EC-A-641 | دتفتیش او تضمین خدمتونه | ۱٦ | EC-A-211 | د مالي محاسبې اساسات ۲ | ۳ |
| EC-A-616 | مالیات | ۱۷ | EC-A-312 | دمدیریتي محاسبې اساسات | ٤ |
| EC-A-617 | عملي چارې | ۱۸ | EC-A-331 | سوداګریز حقونه | ۵ |
| EC-A-750 | سواګریز څېړندود | ۱۹ | EC-A-313 | منځنۍ محاسبه | ٦ |
| EC-A-715 | د اسلامي بانکونو محاسبه | ۲۰ | EC-A-424 | د لګښتونو مدیریت | ۷ |
| EC-A-746 | پرمختللې مالیات | ۲۱ | EC-A-422 | د شرکتونو حقوق | ۸ |
| EC-A-817 | دګروپي شرکتونو پرمختللې محاسبه | ۲۲ | EC-A-433 | د شرکتونو محاسبه | ۹ |
| EC-A-826 | عامه تدارکات | ۲۳ | EC-A-514 | د تفتیش بنسټونه | ۱۰ |

| کود نمبر | د مضمون نوم | ګڼه | کود نمبر | د مضمون نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|
| EC-A-851 | مونوګراف | ۲۴ | EC-A-540 | د عامه سکټور محاسبه | ۱۱ |
| EC-A-852 | سیمینار | ۲۵ | EC-A-545 | مالي مدیریت ۱ | ۱۲ |
| EC-A-530 | د اطلاعاتو د سیستم مدیریت/ سوداګریز ارتباطات | | | | ۱۳ |

**د اقتصاد پوهنځي د ماسټرۍ پروګرامونه**

**۱. د مالي او بانکي چارو د ماسټرۍ پروګرام**

**الف. د مالي او بانکي چارو ماسټرۍ پروګرام پېژندنه**

په مالي او بانکي برخه کې د ماسټرۍ پروګرام د پوهنځي د وړاندیز ،د کابل پوهنتون د فوق لېسانس کمېټې د تائید او د انسجام او اکاډمیکو چارو ریاست تر لیسانس پورته پروګرامونوکمیسون د تائیدد **۲۵/۹/۱۳۹۱**نېټې د **۳۵٦/۳۸۳**ګڼه وړاندیز او د علمي پروګرامونو د پراختیا ریاست د۱۳۹۱/۹/۲۸نېټې وړاندیز او د لوړو زدکړو وزارت د **۵٦۸۸/۴۲۴۹**ګڼې **۱۳۹۱/۹/۲۸**نېټې حکم پر بنسټ د **۱۳۹۲** کال په پیل کې د رقابتي ازموینې له لارې **۲۵** محصلان جذب او خپل فعالیت یې په شرایطو برابر استادانو په مټ پیل کړ.

پر دې سربېره د اقتصاد پوهنځي په **۱۳۹۳** کال کې د خپلې ماسټرۍ دویمه پروګرام هم د قانوني مراحلو تر بشپړولو وروسته د ملي اقتصاد په برخه کې پیل کړه او په څلورو دورو کې یې په ټولیز ډول **۹۹** محصلان فارغ کړي دي، خو په **۱۳۹٦** کال کې د ماسټرۍ پروګرامونو د پلټنې او ارزونې په لړ کې د ماسټرۍ دا پروګرام د مالي او بانکي چارو د ماسټرۍ سره مدغم او تدریجي لغوې وړاندیز یې هم د پوهنځي له لارې انسجام او اکاډمیکو چارو ریاست ته واستول شو او د لغوې منظوري یې واخیستل شوه.

**ب. دپروګرام موخې**

**۱. لرلید**

د مالي او بانکي چارو ډیپارټمنټ ژمن دی ،چې د مالي او بانکي چارو په برخه کې معیاري روزنیز او څېړنیز خدمات وړاندې کړي او د هېواد د مالي او بانکي چارو د پیاوړتیا لپاره ټولنې ته په کار پوه کادرونه وړاندې کړي.

**۲. مأموریت**

د مالي او بانکي چارو ډیپارټمنت د هېواد په کچه د مالي او بانکي چارو د یو سترعلمي بنسټ په توګه د لاندې مکلفیتونو ترسره کولو ته ژمن دی:

۱ـ د تحصیلي خدمتونو ښه والی او پیاوړتیا،د سیمې په کچه د لوړ کیفیت څېړنو وړاندې کول؛

۲ـ په مالي او بانکي برخه کې د کار بازار اړتیاوو ته په کتو ،د زدکړې او مهارتونو د انتقال زمینه برابرول؛.

۳ـ د سټندرډ او باکیفیته نصاب تدوین؛

۴ـ د څېړنو ،مشورو ،روزنیزو پروګرامونو او په خپلخوښي ډول په نورو کړنو کې د استادانو او محصلانو په ګډون له لارې د ټولګټو چارو په بډاینه کې د استادانو او محصلانو فعاله ونډه اخیستنه؛

**ج. تحصیلی نصاب( تخصصی مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پرمختللې مالي محاسبه | EC511 | ۳ | ۸ | پرمختللـــې مـــالي | EC524 | ۳ |
| ۲ | عامه بودجه | EC512 | ۳ | ۹ | نړیوال پـولي او مـالي | EC531 | ۳ |
| ۳ | په بانکي سیستم کې مدیریت | EC513 | ۳ | ۱۰ | اوسنی بانکداري | EC532 | ۳ |
| ۴ | څېړندود | EC514 | ۳ | ۱۱ | د ټولنیز سکتور مـالي | EC533 | ۳ |
| ۵ | پرمختللی ټولنیز اقتصاد | EC521 | ۳ | ۱۲ | مـــالي چـــارې او | EC534 | ۳ |
| ۶ | پلټنه او تفتیش | EC522 | ۳ | ۱۳ | د ماسټرۍ تېزس | EC542 | ۱۰ |
| ۷ | مرکزي بانک او پرمختللي پولي سیاستونه | EC523 | ۳ | ۱۴ | | | |

**هـ) تړونونه (توأمیتونه)**

د پـوهنې وزارت د کـارکوونکیو لپـاره پـه مـالي او بـانکي چـارو کـې د پـوهنې او لـوړو زدکـړو وزارت تـر مـنځ د تـړون لاسلیکول ۱۳۹۶/۱/۳۰

د لـوړو زدکـړو وزارت او د افغانسـتان بانـک ریاسـت تـر مـنځ د یـاد بانـک کـارکوونکو تـه د ماسـټرۍپروګرام د جوړولـو تړون۱۳۹۷/۶/۲۴

د لـوړو زدکـړو وزارت او د افغـان مـلي بانـک ریاسـت تـر مـنځ د یـاد بانـک کـارکوونکو تـه د ماسـټرۍ پروګـرام د جوړولـو تړون۱۳۹۷/۶/۲۴

**۲. د ادارې او سوداګرۍ ماسټرۍ پروګرام**

**الف) پېژندنه**

اقتصاد پوهنځي په ۱۳۹۵ کال کې د USWDP په مرسته د ادارې او سودګرۍ ماسټرۍ پروګـرام د قـانوني مراحلـو تـر بشـپړولو وروسته پیل کړ او په ۱۳۹۶ کال کې یې د لومړي ځل لپاره ۲۰ تنه فارغ کړل.

**(ب) موخې**

**۱. لرلید**

د اقتصاد پوهنځي د منجمنټ او اداري تشبثاتو ډیپارټمنټ د مدیریت او اداري تشبثاتو د پرمختیا په موخه باکیفیته او تخصصي زدکړو ته ژمن دی

**۲. مأموریت**

د کسب او کار د مهارتو او پوهې په مرسته محصلان د دې وړ ګرځول تر څو پیاوړې رهبري او مدیریت وکړي.

**۳. بنسټي موخې**

ـ د محصلانو لپاره د ملاتړ کوونکي اکاډمیک چاپېریال برابرول؛

. د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو دتحصیلي نصاب پلي کول؛

. د محصل محوره ښوونیزو کړنلارو په کار اچول؛

. د تشبثاتو او نورو بنسټونو سره ددوه اړخیزو اړیکو جوړول او ساتل

. د اوږد مهاله زدکړییزو مهارتو سره د مصلانو بلدول.

**ج. تحصیلی نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | دسوداګریزې ستراتیژۍ بنسټونه | MGT511 | ۳ | ٦ | کوچنی او منځنی اقتصاد | ECON527 | ۳ |
| ۲ | د بازار موندنې مدیریت | MKT512 | ۳ | ۷ | د تجارت حقوق او اخلاق | BL531 | ۱,۵ |
| ۳ | څېړندود | STAT513 | ۳ | ۸ | د نوي سازمان جوړول | MGT532 | ۳ |
| ۴ | د کمیت شننه | STAT514 | ۳ | ۹ | د مالي چارو شننه او مدیریت | ACC533 | ۳ |
| ۵ | د مالي چارو مدیریت | FIN521 | ۳ | ۱۰ | سازماني چلند | MGT534 | ۳ |

# د انجینرۍ پوهنځي




**د پوهنځي پېژندنه**

د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د انجیري پوهنځي د جوړولو طرح په ۱۳۳۵هـ ل کال کې عملي شوه. تر دې وړاندې افغان انجنیرانو په بهرنیو هېوادونو په تېره بیا په اروپايي او امریکايي هېوادونو کې زده کړې کولې.

په لومړي سر کې په ۱۳۳۵هـ ل کال کې د طبیعي علومو په چوکاټ کې د انجنیرۍ په نامه دیپارټمنټ جوړ شو. هغه مهال ۲۳ زده کوونکو په دې پوهنځي کې ده زده کړې لپاره نوملیکنه وکړه

په ۱۳۳۷هـ ل کال کې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې کې د (زراعت او انجنیرۍ)ګډ پوهنځی جوړ شو، چې د طبیعي علومو په پوهنځي کې د انجنیرۍ د ډیپارټمنټونه ځایناستی شو. .

په ۱۳۴۲هـ ل کال کې ګډ پوهنځی د انجنیرۍ او زراعت په نومونو په دوو بېلو پوهنځیو ووېشل شو او د خپلواکو اکاډمیکو بنسټونو په توګه یې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې فعالیت پیل کړ.

د تاسیس له پیله بیا تر ۱۳۵۷هـ ش پورې د دولت د ځانګړې پاملرنې او د بېلو پوهنتونو د همکارۍ په پایله کې دغه پوهنځی په ټوله سیمه کې بې جوړې او مشهور و. ددغه پوهنځي د لېسانس (B.Sc.) دیپلوم په سیمه ییزه او نړیواله کچه له ځانګړي اعتبار برخمن و. ددغه پوهنځي د تدریس ژبه له جوړېدو بیا تر ۱۳۵۷هـ ل کال پورې انګلیسيـ وه. له ۱۳۵۸ هـ ل کال وروسته ددغه پوهنځي ژبه له انګلیسي د هېواد په ملي ژبو پښتو او دري بدله شوه.

**موخې**

**الف لیدلوری**

انجینري پوهنځی هڅه کوي چې د زده کړو، خلاقیتونو د رامنځته کولو، دوامداره او مسلکي زده کړو د خدمتونو وړاندې کولو، تخصصي زده کړو، تحقیق او کارپنځونې په برخه کې یو فعال اکاډمیک بنسټ وي او تر څنګ یې له سیمه ییزو او نړیوالو علمي ټولنو سره فعال ګډون او همکاري ولري.

انجینري پوهنځی هڅه کوي چې روزنیز، مسلکي-تخصصي روزنه، باوري او ګټور خدمات په ټولنه کې ترسره کړي.

**ب. ماموریت**

د انجینرۍ پوهنځي ماموریت دا دی چې د تدریس چارې ښې کړي، د انجینرۍ، مهندسۍ او ښار جوړونې په بېلو څانګو کې تدریس، تحقیق او روزنه ترسره کړي. زموږ موخه دا ده چې په مسلکي او تخصصي توګه داسې کسان له دې پوهنځي فارغ کړو، چې په خپل مسلک کې له پوره مهارت برخمن وي او په اوسمهال کې په نړیواله کچه د مسلکي او بریالیو کسانو په توګه خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي.

**ج. بنسټي موخې**

انجینري پوهنځی هغه روزنه او څېړنې ترسر کوي چې پر بېلو نوښتونو ټینګار کوي، ټول درسونه، ویناوې، ازمویښتونه، تر ټولو نوې څېړنې او د محصلینو د روزنې لپاره وروستۍ نړیوالې روزنیزې څېړنې کاروي. په انجینرۍ پوهنځي کې محصلین تخصصي-پوهه ترلاسه کوي، دوی به د پوهې د پراخو محتویاتو د ترلاسه کولو لپاره متحرک او هڅاند وي، دوی اکاډمیک اخلاق خپلوي، حساس ذهنونه به ولري، د ټولنې اړتیاوې درک کولی شي، د ستونزو د کشف او حل وړتیا به ولري او د متقابل درک لپاره به د اړیکو قوي مهارت ولري.

د انجینرۍ پوهنځی غواړي چې ټول محصلین یې له تمې سره سم زده کړې ولري او په عالي درجه فارغ شي چې وکړی شي په نړیواله کچه خپله وړتیا ننداري ته وړاندې کړي.

انجینري پوهنځی ددې تر څنګ چې د خپلو کارکوونکیو او استادانو علمي کچې لوړولو ته ژمن دی، د لاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره یې د نصاب معیاري کول بله مهم لومړیتوب دی.

- د ټولنې او محصلینو اړتیاوو ته په کتو د باکیفیته تحصیلي خدماتو وړاندې کول.
- د نننۍ عصر له اړتیاوو سره سم د علمي څېړنو لپاره د امکاناتو او اسانتیاوو رامنځته کول او پراختیا.
- د روزنیزې ټکنالوژۍ د بېخبیناوو رامنځته کول او پراختیا.
- د سیمې او نړۍ له پوهنتونونو سره د علمي-روزنیزو تړامیتونو رامنځته کول.

**۳. تړامیتونه**

۱. تسلا د انجنیرۍ شرکت (Tesla Engineering Co.)
۲. د (ACG) انجنیرۍ شرکت.
۳. آریانا افغان هوایي شرکت (AAA).
۴. دینامیک ویژن شرکت (Dynamic Vision).
۵. لېمه مشورتي شرکت (LEMA Consultancy).
۶. د تخنیکي او مسلکي زده کړو خپلواکه اداره (TVET).
۷. د پلازمینې زون د پراختیا خپلواکه اداره (CRIDA).
۸. د ځیرکو ښارونو نړیواله اداره (WeGO).
۹. د کابل پوهنتون فزیک پوهنځی.

**۴. ډیپارټمنټونه**

انجنرۍ پوهنځی شپږ ډیپارټمنټونه لري، چې هره دیپارټمنټ د ټولنې اړتیاوو ته په کتو رامنځته شوې او فعالیتونه ترسره کوي:

**۱- د سېول انجینرۍ دیپارټمنټ**

**الف  د ډیپارټمنټ پېژندنه**

د سېول انجینرۍ دیپارټمنټ په ۱۳۳۵هـ ل کال کې رامنځته شوه، تکنالوژیکو او علمي تحولاتو ته په پام دغه ډیپارټمنټ په وروستیو دوو کلونو کې خپل نصاب او تحصیلی موخې نوې کړې دي او د اړتیاوو ارزونې ته په کتو یې بیا کتنه ورباندې کړې ده. په دې توګه دا ډیپارټمنټ محصلینو ته د معتبرو علمي څېړنو او معیاري روزنیزو خدمات ترسره کوي.

**ب  د ډیپارټمنټ موخې**

**۱- لیدلوری**

د سېول انجینرۍ دیپارټمنټ هڅه کوي چې ورې، تاریخ، طبیعت ملي او سیمه ییز فرهنګ ته په درناوي او همدا راز په نړیواله کچه لیدلوري لرونکي محصلین وروزي، چې د سېول انجینرۍ د ډیزاین او ستراتیژۍ، د پراختیا په برخه کې پالیسی جوړونې، د ترانسپورت په څېر د بیخبیناوو مدیریت، چاپېریال ساتنه، ښار جوړونه، د زیانونو کمولو او اطلاعاتو او انرژۍ په برخو کې ټولنې ته خدمات ترسره کړي.

**۱- ماموریت**

د ودانیو جوړولو، سرک او پل جوړولو او اوبو د سرچینو جوړولو لپاره د ژمنو، متخصصو، نوښتګرو، انجنیرانو د روزنې په موخه د علمي او کارېدنې ورې مهارتونو د پراختیا زمینه برابرول.

**۲- بنسټیزې موخې**

دا دیپارټمنټ هڅه کوي چې د لېسانس په دوره کې متخصص او ژمن انجنیران وروزي چې له لاندې وړتیاوو به برخمن وي:

- په انجینري-تخنیکي مؤسسو کې د تدریس وړتیا
- د صنعتي او استوګنیزو ښارګوټیو، د طراحی، تدوین، اجرا او ارزونې وړتیا لرل
- د سرک او لارې جوړونې د پروژو طراحي او اجرا
- په څېرکو ودانیزو چارو کې د علمي څېړنو وړتیا
- د ودانیزو پروژو د نظارتي برنامو د اجرا وړتیا
- د مسلکي-تخنیکي وړتیا د لوړلو لپاره د روزنیزو پروګرامونو د طراحۍ وړتیا
- د سېول انجینرۍ په برخه کې د ماسټرۍ تر کچې محصلینو ته د زده کړو زمینه برابرول

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کمپیوټر پروګرامینګ | EE 102 | ۳ | ۱۴ | د اقتصاد انجینري | CE 301 | ۳ |
| ۲ | ستاتیکس | CE 201 | ۳ | ۱۵ | تحلیل سترکچر-۲ | CE 302 | ۳ |
| ۳ | دینامیکس | ME 203 | ۳ | ۱۶ | هایدرولوژی | CE 303 | ۳ |
| ۴ | د موادو مقاومت | CE 202 | ۴ | ۱۷ | سروی-۱ | CE 304 | ۳ |
| ۵ | د جیولوژۍ انجینري | CE305 | ۳ | ۱۸ | کانکریت - ۲ | CE 401 | ۴ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | کانکریت-۱ | CE306 | ۴ | ۱۹ | د زلزلې انجینري | CE 402 | ۳ |
| ۷ | هایدرالیکس | CE307 | ۴ | ۲۰ | د اوبو رسونې انجینري | CE 403 | ۳ |
| ۸ | د فولادي ودانیو ډیزاین | CE308 | ۳ | ۲۱ | ودانیز مواد او میتود | CE 404 | ۳ |
| ۹ | سروی-۱ | CE309 | ۳ | ۲۲ | د ترانسپورتیشن انجنیري | CE 405 | ۳ |
| ۱۰ | د سترکچر تحلیل-۲ | CE 310 | ۳ | ۲۳ | د خاورې انجنیري | CE 406 | ۴ |
| ۱۱ | د فاضلاب انجینری | CE407 | ۳ | ۲۴ | مسلکي انتخاب (د بند ډیزاین) | CE 410 | ۳ |
| ۱۲ | د بنستونو انجینري | CE408 | ۴ | ۲۵ | سړک جوړونه | CE 411 | ۳ |
| ۱۳ | د پروژې ډیزاین | CE409 | ۳ | ۲۶ | غیر مسلکي انتخاب (د وادنۍ منجمنټ) | CE 412 | ۳ |

**۲- د میخانیک انجینرۍ دیپارټمنټ**

**الف) معرفی دیپارتمنت**

د میخانیک انجینرۍ دیپارټمنټ په ۱۳۳۷هـ کال کې جوړ شوی دی او له هماغه پیله د یوه وتلي او د انجینرۍ پوهنځي د یوه غوره ډیپارټمنټ په توګه فعالیت کوي.

تکنالوژیکو او علمي تحولاتو ته په پام دغه ډیپارټمنټ په وروستیو دوو کلونو کې خپل نصاب او روزنیزې موخې نوې کړې دي او د اړتیاو ارزونې ته په کتو یې بیا کتنه ورباندې کړې ده. په دې توګه د نوموړي ډیپارټمنټ محصلینو ته د معتبرو علمي څېړنو او معیاري روزنیزو خدمات ترسره کوي.

**ب د ډیپارټمنټ موخې**

**۱. لیدلوری**

دا دیپارټمنټ پنځه روزنیزې او څېړنیزې برخې لري چې عبارت دي له د هوا بدلونه او تودونه، جوړونه او تولید، هوافضا، ماشین آلات او مکاترونیک. د دې برخو چاره تر ډېره په چاپېریال، د چاپېریالي انرژۍ په طراحي او تولید پورې اړونده‌یږي. دا دیپارټمنټ د تولیدي صنایعو د ملاتړ په موخه، متخصصین او څېړونکي روزي چې په فعاله توګه د کارونیزو صنایعو د علومو په برخه کې فعالیت کوي او همدا راز په نویو علمي څېړنو کې له تر ټولو نوې تکنالوژۍ په استفادې؛ ټولنې ته خدمات وړاندې کړي.

**۱. ماموریت**

د میخانیک انجینري د ژمنو او وړ محصلینو د روزنې په موخه د علمي او کاري مهارتونو د پیاوړتیا او پراختیا زمینه برابروي. چې له مخې یې دا محصلین وکړی شي په ودانیزو حوزو، موټر جوړونه، نانو ټکنالوژۍ، اوټومیکانیزه کېدو، صنعتي تولید او تسلیحاتو کې خلاق، وړ او متخصص وي.

**۱- بنسټیې موخې**

دا دیپارټمنټ هڅه کوي چې محصلین یې تر فراغت وروسته په لاندې وړتیاوو سمبال وي.

- په انجینیري- تخنیکي مؤسسو کې د تدریس وړتیا
- د رباټیک سیسټونو، صنعتي کارځایونو او استوګنځیو د ودانیو د طرحو د تدوین، اجرا او ارزونې وړتیا.
- د استوګنیزو او صنعتي ودانیو، کارخونو، رباټیک سیستمونو د طراحی، تدوین او اجرا وړتیا؛
- د اوبو، بادي، نوري او هسته یي انرژۍ د تولید د طرحې او اجرا وړتیا؛
- د ځیرکو صنعتي سیستمونو په برخه کې د علمي او کارونې وړ څېړنو د ترسره کولو وړتیا؛
- د فني-تخنیکي ظرفیت لوړونې لپاره د پروګرامونو د طراحی وړتیا؛
- د صنعتي پروژو د نظارت په موخه د پروګرامونو اجرا؛
- په میخانیک انجینیری کې محصلینو ته دماسټری په کچه د زده کړو لارسازي.

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د انجنیري فزیک I | PHYS101 | ۴ | ۱۶ | د ماشینونو دینامیک | ME307 | ۴ |
| ۲ | په کمپیوټر ډیزاین | ME102 | ۳ | ۱۷ | مسلکي انتخاب | ME312 | ۳ |
| ۳ | II د انجنیري فزیک | PHYS102 | ۴ | ۱۸ | د تولید پروسه I | ME308 | ۳ |
| ۴ | کلکولس III | MATH203 | ۳ | ۱۹ | د انجنیري منجمنت I | ME309 | ۳ |
| ۵ | د انجنیري فزیک III | PHYS203 | ۴ | ۲۰ | انسترومنت لابراتوار | ME310 | ۳ |
| ٦ | د انجینري تفاضلي معادلات | MATH204 | ۴ | ۲۱ | ترمودینامیک II | ME311 | ۳ |
| ۷ | دینامیکس | ME 203 | ۳ | ۲۲ | د داخلي سون ماشینونه | ME412 | ۳ |
| ۸ | د موادو مقاومت | CE 202 | ۴ | ۲۳ | د تودوخې لېږد | ME413 | ۳ |
| ۹ | د طبیقي متریکس تیوري | MATH305 | ۳ | ۲۴ | تحلیل فاینایت المنت | ME414 | ۴ |
| ۱۰ | ترمودینامیک I | ME304 | ۳ | ۲۵ | د تولید پروسه II | ME415 | ۳ |
| ۱۱ | برقي سرکټونه او ماشینونه | EE305 | ۴ | ۲٦ | خپلسری کنټرول | ME416 | ۴ |
| ۱۲ | مخانیک سیال | ME305 | ۴ | ۲۷ | د ماشین د عناصرو ډیزاین | ME419 | ۳ |
| ۱۳ | کینماتیکس | ME306 | ۳ | ۲۸ | د صنعتي پروژو ډیزاین | ME420 | ۳ |
| ۱۴ | تهویه او تسخین (HVAC) | ME417 | ۴ | ۲۹ | سمینار | ME423 | ۳ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | منجمنت II | ME418 | ۳ | ۳۰ | مسلکي انتخاب | ME424 | ۳ |

**۳- د مهندسۍ دیپارټمنټ**

**الف) د ډیپارټمنټ معرفي**

د مهندسۍ دیپارټمنټ په ۱۳۳۷هـ ل کال کې رامنځته شو چې له پیله بیا تـر دې دمـه لـه وتلیـو ډیپـارټمنټونو ګنـل کېـږي او د انجینیرۍ پوهنځي په چوکاټ کې فعالیت کوي.

د دې ډیپارټمنټ ډېری استادانو په جاپان کې زده کړې کړې دي. دغه دیپارټمنټ ژمن دی چې محصلینو ته د علمي او معتبرو څېړنو زمینه برابره کړي او دوی ته په دې دیپارټمنټ کې معیاري روزنیز خدمات وړاندې کړي.

**ب) د ډیپارټمنټ موخې**

**۱. لیدلوری**

مهندسۍ دیپارټمنټ غواړي چې د نوښتګرو او وړ محصلینو لپاره د معمارۍ د پلان، طراحي، تولید، سـاتنې، پـه پلانولـو کـې دهنر او مهارت کارونې او دې ته ورته زمینې برابرې کړي. همدا راز داسې متخصصین به ټولنې ته وړاندې کـړي چـې د سـتونزو د حل وړتیا ولري او د انساني دایمي پراختیا په برخه کې به مرسته وکړي.

**۲. ماموریت**

د استوګنیزو او صنعتي ښارګوټو، هوایي ډګرونو، پارکونو او سمسورو هستوګنیزو سیمو د طراحۍ لپاره د ژمنو، وړ او نوښـتګرو مهندسانو د علمي مهارتونو د پراختیا او پیاوړتیا لپاره د زمینې برابرول.

**۳. بنسټي موخې**

دا دیپارټمنټ هڅه کوي چې له لېسانس دورې فارغ شوي ژمن او متخصص مهندسین یې لاندې وړتیاوې ولري:

- په انجینیري- تخنیکي مؤسسو کې د تدریس وړتیا؛
- د هستوګنیزو، صنعتي او ښارګوټو د ودانیو د طراحۍ، تدوین او نظارت وړتیا؛
- د صنعتي مهندسۍ د پروژو د طراحۍ او اجرا وړتیا ؛
- د نوې مهندسۍ په حوزه کې د څېړنو او علمي کارونو وړتیا؛
- د مسلکي-تخنیکي روزنیزو پروګرامونو د اجرا وړتیا؛
- له ودانیزو پروژو د څارنې د پروګرامونو د اجرا وړتیا؛
- په مهندسي دیپارټمنټ کې د ماسترۍ د زده کړو لپاره محصلینو ته لارسازي

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مهندسي ترسیمات ۱ | AR 109 | ۳ | ۱۸ | مهندسي طراحي ۴ | AR304 | ۵ |
| ۲ | مهندسي طراحي ۱ | AR201 | ۴ | ۱۹ | همېشنې چاپېریالي سیستمونه | AR318 | ۳ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | د مهندسی تاریخ ۱ | AR213 | ۲ | ۲۰ | تخنیکي تجهیزات ۱ | AR319 | ۳ |
| ۴ | د مهندسی سکېچ ۱ | AR211 | ۲ | ۲۱ | د طراحی مهندسي ۵ | AR405 | ۵ |
| ۵ | په مهندسی کې د رنګونو کارونه | AR229 | ۲ | ۲۲ | په مهندسی کې کمپیوټر کارونه | AR428 | ۳ |
| ٦ | مهندسي طراحي ۲ | AR202 | ۴ | ۲۳ | تخنیکي تجهیزات 2 | AR420 | ۳ |
| ۷ | د مهندسی تاریخ ۲ | AR214 | ۲ | ۲۴ | غیر مسلکي انتخاب | AR4XX | ۳ |
| ۸ | ودانی ۱ | AR216 | ۳ | ۲۵ | د چاپېریال او ټولنې طراحي | AR422 | ۳ |
| ۹ | مهندسی سکیچ ۲ | AR212 | ۲ | ۲٦ | مهندسي طراحي 6 | AR406 | ۵ |
| ۱۰ | د مهندسي طراحي ۳ | AR 303 | ۵ | ۲۷ | د ساحې پلان او طراحي | AR423 | ۳ |
| ۱۱ | د مهندسی تاریخ ۳ | AR 315 | ۲ | ۲۸ | د ښار جوړولو تیوري | AR424 | ۳ |
| ۱۲ | ودانی ۲ | AR 317 | ۳ | ۲۹ | داخلي طراحي | AR425 | ۳ |
| ۱۳ | د مهندسي طراحي ۷ | AR507 | ۵ | ۳۰ | ښاري طراحي | AR508 | ۵ |
| ۱۴ | په مهندسی کې سیمنار | AR526 | ۳ | ۳۱ | د هنر تاریخ | AR530 | ۲ |
| ۱۵ | د پروژې پلانول | AR527 | ۲ | ۳۲ | مسلکي انتخاب | xx٥AR | ۴ |
| ۱٦ | مسلکي انتخاب | xx٥AR | ۴ | ۳۳ | غیر مسلکي انتخاب | xx٥AR | ۳ |
| ۱۷ | غیر مسلکي انتخاب | xx٥AR | ۳ | | | | |

**۴. د برېښنا او الکترونیک انجینری دیپارټمنټ**

**الف. د ډیپارټمنټ پېژندنه**

د برېښنا او الکترونیکک انجینری دیپارټمنټ په ۱۳۳۹هـ ل کال کې جوړ شوی دی او له همغه پیله لـه مشـهورو او د ډېـرو مینـه والو لرونکو څانګو له ډلې ګڼل کېږي. ددغه ډیپارټمنټونه ډېری استادانو خپلې زده کـړې پـه جاپـان کـې پـای تـه رسـولې دي. دا دیپارټمنټ ژمن دی چې محصیلینو ته د معیاري زده کړو زمینه برابره کړي او د باوري او کاري څېړنو او مطالعاتو ته وهڅوي.

**ب.د ډیپارټمنټ موخې**

**۱- لیدلوری**

د برېښنا او الکترونیـک انجیـنری دیپارټمنـټ پـه خپلـو بېلـو برخـو کـې(د برېښـنا سرچینـې، الکترونیکک،مخـابرت او څیـرکک سیستمونه) متخصصان روزي، چې وکړای شي د برېښنا د تولید، کنترولي سرکتونو او د علمي څېړنو او ستونزو ته د حـل وړتیـا به ولري.

۲- موږ هڅه کوو ټولنې ته ژمن، متخصص او وړ کسان وړاندې کړو،څـو دوی وکـړی شي نوښـتګر وي، د اوبـو د سرچینـو د مدیریت وړتیا ولري، په مخابراتي سیستمونو ، څیرکو او رباتیکک سیستمونو کې د طراحی او کار وړتیا ولري.

**۱- بنسټي موخې**

هځه کوو د برېښنا او الکترونیک په دیپارټمنټ کې وړ او ژمن متخصصین وروزو چې تر فراغت وروسته بـه لانـدې وړتیـاوې ولري:

- په انجینري-تخنیکي مؤسساتو کې د تدریس وړتیا
- د برېښنایي وړتیا، څېرکو او الکترونیکي ودانیو د طراحی، تدوین او څارنې وړتیا؛
- د صنعتي الکترونیکي پروژو د طراحی او اجرا وړتیا؛
- په الکترونیک او الکترو میخانیکي برخو کې د علمي څېړنو وړتیا؛
- د مسلکي-تخنیکي ظرفیت لوړونې لپاره د پروګرامونو اجرا؛
- د هستوګنیزو او صنعتي ودانیو د وایرینګ پروژې د عملي کولو وړتیا؛
- او محصلینو ته د ماسټرۍ پروګرام کې د زده کړو د دوام زمینه برابرول.

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کمپیوټر پروګرام | EE 102 | ۳ | ۱۴ | ارتباطي سیستم I | EE 416 | ۳ |
| ۲ | د انجینرۍ فزیک III | PHYS 203 | ۴ | ۱۵ | پاور سیستم II | EE 411 | ۳ |
| ۳ | د انجینرۍ تفاضلي معادلات | MATH204 | ۴ | ۱۶ | پاور الکترونیکس I | EE 410 | ۳ |
| ۴ | د سرکټ تحلیل I | EE 203 | ۴ | ۱۷ | اتوماتیک کنترول | EE 415 | ۴ |
| ۵ | د کمپیوټر انجنیري | EE 205 | ۴ | ۱۸ | د برقي مقناطسي ساحې تحلیل | EE 414 | ۳ |
| ۶ | مایکرو کنترولر | EE 306 | ۴ | ۱۹ | د نوې کېدونکې انرژۍ سرچینې | ME 312 | ۳ |
| ۷ | د سرکت تحلیلII | EE 304 | ۳ | ۲۰ | مسلکي غوراوی | EE 4xx | ۳ |
| ۸ | الکترونیکس | EE 308 | ۴ | ۲۱ | مسلکي غوراوی | EE 4xx | ۳ |
| ۹ | د تطبیقي متریکس تیوري | MATH305 | ۳ | ۲۲ | مسلکي غوراوی | EE 4xx | ۳ |
| ۱۰ | کنورژن انرژي II | EE 312 | ٤ | ۲۳ | د انجینرۍ سیمنار | EE 421 | ۳ |
| ۱۱ | د دیجیټل سیستم ډیزاین | EE 307 | ۳ | ۲۴ | صنعتي پروژې | EE 420 | ۳ |
| ۱۲ | سیګنال او سیستم | EE 314 | ۳ | ۲۵ | کنورژن انرژيII | EE 313 | ۴ |
| ۱۳ | الکترونیکس II | EE 309 | ۴ | | | | |

## ۵. د انرژۍ انجینرۍ دیپارټمنټ

### الف  د ډیپارټمنټ پېژندنه

د انرژۍ انجنیرۍ دیپارټمنټ د انرژۍ د تولید سکتور اړتیاوو ته په کتو په ۱۳۹۳ هـ ل کال کې د انجینرۍ پوهنځي پـه چوکـاټ کې جوړ شوی دی.

### ب  د ډیپارټمنټ موخې

**۱- لیدلوری**

دغه دیپارټمنټ د انرژۍ په برخه کې د غوره فعالیتونو په موخه د څېړنو زمینه برابروي. د لمریزې انـرژۍ، بیوګـاز، بـاد، د اوبـو انرژۍد سرچینو، د فزیکي سیستمونو د کار او د ځیرکو سیسمتونو د طراحۍ په مرسته د انسان او طبیعت همغږي کول.

**۲- ماموریت**

د نوې کېدونکې انرژۍ د سرچینو د علمي کارونې په موخه د مهـارتونو پیـاوړي کـول، ددغـه انـرژۍ د د اغېزنـاکتوب لپـاره د دایمي سیستمونو جوړول او په دې موخه د وړ، ژمنو او نوښتګرو انجینرانو روزل، چې وکړی شي د اوبو، لمر، د انرژي لـه دایمـي سیستمونو او ځیرکو سیستمونو د انرژۍ د تولید په برخه کې رغنده فعالیتونه ترسره کړي.

**۲- بنسټي موخې**

دا دیپارټمنټ هڅه کوي ژمن انجینران وروزي، څو په خپله برخه کې متخصص وي او تر فراغت وروسته به لاندې وړتیاوې ولري:

- په انجینري-تخنیکي مؤسسو کې د تدریس وړتیا
- د نوې کېدونکې انرژۍ، ځیرکو ودانیو، د تدوین، طراحۍ او څارنې وړتیا
- د اوبو، لمریزې برېښنا او باد د انرژۍ اړوند د عملي او علمي څېړنو د ترسره کولو وړتیا
- د مسلکي-تخنیکي ظرفیت د لوړولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو د طراحۍ وړتیا
- په صنعتي او هستوګنیزو ودانیو کې د انرژۍ د وېش طراحي
- او د ماسترۍ پروګرام ته د محصلینو جذب.

**ج. نصاب تحصيلی (مضامين تخصصی)**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کمپيوټر پروګرامول | EE 102 | ۳ | ۱۴ | د توان سيستمونهI | 05EN3 | ۳ |
| ۲ | انجينري فزيکIII | PHYS 203 | ٤ | ۱۵ | د برېښنا د انرژۍ تنظيم او وېش III | 06EN3 | ٤ |
| ۳ | دانجينرۍ تفاضلي معادلات | MATH204 | ٤ | ۱٦ | په ودانيو کې د انرژۍ سيستم | 07EN3 | ٤ |
| ٤ | د سرکټ تحليلI | EE 203 | ٤ | ۱۷ | نوې کېدونکې انرژيII | 08EN3 | ٤ |
| ۵ | د انرژۍ سرچينې او د تطبيق مواد يې | EN 201 | ٤ | ۱۸ | ترموديناميکس II | 09EN3 | ۳ |
| ٦ | سيال ميخانيک | ME 305 | ٤ | ۱۹ | د انرژۍ تنظيم او ترافيک | 0EN41 | ۳ |
| ۷ | د سرکټ تحليل II | EE 304 | ۳ | ۲۰ | د انرژي انجنيرۍ اقتصاد | 1EN41 | ۳ |
| ۸ | نوې کېدونکې انرژي I | EN 302 | ۳ | ۲۱ | د تودوخې سيال سيستمونه | 2EN41 | ۳ |
| ۹ | د تطبيقي متريک تيوري | MATH305 | ۳ | ۲۲ | د انرژي ساتنه | 3EN41 | ٤ |
| ۱۰ | کنورژن انرژي I | EN 303 | ٤ | ۲۳ | د تودوخې لېږد | 14EN4 | ۳ |
| ۱۱ | انرژۍ پاليسي او نړيوال قانون | EN 415 | ۳ | ۲۴ | مسلکي غوراوی | EN4xx | ۳ |
| ۱۲ | د انرژي د پروژو ډيزاين | EE 416 | ۳ | ۲۵ | د حرارتي برېښنا توليدځای | 18EN4 | ٤ |
| ۱۳ | سيمينار | EN 417 | ۳ | ۲٦ | مسلکي غوراوی | EN4xx | ٤ |

**٦- د ښاري طراحۍ او پلان ډيپارټمنټ**

**الف د ډيپارټمنټ پېژندنه**

دا ديپارټمنټ ژمن دی چې معياري روزنير خدمات وړاندې کړي چې ددې ډيپارټمنټ محصلين د معتبرو علمي ځېړنو او عملي کار جوګه وي.

**ب د ډيپارټمنټ موخې**

**۱- ليدلوری**

د ښاري پلان او طراحۍ ديپارټمنټ غواړي چې د هېواد د پراختيا لپاره وړ متخصصين وروزي، چې د سيمې په کچه د ښاري پلان او طراحۍ، ښارونو د طراحۍ، ښاري ټرانسپورټ، تجزيه، ښارونو د تحليل، د ښار د چاپېريال طراحي او پلانول، د ښاري اوبو تنظيم، چاپېريال او ښاري مديريت کې فعاليت ولري.

د ښارجوړونې او تنظيم په برخه کې د ژمنو، نوښتګرو او وړ متخصصانو روزنه؛ چې خپل مهارتونه پراخ کړي او د ښارونو د تحليل، طراحۍ، اوبرسونې د سيستمونو د مديريت، ښارونو د مديريت او پلانولو په برخه کې له دې مهارتونو ګټه واخلي.

**۱- بنسټي موخې**

دا ډیپارټمنټ هڅه کوي چې د ښاري پلان اوطراحی په برخه کې داسې متخصص او متعهد محصلین وروزي چې د لیسانس تر بشپړلو وروسته لاندې ورتیاوې ولري:

- د انجنیري- تخنیکي موسساتو کې د تدریس وړتیا
- د ښاري سیستم او نورو اړوندو سیستمونو طراحي، اجرا او تدوین
- د ښاري پروژو د طراحی او اجرا وړتیا
- د ځیرکو ښارونو په طراحی کې د علمي تحقیقاتو د ترسره کولو وړتیا
- د مسلکي-تخنیکي وړتیاوو د لوړلو لپاره د پروګرامونو د طراحی وړتیا
- د ښاروالیو له پروژو د څارنې وړتیا لرل
- د ماستری پروګرام ته د محصلینو د شاملېدو زمینه برابرول.

**ج. تحصیلي نصاب(تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ښاري لابرتوار II | UDP 104 | ۳ | ۱۳ | ښاري پروژې II | UDP 302 | ۵ |
| ۲ | ښاري لابرتوار III | UDP 201 | ٤ | ۱۴ | ترانسپورتیشن | CE 303 | ۳ |
| ۳ | د ښار جوړونې تاریخ II | UDP 202 | ۲ | ۱۵ | ښاري بیخبینا | UDP 303 | ۳ |
| ٤ | دایمي چاپېریالي سیستم | AR 317 | ۲ | ۱٦ | ښاري پروژې III | UDP 401 | ۵ |
| ۵ | د ښار جوړنې تیوري | UDP 204 | ۲ | ۱۷ | احیا، بیا رغونه او د ښارونو نوې رغونه | UDP 402 | ۳ |
| ٦ | ښاري لابراتوار IV | UDP 205 | ٤ | ۱۸ | د ښار د تاریخي جوړښت ساتنه | UDP 403 | ۳ |
| ۷ | افغانستان کې د ښار جوړونې تاریخ | UDP 206 | ۲ | ۱۹ | برنامه‌ریزی محیطی/ چاپېریالي پلان | UDP 404 | ۳ |
| ۸ | ښاري سروې II | UDP 207 | ۳ | ۲۰ | برنامه‌ریزی منطقه ای/ سیمه ییز پلان | UDP405 | ۳ |
| ۹ | ښاري ټولنپوهنه I | SOC 201 | ۲ | ۲۱ | ښاري پروژې IV | UDP 407 | ۵ |
| ۱۰ | ښاري پروژې I | UDP 301 | ۵ | ۲۲ | ښاري مدیریت | UDP 408 | ۳ |
| ۱۱ | GIS | GEO 301 | ۲ | ۲۳ | ښاري ښه جوړونه(بهسازی شهری) | UDP 409 | ۳ |
| ۱۲ | اقتصاد II | ECO 301 | ۳ | ۲۴ | دایمي طراحي او پلان | UDP 410 | ۳ |

# بیولوژي پوهنځی




**۱-د پوهنځي پېژندنه**

د بیولوژي اوسنی پوهنځی د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي په چوکاټ کې په ۱۳۲۱ لمریز کال کې د (بیولوژي څانګې) په توګه جوړ او فعالیت یې پیل کړ او د طبیعي علومو د منځته راتګ نظریه هغه مهال رامنځته شوه چې له یوه پلوه په منځنیو ښوونځیو او لېسو کې د زده‌کوونکیو زیاتوالي له کبله د ښوونکیو کمښت او له بله پلوه د طبیعي علومو په بېلابېلو ډیپارټمنټونو کې د متخصصینو کمښت د صنعت د نسبي پرمختګ او پراختیا پر وړاندې د پام وړ وګرځېد، نو له دې کبله دا پوهنځی د یادو اړتیاوو له منځه وړلو لپاره د کابل پوهنتون د دریم پوهنځي په توګه چې د ساینس پوهنځی نومېده او وروسته بیا د طبیعی علومو په نوم ونومول شوه، رامنځته شو.

په ساینس پوهنځي کې لومړنی ډله محصلان ۲۱ کسان وو چې په ریاضي، فزیک، کیمیا او بیولوژي ډیپارټمنټونو کې یې په زده‌کړو پیل وکړ. د طبیعي علومو د بېلابېلو برخو متخصصان چې هغه مهال په بېلابېلو چارو، وزارتونو او یا دولتي موسسو او ادارو کې په لوړو څوکیو پر کار بوخت وو، په دغه پوهنځي کې د تدریس لپاره وهڅول شول، ترڅو د هغوی په مرسته پوهنځی کار پیل کړي.

محصلانو هغه مهال په (کیمیا او بیولوژي) او (ریاضی او فزیک) ډیپارټمنټونو کې زده‌کړې کولې. په ۱۳۴۸ لمریز کال کې د پوهنځي په اکاډمیک جوړښت کې بدلون رامنځته شو او پر بنسټ یې، په تحصیلی نصاب کې هم اصلاحات راغلل او تحصیلي نصاب اختصاصي اړخ ځانته غوره کړ او په بېلابېلو برخو کې د جلا ډیپارټمنټونو د رامنځته کېدو لامل شو.

بیولوژي پوهنځی د یو خپلواک پوهنځي په توګه په ۱۳۹۳ لمریز کال کې د مخکیني ساینس پوهنځي په وړاندیز د اکاډمیکو چارو انسجام ریاست او د وزارت رهبری شورا په تایید او د کابینې په منظورۍ د فزیکي او اکاډمیکو شرایطو له بشپړولو وروسته د پوهنځي کچې ته لوړ شو او د ۱۳۹۵ لمریز کال څخه را په دېخوا یې په رسمي ډول د یوه خپلواک پوهنځي په توګه فعالیت پیل کړ.

دا پوهنځی اوسمهال دوه ډیپارټمنټونه (نبات پېژندنه یا بوتاني او حیوان پېژندنه یا زولوژي) لري. په پام کې ده چې دریم ډیپارټمنټ هم په راتلونکي کې رامنځته شي.

**۲. موخې**

**الف. لیدلوری**

بیولوژي پوهنځی اوس مهال پر تدریس، څېړنو او د خدماتو پر وړاندې کولو سره بوخت دی چې هېواد ته د لیسانس په کچه متخصص کادرونه وروزي.

**ب. دنده**

د بیولوژي پوهنځی د روزل شویو کادرونو د تخصصي پوهې د کچې د لوړولو او د لوړ کیفیت څېړنې د پراختیا په موخه غواړي په نږدې راتلونکې کې د دغه پوهنځي په چوکاټ کې د ماسټرۍ پروګرام جوړ کړي.

**ج. بنسټیې موخې**

بیولوژي پوهنځی د باکیفیته تدریس، څېړنې او خدماتو د وړاندې کولو له لارې متخصص او تکړه کادرونه روزي او د ماسټرۍ پروګرام پیل هم د دې پوهنځي له بنسټیې موخو څخه دي .د دې تر څنګ د استادانو د ظرفیت لوړوالی او د کارکوونکیو د زده‌کړې د کچې په لوړولو سره لاندې ټکي له خپلو بنسټیزو موخو ګڼي:

۱: خصوصي او دولتي‌ادارو لپاره د علمي کادرونو روزنه.

۲: متخصصو کادرونو ته د څېړنیزو علمي مهارتونو زده‌کړه.

۳: پوهنې، عامې روغتیا او د مخدره توکو ضد مبارزې وزارتونو ته د متخصصو کادرونو روزنه.

۴: د عدلي طب پېښو مطالعې لپاره د متخصصو کادرونو روزنه.

۵: په زولوژي او بوټاني ډیپارټمنټونو کې د متخصصو کادرونو روزنه.

۶: د محصلانو او د کار بازار ته په کتو د باکیفیته تحصیلي خدمتونو برابرول.

۷: د توامیتونو رامنځته کول او د پوهنتونونو او اړونده ادارو سره د هوکړه لیکونو لاسلیکول.

**۳. د پوهنځي نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نباتي سیستماتیک ۲ | Ku.b3.1 | ۴ | ۱۲ | مقایسوي اناتومي | Ku.b7.2 | ۴ |
| ۲ | د فقاریه زولوژي | Ku.b4.3 | ۴ | ۱۳ | جنټیک | Ku.B5.7 | ۴ |
| ۳ | د مورفولوژي اناتومي | Ku.b4.2 | ۴ | ۱۴ | انتمولوژي | Ku.b7.1 | ۴ |
| ۴ | حیواني هستولوژي | Ku.B5.4 | ۴ | ۱۵ | بیوټکنالوژي | Ku.B7.5 | ۳ |
| ۵ | حیواني فزیولوژي | Ku.b5.2 | ۴ | ۱۶ | حیواني جغرافیه | Ku.b8.6 | ۲ |
| ۶ | مایکروبیولوژي | Ku.b5.3 | ۴ | ۱۷ | ګټور نباتات | Ku.b8.5 | ۳ |
| ۷ | نباتي فزیولوژي | Ku.b5.1 | ۴ | ۱۸ | ایکالوژي | Ku.b7.8 | ۳ |
| ۸ | پرازیټولوژي | Ku.b6.4 | ۴ | ۱۹ | انتمولوژي | Ku.b7.1 | ۴ |
| ۹ | مایکروبیولوژي | Ku.bu.3 | ۴ | ۲۰ | طبیعت ژغورنه | Ku.b8.3 | ۳ |
| ۱۰ | نباتي فزیولوژي | Ku.b5.1 | ۴ | ۲۱ | غیرفقاریه حیوانات | Ku.b3.3 | ۳ |
| ۱۱ | نباتي سیستماتیک ۱ | Ku.b3.1 | ۴ | | | | |

**۴.ډيپارټمنټونه**

**۱. زولوژي ډيپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

زولوژي ډيپارټمنټ په ۱۳۹۵ لمريز کال کې د بيولوژي له پوهنځي سره سم رامنځته شو او خپل اکاډميک فعاليتونه د دغه پوهنځي تر رياست لاندې پر مخ بيايي. د دغه ډيپارټمنټ بنسټي فعاليتونه د پوهنځي له درسي نصاب سره سم، د اړوندو مضامينو تدريس، علمي څېړنې تر سره کول، علمي کنفرانسونه، د مونوگراف په تدوين کې د محصلانو لارښوونه، د پوهنځي او پوهنتون په کچه او د نورو اړوندو ادارو په بېلابېلو کمېټو کې گډون؛ لکه، د چاپېريال ساتنې ملي ادارې او کابل ژوبڼ د دې ځانگې له دندو شمېرل کېږي.

**ب.د ډيپارټمنټ موخې**

**۱. ليدلوری**

زولوژي ډيپارټمنټ په پام کې لري چې د غوره کادرونو د مسلکي او تخصصي کچې لوړوالي او د څېړنو پراختيا په موخه په راتلونکي کې محصلان له اختصاصي زولوژي ډيپارټمنټ څخه فارغ کړي او په دې برخه کې ټولنې ته د زولوژي په برخه کې کادرونه او متخصص زولوجستان وړاندې کړي.

**۲. ماموريت**

دزولوژی د بيولوژي پوهنځي د يوه فعال ډيپارټمنټ په توگه اوس مهال د ليسانس په کچه د متخصصو کادرونو پر روزلو بوخته ده

**۳. اساسي موخې**

د زولوژي ډيپارټمنټ بنسټي موخې د علمي او مسلکي کادرونو روزنه، د زولوژي متخصصينو روزنه چې د زولوژي له بنسټي مفاهيمو سره اشنا وي او په ورځني ژوند کې يې وکارولی شي تر څو دا علمي کادرونه په زولوژي ډيپارټمنټ کې د ليسانس دورې له پای ته رسولو وروسته په راتلونکي کې د ښوونيزو مرکزونو د ښوونې او روزنې، په ښوونځيو کې د تدريس، په پوهنتونونو کې د تدريس، علمي او څېړنيزو ادارو، په زراعت ډيپارټمنټ کې، په تخنيکي او مسلکي انستيټيوټونو کې تدريس، وترنري او چاپېريال ساتنه کې تدريس وکړي او د خصوصي سکټور اړتياوې پوره کړای شي.

له يادو اساسي موخو پرته لاندې نورې موخې هم لري:

- په زولوژي ډيپارټمنټ کې د ليسانس په کچه دولتي او خصوصي ادارو ته د مسلکي او متخصصوکادرونو روزنه؛
- دولتي او خصوصي ښوونځيو ته د مسلکي او متخصصو ښوونکيو روزنه؛
- د مسلکي زولوجستانو روزنه؛
- خصوصي او دولتي ښوونځيو ته د لابراتواري عملي کارونو لپاره د تخنيکي اسيستانتانو روزنه؛
- د کورنيو او وحشي ژويو په اړه د مسلکي او تخصصي پوهې لېږد له لارې په افغانستان کې د نادرو او له منځه تلونکيو ژويو د نسلونو خونديتوب لپاره مبارزه؛
- د اقتصادي او فارمي ژويو د روزنې د ډول ډول لارو چارو زده کړه؛
- په ايکوسيستم او ورځني ژوند کې د اهلي او وحشي حيواناتو په ارزښت پوهېدل؛
- د چاپېريال ساتنې او د ژويو د خونديتوب فرهنگ ترويجول؛
- د ټولنې په مسلکي او تخصصي پرمختگ کې ونډه اخيستل او د هېواد لوړو موخو ته لاسرسی؛

- د ژمنو او مسلکي کاري ځواک روزنه.

**ج. لابراتوار او ښوونيز تجهيزات**

| شمېره | د لابراتوار ډول | توکي او تجهيزات |
|---|---|---|
| ۱ | د حشره پېژندنې لابراتوار | د حشرې نيولو جال، د حشرو د راټولولو او لېږد توکي، د حشراتو د ساتنې صندوق، مايکروسکوپ، تسليخ او د تسليخ بکس، ذره‌بين او نوري مايکروسکوپ |
| ۲ | حيواني فزيولوژي لابراتوار | مايکرسکوپ، سلايډ، کورسلايډ، تسليخ بکس ، د تسليخ تشت، سنترفيوژ ټېسټ ټيوب، بيکـــراو فلاس |
| ۳ | د مايکروبيولوژي لابراتوار | مايکرسکوپ، سلايډ کور، سلايډ، تسليخ بکس، تسليخ تشت و پيټري ډېش |
| ۴ | د غيرفقاريه زولوژي لابراتوار | جوړ شوي سلايډونه، مايکرسکوپ، سلايډ، کور سلايډ، تسليخ بکس، تسليخ تشت |
| ۵ | حيواني هستولوژي لابراتوار | مايکرسکوپ، سلايډ، کور سلايډ، تسليخ بکس او تسليخ تشت |

**۲. بوټاني ډيپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

بوټاني ډيپارټمنټ د بيولوژي پوهنځي يو له بنسټيي او اساسي ډيپارټمنټونو څخه دي چې د بيولوژي پوهنځي له رامنځته کېدو سره سم په ۱۳۹۵ لمريز کال کې جوړ شوی دی. بوټاني ديپارټمنټ خپل اکاډميک فعاليتونه د دغـه پـوهنځي تـر رياسـت لانـدې پرمخ بيايي. د دغې ډيپارټمنټ بنسټي فعاليتونه د پوهنځي له درسي نصاب سره سم د اړوندو مضامينو تـدريس، علمـي څېړنـو تـر سره کول، علمي کنفرانسونو جوړول، د مونوګراف په ليکلو کې د محصـلانو لارښـوونه، د پـوهنځي او پوهنتـون پـه کچـه او نـورو اړوندو ادارو او د لوړو زده‌کړو وزارت په بېلابېلو کمېټو کې ګډون، د دغې ډيپارټمنټ له دندو څخه شمېرل کېږي.

**ب. د بوټاني ډيپارټمنټ موخې**

**۱. ليدلوری**

بوټاني ډيپارټمنټ په پام کې لري چې د غوره کادرونو د مسلکي او تخصصي کچې لوړوالي او د څېړنو پراختيـا پـه موخـه پـه راتلونکي کې محصلان له اختصاصي بوټاني ډيپارټمنټ څخه فارغ کړي او په دې برخه کې ټولنې ته بوټاني کادرونه او متخصص نبات پوهان وړاندې کړي.

**۲. دنده**

بوټاني ډيپارټمنټ اوسمهال د بيولوژي پوهنځي له فعالو ډيپارټمنټونو شمېرل کېږي چې هېواد او خلکو ته د ليسانس په کچه د تکړه او متخصصو کادرونو په روزنې بوخته ده.

**۳. اساسي موخې**

بوټاني ډيپارټمنټ دا ماموريت لري چې د کادرونو پـه روزنـه، پوهنتونونـو کـې تـدريس، د لـوړو زده‌کـړو موسسـو، مسـلکي انستيټيوټونو، لېسو او د عامې روغتيا په پروژو کې د څېړنو په برخه کې، کرنې، ځنګلونو، اوبو ورکونې، د څښاک اوبـو، چاپېريـال ساتنې، د کليو پراختيا او نړيوالو موسسو؛ لکه، يونيسف او د روغتيا نړيوال سازمان سره کار او فعاليت وکړي.

بوټاني ډيپارټمنټ د عملي تجربو تر سره کولو، د نباتاتو بڼ جوړولو او په تجربو کـې د نباتـاتو کـارونې او لـه تجربـې لانـدې نباتاتو روزلو او ساتلو لپاره يو تخصصي او مناسب ځای اړتيا لري، په همدې اساس په پام کې لري چـې د مسـلکي او متخصصـو

داخلي او بهرنیو استادانو په مرسته یوه مناسبه طرح د دغه بڼ د جوړولو او د ضرورت وړ توکو په موخه چمتو کړي او د اړوندو مراجعو له لارې یې په جوړولو کې کوښښ وکړي. له یادو موخو سره لاندې موخې هم لري:

- په بوتاني برخه کې د لیسانس په کچه دولتي او خصوصي ادارو ته د مسلکي او متخصصو کادرونو روزنه؛
- دولتی او خصوصي ښوونځیو ته د مسلکي او متخصصو ښوونکو روزنه؛
- د مسلکي نبات پوهانو روزنه؛
- دولتي او خصوصي ښوونځیو ته د عملي لابراتواري کارونو لپاره د تخنیکي اسیستانټانو روزنه؛
- د هېواد د نباتاتو په اړه مسلکي او تخصصي پوهې د لېږد له لارې په افغانستان کې د ګټورو نباتاتو او له منځه تلونکو نباتاتو د نسلونو خوندیتوب لپاره مبارزه؛
- په ایکوسیسټم او ورځني ژوند کې د نباتاتو په ارزښت پوهېدل؛
- د چاپېريال ساتنې او نباتاتو د خوندیتوب فرهنګ ترویجول؛
- د ټولنې په مسلکي او تخصصي پرمختګ کې ونډه اخیستل او د هېواد عالي موخو ته لاس رسی.
- د ژمنو او مسلکي کاري ځواک روزنه.

**ج. لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

| شمېره | د لابراتوار ډول | توکي او تجهیزات |
|---|---|---|
| ۱ | نباتي سیستماټیک لابراتوار | نوري مایکروسکوپ او استریو، هرباریوم، د وچو شویو او تازه نباتاتو نمونې |
| ۲ | نباتي فزیولوژي لابراتوار | سنټرفیوژ، برقي داش، حساس ترازو، PH متر، بېکر، ټېسټ تیوب، سلنډر، پتري دېش، پیپټ او نور د نباتاتو نمونې |
| ۳ | اناتومي مورفولوژي لابراتوار | نوري مایکروسکوپ، استریو مایکروسکوپ، تسلیخ بکس، دایمي سلایډونه او نباتاتو د رېښې، ساقې او پاڼې تازه ټوټې |
| ۴ | د ګټورو نباتاتو لابراتوار | واټرباټ، د)بندکت، فیهلنګ او د غلو، حبوباتو طبي نباتاتو نمونې او د هغوی د الکالوییدونو را ایستلو (محلولونه |
| ۵ | جنټیک لابراتوار | نوري مایکروسکوپ، ایتانول محلول، تیزابونه، ډیټارجنټونه اوتوکلاف او له نباتاتو څخه د DNA را ایستل او هم د دایمي سلایډونو یا د تسلیخ وړ حیواناتو له لارې د ګمیټونو لیدل |

# د معلوماتي ټکنالوژۍ پوهنځی



## ۱. د پوهنځي پېژندنه

د مخابراتو روزنیز مرکز په ۱۳۴۳ لمریز کال کې د دولسم ټولگیو د فارغانو په کچه یو پروگرام د مخابراتو وزارت، تیلي کمیونیکشن (ITU) نړیوالې ټولنې او د پوهنې وزارت د مسلکي تدریساتو ریاست په مرسته د فني او مسلکي کادرونو د روزنې په موخه د ټیلیفون او ټیلیگراف د ماشینونو په نصب سره د مخابراتو د وزارت په چوکاټ کې رامنځته شو. تر 1354 کال وروسته د مخابراتي او معلوماتي تکنالوژۍ په برخه کې د پرمختگونو په پامنیوي سره نوموړی مرکز د نیمه لوړو زده‌کړو (څورلسم پاس) مرکز ته لوړ شو.

د ساینس او تکنالوژۍ په برخه کې د چټکو پرمختگونو په ځانگړي ډول په تېرو دوو لسیزو کې او همدا شان اړتیاو ته په کتلو سره، د مخابراتو روزنیز مرکز په یوه پرله پسې علمي حرکت سره چې د هېواد په پرمختگ او د تکنالوژۍ په برخه او د وخت د غوښتنو په ځواب کې یې لوی رول لوبولی و؛ په ۱۳۸۶ کال کې د لوړو زده‌کړو د یوې مؤسسې په توگه د کابل پوهنتون او د تیلي کمیونیکشن (ITU) نړیوالي ټولنې په مرسته د لیسانس پروگرام په دایرولو بریالی شو. په دې توگه یاد مرکز وکړای شول چې د دولتي لوړو زده‌کړو د کورنۍ غړی شي او د نویو لویو فرصتونو لپاره یې ور پرانیست، اما له ځینو ستونزو او خنډونو سره هم مخ و. د لړوزده‌کړو د کورنۍ له دې غړیتوب څخه د گټې اخیستنې په موخه لازمه ده چې په هره برخه کې تیاری هم ولري. دا خنډونه باید د ټولو لخوا ومنل شي څکه زموږ د ټینگ هوډ په مټ بریالیتوب، اعتبار، کیفیت او رقابت په ټولنه کې د لوړو زده‌کړو کورنۍ ته ورکول کیږي. د باکیفیته عالي کادرونو تربیه او د هغه بشري سرچینو روزنه چې د پرمختگ او پراختیا سبب به وگرځي د دې پوهنځي ټاکل شوې موخې دي. د تکنالوژۍ او معلوماتو پوهنځی پینځه ودانۍ لري چې په لاندې توگه دي: تدریسي- وداني، د لابراتوار وداني، د لیلیې وداني چې د ۱۳۰ محصلانو ظرفیت لري، د کانفرنسونو تالار چې د ۳۲۰ تنو ظرفیت لري او خوړنځی چې د ۱۵۰ تنو لپاره جوړشوی دی. تدریسي او د لیلیې ودانۍ په ۱۳۴۳ کال کې ودانې شوي او پاتې ودانۍ په ۱۳۸۷کې بشپړې شوې.

## ۲. د پوهنځي موخې

۱. د مخابراتو د انجینرۍ او معلوماتي تکنالوژۍ په برخه کې د زده کړو پراختیا

۲. د متخصصو ځوانانو روزنه چې وکړای شي په بېلابېلو برخو کې د تحلیل، ډیزاین او څېړنې جوگه شي.

۳. د ماسترۍ او دکتورا په کچه د لوړو زده‌کړو لپاره د شرایطو برابرول.

۴. د محصلانو روزنه او دوی ته داسې تدریس کړل چې د علم او تکنالوژۍ له اوسنیو پرمختګونو سره برابر وي.
۵. په ټول عمر کې د ښې زده‌کړې د وړتیا پیدا کول
۶. په ځان د باور قوي کول او همدا رنګه په صنعتي، مسلکي او اکاډمیکو برخو کې د خلاقیت او تفکر لوړتیا
۷. د استادانو او کارکونکو د ظرفیت لوړول د حرفه‌یي پرمختګ په موخه

**الف. لید لوری**

د هېواد په کچه د پوهنځي غوره مقام، د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په برخه کې د بشري سرچینو روزنه او براختیا، د فعاله تحصیلي، متنوع او نوښتګرو فرصتونو پیداکول، له هر ډول تعصب او تبعیض نه پاک چاپېریال برابرول چې یوازې علمي او اکاډمیک معیارونه پکې د پاللو وړ وي.

**ب. مأموریت**

د پوهنځي بشري ځواک ته پوره پاملرنه چې استادان، تخنیکي همکاران او اداري کارکونکي پکې شامل دي زموږ د رسالت اړینه او بنسټي برخه ده. د استادانو د ظرفیت لوړول او د دوی لپاره دلوړو زده‌کړو په برخه کې د هېواد د ننه او بهر د شرایطو برابرولو وروسته د اداري او تخنیکي کارکونکو د ظرفیت لوړل، د لابراتور مجهزول، په هارد او سافت توګه د معاصرو امکاناتو رامنځته کول، د ملي او نړیوالو تحصیلي بنسټونو او مؤسسو سره د اړیکو ټینګول، له صنعتي سکتور سره د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په برخه کې د دوه اړخیزو اړیکو ټینګول او د دوی له نظرونو څخه د کریکولم په جوړولو او غني کولو کې ګټه اخیستل چې د ټولنې او صنعتي سکتور له غوښتنو سره سمون ولري، د نوښتګرو خلاقو، ژمنو او په معاصرو زده‌کړو سمبالو کادرونو روزنه چې د نویو او اوسنیو زده‌کړو د تطبیق او د نویو فکرونو د پنځونې توان او وړتیا ولري. په ټوله کې د هېواد پرمختګ او په علمي برخه کې پراختیا د معلوماتو او تکنالوژۍ پوهنځي ماموریت او رسالت ګڼل کیږي.

**ج. بنسټي موخې**

د معلوماتي ټکنالوژۍ پوهنځی د ساینس او تکنالوژۍ په تېره د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په برخه کې د چټکو پرمختګونو په پامنیوي سره د یوه روزونکي تحصیلي مرکز په توګه چې پیاوړي، متحصص، کارپوهـ او نوښتګر کسان روزي د یوه ښه مناسب فرصت په توګه په هېواد کې د ICT په هر اړخیزو کړنو، د زده‌کړې په پراختیا او علمي تطبیقي څېړنو په برخه کې، د مناسبو بېخېنایي شرایطو برابرول د نوې تکنالوژۍ د لېږد په موخه رامنځ ته شوی دی.

**۳. تړونونه (توامیتونه)**

د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ پوهنځي وکولای شول چې د نړۍ له ۸۰ ډېرو نړیوالو پوهنتونونو سره پارتنرشیپونه د ایرسموس مندوس (ERASMU MUNDUS) او (ERASMUS PLUS) تر چتر لاندې چې د اروپایي ټولنې لخوا تمویلیږي لاسلیک کړي. په لاندې توګه دا توامیتونه د یادونې وړ دي.

- FUSION- Featuring eUrope and South asIamObility Network
- LEADER-Links in Europe and Asia for engineering, eDucation, Enterprise and Research
- LEADERS-Leading Mobility between Europe and Asia In Developing Engineering Education and Research
- SmartLink - *South-east-west Mobility for Advanced Research, Learning, Innovation, Network and Knowledge*
- EQASA – *Enhancing Quality Assurance in South Asia Higher Education Institutions*
- د ایران له یزدان پوهنتون سره دوه اړخیزه توامیت

- د MTN، اتصلاتو، ACG او افغان تیلې کام مخابراتي شرکتونو سره د محصلانو د عملي زده‌کړو او علمي سیرونو په برخه کې تواميتونه

**۴. ډيپارټمنټونه**

د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ پوهنځی څلور ډيپارټمنټونه لري چې دوې يې تخصصي او فارغوونکي دي او دوې نورې ځانګې يې مرستندوی دي چې د دوو لومړنيو يادو شويو ځانګو د علمي پروګرامونو د ملاتړ په موخه رامنځته شوي. دا ځانګې په ترتيب سره په لاندې توګه دي.

- د تيلي کميونيکشن انجينرۍ ډيپارټمنټ (Telecommunication Engineering Dep.- TCE)
- د ساينس او معلوماتي انجينرۍ ډيپارټمنټ (Information Science and Engineering Dep. – ISE)
- د ساينس ډيپارټمنټ
- د ژبې او بزنس کميونکشن ډيپارټمنټ

**۱. د تيلي کميونيکشن انجينرۍ ډيپارټمنټ** (Telecommunication Engineering Department)

**الف. پېژندنه**

د مخابراتو انجينرۍ ډيپارټمنټ په ۱۳۸۶ لمريز کال کې د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ پوهنځي په چوکاټ کې د ليسانس په کچه د لوړو زده‌کړو په موخه د مخابراتي انجينرۍ په برخه کې چې زموږ د ټولنې يو له اړينو اړتياوو څخه ده تاسيس شوه.

**ب. موخې**

د تيلي کميونيکشن انجينرۍ ډيپارټمنټ د رامنځته کولو موخه د هېواد په کچه د محصلانو روزنه د د طراحۍ، ډيزاين، د مخابراتي سيستمونو مديريت چې د LAN، MAN او WAN اړوند وي، د سافټويرنو جوړونه او طرح او د مخابراتي شرکتونو سمبالونه په موثره او ګټوره توګه چې د غوښتنو ځواب ووايي.

د داسې فارغانو وړاندې کول ټولنې ته چې د هېواد د مسلکي پرمختګ، رښو اړيکو، اخلاقي او ټولنيزو مسوليتونو ته ژمن وي. د زده‌کړې د لوړې وړتيا څښتن، ګروپي کار او د انتقالي مخابراتي سيستمونو د دايرولو طراحي کولو، تطبيقولو وړتياوې په بې‌سيمه مخابراتي مبايلونواو نوري فايبر په برخو کې ولري.

**۱.ليدلوری**

د مخابراتي انجينرۍ (مخابراتو) ډيپارټمنټ د باکيفيته زده‌کړو په وړاندې کولو، د ډېرو ماهرو، متخصصو او متبحرو انساني سرچينو په روزلو د ځېړنې او تل‌پاتې پرمختګ د فرهنګ په دودولو سره زيار وباسي تر څو يو پرمختللی با اعتباره او باکيفيته تحصيلي مرکز په ملي او نړيواله کچه وګڼل شي.

**۲. ماموريت**

د کيفيت د ښه‌والي او پرله پسې والي کوښښ، د ډيپارټمنټ استادانو ته انګېزه ورکول او له دوی څخه ملاتړ د ښه کارکولو او د محصلانو د راضي کولو د سطح د لوړاوي په موخه او همدا شان د ورځنيو غوښتنو سره سم د تحصيلي نصاب يا کريکولم جوړول او د محصلانو لپاره د تقويت او مهارت لوړونې پروګرامونو برابرول د مخابراتي انجينرۍ د ځانګې رسالت او ماموريت ګڼل کيږي.

**ج. لابراتوارونه**

د مخابراتي انجينرۍ ډيپارټمنټ د محصلانو د تجربې په موخه د بېلابېلو ادارو په مرسته لاندې لابراتوارونه په عملي او تطبيقي برخو کې د تاسيس او تجهيز شرايط برابر کړل.

۱. دGSM او وايرلس لابراتوار

۲. د انتنونو او مایکروویف لابراتوار

۳. د نوري فایبر لابراتوار

۴. د سرکت (انالوګ او دیجیتل) لابراتوار

۵. د پاور لابراتوار

**د) تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | دکریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | دکریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د تیلي‌کمیونیکیشن انجنیرۍ بنسټونه | ICTC-101 | ۳ | ۱۳ | د انتقال لیکې او شبکې | ICTC-408 | ۴ |
| ۲ | د کمپیوټر بنسټونه | ICIS-101 | ۴ | ۱۴ | د الکترونیک دیجیتل | ICTC-409 | ۳ |
| ۳ | د برېښنایی سرکټ تحلیل | ICTC-202 | ۳ | ۱۵ | انالوګ او دیجیتل کمونیکیشن | ICTC-511 | ۴ |
| ۴ | تخنیکي رسم | ICTC-203 | ۴ | ۱۶ | نوري مخابرات | ICTC-512 | ۴ |
| ۵ | د الکترونیک بنسټونه | ICTC-304 | 4 | ۱۷ | دیتا کمونیکیشن | ICTC-513 | ۳ |
| ٦ | د برقي سرکت تحلیل II | ICTC-305 | ۴ | ۱۸ | د سیګنال او انتن‌ونو خپرول | ICTC-514 | ۴ |
| ۷ | د وړتیا سیستمونه | ICTC-306 | ۴ | ۱۹ | د سیلولر او موبایل پرمختللې شبکې | ICTC-719 | ۴ |
| ۸ | سویچینګ او تیلیفوني دیجیتل | ICTC-615 | ۴ | ۲۰ | مایکرو ویف او ستلایت کمیونیکیشن | ICTC-720 | ۴ |
| ۹ | سیګنال او سیستمونه | ICTC-616 | ۴ | ۲۱ | د سیستمونو کنترول | ICTC-723 | ۴ |
| ۱۰ | SS-7 اوځیرکې شبکې | ICTC-617 | ۳ | ۲۲ | د دیجیتل سیګنالونو پروسس | ICTC-824 | ۴ |
| ۱۱ | د سیلولر او موبایل شبکې | ICTC-618 | ۴ | ۲۳ | د مخابراتود نظارت اصوا او تعرفې | ICTC-826 | ۲ |
| ۱۲ | د پروژې ډیزاین | ICTC-827 | ۵ | | | | |

**۲. د ساینس او معلوماتي انجینرۍ ډیپارټمنټ**

**الف. د ډیپارټمنټ پېژندنه**

د ساینس او معلوماتي انجینرۍ ډیپارټمنټ په ۱۳۸٦ لمریز کال کې د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ پوهنځي په چوکاټ کې د ځوانو متخصصو کادرونو د روزلو په موخه د لیسانس په کچه تاسیس شوه.

**ب. موخې**

د ساینس او معلوماتي انجینرۍ ډیپارټمنټ به ځوانان په بنسټي توګه د ساینس او معلوماتي انجینرۍ، پروګرامینګ، دیتا اورګنایزیشن، شبکه او مخابرات، د معلوماتي سیستمونو طراحي، د سافتویرونو پراختیا، د نویو او معاصرو تکنالوژۍ د پېژندنې او

له هغوی څخه د بازار د اړتیا او غوښتنو سره سمه ګټه اخیستنې په موخه روزي چې دساینس او معلوماتي انجینری په برخه کې د کار-کسب او مارکېټ تر منځ اړیکې ټینګوي.

**۱. لیدلوري**

د ساینس او معلوماتي انجینری ډیپارټمنټ د باکیفیته زده‌کړو په وړاندې کولو، د ډېرو ماهرو، متخصصو او مسلکي انساني سرچینو په روزلو د څېړنې او همښتني پرمختګ د فرهنګ په دودونې سره زیار وباسي چې یو پرمختللی با اعتباره او باکیفیته تحصیلي مرکز په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه و اوسي.

**۲. مأموریت**

د ساینس او معلوماتي انجینری په برخه کې د پرمختللیو بنسټي او عملي څېړنو سره د لوړو زده‌کړو وړاندې کول او اقتصادي پرمختیا د ساینس او معلوماتي انجینری ډیپارټمنټ رسالت او ماموریت ګڼل کیږي.

**ج. لابراتوارونه**

د ساینس او معلوماتي انجینری ډیپارټمنټ د عملي، لابراتواري او د نظري درسونو د تطبیق په موخه لاندې لابراتوارونه تاسیس کړي دي.

۱.د هاردویر لابراتوار

۲.د شبکې لابراتوار

۳.د پروګرامینګ لابراتوار

۴.د تکنالوژی لابراتوار.

**د) تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کمپیوټر بنسټونه | ICIS131 | ۴ | ۱۴ | د DBMS بنسټونه | ICIS437 | ۴ |
| ۲ | د پروګرام لیکنې بنسټونه | ICIS132 | ۴ | ۱۵ | جاوا II | ICIS438 | ۴ |
| ۳ | په ++C کې پروګرام لیکنې | ICIS233 | ۴ | ۱۶ | آرکتیچر کمپیوتر | ICIS439 | ۳ |
| ۴ | دکمپیوټرد شبکې بنسټونه | ICIS234 | ۴ | ۱۷ | د عامل سیتمونو بنسټونه | ICIS540 | ۳ |
| ۵ | په جاوا کې پروګرام لیکنه I | ICIS335 | ۴ | ۱۸ | د ویب تکنالوژي | ICIS541 | ۴ |
| ۶ | پرمختللې شبکې I | ICIS336 | ۴ | ۱۹ | پرمختللی DBMS | ICIS542 | ۴ |
| ۷ | د لینکس عامل سیستم | ICIS643 | ۴ | ۲۰ | د موبایل کارونې پراختیا | ICIS747 | ۴ |
| ۸ | د وېب پرمختللې تکنالوژي | ICIS644 | ۴ | ۲۱ | د دات نیت پروګرام جوړونه له ++C سره | ICIS748 | ۴ |
| ۹ | د دیټا ساختمان | ICIS645 | ۴ | ۲۲ | پرمختللې شبکې II | ICIS749 | ۴ |
| ۱۰ | د پروژې مدیریت | ICIS646 | ۳ | ۲۳ | انتخابي I | ICIS7** | ۳ |
| ۱۱ | انجنیرینګ سافت ویر | ICIS850 | ۴ | ۲۴ | ورستی پروژه | ICIS853 | ۴ |
| ۱۲ | ګرافیک کمپیوتر | ICIS851 | ۴ | ۲۵ | انتخابي II | ICIS8** | ۳ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | د شبکې امنیت | ICIS852 | ۴ | | | | |

**۳. د ساینس ډیپارټمنټ**

**الف. د څانګې پېژندنه**

د ساینس ډیپارټمنټ یوه نافارغده ډیپارټمنټ ده چې په ۱۳۸٦ لمریز کال کې د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ پوهنځي په چوکاټ کې د دوو فارغده څانګو د ملاتړ په موخه د اساسي کورسونو لکه ریاضیات، فزیک او کیمیا چې د محصلانو لپاره اصلي تحصیلي یا تخصصي رشتې ته د داخلېدو شرایط برابروي تاسیس شوې ده. دیپارتمنت ساینس یک دیپارتمنت غیر فارغده بوده که در سال ۱۳۸٦ در چارچوب پوهنځی تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی به هدف حمایت از دو دیپارتمنت فارغده با تدویر کورس‌های اساسی مانند ریاضیات، فزیک و کیمیا که زمینه را برای ورود محصلان به اصل رشتۀ تحصیلی یا تخصصی مهیا می‌سازد ایجاد گردیده است.

**۴. د ژبې او بزنس کمونیکیشن ډیپارټمنټ دیپارتمنت لسان و بزنس کمونیکیشن**

**الف. د څانګې پېژندنه معرفی دیپارتمنت**

د ژبې او بزنس کمونیکشن ډیپارټمنټ یو نافارغوال ډیپارټمنټ ده چې په ۱۳۸٦ لمریز کال کې د مخابراتي او تکنالژۍ پوهنځي د تشکیل په چوکاټ کې د محصلانو د کاري مهارتونو دلوړولو او د فارغوالو ډیپارټمنټونو د ملاتړ په موخه تاسیس شوه چې د ژبې د زده‌کړې او دمحصلانو د مهارتونو د لوړولو په برخه کې د کورسونو په دایرولو سره چې وروسته له فراغته د یادو محصلانو سره په عملي تطبیقي برخه کې ډېره مرسته کوي لکه د اړیکو، خصوصي تشبثاتو، رهبری، د پروژې مدیریت او داسې نورو برخو کې

# د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی



### ۱. د پوهنځي پېژندنه

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی يو دولتي بنسټ دی، چې په ۱۳۱۷ لمريز کال د حقوقو د اکاډمۍ په نامه تاسيس شوی دی. د همدې کال د غوايي د مياشتې پر اومه د (۲۵) محصلانو په لومړنيو وسايلو سره او پنځه استادانو د حبيبيې لېسې په انګړ کې چې پل باغ عمومي کې و، فعاليت پيل کړ او په ۱۳۲۰ ل. کال د اکاډمۍ د رياست په وړانديز او د صدارت د مقام په منظورۍ دغه اکاډمي د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي ته ارتقا وکړه. په پيل کې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي عمده موخې په اداري او ډيپلوماسۍ برخو کې د مسلکي کادرونو تربيه کول وو، چې د ټولنې د اړتيا پر بنسټ پکې قضايي برخه هم زياته شوه.

دغه پوهنځی په پيل کې د ترکي او الماني استادانو له علمي مرستې څخه برخمن و. بيا د پاريس پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي سره يوځای شو، چې تر ۱۳۵۰ ل. کال پورې يې دوام وکړ. اوس د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلانو جذب د پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو د نويو شاملو شويو محصلانو له لايحې سره سم ترسره کوي. د دې پوهنځي فارغان په دولتي ادارو کې لکه د عدليې وزارت، ستره محکمې، لوی څارنوالی، بهرنيو، کورنيو چارو او ماليې وزارتو او په دولتي کميسونونو کې استخداميږي او ځينې يې په خصوصي برخو کې او يا د مدافع وکيل او يا د حقوقي سلاکار په توګه دنده ترسره کوي. دغه پوهنځی له تاسيس څخه تر دې مهاله په دې هڅه کې دی، چې متخصص او ازمايل شوي عدلي، قضايي او اداري سياسي کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

### ۲. د پوهنځي موخې

#### الف. ليدلوری

د نوښتګر او کارنده مسلکي، متخصصو کادرونو د روزنې او ځواکمنتيا لپاره د مناسب چاپيريال جوړول. د کمي او کيفي زده کړو ارتقا او ځېړنه د هېواد په علمي چارو او د هېواد د علمي برخو بنه کېدل او د هېواد علمي ځايګی او له ټولنې سره منظمې او هر اړخيزې اړيکې د اړتياوو او ستونزو پېژندل او د وړتياوو د دودولو لپاره علمي لارې چارې رامنځته شوی دی. دغه پوهنځی د وړ استادانو او کارکوونکو شتون او غواروي کې له نوي امکاناتو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخستنه، د غوره ځوانانو د جذبولو لپاره د شرايطو رامنځته کول او د علم او مهارت د ترلاسه کولو لپاره جوړ شوی دی.

**ب. دنده**

د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د کابل پوهنتون عمومي ماموريت ته په کتو د پوهې د لمنې د پراختيا لپاره او د حقوقو د علم د تطبيقي بڼې ورکولو او د سياسي پوهې تخصصي ـ کول دي. د نوې پوهې، علمي ميتود، کارموندنه او د ځواکمنو ژمنو متخصصو روزل، په حقوقو او سياسي برخو کې دي.

نو د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي موخو ته په کتو سره د پوهنځي ماموريتونو دا دي.

۱. د حقوقو او سياست د معياري پوهې د زده کړو لپاره زمينه برابرول.

۲. د نظري او عملي پوهې يو ځای کول د علم تطبيقي کولو لپاره.

۳. د کار په بازار کې د اسانه جذب لپاره متخصص ځواک ته د زده کړې او کارموندنې ښودل.

۴. د ټولنې د فکري او علمي اړتياوو په خاطر د علمي سياسي او حقوقي نظريو توليد.

۵. په سياسي، ټولنيز د او قانون د واکمنۍ په پراختيا کې علمي او اکاډميکه ارتقا.

۶. د زده کړې او کار په ساحو کې د ډليز کار او د يوه بل د منلو فرهنګ واکمنول.

**ج. اساسي موخې**

۱. د هېواد عدلي او قضايي نهادونو ته د متخصصو او وړ کادرونو روزل.

۲. د هېواد د عدلي دستګاه کارکوونکيو ته د عملي حقوقو د مهارتونو ورزده کول.

۳. جزايي او خصوصي قضيو ته علمي رسېدنه، د متخصصو کادرونو روزنه د دې لپاره چې په پای کې يو عدلي سياست ترسره شي.

۴. د هېواد عدلي او قضايي بنسټونه په تازه او متخصص ځواك سنبالول؛ ترڅو دا نهادونه غير مسلکي او ناژمنو کادرونو تـه اړ نه شي.

**د ډيپارټمنټونه**

اوس مهال د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې لاندې څلور ډيپارټمنټونه موجود دي:

۱. د جزا حقوقو او جنايي علومو ډيپارټمنټ.

۲. د خصوصي حقوقو ډيپارټمنټ.

۳. د نړيوالو اړيکو ډيپارټمنټ.

۴.د عمومي حقوقو ډيپارټمنټ.

**۱. د جزا حقوقو او جنايي علومو ډيپارټمنټ**

**الف. د ډيپارټمنټ پېژندنه**

جزا حقوق او جرم پېژندنه د حقوقو يو مهم بنسټيزه ډيپارټمنټ دی، چې د جزا حقوق او جنايي علومو ډيپارټمنټ تـر عنـوان لاندې د حقوقو او سياسي علومو په چوکاټ کې علمي فعاليتونه کوي. دغه ډيپارټمنټ د ټولنې د وګړيو د فردي او ټولنيز ژوند لـه ټولو اړخونو سره سروکار لري. په ټولنه، صنعت، اقتصاد او نورو برخو کې چې کوم بدلونونه راغلي هماغومره په بشري ټولنه کې د جرمونو ډولونه ورسره زيات شوي او ځکه خو په حقوقو کې دغه ډيپارټمنټ تر ټولو چټك بدلون کوي.

**ب. موخې**

**د ډیپارټمنټ لیدلوری**

په عدلي او قضایي برخو کې د جزا حقوق او جنایي علومو ډیپارټمنټ پر یوه مجهز-، ځواکمن او ګټور ډیپارټمنټ بدلول. د جزا حقوقو او جنایي علومو په ډیپارټمنټ کې علمي څېړنې کول او په مسلکي اخلاقو پسولليو مسلکي کادرونو داسې روزنه چې افغانستان ته خدمت وکړي.

**د ډیپارټمنټ دنده**

د جزا حقوقو او جنایي علومو د ډیپارټمنټ ماموریت د دې ډیپارټمنټ څخه د فارغ شویو چمتو کول، په عدلي او قضایي برخو کې د خدمت کولو لپاره دي. په قضایي قوه، لویه څارنوالي، حقوقي کشفي ارګانونه او جرایمو سره د مبارزې نهادونه دي. دغه ډیپارټمنټ هڅه کوي، چې د مسلکي کادرونه د هراړخیزو خدمتونو، د هېواد حقوقي او قضایي ستونزو ته او د قانون جوړونې په نهادونو کې خدمت کول په نیکو اخلاقو او د حقوقو د تحلیل په وړتیاوو سنبال وي، ټولنې ته د خدمت کول جوګه وګرځي.

د جزا حقوق او جنایي علومو ډیپارټمنټ، په لیسانس کې د حقوقو په ډیپارټمنټ کې او په کې د جزا حقوق او جرم پېژندنې په ډیپارټمنټ کې محصلانو ته زده کړه ورکوي، چې خپل فعالیتونه یې د زکړییزو برنامو د ښو کولو د پراختیا لپاره او د پوهې تولید او وړاندې کول د ملي موخو پر بنسټ ځانګړی شوی دی او اصلي ماموریت یې عبارت دی:

ـ د زدکړې ماموریت موخه د کارنده متخصص ځواک او خلاق، ژمن او مسوولیت منونکي روزنه، د هېواد د بشرې ځواک د اړتیاوې په دولتي او غیر دولتي په د زده کړو په کچه په ټولو برخو کې.

- د څېړنې ماموریت د تولید موخه، د پوهې ابداع او خپرول او د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویونکې څېړنې.
- د زده کړې د کیفیت ښه کول.
- د څېړنو د فعالیتونو ښه کول او د دولتي او غیر دولتي بنسټونو سره همکاري.
- په داخلي او نړیواله کچه علمي همکاریو ته پراختیا.

**۱. ټولیزې موخې**

- د څېړنو او زده کړو لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول او د باکیفیته لوړو زده کړو وړاندې کول، په جنایي سیاستونو کې د جزا د حقوقو د حوزې علمي پېژندنه.
- د ځوانانو د ذهني او فکري وړتیاوو زیاتول.
- د علمي تحلیل او تجزیې په برخه کې د استعدادونو د وړتیاوو زیاتول.
- د ټولنې لپاره د متخصص او ماهر ځواک روزل.
- لوړو زدکړو ته د محصلانو د راتلو لپاره زمینه برابرول.

**تخصصي نصاب یې**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کریمنولوژي | LP-LA0327 | ۲ | ۷ | د جزا فقهي قاعدې | LP-LA0651 | ۲ |
| ۲ | د جزا حقوق په اسلام کې | LP-LA0330 | ۲ | ۸ | د جزا خصوصي حقوق | LP-LA0740 | ۲ |
| ۳ | جزاپېژندنه | LP-LA0331 | ۲ | ۹ | د جزایي محاکماتو اصول ۲ | LP-LA0859 | ۲ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیت | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | کریمنالستیک | LP-LA0434 | ۲ | ۱۰ | د جزا خصوصي حقوق ۲ | LP-LA0540 | ۲ |
| ۵ | د جزا خصوصي حقوق | LP-LA0540 | ۲ | ۱۱ | عدلي طب | LP-LA0868 | ۲ |
| ۶ | د جزا نړیوال حقوق | LP-LA0650 | ۲ | | | | |

**۲ د خصوصي حقوقو ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

خصوصي حقوق د حقوقو له مهم ډیپارټمنټونو څخه دی، د عمومي حقوق پر وړاندې ولاړ دی. چې د وګړو اړیکې له دولت سره احتوا کوي. د خصوصي حقوقو ډیپارټمنټ د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي د نورو ډیپارټمنټونو په څېر د یو علمي واحد په توګه تاسیس شوې ده. په ټوله کې د دې ډیپارټمنټ موضوعات دا دي. د نړیوال تجارت حقوق، اقتصادي حقوق، کورني حقوق، د معنوي مالکیت حقوق او د اشخاصو ژمنې د یو بل پر وړاندې دي. د دې پوهنځي له جوړېدو موخه د قوانینو او قواعدو ارزول او مطالعه کول دي، چې د ټولنې د وګړو د ګټې په وړاندې له یوه بل سره بحث پرې کوي.

**د خصوصي حقوقو د ډیپارټمنټ لیدلوری**

د خصوصي حقوقو ډیپارټمنټ د یوې ګټورې او کارندې ډیپارټمنټ په توګه د متخصصو علمي کادرونو روزل او د خصوصي حقوقو په برخه کې د مسلکي پوهې او حقوقي ارتقا کچه لوړول او د افغانستان اکاډمیکې ټولنې ته علمي لارې چارې وړاندې کول.

**د خصوصي حقوقو ډیپارټمنټ دنده**

د خصوصي حقوقو ډیپارټمنټ ماموریت دا دی، چې فارغ شوي محصلان په عدلي او قضایي برخو کې چې قضایه، مقننه او اجراییه قوې دي، د خدمت لپاره چمتو کړي، مسلکي او متخصص کادرونه وروزي، ترڅو ارزښتمن خدمتونه وکړي او د هېواد په حقوقي او قضایي برخو کې له ننګونو سره مبارزه وکړي او هم په قانون‌جوړوونکو بنسټونو کې په نېکو اخلاقو د حقوقي تحلیل په وړتیاوو سره ټولنې ته د خدمت جوګه شي.

د خصوصي حقوقو ډیپارټمنټ، د لیسانس په کچه د حقوقو په ډیپارټمنټ کې محصلانو ته زده کړې ورکوي. چې خپل فعالیتونه د ملي او اکاډمیکو اصولو په رڼا کې د تحصیلي پروګرامونو ښه کولو او ګټورو زده‌کړو ته بېل کړي. د دې ډیپارټمنټ ماموریت په لاندې ډول دی:

- زده کړې د متخصص، ژمن او مسوولیت منونکي د بشري منابعو د روزلو په موخه د هېواد د بشري منابعو د اړتیاوو پوره کول. په دولتي او نادولتي برخو کې د زده کړو په مختلفو برخو کې.
- اکاډمیک او څېړنیز ماموریت د علم تولید، رامنځته کول او د پوهې خپرول او د ټولنې څېړنیزو اړتیاوو ته ځواب ویل او د ټولنې د ښه کېدو لپاره ګټور علمي وړاندیزونه وړاندې کول.
- د زکړو کیفیت ښه کول.
- د څېړنیزو فعالیتونو د کیفیت ښه کېدل او له دولتي او غیر دولتي نهادونو سره همکاري.
- په داخلي او نړیواله کچه د علمي همکاریو پراختیا.

**تحصیلي نصاب(تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تاکلي عقدونه | LP-LA0545 | ۲ | ۱۱ | بین المللي عمومي حقوق ۲ | LP-LA0643 | ۲ |
| ۲ | مدني فقهي قاعدې | LP-LA0546 | ۲ | ۱۲ | د سوداګریزو شرکتونو حقوق | LP-LA0649 | ۲ |
| ۳ | حقوقي فقهي متنونه | LP-LA0218 | ۲ | ۱۳ | بین المللي خصوصي حقوق | LP-LA0757 | ۲ |
| ۴ | د معنوي مالکیت حقوق | LP-LA0328 | ۲ | ۱٤ | د مدني محاکمو اصول | LP-LA0758 | ۲ |
| ۵ | د فقهې اصول | LP-LA0435 | ۲ | ۱۵ | د میراث حقوق | LP-LA0760 | ۲ |
| ٦ | عیني حقوق ۱ | LP-LA0541 | ۲ | ۱٦ | د سوداګریزو شخړو حل لارې | LP-LA0761 | ۲ |
| ۷ | د فامیل حقوق | LP-LA0542 | ۲ | ۱۷ | بین المللي خصوصي حقوق ۲ | LP-LA0857 | ۲ |
| ۸ | د سوداګرۍ حقوق | LP-LA0547 | ۲ | ۱۸ | دمدني محاکمو اصول ۲ | LP-LA0858 | ۲ |
| ۹ | عیني حقوق ۲ | LP-LA0641 | ۲ | ۱۹ | د بین ا لمللې سوداګرۍ حقوق | LP-LA0867 | ۲ |
| ۱۰ | د فامیل حقوق ۲ | LP-LA0642 | ۲ | | | | |

### ۳ـ د عمومي حقوقو ډیپارټمنټ

**الف.معرفي یا پېژندنه**

د عامه حقوقو د ډیپارټمنټ موضوعات مستقیم د خصوصي حقوقو دډیپارټمنټ د اړوندو موضوعاتو په مقابل کې شتون لري. دغه ډیپارټمنټ د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي تر چتر لاندې جوړ شوی دی. په دغې ډیپارټمنټ کې د بحث وړ موضوعات د دولت پر اړیکو، له خلکو سره د هغه د کارکوونکو پر اړیکو او په برعکس اړیکو واکمن قواعد جوړوي.

**لیدلوری**

زموږ لیدلوری یوه نظام‌لرونکې ټولنه ده، چې یوه متخصصه، بې‌پرې، منصفانه او د لاسرسي وړ اداره ولري او کارکوونکي یې د نوې او تر ډېره د حقوقي او مسلکي پوهې او وړتیا لرونکي وي، چې په افغانستان کې قانون واکمن شي، د قانون په وړاندې برابري او عدالت ته د ټولو لاسرسی تامین شي.

**د ډیپارټمنټ دنده**

په هېواد کې د ټولو دولتي بنسټونو لپاره د تکړه کادرونو روزنه، ترڅو له دې لارې ښه دولتداري او د قانون حاکمیت بنسټیز کړای شو.

**د عمومي حقوقو د ډیپارټمنټ موخې**

- د دغې ډیپارټمنټ د ماسټرۍ برنامو پیاوړتیا
- د دغې ډیپارټمنټ د استادانو د علمي کچې لوړتیا
- د محصلانو د پوهې او وړتیاوو لوړتیا
- د محصلانو لپاره د علمي او حقوقي څېړنو مخه برابرول
- د محصلانو لپاره د ظرفیت د ودې د لنډمهاله برنامو، کانفرانسونو، ورکشاپونو، سمینارونو، ګردي مېزونو او د علمي او څېړنیزو سیالیو جوړول.

- د عمومي خدمتونو د وړاندې کولو د ظرفیت بنسټیزه علمي لوړتیا
- د عمومي حقوقو د محکمو د قاضیانو لپاره د عادلانه قضاوت د مخینې برابرولو په خاطر کوښښ.
- د ښوونې، پوهې د معیارونو او میتودونو بهتره‌کول او تجدید یا نویتابه.
- د اړوندو ارګانونو د ظرفیت لوړونې د برنامو د همغږۍ په خاطر کوښښ.
- د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي په مجله کې د قانوني او حقوقي معلوماتو د چاپولو،
- خپرولو او خپرولو له لارې عامه پوهاوی، د افغانستان د خلکو د عامه حقوقي او قانوني پوهې لوړتیا.

**تحصیلي نصاب( تخصصي مضمونونه)**

| کریډیټ | کودنمبر | د مضمون نوم | ګڼه | کریډیټ | کودنمبر | د مضمون نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | LP-LA0643 | بین المللي نړیوال حقوق 2 | ٦ | ۲ | LP-LA0216 | د چاپیریال حقوق | ۱ |
| ۲ | LP-LA0756 | اداري حقوق | ۷ | ۲ | LP-LA0220 | د مصرفوونکي د ملاتړ حقوق | ۲ |
| ۲ | LP-LA0856 | اداري حقوق 2 | ۸ | ۲ | LP-LA0222 | رسنیز حقوق | ۳ |
| ۲ | LP-LA0870 | کونسلي او ډیپلومیټیک حقوق | ۹ | ۲ | LP-LA0329 | دکار حقوق | ۴ |
| | | | | ۲ | LP-LA0433 | دمعادنو حقوق | ۵ |

**۴ ـ د نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د ټولو هېوادونو په محصلانو کې یوه ډېره په زړه پورې او د ګټو پلویانو لرونکې ډیپارټمنټ د نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ ده. د نړیوالو اړیکو مطالعات د دولتونو، هېوادونو، دولتي سازمانونو، غیردولتي سازمانونو او ګڼ ملیتي شرکتونو ترمنځ له اړیکو څخه بحث کوي. په نړیوالو اړیکو کې یوه بله مهمه او بنسټي د مطالعې وړ موضوع چې د ورځې له ځانګړو موضوعاتو څخه ده، د نړیوال کېدو، نړیوال سیاسي اقتصاد، نړیوال امنیت، د چاپېریال ثبات، د هستوي او ډلـه‌ییزو وژنو وسلو، ملت پالنې، اقتصادي پراختیا او نړیوالې مالیې، سازمان یافته جرمونو، بهرنی مداخلې او بشر حقونو له بحث څخه عبارت ده.

**ب. د ډیپارټمنټ موخې**

**لیدلوری**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ به د نورو ورته بنسټونو په منځ کې د ټولنې اړتیاوو ته پر ځواب ویلو ټینګار سره د یو ډېر پخواني ډیپارټمنټ په توګه د ښوونې، د پوهې د تولید او خپرولو، او د هېواد د پرمختګ لپاره د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره وپېژندل شي او د هغې امکانات، د علمي کادر غړي، محصلان او څېړونکي به یې د بهترو له ډلې څخه وي.

**د ډیپارټمنټ دنده**

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ د مسلکي، متخصصو، نوښتګرو او کاروړ کادرونو د روزنې او غښتلتیا په خاطر د مناسب چاپېریال د رامنځته کولو، د هېواد د چارو د علمي اداري په برخه کې د زده‌کړو او څېړنې د کمي او کیفي لوړتیا، د هېواد د علمي مقام او منزلت د بهترۍ، د اړتیاوو او ننګونو د پېژندو لپاره له ټولنې سره د دوامداره او منظم ارتباط ټینګولو او د شایسته سالارۍ د ترویج او پرې د ټینګار د علمي میکانیزمونو د وړاندې کولو په موخه رامنځته شوی. دا ډیپارټمنټ له غوره استادانو او کارمندانو، له نوې تکنالوژۍ او نوو امکاناتو څخه د ګټې اخیستو او د غوره او د علم و وړتیا د غوښتونکو ځوانانو د جذب لپاره رامنځته شوی دی.

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ د لېسانس په کچه د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو په څانګو او د ماسټرۍ په کچه د دیپلوماسۍ په څانګو کې د محصلانو په ښوونه لاس پورې کوي، چې خپل فعالیتونه یې د تحصیلي برنامو د پراخه طیف د ترسره کولو او بهتره‌کولو او د ملي موخو پربنسټ د پوهې د تولید او وړاندې کولو لپاره ځانګړې کړې دي او اصلي دندې یې په لاندې ډول دي:

- په ټولو تحصیلي سطحو کې په دولتي او غیردولتي برخو کې د هېواد د بشري ځواک د اړتیاوو د پوره‌کولو لپاره د متخصص کارپوه او نوښتګر، ژمن او مسؤلیت منونکي ځواک د روزلو موخې سره ښوونیزه دنده.
- د پوهې د تولید، ابداع او خپرولو او د ټولنې څېړنیزو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په موخه څېړنیزه دنده.
- د زده‌کړو د کیفیت بهتره‌کول.
- د څېړنیزو فعالیتونو د کیفیت او له دولتي او غیردولتي بنسټونو سره د همکارۍ بهتره‌کول.
- په کورنۍ او نړیواله سطحه د علمي همکاریو پراختیا.

**د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د ډیپارټمنټ تحصیلي نصاب**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بهرنۍ ژبه | LP-P10419 | ۲ | ۲۰ | سوله او د شخړو حل لارې | LP-P10435 | ۲ |
| ۲ | د افغانستان اساسي حقوق | LP-P10433 | ۲ | ۲۱ | نړیوالتوب | LP-P10528 | ۲ |
| ۳ | په اسلام کې سیاسي افکار | LP-P10435 | ۲ | ۲۲ | بین المللي عمومي حقوق 2 | LP-P10536 | ۲ |
| ۴ | د سوېلي اسیا سیاست او حکومت | LP-P10538 | ۲ | ۲۳ | سیاسي ټولنپوهنه 2 | LP-P10537 | ۲ |
| ۵ | د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ | LP-P10540 | ۲ | ۲۴ | د بهرني سیاست د تحلیل بنسټونه | LP-P10646 | ۲ |
| ٦ | د اسلام سیاسي حرکتونه او غورځنګونه | LP-P10320 | ۲ | ۲۵ | کونسلي ډیپلومیټیک حقوق | LP-P10647 | ۲ |
| ۷ | څېړندود | LP-P10321 | ۲ | ۲٦ | ډیپلومیټیک اداب او تشریفات | LP-P10648 | ۲ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | د بین المللي اړیکو اصول 1 | LP-P10320 | ۲ | ۲۷ | دمتحده ایالتونو حکومت او سیاست | LP-P10649 | ۲ |
| ۹ | د شلمې پېړۍ سیاسي افکار | LP-P10322 | ۲ | ۲۸ | د افغانستان سیاسي نظام | LP-P10650 | ۲ |
| ۱۰ | سیاسي جغرافیا | LP-P10324 | ۳ | ۲۹ | د بین المللي اړیکو تیورۍ | LP-P10753 | ۲ |
| ۱۱ | سیاسي تجدد او پراختیا | LP-P10325 | ۲ | ۳۰ | د لویو قدرتونو بهرنۍ سیاست 1 | LP-P10754 | ۲ |
| ۱۲ | بهرني ژبه | LP-P10419 | ۲ | ۳۱ | بین المللي امنیت | LP-P10755 | ۲ |
| ۱۳ | دمنځنۍ اسیا حکومت او سیاست | LP-P10428 | ۳ | ۳۲ | بین المللي سودګري | LP-P10756 | ۲ |
| ۱۴ | د رهبرۍ اصول | LP-P10429 | ۲ | ۳۳ | پرتلیز سیاست | LP-P10758 | ۲ |
| ۱۵ | ټاکنیز نصابونه | LP-P10430 | ۲ | ۳۴ | د بین المللي اړیکو تیورۍ 2 | LP-P10853 | ۲ |
| ۱۶ | د بین المللي اړیکو اصول 2 | LP-P10431 | ۲ | ۳۵ | د لویو قدرتونو بهرنۍ سیاست 2 | LP-P10854 | ۲ |
| ۱۷ | بین المللي عمومي حقوق 1 | LP-P10432 | ۲ | ۳۶ | بین المللي سیاسي اقتصاد | LP-P10863 | ۲ |
| ۱۸ | ساسي ټولنپوهنه 1 | LP-P10433 | ۲ | ۳۷ | سیاسي ارواپوهنه | LP-P10864 | ۲ |
| ۱۹ | د لږ پرمختللیو هېواد سیاسي اقتصاي مسایل | LP-P10434 | ۲ | ۳۸ | د نړۍ سیاسي مسایل | LP-P10865 | ۲ |

د ماسټرۍ په برخه کې تر لیسانس پورته پروګرام د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې په څلورو لانـدینیو ډیپـارټمنټونو کـې روانه ده:

**۱ ـ د نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ**

**لیدلوری**

د نړیوالو اړیکو په برخه کې د مسلکي متخصصینو د لرلو له پلوه د دولتي او نادولتي او همدارنګه د علمي او څېړنیزو بنسـټونو د اړتیا پوره کول.

**موخې**

د نړیوالو اړیکو تر لیسانس پورته پروګرام په لاندینیو موخو باندې متمرکز دی؛

- د داسې مستعدو کادرونو روزنه چې تر فراغت وروسته د دې جوګه وي، چې د ډیپلومـاتیکو اړیکـو، د مـلي پالیسـیو د جوړولو، بهرني سیاست او د افغانستان د نړیوالو اړیکو د مدیریت په برخه کې اغېزناک نقش ولري.

- د داسې مستعدو کادرونو روزنه چې تر فراغت وروسته په پوهنتون او علمي مرکزونو کې د استاد پـه توګـه پـه تخصصي ډول د درس ورکولو جوګه وي.
- د داسې مستعدو کادرونو روزنه چې تر فراغت وروسته په علمي او څېړنیزو مرکزونو کې د څېړونکي په توګه د بحثونو او مسایلو د تجزیې او شننې او تخصصي وړاندې کولو جوګه وي.
- د داسې استعدادلرونکو کادرونو روزنه چې تر فراغت وروسته له ملي او نړیوالو بنسټونو سره د همکـارۍ برابرولـو جوګـه وي.
- د داسې مستعدو کادرونو روزنه چې د دې جوګه وي، ترڅو د افغانستان د بهرني سیاست او د نړیوالو اړیکو د مـدیریت په برخه کې شته نیمګړتیاوو او کمی اصلاح کړي او رغون پکې راولي.
- په مختلفو برخو کې د دولتي او غیردولتي ارګانونو د اړتیاوړ متخصص کادر روزنه.
- د دوکتورا په برخه کې د تحصیل د ادامې په خاطر د مستعدو کادرونو چمتوکول.

د نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو د ډیپارټمنټ د ماسترۍ برنامې تخصصي مضامین:

| کریډیټ | کودنمبر | د مضمون نوم | ګڼه | کریډیټ | کودنمبر | د مضمون نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | IRC 108 | د بهرني سیاست تجزیه او تحلیل | ۸ | ۳ | IRS 101 | د نړیوالو اړیکو نظریات | ۱ |
| ۲ | IRS 109 | سیمه‌ییزه همپاله | ۹ | ۲ | STG 105 | د نړیوالو معاهدو حقوق | ۲ |
| ۲ | IRS 112 | د امنیت نظریات | ۱۰ | ۲ | IRS 106 | اسلام او نړیوال حقوق | ۳ |
| ۲ | IRS 113 | د مخ پر ودې هېوادونو سیاسي او اقتصادي مسایل | ۱۱ | ۲ | IRS 107 | د نړیوالو شخړو حل و فصل | ۴ |
| ۳ | IRS 122 | تېزس | ۱۲ | ۲ | IRS 116 | د سترو قدرتونو بهرنی سیاست | ۵ |
| ۲ | IRS 120 | د ورځنیو مسایلو کتنه (سمینار) | ۱۳ | ۳ | IRS 117 | د نړیوالو بحرانونو مدیریت | ٦ |
| | | | | ۲ | IRS 121 | د اوبو دیپلوماسي | ۷ |

**۲ـ د جزا او جرم پېژندنې ډیپارټمنټ**

**د پروګرام پېژندنه**

لکه څرنګه چې په ملي او نړیواله سطحه د جزائي قواعدو او جنائي علومو شتون یو لازمي شی ګڼل کېږي، په همدې ډول د جـزا حقوقو او جنائي علومو په ډیپارټمنټ کې د تحصیلي پروګرامونو شتون د حقوقو په پوهنځیو کې مهـم او بنسـټي دی. لـه همـدې مخې د جزا حقوقو او جنایي علومو د ماسترۍ برنامې تل مسلکي او مجربو کادرونو تـه کوشـش او هڅـه کـړې ده، ترڅـو د جـزا حقوقو او جنایي علومو ډېر مهم مضامین د دغې برنامې محصلینو ته تدریس کړي. د دغې برنامې موخه د جزا حقوقـو د متنـي او شکلي قواعدو په اړوندو موضوعاتو، له جرمونو سره د مبارزې په لارو چارو او د مجرمیت له پدیـدې سره د مبـارزې پـه خـاطر د جرمي لاملونو او عواملو د موندلو په برخه کې د دغه پوهنځي د محصلانو د علمي او عمـلي پـوهې او وړتیـاوو د سـطحې لـوړول دي. دغه برنامه به تل دا کوشش او هڅه کوي، ترڅو عدلي او قضائي بنسټونو ته مسلکي او متخصص اشخاص وړاندې کړي او له

یوې خوا د هغې مهمې موخې چې د ټولو لپاره عدالت ته له لاسرسي څخه عبارت ده، د ترلاسه کولو سبب شي او له بلې خوا د شکمن، تورن او مجني علیه د انساني حقوقو او کرامت د استنې او له مجرم څخه د بې ګناه د توپیرونې سبب وګرځي، ترڅو عدالت په ښه شکل تامین شي. د دغې برنامې ډېره مهمه موخه د جنائي عدالت د تامینولو په خاطر عدلي او قضائي بنسټونو ته د مسلکي کسانو روزل دي.

**لیدلوری**

دا چې د هېواد عدلي او قضائي بنسټونه د ظرفیت پراختیا او لوړتیا ته جدي اړتیا لري، نو دغه پوهنځی په پام کې لري، ترڅو د متخصصو او روزل شوو کادرونو روزنې سره دغې موخې ته د رسېدو فرصت برابر کړي. د دغه پوهنځي فارغان د خپلو علمي او کاډمیکو لاسته راوړنو پرمټ له قانون څخه د ساتنې په بنسټونو کې په ډېره غوره شکل د عدالت او قانونیت د پلیتابه مخه برابرولای شي او په دغو بنسټونو کې ټولو شته نادودو ته په خپله برخه کې د پای ټکی ایښودلای شي.

همدارنګه په پام کې ده، چې د دغې پروګرام له پیاوړتیا او بنسټي کېدو وروسته په دغه پوهنځي کې د حقوقو په ډیپارټمنټ کې د دوکتورا پروګرامونو د رامنځته کېدو فرصت برابر شي او له دې لارې افغانستان یوه ورځ علمي ځان بسیاینې ته ورسېږي او ورپسې په ټولنه کې د قانونیت او عدالت پلیتابه ترلاسه شي.

**دنده**

د دغه پوهنځي رسالت په حقیقت کې د جزا حقوقو او جنائي علومو په برخو کې له ورځې سره سم په مسلکي پوهې د محصلانو سمبالښت دی. د اړوندې ډیپارټمنټ د درسونو په تیوریکو اړخونو د ترکیز ترڅنګ به کوشش وشي، ترڅو د درسونو عملي اړخونو ته چې د هېواد د عدلي او قضائي بنسټونو ورته جدي اړتیا ده، په وړ شکل پاملرنه وشي.

همدارنګه تر لیسانس پورته پروګرامونو له لارې کوشش شوی، چې د دغې پروګرامونه د محصلانو لپاره د لا زیاتې څېړنې او سپړنې فرصتونه رامنځته شي او له دې لارې علمي او اکاډمیک بنسټونه له یوازې تدریسي-بنسټونو څخه په تدریسي-څېړنیزو بنسټونو بدل شي.

موخې

۱ ـ د قضائي وړتیاوو او قضایي سلوک او چلن ښوونه

۲ ـ دعوې او دفاع او د هغو د اقامې د څرنګوالي د اړوندو قواعدو ښوونه

۳ ـ د دفاع وکالت د وړتیاوو ښوونه

۴ ـ د دولتي او غیردولتي بنسټونو لپاره د حقوقي مشورې ورکولو ښوونه

ج) د جزا او جرم پېژندنې ډیپارټمنټ د ماستري پروګرام تحصیلي نصاب (تخصصي مضامین)

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د عمومي جزا حقوق | 3BCLA10 | 3 | ۵ | د اختصاصي جزا حقوق ۲ | BCLA301 | 3 |
| ۲ | د اختصاصي جزا حقوق | BCLA201 | ۳ | ٦ | د جزا نړیوال حقوق | BCLA302 | ۳ |
| ۳ | د جزایي محاکمو اصول | BCLA202 | ۳ | ۷ | جرم پېژندنه | BCLA303 | ۲ |
| ۴ | په اسلام کې د جزایي فقې متون (د حنفي فقې پر محور) | BCLA203 | ۲ | ۸ | تېزس | BCLA402 | ٦ |

# ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی



## ۱. د پوهنځي پېژندنه

د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی په ۱۳۴۱ ل کال کې د کابل پوهنتون په اډانه کې د ښوونې او روزنې د پوهنځي په نامه جوړ شو او د شپیتو تنو محصلانو په منلو یې د لسو تنو تجربه لرونکو داخلي او امریکایي استادانو چې په بېلابېلو ډیپارټمنټونو کې یې دوکتوراوې او ماسټرۍ درلودې کار پیل کړ. هغه مهال د نوموړي پوهنځي د جوړېدو او تأسیس موخه په هغو ډیپارټمنټونو کې چې د هېواد په منځنیو ښوونځیوکې لوستل کېدې، د ښوونکو روزنه وه. د دغو ډیپارټمنټونو تر څنګ، بل ډیپارټمنټ د روزنیزې ادارې په نامه هم و چې وروسته بیا د مسلکي ښوونو په نامه ونومول شو. دا پوهنځی په ۱۳۵۲ کال کې په تدریجي توګه لغوه او لـه منځه ولاړ او محصلان یې د ساینس، ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځیو پورې وتړل شول. د مسلکي تحصیلاتو ډیپارټمنټ چې د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي پورې تړلی شوی و، په ۱۳۵۸ کال کې بېرته د ښوونې او روزنې د پوهنځي په توګه رامنځ ته شو؛ خو دا ځل یې یواځې دوه ډیپارټمنټونه، د ارواپوهنې او پېداګوژۍ په کې وو چې د جوړېدو موخه یې په هېواد کې د پوهنې د برخې د اړتیاوو پوره کول وو. د اروپوهنې او پېداګوژۍ په برخه که کې، د وخت په تېرېدو او په ټولنه کې د نویو غوښتنو پـه منځ ته راتګ سره، د لوړو زده کړو وزارت پرېکړه وکړه چې د ښوونې او روزنې په نامه پوهنتـون جـوړ کـړي. همـدا لامـل شـو چـې د پوهنځي نوم له ښوونې او روزنې څخه د اروپوهنې او روزنیزو علومو په پوهنځي واوړي.

له دې پوهنځي وروسته یې په خپلو موخو بیاکتنه وکړه او د اروپوهنې او پېداګوژۍ بېلابېلو برخو ته یې پاملرنه وکړه او په پایله کې یې نور ډیپارټمنټونه د روزنیزې ادارې، اروایي مشورې، په نامه په۱۳۹۲، ټولنیزکار په ۱۳۹۲ او پلان او روزنیزه پالیسي په ۱۳۹۳ کال کې د دې پوهنځي په اډانه کې منځ ته راغلل. اوس دا پوهنځی شپږ ډیپارټمنټونه لري.

د اروپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی د پوهې په برخه کې د چټک پرمختګ او په نړۍ کې د نویو پوهنو پرمختګ او د ګران هېواد اړتیاوو ته په کتو، د لوړو زده کړو وزارت ستراتېژیک پلان ته په پام، په دې لټه کې دی چې د خپلو پرمختیایي پروګرامونو د ښه والي او پلي کولو لپاره نوې طرحې جوړې کړي، تر څو په دې برخه کې د هېواد په داخل او بهر کې له نورو ادارو او تحصیلي سازمانونو سره ښه او د باور وړ همکار او ملګری و اوسي. ټولنې تـه د ځوانـو مسـلکي کـادرونو پـه وړانـدې کولـو سره، لا ډېـر د خدمت مصدر وګرځي. د پوهنځي مشرتابه دا چوپړتیاوې کافي نه ګڼي، د علم د پرمختیا، له سیمه ییزو او نړیوالـو معیـارونو سره د برابرو لوړو تحصیلاتو په برخه کې نور ګټور کارونه او فعالیتونه هم په پلان کې لري.

**۲. د پوهنځي موخې**

**الف. لیدلوری**

د اروا‌پوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی علمي او روزنیز سازمان په توګه، د علمي او څېړنیزو فعالیتونو لـه اوږدې مخینـې سره، هڅه کوي چې د علم په تولید سره د اروا‌پوهنې او روزنیزو علومو او روزنې مینه والو ته د باور وړ او ګټور خدمتونه وړاندې کـړي. همدارنګه د اروا‌پوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی په دې هڅه کې دی چې ښوونیز او څېړنیز فعالیتونه معیاري کړي.

**ب. ماموریت**

د اروا‌پوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی رسالت لري، چې معیاري ښوونیز خدمتونه وړاندې کړي او وړ ښـوونیز فرصـتونه برابـر کړي، لوړ تحقیقات پلي او متخصص کادرونه وروزي او ټولنې ته یې وړاندې کړي.

**ج. بنسټیزې موخې**

دا پوهنځی رسالت لري، تر څو معیاري ښوونیز خدمتونه وړاندې او مناسب ښـوونیز فرصـتونه چمتـو، لـوړ تحقیقـات پـلي او متخصص کادرونه وروزي او ټولنې ته یې وړاندې کړي.

د اروا‌پوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی، د پوهنځي د استادانو د علمي او ښوونیزې کچې د لوړاوي تر څنګ، د درسي نصاب د معیاري کولو لپاره د لاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره هڅې کوي:

- د محصلانو او ټولنې غوښتنو او اړتیاوو ته په پام د باکیفیته تحصیلي خدمتونو وړاندې کول؛
- د لوړو او علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د امکاناتو او اسانتیاوو منځ ته راوړل او پراختیا؛
- د ښوونیزې ټکنالوژۍ د بنسټونو منځ ته راتګ او پراختیا؛
- د استادانو او محصلانو د ارزونې د سیستم معیاري کول؛
- د ښوونیز سیستم او درسي میتودونو اصلاح او ښه والی؛
- له نورو ملي، سیمه ییزو او نړیوالو پوهنتونو سره د علمي او ښوونیزو هوکړه لیکونو لاسلیک؛

**۳. هوکړه لیکونه**

دا پوهنځی د هندوستان تاتای پوهنتون، د پوهنې وزارت او د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره هوکړه لیکونه لري.

**۴. ډیپارټمنټونه**

د اروا‌پوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی شپږ څانګې(ډیپارټمنټونه) لري چې هره ډیپارټمنټ یې د ټولنې د اړتیا پر بنسټ منځ ته راغلې او فعالیت کوي چې لاندې هره ډیپارټمنټ معرفي کېږي.

**۱. د پیداګوژي ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د پیداګوژي ډیپارټمنټ یا هماغه ډیپارټمنټ چې د ښوونې او روزنې پوهنځي د تأسیس په وخت کی 1341 هـ لمریز کال کـې د روزنیزې اداري په نامه رامنځته شوی و او بیا د مسلکي زده کړو په نامه و نومول شـو، دا د هغـې لـړۍ دوام دی چـې چـې د زده کړې او څېړنې خدمتونه خپلو هېوادوالو ته وړاندې کوي. له هغه وخـت څخـه تـر اوسـه پـورې د کابـل پوهنتـون د اروا‌پـوهنی او روزنیزو علومو د پوهنځي په چوکاټ کې د وتلي او مشهور ډیپارټمنټ په توګـه فعالیـت کـوي. د دې دیپارتمنـت زیـاتره اسـتادانو خپلې لوړې زده کړې، په امریکا او یا د بیروت په امریکایي پوهنتون کې ترسره کړې.

د نویو علمي او ټکنالوژیکي بدلونونو او د ټولنې دغو نویو اړتیاوو ته کتو سره، د پیداګوژي ډیپارټمنټ په وروستیو کلونو کې خپل درسي نصاب او د زده کړې موخې، د زده کړې اړتیا سنجونې، د پایلو په نظر کې نیولو سره تر نظر تېر کړی دی او ژمن دی چې محصلانو ته د معیاري زده کړې خدمات وړاندې کړي او د کار وړ لوړې څېړنې ترسره کړي.

**ب. موخې**

**۱. لید لوری**

د داسې تحصیلي د فرصتونو برابرول چې په هغو کې د محصلانو د زده کړې بهیر، د نظري علومو او مهارتونه له لوړ کیفیت څخه برخمن شي. د پیداګوژي ډیپارټمنټ په دې لړ کې، د نوښتګر تفکر درلودونکي تحقیق او تدریس تاکید کولو سره، د ازاد، مبتکر او مسؤولیت پیژندونکو انسانانو په روزلو ټینګار کوي او په درشل کې دی.

**۲. ماموریت**

په روزنیزو علومو کې د علمي او عملي مهارتونو له را منځ ته کولو سره د پیداګوژي څانګې د تخصصي-کورسو له لارې د ژمن، خلاق او پیاوړو محصلینو روزنه، د دې لپاره چې تخصصي انساني ځواک د ښوونې او روزنې په برخه کی تامین شي

**۳. بنسټي موخې**

روزنیز علوم له هغه علومو څخه عارت دي چې د ښوونې او روزنې پرنسیپونه، اصول، قوانین، موخې، میتودونه او فعالیتونه په ټولو کچو کې او د زده کړې په لویو او کوچنیو پروګرامونو کې تر بحث لاندې نیسي.

د وړاندې شوي تعریف په نظر کې نیولو سره، د پیداګوژي (روزنیزعلومو) ډیپارټمنټ موخه د لیسانس په دوره کې د متخصص، ژمن او کارپوه کسانو روزنه ده چې له فراغت وروسته په لاندې کارونو بوخت وي:

- د تدریس کولو وړتیا د ښوونکیو د روزنې (په لوړو او منځنیو) مؤسسو کې.
- د ښوونیز نصاب د طرحې، تدوین، عملي کولو او ارزونې وړتیا.
- د زده کړې د طرې او عملي کولو ضرورت موندلو وړتیا.
- د ښوونې او روزنې په برخه کې د عملي څېړنو د ترسره کولو وړتیا.
- د زده کړې د بهیر د ارزونې وړتیا.

**د ظرفیت د لوړولو لپاره د ښوونیزو پروګرامونو جوړولو وړتیا.**

- د ښوونې او روزنې په ډګر کې له بنسټي مفکورو سره بلدتیا.
- په نړۍ او افغانستان کې د ښوونې او روزنې له تاریخ څخه خبرتیا او د روزنیزو علومو د تجزیې او تحلیل وړتیا.
- د نړۍ د مختلفو هېوادونو له ښونیزو سیستمونو سره بلدتیا.
- په ملي کچه د ښوونې او روزنې له مسایلو سره د احساس او لېوالتیا پیدا کول.
- په دې باور لرل چې تعلیم ښوونه او روزنه د ټولنې د تغییر او پرمختګ اساس دی.
- په ښوونه او روزنه کې د ماسترۍ دورې زده کړو ته د محصلینو د راتګ لپاره لارسازي.

**ج. تحصیلی نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ښوونې او روزنې بنسټونه | PsEd151 | ۴ | ۱۳ | پرتلیزه ښوونه او روزنه | PsEd258 | ۴ |
| ۲ | په روزنیزو مؤسسو کې رهبري | PsEd153 | ۲ | ۱۴ | له لرې څخه زده کړه | PsEd259 | ۲ |
| ۳ | ښاري ښوونه او روزنه | PsEd154 | ۲ | ۱۵ | تخصصي-انګلیسي ژبه | PsEd260 | ۲ |
| ۴ | د زده کړې د ټکنالوژۍ | PsEd255 | ۴ | ۱٦ | د روزنې پلان جوړونه | PsEd361 | ۴ |

| گڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | گڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | د ښوونې او روزنې فلسفه | PsEd256 | ۴ | ۱۷ | لــه ښـــوونځي څخـــه | PsEd362 | ۲ |
| ٦ | تخصصی انگلیسي ژبه (1) | PsEd257 | ۲ | ۱۸ | د ښوونې او روزنې تاریخ | PsEd363 | ۴ |
| ۷ | د تدریس اصول او قواعد | PsEd367 | ۴ | ۱۹ | د ښوونیز نصاب پرمختیا | PsEd470 | ۴ |
| ۸ | د زده کـــړې د سیســـــتمونو | PsEd368 | ۲ | ۲۰ | د روزنې ارزونه | PsEd472 | ۴ |
| ۹ | د استثنایي(ځانگړو) ماشـومانو | PsEd369 | ۴ | ۲۱ | د لویانو زده کړې (لیـک | PsEd473 | ۲ |
| ۱۰ | د زده کری ارزونه | PsEd365 | ۲ | ۲۲ | ښوونه او روزنه او نړیـوال | PsEd474 | ۴ |
| ۱۱ | تدریس ښوونه | PsEd475 | ۲ | ۲۳ | پـه روزنیـزو علومـو کـې | PsEd477 | ۲ |
| ۱۲ | ښوونیز نظارت | PsEd476 | ۴ | | | | |

**۲. د ارواپوهنې ډیپارټمنټ**

**الف) پېژندنه**

د ښوونې او روزنې پوهنځی چې په ۱۳۴۱ کال کې د کابل پوهنتون په چوکاټ او اډانه کې جوړ شوی و. په تشکیل کې یې د تربیتي اداري تر نامه لاندې یو ډیپارټمنټ موجود و چې د ارواپوهنې او پیداگوژۍ موضوعات به په کې لوستل کېدل.

وروسته له ۱۳۵۲ کال څخه چې د ښوونې او روزنې پوهنتون له منځه ولاړ او محصلین یې د ادبیاتو او بشري علومو او ساینس په پوهنځیو پورې اړوند شول، د تربیتي اداري ډیپارټمنټ یې د (مسلکي تعلیماتو) ډیپارټمنټ تـر نامـه لانـدې د ادبیـاتو او بشـري علومو د پوهنځي په اډانه کې فعالیت ته دوام ورکړ. وروسته همدغه ډیپارټمنټ په ۱۳۵۸ کال کې دویـم ځلي د ښوونې او روزنې د پوهنځي په نوم جوړ شو چې دوو د ارواپوهنې او پیداگوژي ډیپارټمنټونو په کې فعالیت درلود.

د ارواپوهنې د ځانگې موخه په هغه وخت کې، تر ډېره د هېواد د پوهنې په برخه کې د ارواپوهنیزو خدمتونو وړاندې کول و. د دغه ډیپارټمنټ فارغانو کولای شواي چې د پوهنې په وزارت، دارالمعلمینونو او همدارنگه د رواني روغتیا په روغتونونو کې دنـده ترسره کړي.

په هېواد کې مختلفو بدلونونو او څو لسیزو جگړو دا اړتیا را مخ ته کړه، چې د خلکو او ټولنې غوښتنو او په مختلفو برخو کـې پرمختگ او انکشاف ته په کتو د ارواپوهنې ډیپارټمنټ د موخو په اړه بیا کتنه وشي؛ دا ځکه په اوسني عصر کې د ارواپوهنې علـم ته له پاملرنې پرته، د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې بدلون ناشونی دی، ځکه د ټولنې په مختلفو اړخونو کې بدلون، په وگړي(فرد) کې تغییر دی او په فرد کې تغییر، د هغه په چلن او کړو وړ کې د تغییر اړمن دی او د فرد په چلن کې بدلون، د ارواپوهنې د مفاهیمو د شناخت او اصولو محتاج دی. ارواپوهنه پخپل قلمرو کې د انسان په رواني ښکارندو د حاکمې قانون مندۍ، وړاندوینې، سـتاینې، ښکاره کولو، کنټرول او د چلنونو، باورونو او د انسان د احساساتو په اړه بحث کوي او د فرد او ټـولنې پـه رواني سـلامتیا او لوړتیـا کې ځانگړی رول لري. پر دې اساس د دې واقعیت په پوهېدو سره چې د هرې ټولنې پراختیا او پرمختگ، د هغې ټولنې د افـرادو په رواني سلامت کې نغښتی دی. د ارواپوهنې د ځانگې فارغان د دې وړتیا او قابلیت لري، چې د ارواپوهانو او سلاکارانو په توگـه د رواني روغتیا په روغتونونو، د روږدو په روغتونونو، د ماشـومانو د روزنـې او اصـلاح او پـه تحصـیلي او ښـوونیزو مرکزونـو کـې خدمت وکړي.

**ب) موخې**

**۱. ليدلوری**

د ليسانس په کچه د داسې علمي فضاء را منځ ته کول چې په هغې کې زده کړه، چلن او د محصلانو مهارتونه د ارواپوهنې په برخه کې له غوره ښوونيز کيفيت څخه برخمن شي. پر دې اساس د اروپوهنې ډيپارټمنټ به د اروپوهنې په علم کې په روان درملنه، د روږدو درملنه، د چلن اصلاح، بدلون او ښوونيزو او تحصيلي مرکزونو کې توپير لرونکو ليدلوريو ته ژمن وي.

**۲. ماموريت**

د اروپوهنې په بېلابېلو حوزو کې په ځانګړې توګه د روان درملنې، مشاورې، د چلن اصلاح او ښوونيزو او تحصيلي مرکزونو په ساحې کې د ښوونيزو مهارتونو د پراختيا لپاره شرايط برابرول د اروپوهنې اساسي رسالت ګڼي. په ورته حال کې اروپوهنه د افرادو او ټولنې د روان سلامتيا ته د فردي او ټولنيز ژوند د لوړتيا او ښه والي په منظور ځانګړې پاملرنه لري.

**۳. بنسټي موخې**

په اروپوهنه کې د ليسانس دورې موخه د اروپوهنې د مفهمونو او اصولو زده کول، د محصلانو د ځواکمنتيا په منظور او د ژوند په مختلفو برخو کې د علم، چلن، اووړتيا او د هغو کارونه په وګړيز او ټولنيز ژوند کې ده. دغه ډيپارټمنټ لاندې موخې تعقيبوي:

د اروپوهنې د اصولو او بنسټونو زده کول او د فردي او اجتماعي ژوند په مختلفو برخو کې له هغو څخه ګټه اخيستل.

د اروپوهنې له نظرياتو او بېلابېلو کړنلارو سره اشنايي او د ژوند په بېلابېلو برخو کې له هغو څخه ګټه اخيستل.

په ازاد ډول د فکر کولو ځواک او د انتقادي فکر ډېرښت.

د اروپوهنې په بېلابېلو حوزو کې د څېړنو د سرته رسولو وړتيا.

د اروپوهنې له تجربو څخه د ګټې اخيستنې وړتيا.

د اروايي زيانونو په پېژندلو کې د مهارتونو را منځ ته کول او د هغو د درملنې وړتيا.

په چلن کې د اغېزمنو شرايطو او پيښو د پلټنې قابليت او د هغو تحليل.

د چاپيريال ساتنې او له هغه څخه د سمې ګټنې وړتيا.

د ځان او نورو د پېژندنې مهارت.

د افرادو رواني سلامت لپاره له امکاناتو او ضرورتونو څخه د ګټې اخيستلو وړتيا.

د اروپوهنې په ډيپارټمنټ کې د علاقې او معلوماتو د زياتولو را منځ ته کول.

له ځانښودنې، تعصب او پر نورو له ځان تېنې څخه کرکه کول.

له اجتماعي زيانونو څخه د تشخيص، مخنيوي او درملنې وړتيا.

د انسان د ودې له بېلابېلو دورو او پر هغو له اغېزمنو لاملونو سره بلدتيا.

**ج. تحصيلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کرېډيټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کرېډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عمومي اروا پوهنه ا | PsEd101 | ۴ | ۱۳ | ټولنيزه اروپوهنه | PsEd312 | ٤ |
| ۲ | کورنۍ اروا پوهنه او ټولنه | PsEd121 | ۲ | ۱۴ | د رواني روغتيا مبادي | PsEd303 | ٤ |
| ۳ | د روږدېدا اروا پوهنه | PsEd120 | ۴ | ۱۵ | د فردي توپيرونو | PsEd323 | ۲ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | تخصصي انګلیسی | PsEd122 | ۲ | ۱٦ | د ارواپوهنې تاریخ | PsEd313 | ۲ |
| ۵ | روزنیزه ارواپوهنه | PsEd202 | ۴ | ۱۷ | د ارواپوهنې مکتبونه | PsEd314 | ٤ |
| ٦ | فزیولوژیکه ارواپوهنه | PsEd206 | ۴ | ۱۸ | د مشاورې فنون او | PsEd | 4 |
| ۷ | داستثنایي ماشومانو ارواپوهنه | PsEd209 | ۴ | ۱۹ | د شخصیت ارواپوهنه | PsEd415 | ٤ |
| ۸ | د ودې ارواپوهنهI | PsEd207 | ۴ | ۲۰ | غیر عادي ارواپوهنه | PsEd416 | ٤ |
| ۹ | د زده کړې ارواپوهنه | PsEd224 | ۲ | ۲۱ | د چلن د بدلون او اصلاح | PsEd419 | ٤ |
| ۱۰ | د ودې ارواپوهنهII | PsEd208 | ۴ | ۲۲ | په ارواپوهنه کې اندازه | PsEd417 | ٤ |
| ۱۱ | د احساس او ادراک ارواپوهنه | PsEd210 | ۴ | ۲۳ | اروایي درملنه | PsEd418 | ٤ |
| ۱۲ | جنایي ارواپوهنه | PsEd211 | ۴ | ۲۴ | سمینار | PsEd426 | ۵ |

**۳. د ښوونیز مدیریت ډیپارټمنټ**

**الف) د ډیپارټمنټ پېژندنه**

د ښوونیز مدیریت ډیپارټمنټ د پوهنې په وزارت، د لوړو زده کړو په وزارت او نورو دولتي او نادولتي مؤسسو کې د ښوونیز نظام په بېلابېلو کچو کې د مدیریت په برخه کې د ژمن، کارپوه او ماهر انساني ځواک د روزنې په منظور د ۱۳۸۲ د کب د اته ویشتمې نېټې وړاندیز او د لوړو زده کړو وزارت د ۱۳۸۴ کال د منظورۍ لـه مخـې د کابـل پوهنتـون د ارواپـوهنې اوس رونیـزو علومـو پـه پوهنځي کې جوړه او په کار پیل وکړ.

**ب. د ډیپارټمنټ موخې**

**۱. لیدلوری**

د هېواد په کچه د علم د خپراوي، خلکو او هېواد ته د خدمت کولو لپاره، په سیاسي ډګر کـې د مسـلکي مـدیرانو او سیاست مدارانو د روزنې په موخه د لوړ او معتبره علمي، ښوونیز او څېړنیز مرکز په توګه د یاد ډیپارټمنټ مطرح کول او بدلول دي.

**۲. ماموریت**

د مدیریت ډیپارټمنټ د دوه تحصیلي کچو (لیسانس او ماسټري) په درلودلو سره هڅه کوي چې د ښوونیز مـدیریت پـه برخـه کې له وروستیو علمي موندنو څخه په ګټې اخیستنې او د زده کړې په بهیـر کـې لـه وروسـتی ښـوونیزې ټکنـالوژۍ څخـه پـه کـار اخیستلو سره غواړي چې د خپلو محصلینو د زده کړې کچه لوړه کړي، تـر څـو وکـولای شي، مسـلکي انسـاني ځـواک، رهـبران، مدیران، او روزلي سیاست مداران، ښوونیزو سازمانانو، لکه: ښوونځیو، د لوړو زده کړو مؤسسو، پوهنتونونو او نورو مرکزونـو تـه د ښوونیزو چارو د مخ ته وړولو او همدارنګه د انساني سرچینو د پراختیا او روزنې لپاره ټولنې ته وړاندې کړي.

**۳. اساسي موخې**

د ښوونیز مدیریت په برخه کې له وروستیو علمي موندنو څخه په ګټـې اخیسـتنې سره، د نوښـتګرو، ځواکمنـو او کـارپنځګرو محصلانو روزنه او د ښوونیز بهیر لپاره د ښو امکاناتو او تجهیزاتو برابرول.

له نړیوالې پراختیا سره په تناسب، د علمي کادرونو د څېړنیزو او ښوونیزو مهارتونو ځواکمنتیا او پرمختګ.

د مدیریت او ښوونیزې رهبرۍ په برخه کې علمي څېړنې ترسره کول او د کورنیو او بهرنیو علمي مجلو له لارې د هغو خپرول.

د ټولنې ورځنیو بدلونونو او غوښتنو ته په پام د ښوونیز نصاب او ښوونیزو پروګرامونو اصلاح او سمون.

د پوهنې وزارت د پلان له ریاست سره د اړیکو را منځ ته کول او ټینګول او له نوموړي ریاست سره د هوکړه لیکونو لاسلیک کول.

د کار، شهیدانو او معلولینو وزارت د پلان له ریاست سره د اړیکو را منځ ته کول او ټینګول او له یاد ریاست سره د هوکړه لیکونو لاسلیک

په کابل کې له مېشتو یا هم بهر مېشتو مرسته کوونکو سره د اړیکو را منځ ته کول او د هوکړه لیکونه لاسلیک کول.

**تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عمومي مدیریت (د سازمان | PsEd1-1- | ۴ | ۱۵ | ښوونیز نصاب | PsEd3-5-108 | ۴ |
| ۲ | عمومي مدیریت (د سازمان | PsEd1-2- | ۴ | ۱۶ | نظارت او ښوونیزه | PsEd3-5-109 | ۲ |
| ۳ | ښوونیز مدیریت | PsEd2-3- | ۴ | ۱۷ | د انساني سرچینو مدیریت | PsEd3-5-110 | ۴ |
| ۴ | تخصصي انګلیسي ژبه (1) | PsEd1316 | ۲ | ۱۸ | د لوړو زده کړو مدیریت | PsEd3-5-111 | ۲ |
| ۵ | کار پنځونه | PsEd1316 | ۲ | ۱۹ | ښوونیزه ټکنالوژي | PsEd3-6-113 | ۴ |
| ۶ | ښوونیزه رهبري | PsEd2-4- | ۴ | ۲۰ | ښوونیزه پالیسي | PsEd3-6-114 | ۴ |
| ۷ | روزنیز اقتصاد | PsEd1412 | ۲ | ۲۱ | په مدیریت کې د څېړنې | PsEd3-6-115 | ۷ |
| ۸ | په مدیریت کې اخلاق | PsEd2-3- | ۲ | ۲۲ | د تعارض مدیریت | PsEd3-6-115 | ۲ |
| ۹ | په لوړو زده کړو کې د | PsEd2-4- | ۲ | ۲۳ | ښوونیزه برنامه جوړونه | PsEd4-7-117 | ۴ |
| ۱۰ | تخصصي انګلیسي ژبه (2) | PsEd2-4- | ۲ | ۲۴ | د پوهې مدیریت | PsEd4-7-118 | ۲ |
| ۱۱ | په ښوونیزو مؤسسو کې د | PsEd4-7- | ۳ | ۲۵ | د سازماني چلن مدیریت | PsEd4-7-119 | ۴ |
| ۱۲ | د توسعې پراختیا | PsEd4-8- | ۲ | ۲۶ | روزنیزه ارزونه | PsEd4-7- | ۴ |
| ۱۳ | د اړیکو او دفتري چارو | PsEd4-8- | ۴ | ۲۷ | د کړکېچ مدیریت | PsEd4-8- | ۴ |
| ۱۴ | د ستراتېژیک پروګرام | PsEd4-8- | ۴ | ۲۸ | د څېړنې پروژه | PsEd4-8- | ۴ |

**۴. د مشورې او لارښوونې ډیپارټمنټ**

الف. د ډیپارټمنټ پېژندنه

د مشورې او لارښوونې ډیپارټمنټ په ۱۳۹۲ کال کې د کابل پوهنتون د ارواپوهنې او روزنیزو علومو په پوهنځي کې را منځته شو او ددغه ډیپارټمنټ لومړۍ دوره فارغان په ۱۳۹۵ کال کې د اروایي روغتیا په برخه کې د مشاورې او روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه ټولنې ته وړاندې شول. د مشاورې د ډیپارټمنټ موخه د پوه او مسلکي مشاوران روزنه وه، چې له خلکو سره مرسته وکړي، چې له هیجاني چلن او د ژوند له ورځنیو ننګونو سره په ښه ډول مبارزه او مقابله وکړي.

د مشاروې د ډیپارټمنټ بنسټي ژمنه د خلکو وده او له محصلینو او راغلو کسانو سره په مرسته ټینګار دی چې په اغېزناکه توګه زده کړي چې له سلوکي ستونزو او د ژوندانه له ننګونو سره مبارزه وکړي.

د مشاورې ډیپارټمنټ دا خپله دنده او رسالت ګڼي چې په رواني، وظیفوي او تحصیلي برخو کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو ښوونیزو نصابونو ته په پام د مشاورې لپاره مناسب کورسونه جوړ کړي. د هغه هوکړه لیک پر بنسټ چې په ۲۰۱۵ کال کې د کابل پوهنتون د اروپوهنې او روزنیزو علومو د پوهنځي او د نیویارک د ښاري پوهنتون له هانتر کالج سره د دوه کلونو په موده (۲۰۱۶ . ۲۰۱۸) له دې ډیپارټمنټ سره لاسلیک شو، په علمي برخه کې مرسته او همکاري کړې ده.

## د ډیپارټمنټ موخې

### ۱. لید لوری

د مشاورې ډیپارټمنټ به د ارواپوهنې او روزنیزو علومو د پوهنځي په چوکاټ کې په راتلونکو کلونـو کـې د ښـې ښـوونې او د لایقو، ښو او مسلکي سلاکارانو د روزنې لپاره ور شرایط برابر کړي. چې له هغو خلکو سره چې د بېلابېلو لاملونه لـه املـه زیـانمن شوي، د لارښوونې او مشورې مرستې برابرې کړي. همدارنگه دا ډیپارټمنټ به د لارښوونې او مشـاورې پـه سـاحه کـې د یـوه ښـه څېړنیز فرهنگ زمینه را منځ ته کړي، چې په ښه توگه وکولای شو، اړمنو کسانو ته رواني خدمتونه ور وپېژنو او وړاندې کړو.

### ۲. ماموریت

د دې ډیپارټمنټ دنده د اروایي مشورې په برخه کې د وړ او مناسبو کورسونو برابرول، د دندې او تحصیلي مشـوره ده، چـې د ټولنې د اوسنیو غوښتنو او اړتیاوو سره او د گاونډیو هېوادونو په کچه او په نړیواله توگه له منل شویو نصابونو سره مطابق وي. د دې ډیپارټمنټ فارغان به د مشاورې د مسلکي افرادو په توگه د رواني صحت په کلینکونو، ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو، په دولتـي او غیردولتي مؤسسو کې د خدمت مصدر وگرځي. همدارنگه د نومـوړي ډیپارټمنـټ فارغـان بـه د اروپـوهنې د پرمختللـو اساسـاتو، مشاورې، روان درملنې، د خلکو، ډلو او ټولنې مفهمونه ترلاسه او خپل کړي. هغه علم او مهارتونه چې محصلان یې د لارښـوونې او مشاورې په ډیپارټمنټ کې زده کوي، د اغېزناکو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه به په خپلو کاري برخو کې ترې گټه واخلي.

### ۳. اساسي موخې

د مسلکي مشاورانو روزنه چې وتوانېږي، دارواییي درملنې، اروایي . ټولنیزې مشاورې او اړینو مهارتونو د ترلاسه کولو لـه لارې د بېلابېلو ډلو د افرادو د رواني ستونزو د لرې کولو په برخه کې مرسته وکړي.

د مسلکي مشاورانو روزنه له څېړنیزو مهارتونو او توانایيو سره؛ چې وکولای شي د خپلو څېړنو پر مټ، په افغانسـتان کـې د اروا پېژندنې د برخې ادبیات غني او بډایه کړي.

د داسې مشاورانو روزنه چې د مشاورې اصولو، ارزښتونو او اخلاقو ته ژمن وي.

د سیمینارونو، مجلو، ورکشاپونو او مسلکي مشاورانو د روزنې له لارې د افرادو، کورنیو او ډلو د رواني روغتیا د امنیت ساتل او د ټولنیزې رواني روغتیا ملاتړ.

د اروپوهنې د مشورې پر لور د حرکت را منځ ته کول چې په ټولو کچـو، فـردي، ډلیـز او جمعـي کـې فرهنگـي ارزښـتونه پـه فعالیت راولي.

**ج) تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مشاورې اصـول او | PsEd 1- | ٤ | ۱۱ | روږدېدا (مخنیوی او درملنه) | PsEd4-163 | ٤ |
| ۲ | تخصصي- انگلیسي- | PsEd 1- | ۲ | ۱۲ | د څانگړو ډلو مشاوره | PsEd4-164 | ٤ |
| ۳ | پـــه مشـــاوره کـــې | PsEd 1- | ٤ | ۱۳ | رواني رنځپوهنه II | PsEd 4- | ٤ |
| ۴ | د مشاورې نظریې | PsEd2- | ٤ | ١٤ | د دندې مشاوره | PsEd 4- | ۲ |
| ۵ | کورنۍ مشاوره | PsEd 2- | ٤ | ۱۵ | د عملي کار مشاوره II | PsEd 4- | ۲ |
| ٦ | ښوونیزه او تحصیلي | PsEd 3- | ۲ | ١٦ | د بحران مشاوره (له پېښې | PsEd4 168 | ٤ |
| ۷ | د مشاورې میتودونه او | PsEd 3- | ٤ | ۱۷ | اروایي ازمېښتونه | PsEd 4- | ٤ |
| ۸ | د رواني روغتیـــــــا | PsEd3- | ٤ | ۱۸ | د عملي کار مشاوره III | PsEd4- | ۲ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | اروايي رنځپوهنه I | PsEd 3- | ۴ | ۱۹ | ورستنی سيمينار | PsEd4- | ٦ |
| ۱۰ | ډلیزه مشاوره | PsEd 3- | ٤ | ۲۰ | د عملي کار مشاوره I | PsEd 3- | ۲ |
| ۱۱ | د مشاورې اصول او | PsEd 1- | ٤ | ۱۱ | روږدېدا (مخنيوی او درملنه) | PsEd4-163 | ٤ |

**۵. د ټولنیز کار ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د اروا‌پوهنې او روزنيزو علومو د پوهنځي د ټولنيز کار ډیپارټمنټ د علم او پوهې د پام وړ پرمختګ ته په پـام او همدارنګـه د ګران هېواد غوښتنو ته په کتو، د کاري او متخصص ځواک او د علم او فکر د توليد په هڅه کې دی چې د ټولنيز کـار پنځـه کلـن لرلیدي پرمختیايي پلان يې له يو کلن ستراتېژيک پلان سره ترتيب او ترسيم کړی او د خپلو پرمختيـايي پروګرامونـو د ښـه والي وړ حللارې يې موندلې دي، تر څو په دې برخه کې د کابل پوهنتون د نورو پوهنځيو او د هېواد په داخل او بهر کې د نورو لـوړو زده کړو مؤسسو سره د باور وړ همکار او مرستندوی و اوسي او افغاني ټولنې ته د ځوانو او مسلکي کـادرونو پـه وړانـدې کولـو سره د خدمت مصدر وګرځي.

که څه هم د ټولنيز کار ډیپارټمنټ تر خپلې وسې پورې په سختو حالاتو او شرايطو کـې پـه لـږو امکانـاتو سره محصـلينو او د پوهې مينه والو ته ارزښتمن خدمتونه وړاندې کړي دي؛ خو دې ډیپارټمنټ دا هڅې او خدمتونـه کـافي نـه دي ګـڼلي، د باکيفيتـه لوړو زده کړو د پرمختګ په برخه کې له نړيوالو معيارونو سره مطابق، نور جدي او اغېزناک کارونه او کړنې په پلان کې لري.

دا ډیپارټمنټ، له ټولنيزو مصيبتونو څخه د زيانمنو خلکو د لاسـنيوي پـه منظـور، د لـوړو زده کـړو، د کـار او ټـولنيزو چـارو، شهيدانو او معلولينو وزارت او د يونيسف اداري په مـالي مرسـته پـه ۱۳۹۳ کـال کـې جـوړ شـو، ترڅـو ټـولنې تـه مسـلکي ټـولنيز کارکوونکي وړاندې کړي.

**ب. موخې**

**۱. ليدلوری**

د اجتماعي کار ډیپارټمنټ د اروا‌پوهنې او روزنيزو علومو د پوهنځي يو له کليدي او مهمو ډيپارټمنټونو څخـه دی چـې د يـو علمي او ښوونيز مرکز په توګه د علمي او څېړنيزو فعاليتونو د سرته رسولو هڅه کـوي، تـر څـو مسـلکي کادرونـه د ټـولنيز کـار پـه ډیپارټمنټ کې زيانمنو ته د مرستې لپاره ټولنې ته وړاندې کړي او د ټـولنيزې هوسـاينې د مـنځ تـه راتـګ د زيـانمنو ډلـو، لکـه: ماشومانو لپاره د ستراتېژيو په تدوين سره له دولت او پاليسي جوړونکو سره علمي همکاري او مرسته وکړي.

**۲. ماموريت**

د اروا‌پوهنې او روزنيزو علومو د اجتماعي کار ډیپارټمنټ رسالت او دنده لري چې معياري ښوونيز خدمتونه وړاندې کړي، وړ ښوونيز فرصتونه برابر کړي، لوړې او کاراخيستونکې څېړنې ترسره کړي او د ټولنيزو کارکوونکو تر نامه لاندې ټولنې ته متخصـص کادرونه وړاندې کړي.

د اجتماعي کار ډیپارټمنټ هڅه کوي چې د محصلينو تر منځ ښوونيزو او څېړنيزو فعاليتونو ته پراختيا ورکـړي او معيـاري يـې کړي، همدارنګه په دې لټه کې دی چې د عملي يا سيمه ييـز کـار (Field Work Practice/IInternship/& Field Visit) زمينـه محصلينو ته برابره کړي.

**۳. اساسي موخې**

د ټولنيز کار په ډيپارټمنټ کې د ليسانس او ماستر په سويه د علمي کادرونو روزنه؛

د محصلينو او ټولنې غوښتنو ته په پام د باکيفيته ښوونيزو خدمتونو وړاندې کول؛

د ګټورو او لوړو څېړنو د پراختيا او ترسره کولو لپاره د امکاناتو او اسانتياوو برابرول ؛

د ډيپارټمنټ په کچه د زيربناوو او ښوونيزې ټکنالوژۍ پراختيا او را منځ ته کول؛

د ډيپارټمنټ د استادانو او محصلانو د ارزونې د سيستم معياري کول؛

د خوځنده او فعال ښوونيز سيستم او ميتودونو اصلاح او ښه والی؛

د ماشومانو د ساتنې او اجتماعي هوساينې له مؤسسو سره د اغېزناک ارتباط را منځ ته کول او د ټولنيزې هوساينې لپاره محصلانو ته د ساحوي کارونو د زمينې برابرول.

**ج) تحصيلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| کريډيټ | کودنمبر | د مضمون نوم | ګڼه | کريډيټ | کودنمبر | د مضمون نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | BSW221 | د ټولنيز کار راپور ليکنه | ۱۶ | ٤ | BSW205 | د ټولنيز کار بنسټونه | ۱ |
| ۲ | BSW222 | اجتماعي او اقتصادي پراختيا | ۱۷ | ٤ | BSW206 | په اسلام کې د ماشومانو حقونه | ۲ |
| ۲ | BSW223 | استوګنيز چاپيريال | ۱۸ | ٤ | BSW207 | له ماشومانو او زلميو سره | ۳ |
| ۴ | BSW224 | د بشر حقونه | ۱۹ | ٤ | BSW209 | ټولنيزه رنځپوهنه | ٤ |
| ٤ | BSW225 | له مؤسسو ليدنه | ۲۰ | ۲ | BSW200 | اجتماعي کار او د ماشوم | ۵ |
| ۲ | BSW228 | په بېړنيو شرايطو کې د ماشومانو ساتنه او د بحران | ۲۱ | ۲ | BSW213 | د ماشوم او مور روغتيايي پالنه | ٦ |
| ٤ | BSW230 | د ماشومانو سوکالي او | ۲۲ | ٤ | BSW216 | ټولنه ، فرهنګ او پراختيا | ۷ |
| ٤ | BSW231 | سيمه ييز کارI | ۲۳ | ٤ | BSW219 | له مؤسسو ليدنه | ۸ |
| ٤ | BSW237 | د ټولنيزې هوساينې پاليسي | ۲۴ | ۲ | BSW220 | د ماشوم ساتنه | ۹ |
| ۲ | BSW238 | کارکوونکي ماشومان | ۲۵ | ۲ | BSW232 | له ماشومانو او نويو ځوانانو سره مستقيم چلن | ۱۰ |
| ۲ | BSW240 | اعيتاد او ماشومان | ۲٦ | ۴ | BSW233 | د اجتماعي هوساينې اداره | ۱۱ |
| ٤ | BSW241 | ماشومان په وسله والو ډلو | ۲۷ | ٤ | BSW234 | سوله او د ټولنيزو شخړو حل | ۱۲ |
| ۲ | BSW229 | په عدلي سيستم کې د ماشوم لپاره عدالت غوښتنه | | ٤ | BSW226 | سيمه ييز کار II | ۱۳ |
| ٤ | BSW242 | کار زده کړه Internship | ۲۸ | ۲ | BSW243 | د لارې د سر د ماشومانو | ۱۴ |
| ٤ | BSW246 | مونوګراف (سمينار ) | ۲۹ | ٤ | BSW244 | پراختيا د سازمان مديريت | ۱۵ |

**٦. د پلان او پاليسی ډيپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د پاليسی او روزنيزو برنامو د جوړولو ډيپارټمنټ موخه دا ده چې د روزنيز نظام په بېلابېلو ډګرونو کې لکه د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او نورو روزنيزو دولتي او غيردولتي مؤسسو په چوکاټ کې او د پاليسی او روزنيزو برنامو جوړولو په برخه کې ژمن، کارپوه، اغېزناک او ګټور انساني ځواک وروزي؛ ځکه داسې مديرانو ته چې لازمه پوهه، وړتيا او لوړ فکرونه ولري ډېره اړتيا ده، نو له همدې امله ياد ډيپارټمنټ د ۱۳۸۳/۱۲/۲۸ نېټې د يو وړانديز او د لوړو زده کړو وزارت د مقام د منظورۍ پر بنسټ په ۱۳۹۴ کال کې د اروا پوهنې او روزنيزو علومو د پوهنځي په چوکاټ کې رامنځ ته شو.

**ب.موخې**

**۱. ليدلوری**

ژمن يو چې د هېواد او سيمې په کچه روزنيز پلان جوړونکي او پاليسي جوړونکي ټولنې ته وړاندې کړو.

**۲- ماموريت**

د اروا‌پوهنې او روزنيزو علومو د پوهنځي اړوند د روزنيزو پلانونو او پاليسو ډيپارټمنټ دنده لري چې معياري خدمتونه او مناسب ښوونيز فرصتونه چمتو کړي او همدارنګه معتبرې څېړنې ترسره او په ټولنه کې د ښوونيزو ستراتيژيکو پروګرامونو د تدوين په برخه کې تحصيل کړي او مسلکي کادرونه وروزي.

**۳. ښوونيزې موخې**

د ښوونيزو پلانونو او پاليسيو ډيپارټمنټ د ليسانس دوره د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې ګډ ډيپارټمنټ دی چې له رامنځ ته کولو څخه يې موخه د سازمانونو په ځانګړې توګه د ښوونيزو سازمانونو د اړتيا وړ متخصصو سياست جوړونکو او پاليسي جوړونکو روزنه ده. سربېره پر دې، دوی بايد د امکان تر بريده په ښوونيزو مؤسسو کې د ښوونيزو پلانونو او پاليسيو د ساينسي ميتودونو له کارولو سره اشنا کړي، ترڅو وکولی شي په تعليمي ادارو کې د زده کړې په بېلابېلو کچو کې د تعليمي پلان جوړولو مسؤوليت پر غاړه واخلي. د ښوونيزو او تحصيلي بنسټونو، د ستراتيژيو او پاليسيو په جوړولو او پلي کولو سره د مالي، مادي، بشري او معلوماتي سرچينو په ښه کارونه، د مخکښيو ټاکل شويو رسمي ښوونيزو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د مناسبې فضا په رامنځته کولو اغيزمن او د امکان تر بريده، غوره ښوونيز خدمتونه وړاندې کړي.

په دې روزنيز دوره کې به زده کوونکي د ښوونيزو پلانونو او پاليسيو له نظري مسايلو سره د اشنا کېدو تر څنګ د دې ساحې له عملي اړخونو هم خبر شي.

**ج. د ډيپارټمنټ نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ښوونيز مديريت اصول او اساسات | EPP201 | ٤ | ۱۴ | د سازماني چلن مديريت | EPP227 | ٤ |
| ۲ | د ښوونيز پلان جوړونې اصول او اساسات | EPP202 | ۴ | ۱۵ | په تعليمي واحد کې ښوونيزه پلان جوړونه | EPP230 | ٤ |
| ۳ | په مديريت کې د کمپيوټر کارول | EPP207 | ۲ | ۱٦ | ملي ښوونيزه پاليسي | EPP238 | ٤ |
| ٤ | ښوونيز مديريت | EPP211 | ۴ | ۱۷ | ستراتيژيک مديريت | EPP239 | ٤ |
| ۵ | د اقتصاد د علم بنسټونه | EPP213 | ۲ | ۱۸ | په ښوونځيو کې عملي کار او ښوونيز واحدونه | EPP236 | ۲ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | تخصصي انګلیسي ژبه I | EPP216 | ۲ | ۱۹ | د پروژې مدیریت او تدارکات | EPP240 | ۲ |
| ۷ | ښوونیزه رهبري | EPP211 | ۲ | ۲۰ | د خدمت پر مهال د ښوونیزو برنامو جوړول | EPP241 | ۲ |
| ۸ | د مالي چارو او بودجې اساسات | EPP217 | ٤ | ۲۱ | په سازمانونو کې ښوونه (زده کوونکي، سازمان او سازماني زده کړې) | EPP242 | ۲ |
| ۹ | تخصصي انګلیسي ژبه II | EPP216 | ۲ | ۲۲ | مونوګراف | | ٤ |
| ۱۰ | اساسي حقوق | EPP225 | ۲ | ۲۳ | په ښوونیزو او تحصیلي سازمانونو کې د بشري سرچینو پلان جوړونه | EPP235 | ۳ |
| ۱۱ | د بشري سرچینو مدیریت | EPP226 | ٤ | ۲٤ | دولتي مدیریت | EPP236 | ٤ |
| ۱۲ | د سیستمونو شننه او تحلیل او په ښوونیزو سازمانونو کې د هغو کارونه | Epp234 | ٤ | ۲۵ | ښوونیز نصابII | Epp237 | ۲ |
| ۱۳ | ښوونیز نصاب I | Epp235 | ۲ | | | | |

**۵. د ماسټري پروګرام**

**الف. د ښوونیز مدیریت د ماسټرۍ د برنامې پېژندنه**

د کابل پوهنتون د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځي په کال ۱۳۹۲ ه ل کې د ښوونیز مدیریت تر عنوان لاندې د ښوونیز مدیریت په چوکاټ کې د ماسټرۍ پروګرام د جوړولو حکم تر لاسه کړ. د فراغت پروګرامونو ټولو شرایطو ته په پام سره تر اوسه پورې، دا برنامه په منظمه توګه دوام لري.

ښوونیز مدیریت او رهبري د لوړو او نیمه لوړو زده کړو په مؤسسو کې د تخصصي فعالیتونو یوه له خورا اړینو پروسو څخه ده، چې اصلي او بنسټي موخه یې د ښوونیزو خدمتونو وړاندې کولو اغیزمنول او ښه کول دي او همدارنګه د ښوونې په اړه د بنسټونو او سازمانونو د ستراتیژیو او پالیسیو پلي کول دي، چې د پلان جوړونې، تنظیمونو، تصمیم نیولو، لارښوونو او د مشرتابه له لارې د ټاکل شوو تعلیمي او تحصیلي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره مخکې له مخکې ټاکل کېږي.

د لوړو زده کړو په وزارت، د پوهنې په وزارت، عامه ادارو او د نورو اړوندو بنسټونو په بېلابېلو دورو کې د ژمنو مسلکي او تخصصي مدیرانو کمښت د روزنیز مدیریت په اداره کې د ماسټرۍ د پروګرام د جوړولو ارزښت او اړتیا ښه څرګندوي.

د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځي، د دې حقیقت په پوهېدلو سره، هڅه کړې چې د ماسټري د پروګرام را منځ ته کولو ته چې د لوړو زده کړو وزارت له مهمو او ستراتېژیکو موخه څخه و، اقدام وکړي.

د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځي مخکې په دوو ډیپارټمنټونو پیداګوژي او ارواپوهنه کې د ماسټري پروګرام درلود، چې په ۱۳٦٤ کال کې یې فعالیت پیل کړی و او څو دورې فارغان یې په یادو دوو ډیپارټمنټونو کې ټولنې ته وړاندې کړي. اوس هم د دې پروګرام د جوړېدو شرایط د پرمختللو هېوادونو د تحصیلي بنسټونو له طرزالعملونو سره مطابق دي.

د ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی د علمي کادرونو له پلوه بډایه دی او د یوه مجهز کتابتون درلودونکی او د دې پروګرام د تدریس لپاره وړ ځای دی، خواریکښ او هڅاند محصلان لري، نو د اروپوهنې او روزنیزو علومو په پوهنځي کې چې د

روزنیزې اروایپوهنې، پیداګوژۍ، ښوونیز مدیریت او د لارښوونې او مشورې ډیپارټمنټونه لري، د ښوونیز مدیریت د ماسټرۍ د پروګرام جوړېدل، د لوړو زده کړو وزارت د موخو په مخ ته وړلو، د محصلانو او ښوونکو د علمي او مسلکي کچې په لوړتیا، په ځانګړې توګه د پیداګوژي په ډیپارټمنټ کې، د مسلکي مهارتونو، ښوونیزې ټکنالوژۍ، د ښوونیز او تحصیلي نصاب پرمختیا، د څېړنې میتودونه، ښوونیزه اروایپوهنه، روزنیزه رهبري او مدیریت، روزنیزه پلانګذاري، پالیسي جوړونه، نظارت او روزنیزه ارزونه او نورو برخو کې مهم رول ترسره کړی.

د دې ته په کتو چې په بهر کې د لوړو زده کړو امکانات ډېر لږ او محدود دي او زموږ لپاره غیر اقتصادي دي او د هېواد اړتیاوې په اوسني وخت کې نه پوره کوي؛ د ځان بساینې په منظور او د هېواد په داخل کې د لوړو زده کړو د کچې د لوړوالي او د نویو مسلکي ظرفیتونو د را منځ ته کولو، د باکیفیته ښوونیزې او روزنیزې کچې د لوړوالي په پار، د اروایپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځي د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژۍ مطابق او د ماسټري پروګرام لایحې ته په پام، د شرایطو له بشپړاوي وروسته د ماسټري پروګرام جوړ او پیل کړ.

**ب. موخې**

د ښوونیز مدیریت د ماسټري د پروګرام د منځ ته راتګ موخې د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې، په اداره او مدیریت کې د متخصصو او مسلکي کادرونو روزنه او د لوړو زده کړو او پوهنې وزارت په کچه د ښوونیز نظام ښه والی دی. دا پروګرام په عمومي توګه د هېواد ښوونیز نظام د کارکوونکو، په ځانګړې توګه د رهبري او ښوونیز مدیریت په ډیپارټمنټونو، ښوونیزه ټکنالوژۍ، د ښوونیز او تحصیلي نصاب د پرمختیا، روزنیزه برنامه جوړونه، نظارت او روزنیزې لارښوونې او نورو برخو کې د تخصصي مهارتونو د ودې او پرمختیا په خاطر جوړ شوی دی.

**۱. لیدلوری**

د ښوونیز مدیریت د ماسټري پروګرام، رهبران او علمي صلاحیت لرونکي او د لوړې درجې درلودونکي متخصصان د ښوونیز مدیریت په ډیپارټمنټ کې ټولنې ته وړاندې کوي. دوی نه یواځې د افغانستان د ښوونیز نظام په اصلاح او ښه والي کې ارزښتمن او حیاتي ګټېل کېږي، بلکې د ټولنې په ټولو برخو کې لوړ اغېز لري، پر دې سربېره د دې پروګرام منځ ته راتګ د ښوونیزو سازمانونو په اوږدمهاله پراختیا او ښې حکومتولۍ کې د خپلو فارغانو په وسیله مهم او ټاکونکی رول لوبوي.

دا پروګرام د څېړنې او مطالعې د فرهنګ په دودولو، او د عملي او ګټورې روزنې د زمینو په برابرولو سره هڅه کوي، تر څو په رهبرۍ، مدیریت او ښوونه کې مهم رول ادا کړي.

**۲. ماموریت**

د ښوونیز مدیریت د ماسترۍ پروګرام رسالت د پوهې د کچې لوړاوی او د ښوونیز مدیریت په برخو کې د ښوونیزو سازمانونو او په ښوونیزو او روزنیزو بنسټونو کې د علمي مهارتونو ډېرښت دی.

دا پروګرام د هېواد د راتلونکې مدیران، رهبران او پالیسي جوړونکي د پلان جوړونې په برخه کې د ګډون په روحیه، د حالاتو تحلیل او د موضوعاتو ارزونې او د معقولو تصمیمونو نیولو او په روزنیزو چارو کې ګټور ارتباط ټینګولو ته چمتو کوي. همدارنګه به دا پروګرام، د مطالعې او څېړنې نوې ساحې، نورو پوهنتونو ته د پوهانو او کادرونو د روزنې په منظور ټولو عامه سکتورونو او مؤسسو ته چمتو کړي.

**۳. اساسي موخې**

د ښوونیز مدیریت د ماسټري د پروګرام مهمې موخې:

۱. د شرایطو بدلون او د ټولنې د اوسنیو غوښتنو مطابق د ځوانو رهبرانو روزنه؛

۲. له نظري او عملي پلوه د افغانستان او نړۍ په کچه د عامه دولتي او عامه ادارو د ښوونیز مدیریت د مهمو معلوماتو ترلاسه کول؛

۳. د ټولنې اړتیا ته په کتو د مدیریت او پلان جوړونې په برخو کې د متخصصو او مسلکي کادرونو روزنه؛

۴. د رهبرۍ اړوند د معلوماتو ترلاسه کول او محصلانو ته د ښې زده کړې زمینه برابرول، د دولتي او خصوصي او نورو هغو سکتورونو تر منځ چې د دولتي ادارو په پالیسیو او مدیریت اغېز پرېباسي د اړیکو را منځ ته کول او د شرایطو برابرول؛

۵. د انتقادي تفکر په برخه کې د اړیکو ټینګول او د محصلانو د علمي او مسلکي ظرفیت د کچې لوړاوی او پراختیا؛

۶. د ښوونیز او تحصیلي نصاب د جوړونې په برخه کې د محصلانو د وړتیاوو لوړاوی، پروژې جوړونه او د مالي او اقتصادي چارو تنظیمول؛

**ج. د ښوونیز مدیریت د ماسټري پروګرام تحصیلي نصاب**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | روزنیزه ارواپوهنه | MEdm512 | ۳ | ۷ | د شمېرو تحلیل (استنباطي او توصیفي SPSS) | MEdm532 | ۳ |
| ۲ | ښوونیز مدیریت | MEdm514 | ۳ | ۸ | د سازماني چلن مدیریت | MEdm533 | ۴ |
| ۳ | په ښوونیزو سازمانونو کې د بشري سرچینو مدیریت | MEdm515 | ۳ | ۹ | د ماسټري د تیزس لیکل او له هغه دفاع | MEdm541 | ٦ |
| ٤ | ښوونیزه پروګرام جوړونه | MEdm521 | ۳ | ۱۰ | ستراتېژیک مدیریت | MEdm524 | ۳ |
| ۵ | په ښوونیزو سازمانونو کې د پروژې مدیریت | MEdm522 | ۳ | ۱۱ | په ښوونیز مدیریت کې د څېړنې میتودونه | MEdm525 | ۳ |
| ٦ | تخصصي انګلیسي (په ښوونیز مدیریت کې د بهرنۍ ژبې متون) | MEdm523 | ۳ | ۱۲ | مالي او د بودجې مدیریت | MEdm531 | ۲ |

# د ریاضیاتو پوهنځی



**۱ د پوهنځي پېژندنه**

ریاضیات د هېواد په کچه دیوې اړینې څانګې په توګه لـه فزیـک ،کیمیـا او بیولـوژی سره یـو ځـای د سـاینس پـوهنځي پـه چوکاټ کی په ۱۳۲۱هـ ش دنوموړي پوهنځی دتاسیس په وخت کی مطرح شو . د ساینس پوهنځی د طب او حقوقو څخه ورسته په کابل پوهنتون کې دربـم پـوهنځی و. پوهانـد ډاکټـر عبـدالغفار کـاکړ درياضـیاتو لـومړی اسـتاد او دسـاینس پـوهنځي بنسـټ ایښودونکی کڼل کیږي . دطبعی علومو دڅانګو متخصصو کار کوونکو چې د دولتي موسساتو په چوکاټ کی یـی کـار کـاوه. پـه نوموړي پوهنځي کی د تدریس دنده په غاړه واخیسته. په ۱۳۴۸ ه ش کال کې دلازمو اصلاحاتو په راتګ سره دسـاینس پـوهنځي اکاډمیک تشـکیل بـدلون وکـړ او ریـاضي ډیپارټمنـټ د دوه ګـونې څـانګې (ریـاضي او فزیـک ) څخـه جـلا او دیـوی مسـتقلې ډیپارټمنټ په توګه یې په کار پیل وکړ. دډیپارټمنټ د بنسټ ایښودو انګېزه د دولت په ډیری تشکیلاتو له هغې ډلې پـه معـارف او لوړو زدکړو کې د ریاضي مسایلو څرګنده اړتیا تشکیلوي. په ۱۳۹۳هـ ش کال کې د ساینس پوهنځي پر بنسټ د څلـورو پوهنځیـو (ریاضي ،فزیک .کیمیا او بیولوژي) د تاسیس فکر پیدا او مطرح شو.په ۱۳۹۴کال کې يې عملاً له یو بل څخه په جـلا ډول خپـل فعالیت شروع کړ او په دې ترتیب پخوانی ریاضي ډیپارټمنټ د ریاضیاتو اوسني پوهنځی ته ارتقا وکړه .

په ۱۳۹۴هـ ش کـال کـې ریاضـیات د یـو خپلـواک پـوهنځي پـه توګـه د (۵) ډیپـارټمنټونو پـه درلـودو سره تشـکیل شـو.دا ډیپارټمنټونه له:انالیز،الجبر ،تطبیقی ریاضیاتو ،انفور ماتیک اوعمومي ریاضی څخه عبارت دي،چـی پـه اوس وخـت کـې انفـور ماتیک په نامه یو ډیپارټمنټ رسمیات لري، خو تر اوسه یې کار نه دی پیل کړی.

**۱. موخې**

**الف. لرليد**

د ریاضیاتو پوهنځی باید د یو ښوونیز او څېړنیز ، د لوړ کیفیت ، د علمي او اکاډمیکو معیارونو پر بنسټ د هېواد او سـیمې پـه کچه په موډرنه ټکنالوژۍ سمبال او د تحقیق او تدریس له لارې په ټولنه کې په نقش لرونکي پوهنځي بدل شي.

**ب. ماموریت**

د استادانو او کارمندانو د علمي سطحې پراختیا ،پرمختیا د تدریس ،څېړنې ،کورسونو او بورسونو له لیارې د علمي کادر روزل.

. د ټولنې د اوسنیو اړتیاوو سره سم د فارغانو د ظرفیت لوړول او پراختیا؛

. د هېواد اړتیا ته په کتو د علمي څېړنو زمینه برابرول او د هغو پراختیا او پرمختیا؛

. د اوسنیو منل شوو سیستمونو سره برابر معیاري تدریس؛

. د زدکړو مناسب چاپېریال برابرول او د هېواد په سطحه د زدکړې ،محاسبې او رهبرۍ په برخه کې ټولنې ته د وړ او لایقو متخصیصونو وړاندې کول.

**ج بنسټي موخې**

۱ـ زدکړه او علمي څېړنې؛

۲. د ټکنالوژۍ او معیاري کړنلارو څخه کټه اخیستنه؛

۳. د ټولنې اړتیاوو ته په کتو په زدکړه کې د پوهنځي ونډه؛

۴. د عوایدو پلټنه او لاسته راوړل؛

۵. د څېړنیزو او پوهنیزو کړنو لپاره زمینه برابرول؛

٦. د انفورماټیک په ګډون د څېړنیزو او ځانګړو ریاضیاتو د څېړنې او پراختیا زمینه برابرول؛

۷. د هېواد څخه بهر د ترونونو اوفعالیتونو تر سره کول؛

۸ . د متوقعه پایلو او لاسته راوړنو سوداګریز کول؛

**۳. ډیپارټمنټونه**

**۱. د الجبر ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د الجبر ډیپارټمنټ د نورو ډیپارټمنټونو (انالیز ،تطبیقي ریاضیات او عمومي ریاضیات) سره د هوکړې مطابق کرېکولم تدریس او فعالیت کوي.د ریاضیاتو د پوهنځي ځانګې په ځانګړو برخو کې جلا محصلین نه لري؛ بلکې د یاد پوهنځي محصلین ټول هغه اساسي او تخصصي مضامین چې د ریاضیاتو یو فارغ التحصیل ته اړین دي تعقیبوي.

**ب. موخې**

**۱. لرلید**

د الجبر ډیپارټمنټ باید د پوهنځي د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د څېړنې او په ټولنه کې د ونډې لرلو پر بنسټ د هېواد په کچه په یوې معتبرې ځانګې باندې تبدیل شي.

**۲. ماموریت**

د ریاضیاتو پوهنځي الجبر ډیپارټمنټ د ریاضیاتو پوهنځي د موخو د پلي کولو لپاره د تدریس ،څېړنې او خدماتو وړاندې کولو له لارې په پوره ریښتینولۍ سره کوي او د پوهنځي اهداف تعقیبوي.

**۳. بنسټي موخې**

- زدکړه او علمي څېړنې؛
- د معیاري کړنلارو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستنه؛
- د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو په زدکړه کې د پوهنځي ونډه اخیستنه؛
- د پوهنځي د موخو د لاسته راوړلو لپاره هر اړخیز ګډ کار؛

**۲. انالېز ډیپارټمنټ**

انالېز د نورو ډیپارټمنټونو (الجبر،تطبیقي ریاضیات او عمومي ریاضیات) سره د هوکړې مطابق کریکولم تـدریس او فعالیـت کوي.د ریاضیاتو د پوهنځي ځانګې په ځانګړو برخو کې جلا محصلین نه لري ،بلکې د نومـوړي پـوهنځي محصـلین ټـول هغـه اساسي او تخصصي مضامین چې د ریاضیاتو یو فارغ التحصیل ته اړین دي تعقیبوي.

**۱. لرلید**

د انالېز ډیپارټمنټ باید د پوهنځي د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د څېړنې او په ټولنه کې د ونډې لرلـو پـر بنسـټ د هېـواد پـه کچه په یوې معتبرې ځانګې باندې تبدیل شي.

**۲. ماموریت**

د ریاضیاتو پوهنځي انالېز ډیپارټمنټ د ریاضیاتو پوهنځي د موخو د پلي کولو لپاره د تدریس ،څېړنـې او خـدماتو وړانـدې کولو له لارې په پوره ریښتینولۍ سره کوي او د پوهنځي اهداف تعقیبوي.

**۳. بنسټي موخې**

. زدکړه او علمي څېړنې؛

. د معیاري کړنلارو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستنه؛

. د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو په زدکړه کې د پوهنځي ونډه اخیستنه؛

. د پوهنځي د موخو د لاسته راوړلو لپاره هر اړخیز ګډ کار؛

. د عوایدو پلټل او لاسته راوړل؛

**۳ـ د تطبیقي ریاضیاتو ډیپارټمنټ**

**الف د ډیپارټمنټ پېژ ندنه**

د تطبیقي ریاضیاتو ډیپارټمنټ د نورو ځانګو (الجبر ،انالېز او عمومي ریاضیات) سره د هوکړې مطـابق کریکـولم تـدریس او فعالیت کوي.د ریاضیاتو د پوهنځي ډیپارټمنټونه په ځانګړو برخو کې جلا محصلین نه لري ،بلکه د یـاد پـوهنځي محصـلین ټـول هغه اساسي او تخصصي مضامین چې د ریاضیاتو یو فارغ التحصیل ته اړین دي تعقیبوي.

**۱. لرلید**

د تطبیقي ریاضیاتو ډیپارټمنټ باید د پوهنځي د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د څېړنې او په ټولنه کې د ونډې لرلو پر بنسـټ د هېواد په کچه په یوه معتبر ډیپارټمنټ باندې تبدیل شي.

**۲. ماموریت**

د ریاضیاتو پوهنځي تطبیقي ریاضیاتو ډیپارټمنـټ د ریاضـیاتو پـوهنځي د موخـو د پـلي کولـو لپـاره د تـدریس ،څېړنـې او خدماتو وړاندې کولو له لارې په پوره ریښتینولۍ سره کوي او د پوهنځي اهداف تعقیبوي.

**۳. بنسټي موخې**

ـ زدکړه او علمي څېړنې؛

. د معیاري کړنلارو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستنه؛

. د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو په زدکړه کې د پوهنځي ونډه اخیستنه؛

. د پوهنځي د موخو د لاسته راوړلو لپاره هر اړخیز ګډ کار؛

. د عوایدو پلټل او لاسته راوړل؛

**۴ .ـ د عمومي ریاضیاتو ډیپارټمنټ**

**الف. د ډیپارټمنټ پېژ ندنه**

د عمومي ریاضیاتو ډیپارټمنټ د نورو څانګو (الجبر،انالېز او تطبیقي ریاضیات) سره د هوکړې مطابق کریکولم تدریس او فعالیت کوي.د ریاضیاتو د پوهنځي ډیپارټمنټونه په څانګړو برخو کې محصلین نه لري ،بلکه د یاد پوهنځي زده کړیالان ټول هغه اساسي او تخصصي مضامین چې د ریاضیاتو یو فارغ التحصیل ته اړین دي تعقیبوي.

**۱. لرلید**

د عمومي ریاضیاتو ډیپارټمنټ باید د پوهنځي د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د څېړنې او په ټولنه کې د ونډې لرلو پر بنسټ باید د هېواد په کچه په یوه معتبرې ډیپارټمنټ باندې تبدیل شي.

**۲. ماموریت**

د ریاضیاتو پوهنځي عمومي ریاضیاتو ډیپارټمنټ د ریاضیاتو پوهنځي د موخو د پلي کولو لپاره د تدریس ،څېړنې او خدماتو وړاندې کولو له لارې په پوره ربښتینولی سره کوي او د پوهنځي اهداف تعقیبوي.

**۳. بنسټي موخې**

ـ زدکړه او علمي څېړنې؛

. د معیاري کړنلارو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستنه؛

. د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو په زدکړه کې د پوهنځي ونډه اخیستنه؛

. د پوهنځي د موخو د لاسته راوړلو لپاره هر اړخیز ګډ کار؛

. د عوایدو پلټل او لاسته راوړل؛

. د معیاري کړنلارو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستنه؛

. د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو په زدکړه کې د پوهنځي ونډه اخیستنه؛

. د پوهنځي د موخو د لاسته راوړلو لپاره هر اړخیز ګډ کار؛

. د عوایدو پلټل او لاسته راوړل؛

**۵. د ریاضیاتو د پوهنځي د لیسانس دورې نصاب( تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حقیقي انالېز I | MA.AN.0417 | ۴ | ۱۴ | معمولي ډېفرانسیل معادلات I | MA.AP.0320 | ۳ |
| ۲ | حقیقي انالېزII | MA.AN.0517 | ۴ | ۱۵ | معمولي ډېفرانسیل معادلات | MA.AP.0420 | ۳ |
| ۳ | حقیقي انالېز III | MA.AN.0617 | ۴ | ۱۶ | قسمي ډېفرانسیل معادلات | MA.AP.0524 | ۳ |
| ۴ | ګډ انالېز I | MA.AN.0725 | ۴ | ۱۷ | فضایي تحلیلي هندسه | MA.AL.0215 | ۴ |
| ۵ | ګډ انالېزII | MA.AN.0825 | ۳ | ۱۸ | وکتور انالېز | MA.AN.07 | ۴ |
| ۶ | تابعی انالېز | MA.AN.0729 | ۳ | ۱۹ | عادي انالېزI | MA.AP.0523 | ۳ |
| ۷ | د ریاضي | MA.AL.0318 | ۳ | ۲۰ | عادي انالېزII | MA.AP.0623 | ۳ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیت | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | مجرد الجبر I | MA.AL.0421 | ۳ | ۲۱ | د اعدادو نظريه | MA.AL.0728 | ۳ |
| ۹ | رمجرد الجبر II | MA.AL.0521 | ۳ | ۲۲ | احصايه او احتمالات I | MA.AP.0726 | ۴ |
| ۱ | مجرد الجبر III | MA.AL.0621 | ۳ | ۲۳ | احصاييه او احتمالات II | MA.AP.0826 | ۴ |
| ۱ | خطي الجبرI | MA.AL.0319 | ۳ | ۲۴ | مجزا رياضي | MA.AP.0522 | ۳ |
| ۱ | خطي الجبر II | MA.AL.0419 | ۳ | ۲۵ | توپولوژي | MA.AL.0630 | ۳ |
| ۱ | خطي الجبر III | MA.AL.0519 | ۳ | ۲٦ | د عمليو څېړنه | MA.AP.0629 | ۳ |

**٦. د رياضياتو د ماسټرۍ پروګرام**

**الف. پېژندنه**

د پوهنځي د ماسټرۍ پروګرام د هرې دورې تر بشپړېدو وروسته د ټولنې د اړتيا پر بنسټ د درسي بهير د ښه والي د کرېکـولم د کېفيت د لوړاوي په برخه کې لازمې پربکړې په اساس،چې دهر سمستر په پای کې د پوهنتون علمي شورا ته راپور ورکـوي او د پوهنځي رياست د تدريسي بهير د ښه والي په موخه مکلف دی ،چې د ارزونې او بيا کتنې د برنامې له طريقه په لاس راغلې پايلې د تدريس د ښه والي په موخه تطبيق کړي.

**۱. لرليد**

د ماسټرۍ پروګرام د پوهنځي د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د څېړنې او په ټولنه کې د ونډې لرلو پر بنسټ د هېواد په کچه پـه يو معتبر ډيپارټمنټ تبديل شي.

**۲. ماموريت**

د رياضياتو پوهنځي ماسټرۍ برنامه د رياضياتو پوهنځي د موخو د پلي کولو لپاره د تدريس ،څېړنې او خدماتو وړاندې کولو له لارې په پوره ريښتينولۍ سره هڅه کوي او د پوهنځي اهداف تعقيبوي.

**۳. بنسټيي موخې**

. زدکړه او علمي څېړنې؛

. د معياري کړنلارو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستنه؛

. د ټولنې اړتياوو ته په کتلو په زدکړه کې د پوهنځي ونډه اخيستنه؛

. د پوهنځي د موخو د لاسته راوړلو لپاره هر اړخيز ګډ کار؛

. د عوايدو پلټل او لاسته راوړل؛

**تحصيلي نصاب**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حقیقی انالېز | MSc.MA.101 | ۳ | ۹ | ګډ (مختلط ) انالیېز | MSc.MA.301 | ۳ |
| ۲ | توپولوژی | MSc.MA.102 | ۳ | ۱۰ | د نبس لیکنې او اعدادو نظریه | MSc.MA.302 | ۳ |
| ۳ | احصائیه او احتمالات | MSc.MA.103 | ۳ | ۱۱ | د عملیو څېړنه | MSc.MA.303 | ۳ |
| ۴ | مجرد الجبر | MSc.MA.104 | ۳ | ۱۲ | فنکشنل انالېز | MSc.MA.304 | ۳ |
| ۵ | اعددی انالېز | MSc.MA.201 | ۳ | ۱۳ | د څېړنې کړنلاره | MSc.MA.401 | ۳ |
| ٦ | قسمي تفاضلي معادلات | MSc.MA.202 | ۳ | ۱۴ | تفاضلي هندسه | MSc.MA.402 | ۳ |
| ۷ | ډیناميکي سیستمونه او رياضيکي موډلونه | MSc.MA.203 | ۳ | ۱۵ | تزیس | MSc.MA.403 | ۳ |
| ۸ | د ګرافونو تیوري | MSc.MA.204 | ۳ | | | | |

# د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی



### ۱. د پوهنځي پېژندنه

د ۱۳۲۳کال د تلې په لومړۍ نېټه د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د بشري علومو او ادبیاتو پوهنځی رامنځته شو او دې پوهنځي زموږ د هېواد د ادبیاتو او کلتور د تاریخ په پېژندنه کې مهم او ارزښتناک گامونه واخیستل.

د دې پوهنځي د تأسیس موخه د افغانستان د پېړیو پېړیو مخکې او ننني ادبي او کلتوري ارزښتونو درک، د هغه پېژندنه او د نوي نسل روزلو له لارې راتلونکو پېړیو ته د هغه لېږد و. پر دې سربېره په مختلفو ادبي او علمي رشتو کې د تکړه ښوونکو روزنه هم د دې پوهنځي له مهمو موخو څخه وه.

د دې پوهنځي لومړی تحصیلي پروگرام د پښتو ژبې د ادبیاتو تاریخ، د دری ژبې د ادبیاتو تاریخ، د پښتو گرامر، د دری گرامر، پښتو متون، پښتو ادبي فنون، دری ادبي فنون، فلسفه او اراواپوهنه، عربي او انگلیسي ژبو څخه جوړ و، چې د وخت د پوهنې وزیر په مشرۍ د یو باصلاحیته پلاوي لخوا تعین شوی و او د تدریس لپاره یې اروانښاد پوهاند عبدالحی حبیبي (د پوهنځي رییس)، محمد کریم نزیهي، محمد اعظم ایازي، پاینده محمد زهیر،امین الله زمریالی، سرور گویا، عبدالرووف بېنوا، عبدالحق بیتاب. غلام جیلاني جلالي، هاشم شایق افندي، امین میرزا قفقازي او شمشیر خان د استادانو په توگه وگمارل شول. د دې محدودو استادانو په درلودو سره د دې پوهنځي لومړیو محصلانو ته، چې د حبیبیې لیسې او د قندهار د احمدشاهي لیسې لس تنه فارغان و؛ د ۱۳۲۳ لمریز کال د تلې په لومړۍ نېټه تدریس پیل شو.

له ۱۳۴۰کال وروسته په دغه پوهنځي کې د څو بهرنیو ژبو ډیپارټمنټونه هم جوړ شوې؛ خو وروسته په ترتیب ژورنالېزم، ټولنیز علوم، ارواپوهنه او د ښکلو هنرونو ډیپارټمنټونه د ادبیاتو له پوهنځي څخه بېل شول. په همدې خاطر د ټولنیزو علومو او ادبیاتو پوهنځي نوم، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بدل شو. د ژبو او ادبیاتو پوهنځی په ۱۳۹۹ کال کې پر دوو پوهنځیو (د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی او د خارجي ژبو او ادبیاتو پوهنځی) ووېشل شو. اوسمهال د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی درې ډیپارټمنټونه (د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ، د دري ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ او د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ) لري. اوس مهال دغه پوهنځی په پښتو او دري څانگو کې د ماسترۍ او دکتورا برنامې هم لري.

## ۲. د پوهنځي موخې

### الف. لیدلوری

د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی په ملي او نړیواله کچه د افغانستان د ژبو او ادبیاتو لپاره د ژمنو او متخصص کادرونو د روزلو په موخه، د یوه باوري علمي او اکاډمیك مرکز په توګه کار کوي، تـر څـو د دې پـوهنځي فارغـان د تکـړه او مسـلکي څېړونکیـو او داخلي ژبو او ادبیاتو ته د ژمنو کسانو په توګه خپل هېواد په اکاډمیکه برخه کې خدمت وکړي.

### ب. ماموریت

د داخلي ژبو او ادبیاتو اړوند او د ټولنې اړتیاوو ته په کتو د داسې مسلکي او تخصصي-کـادرونو روزنـه، چـې د افغانسـتان پـه تاریخي ارزښتونو او د هېواد پر اساسي قانون باور ولري او په ښه ډول هېواد ته خدمت وکړي.

### ج. بنسټي موخې

په عموم کې د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځي د تأسیس موخې د هېواد د ننني او مخکینیـو پېړیـو د کلتـوري او ادبي ارزښـتونو درک، د خپل هېواد د ځلانده ادب او کلتور په باب پوهاوی، راتلونکو پېړیو ته یې لېږد او په مختلفو ادبي او علمـي رشـتو کـې د تکړه ښوونکو روزنه ده؛ خو په ځانګړې توګه د دې پوهنځي لپاره لاندې موخې یادولی شو:

- د ټولنې او محصلینو اړتیاوو ته په کتو د باکیفیته تحصیلي خدماتو وړاندې کول؛
- د ننني عصر له اړتیاوو سره سم د ادبي او کلتوري څېړنو لپاره د امکاناتو او اسانتیاوو رامنځته کول او پراختیا؛
- د ژب پېژندنې او ادب پېژندنې په برخو کې د علمي څېړنو لپاره زمینه برابرول؛
- د پښتو، دری او اوزبیکي ژبو د علمي او مسلکي بډاینې لپاره کار کول؛
- د پوهنځی په کچه د ژباړې او ادبي -کلتوري څېړنو په برخه کې د یوه باوري مرکز رامنځته کول؛
- د سیمې او نړۍ له پوهنتونونو سره د علمي-روزنیزو تواميتونو رامنځته کول؛

## ۳. توأمیتونه

۱. د چین یونن منزو پوهنتون (Yunnan Minzu University).
۲. د فردوسي مشهد پوهنتون ـ ایران
۳. د علامه طباطبایي پوهنتون ـ ایران
۴. پژوهشگاه علوم انسان ـ ایران
۵. د هند جواهر لعل نهرو پوهنتون

## ۴- ډیپارټمنټونه

د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی لاندې درې ډیپارټمنټونه لري، چې دربواړه یې د ټولنه د اړتیاوو پر بنسټ جوړې شوې دي.

### ۱. د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ

#### الف. پېژندنه

د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځي له فعالو تحصیلي ډیپاټمنټونو څخه دی، چې له تېرو شاوخوا شپږو لسیزو څخه د کابل پوهنتون په چوکاټ کې فعالیت کوي او تر دې دمه یـې زرګونـه کسـان د مسـلکي کـادرونو، څیړونکـو، ژباړونکو او ادیبانو په توګه ټولنې ته وړاندې کړي دي.

په ۱۳۲۳ کال کې د ادبیاتو پوهنځي له تأسیس سره سم د پښتو او دري ژبې او ادبیات په ګډه د یو ډیپارټمنټ په چوکاټ کې تدریسیدل. دغې چارې دوولس کاله دوام وکړ، بالاخره د ادبیاتو پوهنځی د پراختیا په لړ کې پـه ۱۳۳۵ کـال کـې د پښـتو ژبـې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د یوه مستقل ډیپارټمنټ په توګه رامنځته شوه.

له ۱۳۳۵ کال را وروسته تر دې دمه پښتو ډیپارټمنټ د پښتو ژبې او ادب د پرمختـګ، غنـا او پـه دې برخـه کـې د کـادرونو د روزنې په برخه کې اغیزناک فعالیت کړی دی، پښتو ډیپارټمنټ د ادب او کلتور د ساتنې او پراختیا لپاره له تېرو څو لسیزو راهیسي- د ورمې په نوم علمي-ادبي مجله خپروي.

اوس مهال د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ په درېیو جلا تحصیلي پروګرامونو (لیسـانس، ماسـټري او دکتـورا) کـې ټـولنې تـه استادان، لیکوال، څېړونکي او ژباړن وړاندې کوي، چې په مختلفو دولتي او خصوصي سکټورونو کـې، لکـه: راډیـو، تلویزیـون، مطبوعات او نورو ادارو کې دندې ترسره کوي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

د سیمې د هېوادونو په کچه د متخصصو علمي کادرونو په برخه کې په یوه نړیـوال معتـبر مرکـز د پښـتو ډیپارټمنـټ اړول او د کابل پوهنتون په مرسته ټولنې ته د لیسانس، ماسټر او دکتور په کچه د مجربو او تکړه فارغانو وړاندې کول.

**۲. ماموریت**

د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ محصلینو ته په ادبیاتو او ژبپوهنه کې د بېلابېلو علمي مهارتونو د تدریس دروند مسؤولیت په ژمنتیا سره ترسروي او د لیسانس، ماسټرۍ او دکتورا په برخه کې ټولنې ته علمي کادرونه وړاندې کوي.

د نړۍ په نورو هېوادونو کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ډیپارټمنټونو پرانیستل او د ترونونو لـه لارې د نـورو هېوادونـو د مرسـتو را جلبول. پر دې سربیره پښتو ډیپارټمنټ دولتي او نادولتي ادارو ته د پښتو ادبیاتو او ژبپوهنې استادان، ژباړن، لیکوال، څېړونکـي او کره کتونکي روزي او په غوره ډول خپل دا مسؤولیت ادا کوي.

**۳. اساسي موخې**

په ټوله کې د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د لیسانس دورې لپاره لاندې موخې لري:

- د پښتو ژبې او ادبیاتو په برخه کې څېړونکیو او لیکوالو روزل؛
- د پښتو ژبې او ادبیاتو په برخه کې د مسلکي ښوونکیو روزل؛
- د پښتو ژبې او ادبیاتو خدمت؛
- په پښتو کې د نویو ادبي او ژبنیو نظریو دودونه

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پښتو ادب تاریخ(۱) | LL. A.0106 | ۲ | ۲۷ | پښتو عرفاني ادبیات(۱) | LL. PA. 0510 | ۲ |
| ۲ | منظوم متون(۱) | LL. PA. 0107 | ۲ | ۲۸ | نحوه ( ۱ ) | LL. PA. 0518 | ۲ |
| ۳ | لیکلاربنود | LL. PA. 0124 | ۲ | ۲۹ | ادبي کره کتنه (۱) | LL. PA. 0535 | ۲ |
| ۴ | د ژبپوهنې بنسټونه | LL. PA. 0130 | ۲ | ۳۰ | ټولنیزه ژبپوهنه | LL. PA. 0527 | ۲ |
| ۵ | د ادبپوهنې بنسټونه | LL. PA. 0131 | ۲ | ۳۱ | شعر پېژندنه (۲) | LL. PA. 0537 | ۲ |
| ٦ | فونټیکس | LL. PA. 0132 | ۲ | ۳۲ | خوشحال پیژندنه ( ۲ ) | LL. PA. 0509 | ۲ |
| ۷ | پښتو ادب تاریخ( ۲) | LL. PA. 0206 | ۲ | ۳۳ | پښتو ادب تاریخ( ٦) | LL. PA. 0606 | ۲ |
| ۸ | منثور متون (۱) | LL. PA. 0208 | ۲ | ۳۴ | منثور متون (۳) | LL. PA. 0608 | ۲ |
| ۹ | ولسي ادبیات (۱) | LL. PA. 0211 | ۲ | ۳۵ | پښتو عرفاني ادبیات(۲) | LL. PA. 0610 | ۲ |
| ۱۰ | پښتو فونولوژي | LL. PA. 0215 | ۲ | ۳٦ | نحوه ( ۲ ) | LL. PA. 0618 | ۲ |
| ۱۱ | لیکوالي | LL. PA. 0220 | ۳ | ۳۷ | ادبي کره کتنه (۲) | LL. PA. 0635 | ۲ |
| ۱۲ | پښتو ادب تاریخ( ۳) | LL. PA. 0306 | ۲ | ۳۸ | د ماشوم ادبیات | LL. PA. 0612 | ۲ |
| ۱۳ | منظوم متون (۲) | LL. PA. 0307 | ۲ | ۳۹ | نړۍ ادبیات (۱) | LL. PA. 0634 | ۲ |
| ۱۴ | ولسي ادبیات (۲) | LL. PA. 0311 | ۲ | ۴۰ | شعر پیژندنه(۳) | LL. PA. 0637 | ۲ |
| ۱۵ | پښتو مورفولوژي(۱) | LL. PA. 0316 | ۲ | ۴۱ | ګړدودپوهنه(۱) | LL. PA. 0712 | ۲ |
| ۱٦ | ژباړه | LL. PA. 0321 | ۳ | ۴۲ | تاریخي پرتلیزه ژبپوهنه | LL. PA. 0722 | ۲ |
| ۱۷ | پښتو ادب تاریخ( ۴) | LL. PA. 0406 | ۲ | ۴۳ | د نړۍ ادبیات (۲) | LL. PA. 0734 | ۲ |
| ۱۸ | منثور متون (۲) | LL. PA. 0408 | ۲ | ۴۴ | دنثر تیوري (۱) | LL. PA. 0739 | ۲ |
| ۱۹ | پښتو مورفولوژي(۲) | LL. PA. 0411 | ۳ | ۴۵ | سبک پیژندنه | LL. PA. 0736 | ۳ |
| ۲۰ | ویي پوهنه | LL. PA. 0417 | ۲ | ۴٦ | دڅېړنې میتودولوژي | LL. PA. 0738 | ۲ |
| ۲۱ | د پښتو ژبې د تحول تاریخ | LL. PA. 0419 | ۲ | ۴۷ | پرتلیز ادبیات | LL. PA. 0813 | ۲ |
| ۲۲ | د ژبې د زده کړې اصول | LL. PA. 0433 | ۲ | ۴۸ | د کیسې تیوري | LL. PA. 0814 | ۲ |
| ۲۳ | شعر پېژندنه (۱) | LL. PA. 0437 | ۲ | ۴۹ | ګړدود پوهنه | LL. PA. 0823 | ۲ |
| ۲۴ | خوشحال پیژندنه ( ۱) | LL. PA. 0409 | ۲ | ۵۰ | اختصاصي کورس | LL. PA. 0825 | ۲ |
| ۲۵ | پښتو ادب تاریخ( ۵) | LL. PA. 0506 | ۲ | ۵۱ | دژبپوهنې تاریخ | LL. PA. 0826 | ۲ |
| ۲٦ | منظوم متون (۳) | LL. PA. 0507 | ۲ | ۵۲ | مونوګراف | LL. PA. 0840 | ۴ |

**۲. د دري ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ**

**الف) پېژندنه**

د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځي په اډانه کې دري ډیپارټمنټ د پښتو همځولی ډیپارټمنټ دی. څکه په ۱۳۲۳ کال کې د

ادبیاتو پوهنځي له تأسیس سره سم د پښتو او دري ژبې او ادبیات په ګډه د یو ډیپارټمنټ په چوکاټ کې تدریسیدل.

په ۱۳۳۵ کال د ادبیاتو پوهنځي د پراختیا او امکاناتو له زیاتوالي سره، دري ډیپارټمنټ د دې پوهنځي د یو مستقل ډیپارټمنټ په توګه اعلان شوه. ادب علمي-اکاډمیکه مجله د دري ډیپارټمنټ هغه مجله ده چې د دري ژبې او ادب په پراختیا او خپراوي کې مهمه ونډه لري او له څو لسیزو راهیسې خپرېږي.

اوس مهال د دري ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ په دریو جلا تحصیلي پروګرامونو (لیسانس، ماستري او دکتورا) کې ټولنې ته استادان، لیکوال، څېړونکي او ژباړونکي وړاندې کوي، چې په مختلفو دولتي او خصوصي سکټورونو کې، لکه: راډیو، تلویزیون، مطبوعات او نورو ادارو کې دندې ترسره کوي.

**ب) موخې**

**۱. لیدلوری**

د دري ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د ژبپوهنې او ادبیاتو په برخو کې ټولنې ته متخصص او پر کارپوه کسان وړاندې کوي، چې د ټولنې د کلتوري او ادبي برخو په پرمختګ او همدارنګه په بېلابېلو دولتي چارو کې یې د پام وړ کار کړی دی.

**۲. ماموریت**

دري ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي هغه علمي او اکاډمیکه برخه ده، چې هر کال د خپل مسوولیت له مخې د دري ژبې او ادبیاتو په برخه کې محصلینو ته د تدریس مسوولیت لري.

همدارنګه نوموړی ډیپارټمنټ د ژبپوهنې او ادبیاتو په برخو کې د استادانو، څېړونکیو، د ادبي اثارو د موندنو او همدارنګه په بېلابېلو وزارتونو کې په کلتوري او خپرنیزو برخو کې د سلاکارانو د روزلو مسوولیت هم لري.

**۳. اساسي موخې**

دغه ډیپارټمنټ د هېواد د ژبو او ادبیاتو رشتې د محصلانو لپاره په علمي او اختصاصي برخو کې له علمي څېړنو سره د بلدتیا لپاره زمینه برابروي او همدارنګه د ژبې د تدریس په برخه کې ټولنې ته د اغېزناکو کادرونو د وړاندې کولو مسوولیت هم اخلي.

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | صرف | DD-3-119 | ۳ | ۱ | تاریخي -پرتلیزه ژبپوهنه | DD-4-127 | ۳ |
| ۱۹ | غنایي شعر | DD-3-121 | ۳ | ۲ | صرف | DD-4-129 | ۲ |
| ۲۰ | ګرڅود پوهنه | DD-3-124 | ۳ | ۳ | مسجع نثر | DD-4-131 | ۳ |
| ۲۱ | ادبي فنون | DD-3-121 | ۳ | ۴ | حماسي شعر | DD-4-104 | ۳ |
| ۲۲ | نحو | DD-5-135 | ۲ | ۵ | ساده او مرسل نثر | DD-2-113 | ۳ |
| ۲۳ | عرفاني ادبیات | DD-5-136 | ۲ | ٦ | ویي پوهنه | DD-4-132 | ۳ |
| ۲۴ | تعلیمي شعر | DD-5-138 | ۳ | ۷ | شفاهي ادبیات | DD-4-133 | ۲ |
| ۲۵ | (عروض)/ ادبي فنون | DD-5-139 | ۳ | ۸ | نحو | DD-6-143 | ۳ |
| ۲٦ | د لویدیځ د ادبیاتو تاریخ | DD-5-140 | ۳ | ۹ | ۹ او ۱۰/ د ادبیاتو تاریخ | DD-6-144 | ۳ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | فردوسي پېژندنه | DD-5-141 | ۳ | ۱۰ | د ختیځ ادبیات | DD-6-146 | ۳ |
| ۲۸ | د ژبې د تحول تاریخ | DD-8-160 | ۳ | ۱۱ | عرفاني ادبیات | DD-6-147 | ۲ |
| ۲۹ | معانی | DD-8-161 | ۳ | ۱۲ | د ژبپوهنې تاریخ | DD-6-148 | ۲ |
| ۳۰ | ادبي نظریې | DD-8-162 | ۳ | ۱۳ | بېدل پېژندنه | DD-6-149 | ۳ |
| ۳۱ | ادبي کره کتنه | DD-8-164 | ۲ | ۱۴ | لیکوالي | DD-6-150 | ۲ |
| ۳۲ | پایلیک | DD-8-165 | ٦ | ۱۵ | د ژبې د تحول تاریخ | DD-7-152 | ۲ |
| ۳۳ | سبک‌پوهنه | DD-7-158 | ۴ | ۱٦ | ادبي نظریې | DD-7-154 | ۳ |
| ۳۴ | معاصر نثر | DD-7-158 | ۳ | ۱۷ | ادبي کره کتنه | DD-7-155 | ۳ |

**۳. د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځي یو پخوانی ډیپارټمنټ دی. دغه ډیپارټمنټ د لومړي ځل لپاره په ۱۳٦۲ کال کې تأسیس شو، چې ټولنې ته د څو دورو فارغانو له وړاندې کولو وروسته د ځینو ملحوظاتو له امله د څه مودې لپاره بېرته تړل شوه؛ خو له نېکه مرغه په ۱۳۹۸ کال کې دغه ډیپارټمنټ بېرته فعال شو. اوس مهال د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو په برخه کې متخصص کادرونو، ادیبان، څېړونکي او ښوونکي روزي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو د لا پیاوړتیا او پراختیا لپاره کار او دوامداره هڅې، دا راز د هغو کلتوري ارزښتونو ساتنه او پالنه چې د اوزبیکي ژبې په ویونکو پورې اړه لري او دوی د تاریخ په اوږدو کې ترلاسه کړي دي.

**۲. ماموریت**

د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو په برخه کې محصلینو ته تدریس، دا راز د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د تکړه ښوونکیو، مختصصو کادرونو، څېړونکو، ژباړونکو او لیکوالو د روزنې مسوولیت لري.

**۳. اساسي موخې**

په ټوله کې د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټونه موخه ټولنې ته د متخصصو، ژمنو او پر کار پوه کسانو وړاندې کول دي، څو له فراغت وروسته وکولای شي په لاندې برخو کې کار وکړي:

- د اوزبیکي ژبې او ادبیاتو د تدریس مسلکي وړتیا لرل؛
- د اوزبیکې ژبې او ادبیاتو په برخه کې د علمي تحقیقاتو وړتیا لرل؛
- د لیکوالۍ او ژباړې وړتیا لرل؛
- د اوزبیکې ژبې او ادبیاتو د علمي او مسلکي بډاینې وړتیا؛

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | متون نظم (۱) | LL:UZ:304 | ۲ | ۱۸ | تحقیق و ریسرچ/ څېړنه | LL:UZ:602 | ۲ |
| ۲ | صرف (۱) | LL:UZ:305 | ۲ | ۱۹ | تاریخ ادبیات (٤)/ د ادبیاتو تاریخ | LL:UZ:601 | ۳ |
| ۳ | د ادبیاتو تاریخ(۱) | LL:UZ:306 | ۲ | ۲۰ | د ترک ژبو ملتونو د ادبیاتو تاریخ(۱) | LL:UZ:602 | ۲ |
| ۴ | د ادبیاتو تاریخ(۲) | LL:UZ:404 | ۳ | ۲۱ | نحو (۲) | LL:UZ:603 | ۳ |
| ۵ | دمنظوم متون (۲) | LL:UZ:405 | ۲ | ۲۲ | فنون ادبی (۱)/ ادبي فنون | LL:UZ:604 | ۲ |
| ٦ | دصرف (۲) | LL:UZ:406 | ۳ | ۲۳ | فولکلوریک ادبیات(۱) | LL:UZ:605 | ۲ |
| ۷ | دمنظوم متون(۳) | LL:UZ:501 | ۳ | ۲۴ | عروض | LL:UZ: | ۲ |
| ۸ | د ادبیاتو تاریخ(۳) | LL:UZ:502 | ۳ | ۲۵ | د ادبیاتو تاریخ (۵) | LL:UZ:701 | ۳ |
| ۹ | نحو (۱) | LL:UZ:503 | ۲ | ۲٦ | د ترک ژبو ملتونو د ادبیاتو تاریخ(۲) | LL:UZ:702 | ۳ |
| ۱۰ | د ژبې د تحول اریخ | LL:UZ:504 | ۳ | ۲۷ | نقد ادبی/ ادبي کره کتنه | LL:UZ:703 | ۳ |
| ۱۱ | پرتلیزه زبپوهنه | LL:UZ:505 | ۲ | ۲۸ | منثور متون (۱) | LL:UZ:704 | ۲ |
| ۱۲ | بابر پېژندنه | LL:UZ:506 | ۳ | ۲۹ | ادبي فنون (۲) | LL:UZ:705 | ۲ |
| ۱۳ | د ادبیاتو تیوري | LL:UZ:507 | ۳ | ۳۰ | فولکلوریک ادبیات(۲) | LL:UZ:706 | ۲ |
| ۱۴ | د ادبیاتو تاریخ (٦) | LL:UZ:801 | ۳ | ۳۱ | مونوګراف | | ۲ |
| ۱۵ | دمنثور متون(۲) | LL:UZ:802 | ۲ | ۳۲ | ادبیات کودک/ ماشوم ادبیات | LL:UZ:805 | ۳ |
| ۱٦ | د نوایي پېژندنه | LL:UZ:803 | ۳ | ۳۳ | دیالکتولوژی (لهجه‌شناسی)/ ګړدود پوهنه | LL:UZ:806 | ۳ |
| ۱۷ | تصوف او عرفاني ادبیات | LL:UZ:804 | ۳ | ۳۴ | مونوګراف | LL:UZ:801 | ۲ |

**۵. د داخلي ژبو او ادبیاتو د ماسترۍ پروګرامونه**

**۱. د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د ماسترۍ پروګرام**

**الف. پېژندنه**

د پښتو ډیپارټمنټ د ماسترۍ پروګرام په ۱۳۵۵ کال کې د کابل پوهنتون د علمي شورا له لوري تایید شو. په ۱۳۵٦ل کال کې د پښتو ماسترۍ لپاره له ۱۰٦ کسانو څخه ازموینه واخیستل شوه، چې له هغې جملې څخه یې شپږ کسان پښتو ماسترۍ ته جذب شول او په ۱۳۵۷ کال کې په لومړي ځل د پښتو ماسترۍ ټولګي پیل شو. په ۱۳۵۸ کال کې د دې ټولګي تر فراغت وروسته، پر افغانستان د شوروي لښکر له لوري یرغل وشو او د نورو علمي فعالیتونو له بندېدو سره د کابل پوهنتون د پښتو ډیپارټمنټ د ماسترۍ پروګرام هم بند شو.

په ۱۳٦۷ کال کې د پښتو ډیپارټمنټ د ماسترۍ پروګرام بیا پیل او دا ځل یې تر ۱۳۷۰ کال پورې دوام وکړ؛ خو پر هم دې کال

په افغانستان کې د کورنيو جګړو له پيل سره يو ځل بيا د پښتو ډيپارټمنټ پروګرام بند شو. په ۱۳۸۵ کال کې د پښتو ډيپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام يو ځل بيا پيل شو، چې لا هم دوام لري او د لوړو زده وزارت د قانون او لايحو سره سم خپل فعاليت ترسره کوي. په دې موده کې د پښتو ډيپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام ټولنې ته د پښتو ژبې او ادب سلګونه متخصصان وړاندې کړي دي.

**ب. موخې**

د مسلکي کادرونو او د پښتو ژبې او ادبياتو د متخصصانو روزنه، همدارنګه تر ليسانس پورته زده کړو په کچه د استادانو او محصلانو لپاره د زده کړو د سالمې فضا رامنځته کول ترڅو د پوهنې او لوړو زده کړو په برخو کې د پښتو ژبې او ادبياتو وضعيت ورسره ښه شي. يا هم په عموم کې دغه پروګرام د پښتو ژبې او ادبياتو په اړه د څېړنو، تخليق، ژبې او ژبپوهنې په برخه کې د مسلکي او متخصصو خلکو د مهارتونو د پياوړتيا او ودې لپاره فعاليت کوي.

**۱. ليدلوری**

د پښتو ژبې او ژبپوهنې، همدارنګه د پښتو ادبياتو په اړه څېړنې او مسلکي تخليق، چې دا هر څه په عموم کې د افغانستان د دې رسمي او ملي ژبې په پېژندنه کې د ملي هويت په توګه او تر ځنګ له نورو ژبو سره د سيالۍ په برخه کې مرسته کوي. پښتو ژبه د افغانستان د ملي او رسمي ژبې په توګه يوازې د يوه قوم ژبه نه ده، بلکې نور قومونه هم غواړي چې د افغانستان رسمي او ملي ژبه زده کړي.

له بله اړخه د دې لپاره چې پښتو ژبه د هندوارپايي کورنۍ له نورو ژبو سره سيالي وکړای شي، اړتيا ده چې په دې برخه کې ډېر علمي کار ترسره شي. د ماسټرۍ پروګرام تأسيس د څېړونکو او فرهنګپالانو لپاره د روزنې زمينه برابره کړې ده، ځکه له دې لارې څېړونکي او فرهنګپالان د ښو څېړنو وړتيا پيدا کوي، چې د دې ژبې په پرمخت او پياوړتيا کې به مهم ګامونه واخلي.

**۲. ماموريت**

د پښتو ژبې او ادبياتو د مسلکي کادرونو د روزنې په موخه د علمي او مسلکي ظرفيتونو د کچې لوړول، د استادانو او محصلانو لپاره د زده کړو د سالمې فضا رامنځته کول، په نويو معيارونو د تدريسي وسايل برابرول، د معياري درسي نصاب جوړول او تطبيق، د کمي او کيفي پرمختګ په موخه له نړيوالو فرهنګي سټندردونو سره د محصلانو اشنايي، د ماسټرۍ تر کچې د محصلان د سويې لوړول او په ټوله کې د لوړو زده کړو وزارت له اصولو سره سم د هغو هڅو ترسره کول، چې له مخې به يې پښتو ډيپارټمنټ د ژبپوهنې او ادبياتو په برخه کې په يوه باوري علمي مرکز بدله شي.

**۳. اساسي موخې**

- د پښتو ژبې او ادبياتو د علمي او مسلکي کادرونو روزنه؛
- د پښتو ژبې او ادبياتو د متخصصانو د اړتيا پوره کول؛
- په علمي، زده‌کړه‌ييزو او څېړنيزو مرکزونو کې د پښتو ژبې او ادبياتو د کادرونو د علمي سويې لوړول؛
- د فوق ليسانس په کچه د هغو کسانو لپاره زمينه برابرول چې غواړي په مسلکي توګه پښتو ژبه زده کړي؛
- د هېواد د ملي او رسمي ژبې په توګه له علمي او مسلکي اړخه د پښتو ژبې غني کول؛

**ج. تحصیلي نصاب**

په دې جدول کې (LL) د Language and Literature لنډون دی، چې د ژبو او ادبیاتو مانا لري. (PA) د پښتو لنډون دی، (01) او (02) د سمستر لنډون دی او ورپسې بیا تر لیسانس وروسته په ماسټرۍ کې د مضامینو د ګڼو کوډونه دي.

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډېټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډېټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د تاریخی ژبپوهنې اصول | LL. PA.01-201 | ۲ | ۱۲ | متن پوهنه | LL. PA.03-213 | ۲ |
| ۲ | پښتو معاصر ادب او نوې مفکورې | LL. PA.01-202 | ۲ | ۱۳ | د کره کتنې نظریې | LL. PA.03-214 | ۲ |
| ۳ | د څېړنې مېتودولوژي | LL. PA.01-203 | ۲ | ۱۴ | عربي | LL. AR.03-215 | ۲ |
| ۴ | دفولکلور پوهنې تیوری | LL. PA.01-204 | ۲ | ۱۵ | نړیوال شاهکارونه | LL. PA.03-216 | ۲ |
| ۵ | پښتو او اریاني ژبې | LL. PA.01-205 | ۲ | ۱۶ | ټاپیولوژي | LL. PA.03-217 | ۲ |
| ٦ | د ژبې ټولنپوهنه | LL. PA.01-206 | ۲ | ۱۷ | نښپوهنه | LL. PA.03-218 | ۲ |
| ۷ | د شیدا فکر او هنر | LL. PA.02-207 | ۲ | ۱۸ | مدرنیزم او پوست مدرنیزم | LL. PA.04-219 | ۲ |
| ۸ | اسطوره پېژندنه | LL. PA.02-208 | ۲ | ۱۹ | عربي | LL. AR.04-220 | ۲ |
| ۹ | د عرفاني ادبیاتو تیوري | LL. PA.02-209 | ۲ | ۲۰ | ماناپوهنه | LL. PA.02-212 | ۲ |
| ۱۰ | د ژبپوهنې معاصرې نظریې | LL. PA.02-210 | ۲ | ۲۱ | تېزس | LL. PA.04-221 | ٤ |
| ۱۱ | د تاریخی ژبپوهنې اصول | LL. PA.01-201 | ۲ | ۱۲ | متن پوهنه | LL. PA.03-213 | ۲ |

**۲. د دري ډیپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام**

**الف. پېژندنه**

د دري ډیپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام په لومړي ځل په ۱۳۵٦ کال کې پیل شو؛ خو په ۱۳۵۸ کال کې له یوې دورې فراغت وروسته دا علمي پروګرام بند شو. څو کاله وروسته د دري ډیپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام بیا ځل پیل شو او ټولنې ته یې دوه دورې فارغان وړاندې کړل. له دې وروسته د ځینې سیاسي ملحوظاتو له امله دا پروګرام یو ځل بیا بند شو. په ۱۳۸۲ کال کې د کب پر ۱٦ د دري ډیپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام په درېم ځل پیل شو، چې تر نن ورځې دوام لري او تر دې دمه یې ټولنې ته د دري ژبې او ادبیاتو سلګونه متخصصان وړاندې کړي دي.

**ب. موخې**

د دري ډیپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام موخه څو اړخیزه ده او داسې ډیزاین شوې ده چې وکولای شي د لیسانس دورې د زده کړو له کچې پورته لوړو زده کړو زمینه برابره او په دې برخه کې خلک وروزي. دا پروګرام د هغو کسانو لپاره تر لیسانس پورته زده کړو زمینه برابروي چې اوس مهال د لوړو زده کړو اړوند مختلفو موسسو او مرکزونو کې د دري ژبې او ادبیاتو پر تدریس بوخت دي. دا راز هغه کسان چې غواړي په دې برخه کې د زده کړو درجه یې لوړه شي کولای شي چې له دې پروګرام نه ګټه پورته کړي.

د دې پروګرام په درسي نصاب کې د هغو زده کړه ییزو او عملي اړخونو ته پام شوی دی، تر څو د دې پرورګرام زده کـوونکي په اسانۍ سره د ژبو او ادبیاتو اړوند اطلاعات او علمي معلومات ترلاسه کړي. کوم محصلان چې په دې پروګرام برخه اخلي د لوړو زده کړو وزارت د لایحې مطابق د فیس په ورکولو مکلف دی.

**۱. لیدلوري**

د دري ژبې او ادبیاتو په برخه کې د څوانـانو د مهـارتونو زیـاتوالی او لـوړوالی د دې پروګـرام پـه لیـدلوري کـې راځـي. دا راز نوموړی پرورګرام د ادبپوهنې او ژبپوهنې په برخه کې مختصص او مسلکي کادورنو روزي او د دري ژبـې د ادبي آثـارو د تحلیـل (شعر او نثر) او د کلتور د ودې لپاره د مطالعې او څېړنې یوه نوې ساحه رامنځته کوي.

**۲. ماموریت**

د دري ډیپارټمنټ د ماستری پروګرام د دري ژبې د ادبیاتو او ژبپوهنې په برخه کې د محصلانو د مهارتونو لوړول؛ همدارنګه د ادب پوهنې، ژبپوهنې، متني سمون، د ادبي او هنري آثارو په تخلیق او نورو اړوند برخو کې د مدرسانو او متخصصو کسانو روزل، یې د ماموریت مهمې دندې دي.

**۳. اساسي موخې**

د پوهنتونونو د استادانو او محصلانو آماده کول، تر څو وکولای شي د مسلکي او ادبي پـوهې پـه برخـه کـې لازم مهارتونـه او وړتیا ترلاسه کړي او له دې لارې د تخصصي پوهې په برخه کې یوه ډله هغه څیرک او تکړه استادان آمـاده شي، چـې د دولـت او ټولنې کلتوري مطالعات، د روزل شویو او لوستو کسانو له لوري ترسره شي.

په عموم کې د دري ډیپارټمنټ د ماستری پروګرام لاندې موخې لري:

- په مختلفو دولتي برخو کې د ادبي او فرهنګي چارو رهبري او مدیریت؛
- د هېواد د ادبیاتو او کلتور اړوند پالیسیو کې د مرستې کولو د وړتیا او مهارت ترلاسه کول؛
- په ژبنیو او ادبي زده کړو په برخه کې د مهارت موندل؛
- د ژبې او ادبیاتو په برخه کې د استادانو او محصلانو د علمي سطحې لوړول؛
- د هېواد د ادبي او فرهنګي وضعیت د تحلیل او څېړنې پېژندل؛
- د تطبیق شویو ادبي او کلتوري پالیسیو ارزول او څېړول؛
- د هېواد په تعلیمي او تحصیلي پروګرامونو کې د پراختیا او پرمختګ د وړتیا ترلاسه کول؛
- د نبو تعلیمي میتودونو په پلي کولو کې ونډه اخیستل؛

**ج. تحصیلي نصاب**

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د عرفاني نظم متون | 0014 | ۲ | ۱۰ | بلاغي متون | 4006 | ۲ |
| ۲ | عربی | 0024 | ۲ | ۱۱ | تاریخي متون | 4007 | ۲ |
| ۳ | تاریخي ګرامر | 0034 | ۲ | ۱۲ | د ژبپوهنې تیوري | 4008 | ۲ |
| ۴ | د حماسي نظم متون | 0044 | ۲ | ۱۳ | د غنایي نظم متون | 4009 | ۲ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | تعلیمي متون | 0054 | ۲ | ۱۴ | تاریخ جهانگشایی | 4010 | ۲ |
| ۶ | تطبیقي ادبیات | 4011 | ۲ | ۱۵ | د څېړنې مېتودولوژي | 4018 | ۳۲ |
| ۷ | فولکلور پېژندنه | 4012 | ۲ | ۱۶ | تیزس | | ۱۰ |
| ۸ | مانا پوهنه | 4013 | ۲ | ۱۷ | مقامات حمیدی | 4015 | ۲ |
| ۹ | حماسي متون | 4014 | ۲ | | | | |

**٦. د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځي د دوکتورا پروګرامونه**

**١. د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د دوکتورا پروګرام**

**الف. پېژندنه**

د پښتو ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د دکتورا پروګرام په ۱۳۹۲ کال کې د دې ډیپارټمنټونه په اډانه کې پیل شو. د دې پروګرام لومړني فارغان د همدې ډیپارټمنټ نهه مشران استاد وو، چې په ۱۳۹٦ کال کې د دکتورا پروګرام د جامع ازموینې په ورکولو سره فارغ شول. د دې پروګرام د دویم ځل جذب لپاره په ۱۳۹۷کال کې آزموینه واخیستل شوه، چې په پایله کې یې لس کسان د دکتورا لپاره ومنل شول.

**ب. موخې**

په عموم کې د پښتو ژبې او ادبیاتو له لوري د دکتورا پروګرام پیل د څېړونکیو او فرهنګپالانو لپاره روزنې زمینه برابرولو په موخه و. ترڅو څېړونکي او فرهنګپالان د څېړنې په برخه کې زیاتې وړتیاوې ترلاسه کړي او د پښتو ژبې او ادبیاتو د ودې او پرمختګ په برخه کې ګټور ګامونه واخلي.

**١. لیدلوری**

د ژبې او ژبپوهنې، همدارنګه د پښتو ژبې د ادبیاتو په اړه څېړنې او مسلکي تخلیق، چې دا هر څه په ټوله کې د افغانستان د دې رسمي او ملي ژبې په پېژندنه کې د ملي هویت په توګه او تر څنګ یې له نورو ژبو سره د سیالی په برخه کې مرسته کوي. پښتو ژبه د افغانستان د ملي او رسمي ژبې په توګه یوازې د یوه قوم ژبه نه دی، بلکې نور قومونه هم غواړي چې د افغانستان رسمي او ملي ژبه زده کړي.

**٢. ماموریت**

د پښتو ژبې او ادبیاتو د مسلکي کادرونو د روزنې په موخه د علمي او مسلکي ظرفیتونو د کچې لوړول، د استادانو او محصلانو لپاره د زده کړو د سالمې فضا رامنځته کول، په نویو معیارونو د تدریسي وسایل برابرول، د معیاري درسي نصاب جوړول او تطبیق، د کمي او کیفي پرمختګ په موخه له نړیوالو فرهنګي سټندردونو سره د محصلانو اشنایي، د دکتورا تر کچې د محصلان د سوېې لوړول او په ټوله کې د لوړو زده کړو وزارت له اصولو سره سم د هغو هڅو ترسره کول، چې له مخې به یې پښتو ډیپارټمنټ د ژبپوهنې او ادبیاتو په برخه کې په یوه باوري علمي مرکز بدله شي.

**٣. اساسي موخې**

- د پښتو ژبې او ادبیاتو د کادرونو علمي او مسلکي روزنه؛

- د پښتو ژبې او ادبیاتو د متخصصانو د اړتیا پوره کول؛
- په علمي، زده‌کړه‌ییزو او څېړنیزو مرکزونو کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د کادرونو د علمي سویې لوړول؛
- تر لیسانس پورته زده کړو په کچه د هغو کسانو لپاره زمینه برابرول چې غواړي په مسلکي توګه پښتو ژبه زده کړي؛
- د هېواد د ملي او رسمي ژبې په توګه له علمي او مسلکي اړخه د پښتو ژبې غني کول؛

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

په دې جدول کې (LL) د Language and Literature لنډون دی، چې د ژبو او ادبیاتو مانا لري. (PA) د پښتو لنډون دی، (01) او (02) د سمستر لنډون دی او ورپسې بیا تر ماسټرۍ وروسته په دوکتورا کې د مضامینو د ګڼو کوډونه دي.

| ګڼه | مضمون | کوډنمبر | کریډیټ | ګڼه | مضمون | کوډنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د حماسي ادبیاتو څېړنه | LL. PA.01-301 | ۲ | ۷ | منظوم داستاني ادبیات | LL. PA.02-307 | ۲ |
| ۲ | د ادبیاتو معاصرې نظریې | LL. PA.01-302 | ۲ | ۸ | چارواله ژبپوهنه | LL. PA.02-308 | ۲ |
| ۳ | زبرنده ژبپوهنه | LL. PA.01-303 | ۲ | ۹ | ادراکي ژبپوهنه | LL. PA.02-309 | ۲ |
| ۴ | د افغانستان د فرهنګ تاریخ | LL. PA.01-304 | ۲ | ۱۰ | د ژبپوهنې فلسفه | LL. PA.02-310 | ۲ |
| ۵ | ارپوهنه (ریښه پېژندنه) | LL. PA.01-305 | ۲ | ۱۱ | د شعر د شننې تیورۍ | LL. PA.02-311 | ۲ |
| ۶ | د ادبیاتو د تاریخ مېتودولوژي | LL. PA.02-306 | | | | | |

**۲- د دري ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د دکتورا پروګرام**

**الف. پېژندنه**

د دري ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د دکتورا پروګرام په ۱۳۹۲ کال کې د دې ډیپارټمنټ په اډانه کې پیل شو. د دې پروګرام لومړني فارغان د همدې ډیپارټمنټ نهه مشران استادان وو، چې د دکتورا پروګرام د جامع ازموینې په ورکولو او له خپلو څېړنیزو رسالو څخه په دفاع کولو سره فارغ شول. د دې پروګرام د دویم ځل جذب لپاره په ۱۳۹۷کال کې آزموینه واخیستل شوه، چې په پایله کې یې لس کسان د دکتورا لپاره ومنل شول.

**ب. موخې**

په عموم کې د دري ژبې او ادبیاتو له لوري د دکتورا پروګرام پیل، د دې ژبې د ادبیاتو او فرهنګ په برخه کې د څېړونکو، ادیبانو او لیکوالو لپاره د روزنې زمینه برابرولو په موخه و. ترڅو د دې ژبې څېړونکي، ادیبان او لیکوال د څېړنې په برخه کې زیاتې وړتیاوې ترلاسه کړي او د دري ژبې او ادبیاتو د ودې او پرمختګ په برخه کې ګټور ګامونه واخلي.

**۱. لیدلوری**

د دري ژبې او ادبیاتو په برخه کې د ځوانانو د مهارتونو زیاتوالی او لوړوالی د دې پروګرام په لیدلوري کې راځي. دا راز نوموړی پرورګرام د ادبپوهنې او ژبپوهنې په برخه کې مختصص او مسلکي کادورنو روزي او د دري ژبې د ادبي آثارو د تحلیل (شعر او نثر) او د کلتور د ودې لپاره د مطالعې او څېړنې یوه نوې ساحه رامنځته کوي.

**۲. ماموریت**

د دري ډيپارټمنټ د دکتورا پروګرام د دري ژبې د ادبياتو او ژبپوهنې په برخه کې د محصلانو د مهارتونو لوړول؛ همدارنګـه د ادبپوهنې، ژبپوهنې، متني سمون، د ادبي او هنري آثارو په تخليق او نورو اړوند برخو کې د مدرسانو او متخصصـو کسـانو روزل، يې د ماموريت مهم موارد دي.

**۳. اساسي موخې**

د پوهنتونونو د استادانو او محصلانو چمتو کول،، چې وکولای شي د مسلکي او ادبي پوهې په برخه کې لازم مهارتونه او وړتيا ترلاسه کړي او له دې لارې د تخصصي پوهې په برخه کې يوه ډله هغه ځيرك او تکړه استادان چمتو شي، چې د دولت او ټـولنې کلتوري مطالعات، د روزل شويو او لوستو کسانو له لوري ترسره شي.

په عموم کې د دري ډيپارټمنټ د ماسټرۍ پروګرام لاندې موخې لري:

- په مختلفو دولتي برخو کې د ادبي او فرهنګي چارو رهبري او مديريت؛
- د هېواد د ادبياتو او کلتور اړوند پاليسيو کې د مرستې کولو د وړتيا او مهارت ترلاسه کول؛
- په ژبنيو او ادبي زده کړو په برخه کې د مهارت موندل؛
- د ژبې او ادبياتو په برخه کې د استادانو او محصلانو د علمي سطحې لوړول؛

**ج. تحصیلي نصاب**

| گڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ | گڼه | د مضمون نوم | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نظریه‌های نوین ادبی/ معاصرې ادبي نظریې | 5001 | ۲ | ۷ | د شعر تحلیل | 5006 | ۲ |
| ۲ | پهلوي ژبه او گرامر | 5002 | ۲ | ۸ | اویستا پېژندنه | 5007 | ۲ |
| ۳ | په غنایي متونو کې څېړنه | 5003 | ۲ | ۹ | په دري ادبیاتو کې د تعلیمي مفکورو بنسټونه | 5008 | ۲ |
| ۴ | په حماسي متونو کې څېړنه | 5004 | ۲ | ۱۰ | پـه عرفـاني مکتبونـو کـې څېړنیـز مطالعات | 5009 | ۲ |
| ۵ | زېرنده ژبپوهنه | 5005 | ۲ | ۱۱ | چارواله ژبپوهنه | 5010 | ۲ |
| ۶ | د ادبي کره کتنې نوي میتودونه | | ۲ | | | | |
| درېیم سمسټر: د جامع ازموینې لپاره چمتووالی په نړیوال ژورنال کې د علمي ـ څېړنیزې مقالې د چاپ لپاره د مقالې لیکل | | | | | | | |
| څلورم سمسټر: د مقالې وړاندې کول، په نړیوالو علمي کنفرانسونو کې گډون او دتیزس لیکل | | | | | | | |
| پنځم سمسټر: د تیزس دفاع | | | | | | | |

# د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځی



**۱. د پوهنځي پېژندنه**

د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د ملي ژبو د زده کړې تر څنګ د بهرنیو ژبو د زده کړې په برخه کې هم جدي پانګونه کېږي. ځکه د یو ملت د کلتور، رسم او ادب د پېژندلو یوازینۍ لار د هغه قوم ژبه زده کول دي.

د ادبیاتو پوهنځی چې د ادب د تاریخ او د فرهنګ په څرنګوالي کې یې لویې کړنې تر سره کړي د ۱۳۲۳ لمریز کال د تلې په لومړۍ نېټه د کابل پوهنتون په چوکاټ کې تاسیس شو. دا مهال په کابل پوهنتون کې یوازې د طب، حقوق او ساینس درې پوهنځي وو. د دې پوهنځي موخه د څېړنې او لوړو زده‌کړو له لارې د هېواد د ځوانو کادرونو روزنه او نړیوالو ته د هېواد د کلتور او تاریخ بیان او شرحه، په بېلا بېلو علمي او ادبي برخو کې د مجربو ښوونکیو روزنه د دې پوهنځي موخه وه.

د دې پوهنځي په لومړی تحصیلي پروګرام د پښتو ژبې د ادبیاتو تاریخ، د دری ژبې د ادبیاتو تاریخ، د پښتو ګرامر، د دری ګرامر، پښتو متون، پښتو ادبي فنون، دری ادبي فنون، فلسفه او اراواه‌پوهنه، عربي او انګلیسي ژبو څخه جوړ و، چې د وخت د پوهنې وزیر په مشرۍ د یو باصلاحیته پلاوي لخوا تعین شوی و او د تدریس لپاره یې ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي (د پوهنځي رییس)، محمد کریم نزیهي، محمد اعظم ایازي، پاینده محمد زهیر ،امین الله زمریالی، سرور ګویا، عبدالرووف بېنوا، عبدالحق بیتاب. غلام جیلاني جلالي، هاشم شایق افندي، امین میرزا قفقازي او شمشیر خان د استادانو په توګه وګمارل شول. د دې محدودو استادانو په درلودو سره د دې پوهنځي لومړیو محصلانو ته، چې د حبیبیې لیسې او د قندهار د احمدشاهي لیسې لس تنه فارغان و؛ د ۱۳۲۳ لمریز کال د تلې په لومړۍ نېټه تدریس پیل شو.

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی په ۱۳۹۹ کال کې پر دوو پوهنځیو (د داخلي ژبو او ادبیاتو پوهنځی او د خارجي ژبو او ادبیاتو پوهنځی) ووېشل شو.

**۲- د پوهنځي موخې**

**الف. د پوهنځي لیدلوری**

د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځي لیدلوری عبارت دی له: د مدیریت او رهبری غوره مقام ته رسېدنه، د باکیفیته او معیاري نصاب درلودل، د پوهې تولید، د زده کړې په برخه کې تلپاتې پرمختګ او پراختیا، څېړنو ته پاملرنه او د زده کړې په برخه کې پـه لـوړو ردو کې د پوهنځي درول، مهارت، په ملي او نړیواله کچه څېړنه او د کاري فرصتونو برابرول، په نویو او مدرنو لارو د تحصیلي

د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځي لیدلوری عبارت دی له: د مدیریت او رهبری غوره مقام ته رسېدنه، د باکیفیته او معیاري نصاب درلودل، د پوهې تولید، د زده کړې په برخه کې تلپاتې پرمختګ او پراختیا، څېړنو ته پاملرنه او د زده کړې په برخه کې پـه لـوړو ردو کې د پوهنځي درول، مهارت، په ملي او نړیواله کچه څېړنه او د کاري فرصتونو برابرول، په نویو او مدرنو لارو د تحصیلي

خدمتونو وړاندې کول په فرهنګي، ادبي، هنري، ژب پېژندنې، د خلکو د خبرولو او ملي وحدت پـه ټینګښـت کـې، د علمـي کادر د استعداد او ظرفیت لوړونه، د اسلامي او ملي یووالي پراختیاو او تقویت او همدا راز د یو او بل منلو مفکورې عملي کول.

**ب. د پوهنځي ماموریت**

د ټولنې د اړتیا وړ د داسې علمي او مسلکي کادرونو روزنه چې په دیني، ملي او تاریخي ارزښتونو باندې باور ولري. افغانستان ته صادقانه خدمت وکړي، د هېواد، سیمې او په نړیواله کچه په پراختیایي پروسو او د علم پنځولو په برخه کې فعال ګډون ولري.

**ج. د پوهنځي اساسي موخې**

د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځی د یوه زده‌کړه‌ییز علمي مرکز په توګه چې د علمي او معیاري څېړنو په برخه کې ښه مخینه لـري کوښښ کوي چې په ټولنه کې د ژبو د زده‌کړې نوماندانو ته با اعتباره او تطبیقي خدمتونه وړاندې کړي. دا پـوهنځی پـه ټولـه کـې رسالت لري چې د معیاري زده‌کړه‌ییزو خدمتونو په وړاندې کولـو سره د معتـبرو تطبیقـي څېړنـو فرصـتونه برابـر کـړي او ټـولنې تـه متخصص کادرونه و روزي.

د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځی د پوهنځي د اسـتادانو او کـارکونکو د علمـي تحصـیلي سـطحې د لوړولـو سربېـره د تحصـیلي نصاب په معیاري کولو سره کوښښ کوي چې لاندې موخې تر لاسه کړي:

- د علمي معتبرو او تطبیقي څېړنو لپاره د اسانتیاوو او امکاناتو پنځول او پراختیا.
- د محصلانو او ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د غوره او با کیفیته خدماتو وړاندې کول.
- د استادانو او محصلانو د ارزونې د سیستمونو معیاري کول.
- د زده‌کړې او تکنالوژۍ په برخه کې د بېخبناوو پراختیا
- د زده‌کړه‌ییزو مېتودونو او سیستمونو اصلاح.
- د هېواد او نړۍ له پوهنتونو سره د علمي پروګرامونو په برخه کې د پرېکړه لیکونو لاسلیک کول.

## ۳. علمي تړامیتونه او د نړیوالو اړیکو پراختیا

د چینایي ژبې ډیپارټمنټ د چین د کانفیسیوس له انستیتوت سره تړامیت لري.

د فرانسې هېواد د استاندل ګرونوبل له پوهنتون سره په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې د هوکړه‌لیک لاسلیک

د ترکي ژبې ډیپارټمنټ ډیپارټمنټ د ترکیې هېواد سره تړامیت لري.

په څلوېښتمو کې د الازهر پوهنتون د تاریخي تړامیت په بنسټ د عربي ډیپارټمنټ په خپل فعالیت پیل وکړ.

### ۴. ډیپارټمنټونه

د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځی اته ډیپارټمنټونه لري چې هره یوه یې د ټولنې له اړتیاوو سره رامنځته شوې ده.

### ۱. د الماني ژبې ډیپارټمنټ

**الف. پېژندنه**

په ۱۳۵۱ لمریز کال کې د الماني ژبې ډیپارټمنټ د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په چوکاټ کې رامنځته شو چې تر اوسه یې پنځه پینځوس دورې فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي. د هېوادونو ترمنځ د اړیکو او د معلومات د راکړه ورکړې په عصر کې په بهرنیو ژوندیو ژبو باندې تسلط درلودل او پوهېدل اړین دي. له دې ژبو څخه په الماني ژبه او ادبیاتو پوهېدل هم د مناسبې کاري راتلونکې لپاره اړین او ارزښتناک دی.

**ب. زده‌کړه‌ییزې موخې**

**۱. لیدلوری**

د الماني ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ لوړول یوه ملي او نړیوال پېژندل شوي مرکزه ته د کابل پوهنتون په مرسته چې د ګاونډیو هېوادونو په سطح د ژبې او ادبیاتو په بېلابېلو برخو کې متخصص کادرونه وروزي او مجرب فارغان ټولنې ته وړاندې کړي.

**۲. ماموریت**

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د الماني ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ یو علمي او اکادمیک مرکز دی چې د الماني ژبې او ادبیاتو په برخه کې هر کال په معیاري توګه محصلان وروزي. د یادې ډیپارټمنټ فارغان وروسته له فراغته لاندې اساسي او عمده مهارتونه چې د دې ډیپارټمنټ لخوا ورته ټاکل شوي دي؛ زده کوي.

**۳. اساسي موخې**

- د ټولنې د اړتیاو د پوره کولو او الماني ژبو وګړو ته د لوړ اسلامي کلتور ورپېژندلو په موخه د الماني ژبې د تکړه او مجربه استادانو او ژباړونکیو روزنه.
- له الماني ژبې څخه ملي ژبو او له ملي هغو څخه الماني ژبې ته د پوهې انتقال.
- د نویو مېتودونو څخه په ګټه اخیستو د الماني ژبې تدریس.
- د ادبي اثارو په برخه کې د کره‌کتنې مهارتونو زده کړه او د انتقادي فکر وړتیا.
- د څېړنې او لیکوالی په برخه کې د مهارتونو زده‌کړه.
- د ژباړې په فن کې د مهارتونو زده‌کړه.

**ج. لابراتوار او روزنیز تجهیزات**

د الماني ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د محصلانو لپاره د اسانتیاوو په موخه یو کمپیوټر لب لري چې محصلان له دې ځایه په وزګار وخت کې ګټه اخلي.

**د. مسلکي فارغانو راتلونکې**

- د پوهنتونو په علمي کادر او د مکتبونو د الماني ژبې د ښوونکو په توګه جذبېدل؛
- د المان د فرهنګي مرکز ګویته انستیتوت د الماني ژبې ښوونکو په توګه؛
- د صنایع او توریزم په سکتور کې د کارکوونکي په توګه؛

- د رسنیو د فرهنګي مرستندویانو په توګه؛
- په رسمي او غیر رسمي دفترونو کې د ژباړونکي په توګه؛

### هـ. تحصیلي نصاب

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د علمي کار مېتود ۱ | LL-De 148 | ۲ | ۱۵ | ژباړه ۲ | LL-De 639 | ۲ |
| ۲ | د علمي کار مېتود ۱ | LL-De 249 | ۲ | ۱٦ | د علمي کار مېتود ٦ | LL-De 653 | ۲ |
| ۳ | د علمي کار مېتود ۲ | LL-De 350 | ۲ | ۱۷ | ارواه‌پوهنه ۲ | LL-De 643 | ۱ |
| ۴ | د علمي کار مېتود ۴ | LL-De 451 | ۲ | ۱۸ | المان پېژندنه ۲ | LL-De 645 | ۲ |
| ۵ | د ژبپوهنې بنسټونه ۱ | LL-De 526 | ۲ | ۱۹ | ژبپوهنه ۳ | LL-De 728 | ۲ |
| ۶ | د زده‌کړې مېتود ۱ | LL-De 530 | ۲ | ۲۰ | د زده‌کړې مېتود ۳ | LL-De 732 | ۴ |
| ۷ | ادبیات ۱ | LL-De 534 | ۲ | ۲۱ | ادبیات ۳ | LL-De 736 | ۲ |
| ۸ | ژباړه ۱ | LL-De 538 | ۲ | ۲۲ | ژباړه ۳ | LL-De 740 | ۴ |
| ۹ | د علمي کار مېتود ۵ | LL-De 552 | ۲ | ۲۳ | آلمان پېژندنه ۳ | LL-De 746 | ۲ |
| ۱ | ارواه‌پوهنه ۱ | LL-De 542 | ۱ | ۲۴ | ژبپوهنه ۴ | LL-De 829 | ۲ |
| ۱ | المان پېژندنه ۱ | LL-De 544 | ۲ | ۲۵ | د زده‌کړې مېتود ۴ | LL-De 833 | ۲ |
| ۱ | د ژبپوهنې بنسټونه ۲ | LL-De 627 | ۲ | ۲۶ | ادبیات ۴ | LL-De 837 | ۱ |
| ۱ | د زده‌کړې مېتود ۲ | LL-De 631 | ۲ | ۲۷ | ژباړه ۴ | LL-De 841 | ۲ |
| ۱ | ادبیات ۲ | LL-De 635 | ۲ | | آلمان پېژندنه ۴ | LL-De 847 | ۱ |

**۲. فرانسوي ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

فرانسوي ډیپارټمنټ د بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځي له اتو ډیپارټمنټونوڅخه یو ډیپارټمنټ دی چې خپل اکادمیک او علمي کړنې تر سره کوي. د لوړو زده‌کړو وزارت د دې ډیپارټمنټ فارغانو د درسي پروګرام لـه بریـالیتوب وروسـته د فرانسـوي ژبـې او ادبیاتو دیپلوم ورکوي.

د فرانسوي ژبې او ادبیاتو په ډیپارټمنټ کې د زده‌کړې مېتود د فرانسې د تحصیلي سیستم سره یو شان دی چې اسـاسي موخـه یې د فرانسوي ژبې د ښوونکیو روزنه ده.

په ۱۳۴٦ لمریز کال کې چې د ۱۹٦۵ زیږدیز کال سره سمون لري، فرانسوي ډیپارټمنټ د بشري علومو، ژبو او ادبیاتو پوهنځي په چوکاټ کې رامنځته شوه. دنوموړي ډیپارټمنټ د لومړۍ دورې څلور تنه فارغان په ۱۳۴٦ کال کې چې د ۱۹٦۷ زیږدیـز کـال سره سمون لري فارغ شول.

له پیله تر ۱۳۷۱ کال پورې د فرانسوي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د پرمختګ په حال کې و او په دې موده کې یې وکړای شول چې د یوه ښه علمي او اکادمیک مرکز په توګه فعالیت تر سره کړي.

په ۱۳۸٦ لمریز کال کې د دې ډیپارټمنټ نوی تعمیر، چې په هغه کې درسي ټولګي، د کمپیوټر خونـه، پـه سـمعي او بصري درسي سایلو مجهز کتابتون او د کنفرانس تالار موجود دی، جوړ شو. دلته یوازې د دې ډیپارټمنټ محصلان نـه بلکـې نـور هغـه محصلان هم چې د فرانسوي ژبې او فرهنګ سره علاقه لري د فرانسوي ژبې د زده‌کړې کورسونه تعقیبوي. د ۱۳۸۱ کال څخـه تـر

۱۴۰۱ کال پورې په دې ډیپارټمنټ کې ګڼو داخلي او فرانسوي استادانو نه هېرېدونکي ارزښتناک علمي او زده‌کړه‌ییز خدمتونه تر سره کړي دي.

د فرانسوي ژبې د زده‌کړې د ملاتړ پروژې د کابل پوهنتون او د فرانسې له یو لړ پوهنتونونو سره د هوکړه لیکونو لاسلیک چاره مساعده کړه چې پر بنسټ یې یو شمېر فارغان د نورو لوړو زده‌کړو لپاره فرانسې ته بوزي. ځینې استادانو او د دې ډیپارټمنټ ځینې فارغانو د بورسونو څخه په ګټه اخیستنې سره خپه علمي سویه لوړه کړې ده .

**ب. د فرانسوي ډیپارټمنټ روزنیزې موخې**

**۱. لیدلوری**

- د فرانسوي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ پرمختګ او پراختیا په هېواد کې د فرانسوي ژبې د زده‌کړې د مرکزي هستې او د یادې ژبې د تدریس د اصلي مرجع په توګه په هېواد کې د فرانسوي ژبې د زده‌کړې د نورو مرکزونو د ملاتړ په موخه.
- د ارزښتناکو څېړنیزو (نظري او عملي) خدمتونو وړاندې کول د ژبې د زده‌کړې، د تدریس د مېتود او ژباړې په برخه کې.

**۲. ماموریت**

- د ټولنې د ملي او اسلامي ارزښتونو په پام کې نیولو سره، د فرانسوي ژبې، فرهنګ، تمدن او ادب د تدریس په برخه کې د متخصصو، مسلکي او باخبره ښوونکیو روزنه.
- د ټولنې د اړتیاو د پوره کولو او فرانسوي ژبو وګړو ته د لوړ اسلامي کلتور ورپیژندلو په موخه د فرانسوي ژبې د تکړه او مجربه استادانو او ژباړونکیو روزنه.
- له فرانسوي ژبې څخه ملي ژبو او له ملي هغو څخه فرانسوي ژبې ته د پوهې انتقال.
- د محصل محوری اصل په پام کې نیولو سره د یوې سالمې او ښې زده‌کړه‌ییزې فضا رامنځته کولو له لارې د فرانسوي ژبې د نړیوال دیپلوم د تر لاسه کولو او د محصلانو د مهارتونو او استعدادونو د غوړولو په موخه.
- هېواد ته د لا زیاتو خدمتونو لپاره د پوهې او تجربو د ترلاسي په موخه استادانو او محصلینو ته تحصیلي بورسونو برابرونه

**ج. توامیتونه**

په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د فرانسې د استاندل ګرونوبل پوهنتون سره د هوکړه‌لیک لاسلیک.

**د. لابراتوار او زده‌کړه‌ییز تجهیزات**

د فرانسوي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ یو کمپیوټر لب او یو کتابتون د محصلانو د ګټې اخیستنې لپاره لري.

**هـ تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د متن درک | Fr.2.CE | ۵ | ۱۲ | ژبپوهنه | Fr.5.Psy | ۵ |
| ۲ | د لیکوالی فن | Fr.2.PE | ۵ | ۱۳ | د تدریس مېتود بنسټونه | Fr.5.ed | ۳ |
| ۳ | د متن درک | Fr.1.CE | ۵ | ۱۴ | ادبیات او تمدن | Fr.5.LC | ۲ |
| ۴ | د لیکوالی فن | Fr.1.PE | ۵ | ۱۵ | ژباړه | Fr.5.OT | ۱ |
| ۵ | د متن درک | Fr.3.CE | ۵ | ۱۶ | د ستاژ دورې تیاری | Fr.7.stage | ۵ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کودنمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | د لیکوالی فن | Fr.3.PE | ۵ | ۱۷ | د درس برابرل | Fr.7.UD | ۵ |
| ۷ | د متن درک | Fr.4.CE | ۵ | ۱۸ | ژباړه | Fr.7.OT | ۱ |
| ۸ | د لیکوالی فن | Fr.4.PE | ۵ | ۱۹ | تطبیقات | Fr.8.PC | ۲ |
| ۹ | ژبپوهنه | Fr.6.ling | ۵ | ۲۰ | د ارزونې لارې چارې | Fr.8.éva | ۴ |
| ۱۰ | د تدریس مېتود | Fr.6.CM | ۵ | ۲۱ | ژباړه | Fr.8.OT | ۱ |
| ۱۱ | ژباړه | Fr.6.OT |  | ۲۲ | سیمینار او مونوګراف | Fr.8.mém | ۴ |

**۳. د چینایي ژبې ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د ۲۰۰۸ زیږدیز کال د جنوری په میاشت کې چې د ۱۳۸۷ لمریز کال سره سمون لري د کابل پوهنتون د چینایي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د ( هن بن ) مرکز، کابل پوهنتون او د تای یوان جي پوهنتون په ګډه همکاری سره تاسیس شو. د چینایي ژبې زده‌کړه د کنفسیوس انستیتوت او د چینایي ژبې او ادبیاتو د ډیپارټمنټ له رامنځته کېدو سره هم مهاله د دوو تنو چینایي استادانو پـه واسـطه ۱۴ تنو محصلانو ته په کابل پوهنتون کې پیل شوه. د هر کال په تېرېدو دا محصلان ډیرېږي. په ۲۰۱۱ کال کې چینایي استادان لـه افغانستان او کابل پوهنتون څخه ووتل. له نېکه‌مرغه په همدې کال له همدې ډیپارټمنټ لومړني افغان فارغان د یـاد ډیپارټمنـټ د لومړني افغان استادانو په توګه وګومارل شول او د چینایي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ درسي او ادري مکلفیتونه یې په غاړه واخیستل. له دوو کلونو وروسته په ۲۰۱۳ لمریز کال کې د کنفسیوس مرکزی انستیتوت خپل ملاتړ د دویم ځل لپاره د کابل پوهنتون د چینایي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ سره پیل کړ چې دا ملاتړ تر اوسه دوام لري. دې اکادمیک مرکز وکړای شول چـې ډېـر شـمېر د چینـایي ژبې او فرهنګ علاقه‌مندان جذب کړي او د کنفسیوس د مرکزي انستیتوت په مرسته او ملاتړ د بېلا بېلو بورسـیو پـه ورکـړې سره د چین هېواد په بېلا بېلو پوهنتونونو کې په شرایطو برابر د استادانو، محصلانو او څېړنکو ته د څېړنې او زده‌کړې فرصت برابر کړي. دا بورسیې د چینایي ژبې د لنډ مهاله زده کړې، لیسانس، ماستری او دکتورا په کچه دي.

تر ۲۰۱۹ کال پورې د ۴۲۱ محصلان په ۹ دورو کې د یادې ډیپارټمنټ لیسانس ته جذب شوي چې له دې جملې ۲۷۴ تنه پـه څو پړلیسې دورو کې هر کال له بورسونو څخه په بېلا بېلو د یو سمستر، یوکلن، لیسانس، ماستری او دکتورا پروګرامونـو کـې تـرې برخمن شوي او تر اسه ۱۷۰ تنه له نوموړي ډیپارټمنټ فارغ شوي دي.

یاد ډیپارټمنټ په دې بریالی شوې ده چې د اچ اس کی نړیوالې ازموینې مرکز په دې ډیپارټمنټ کې رامنځته کړي او د کال په اوږدو کې څو ځله ازموینه دایره کړي.

په ۲۰۱۵ زیږدیز کال کې د چین په ملاتړ د چینایي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ تعمیر بشپړ او د چین هېواد د سـفارت او د کابـل پوهنتون د مشرانو په ګډون ګټې اخیستنې ته وړاندې شو. دا ښکلې ودانی په ۲۰۰۰ متر مربع ځمکه کـې د مجهـزو درسي خونـو، فرهنګي خونه، کمپیوټر لب، د ۱۵۰ تنو په د ځایېدو په ظرفیت مجهز تالار او کتابتون د ۳۰۰۰ ټوکو کتابونو په درلـودو سره جـوړه شوې ده.

## ب. موخې

### ۱. ليدلوری

د چينايي ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ ستراتيژيک پلان د يادې ډيپارټمنټ د اړتياوو او د لوړو زده‌کړو وزارت د نويو نظريو په پام کې نيولو سره تدوين شوی دی. د دې پلان منځپانگه د ژبو او ادبياتو پوهنځي د ستراتيژيک پلان سره مطابقت لري چې د يادې ډيپارټمنټ د اوسنی وضعې ته په کتلو سره ترتيب شوی دی.

د چينايي ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ ستراتيژيک پلان لنډمهاله او اوږد مهاله پلانونونه لري چې پيل يې د ۱۳۹۷ لمريز کال څخه شوی او د ۱۴۰۱ کال تر پايه به دوام وکړي.

د نوموړي پلان تطبيق به د چينايي ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ سره مرسته وکړي تر څو خپلو ځانکړو موخوته چې د دې ډيپارټمنټ ارتقا يوه بااعتباره او پيژندل شوي په ملي اونړيواله کچه اکاډميک مرکز ته چې د متخصصو او گاونډيو هېوادونو سره د هم‌سويي کادرونو روزنه او د ښو وړتياوو درلودونکو فارغانو وړاندې کول ټولنې ته دي تر څو زموږ ټولنه د څېړنې په برخه کې ښه مسير ته برابره کړي.

### ۲. ماموريت

د بهرنی ژبې د متخصصو، مسلکي او باخبره ښوونکيو روزنه، په ځانگړې توگه د چينايي ژبې، فرهنگ، تمدن او ادب د تدريس په برخه کې د ټولنې د ملي او اسلامي ارزښتونو په پام کې نيولو سره.

د يوې سالمې او ښې زده‌کړه‌ييزې فضا رامنځته کول د محصل محوری اصل په پام کې نيولو سره د محصلانو د مهارتونو او استعدادونو د غوړولو لارې د چينايي ژبې د اخرينې سويې د نړيوال ديپلوم C2 د تر لاسه کولو په موخه.

– د خدمت کولو د روحيې رامنځته کول او تقويه کول، د زړونو د يوالي او يو بل منلو د حس پيدا کول، متقابل درنښت، اعتماد، کوښښ، او پرمختگ د محصلانو او استادانو تر منځ.

– د چينايي ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ محصلانو او استادانو ته د بورسيو د خدمتونو د فرصت پيدا کول د هېواد د ښه خدمت کولو په موخه

### ۳. اساسي موخې

- د ټولنې د اړتياو د پوره کولو او چينايي ژبو وگړو ته د لوړ اسلامي کلتور ورپيژندلو په موخه د چينايي ژبې د تکړه او مجربه استادانو او ژباړونکيو روزنه.
- له چينايي ژبې څخه ملي ژبو او له ملي هغو څخه چينايي ژبې ته د پوهې انتقال.
- د افغانستان او چين تر منځ په ځانگړي ډول د کابل پوهنتون او د چين د څېړنيزو، فرهنگي او تحصيلي مرکزونو ترمنځ د ارتباط پل ساتل.
- بيلابيلې علمي او فرهنگي کړنې ترسره کول چې د دواړو لورو د ژبو دري-چينايي او پښتو-چينايي د ښه پېژندنې سبب وگرځي.

## ج. تواميتونه

د چينايي ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ په ۲۰۱۳ زيږديز کال کې د کنفيسيوس انستيتوت سره تواميت لاسليک کړ چې له دې لارې کولای شي د چين هېواد له نورو پوهنتونونو سره اړيکې لري.

**د. درسي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| گڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | گڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | د بیان فن١ | LL.CH.0317 | ۳ | ۱۷ | گرامر ۱ | LL.CH.0523 | ۴ |
| ۲ | د بیان فن ۲ | LL.CH.0417 | ۳ | ۱۸ | گرامر ۲ | LL.CH.0623 | ۴ |
| ۳ | د بیان فن۳ | LL.CH.0517 | ۳ | ۱۹ | گرامر۳ | LL.CH.0723 | ۴ |
| ٤ | د بیان فن ۴ | LL.CH.0617 | ۳ | ۲۰ | گرامر۴ | LL.CH.0823 | ۴ |
| ٥ | د بیان درک١ | LL.CH.0318 | ۳ | ۲۱ | د ژباړې فن١ | LL.CH.0724 | ۴ |
| ٦ | د بیان درک ۲ | LL.CH.0418 | ۳ | ۲۲ | د ژباړې فن۲ | LL.CH.0824 | ۴ |
| ۷ | د بیان درک ۳ | LL.CH.0518 | ۳ | ۲۳ | د ویدو درک ۱ | LL.CH.0725 | ۲ |
| ۸ | د بیان درک ۴ | LL.CH.0618 | ۳ | ٢٤ | د ویدو درک ۲ | LL.CH.O825 | ۲ |
| ۹ | د لیکني متن درک ۱ | LL.CH.0319 | ۳ | ۲۵ | فرهنگي مهارتونه١ | LL.CH.0126 | ١ |
| ١ | د لیکني متن درک ۲ | LL.CH.0419 | ۳ | ۲٦ | فرهنگي مهارتونه ۲ | LL.CH.0226 | ١ |
| ١ | د متن تحلیل اوتجزیه ۱ | LL.CH.0520 | ۳ | ۲۷ | د چین فرهنگ ۱ | LL.CH.0327 | ١ |
| ١ | د متن تحلیل او تجزیه ۲ | LL.CH.0620 | ۳ | ۲۸ | د چین فرهنگ ۲ | LL.CH.0427 | ١ |
| ١ | د لیکوالۍ فن١ | LL.CH.0321 | ۳ | ۲۹ | د چین فرهنگ ۳ | LL.CH.0527 | ١ |
| ١ | د لیکوالۍ فن ۲ | LL.CH.0421 | ۳ | ۳۰ | د چین فرهنگ ۴ | LL.CH.0627 | ١ |
| ١ | مقاله لیکنه١ | LL.CH.0522 | ۳ | ۳۱ | چین پیژندنه ۱ | LL.CH.0728 | ١ |
| ١ | مقاله لیکنه ۲ | LL.CH.0622 | ۳ | ۳۲ | چین پیژندنه ۲ | LL.CH.0828 | ١ |

**۴. اسپانیایي ډیپارټمنټ**

**الف. د ډیپارټمنټ پېژندنه**

په ۱۳۵۹ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په چوکاټ کې د اسپانیایي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ تاسیس شو. اسپانیایي ژبه د نړۍ له معتبرو ژبو څخه ده چې د نړۍ کابو اته سوه میلیونه وگړي پرې خبرې کوي. سربېره پر دې د هغو ژبو له جملې ده چې پرمختگ کوي او د ملگرو ملتونو له رسمي ژبو څخه ده. د اروپا او نورو لویو وچو اوسني عصر ـ اکثر ځوانان د دې ژبې سره د شوق او علاقې له مخې د دې ژبې زده کړې ته لېوال دي. د دې ډیپارټمنټ تحصیلي نصاب د اسپانیا او د لاتینې امریکا د معتبرو پوهنتونونو سره په همغږۍ جوړ شوی دی چې د اوسني عصر د غوښتنو او اړتیاوو ځواب هم پوره کوي. د دې نصاب مضمونونه د کاري بازارپه نظر کې نیولو سره ټاکل شوي دي. یاده ډیپارټمنټ په هرو دریو کلنو کې د تجربې او د کرېډېټ سیستم د لایحې په اساس او د ډیپارټمنټ لخوا د لازمگڼلو په صورت کې تعدیلوي.

د اسپانیایي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ دوره د نورو ډیپارټمنټونو په څېر څلور کلنه ده، چې په څلور کلنه دوره کې د ۱۵۱ کرېډېټه درس ویل کیږي. چې په اساسی مضمونونو، اختصاصي مضمونونو، اختیاري مضمونونو،پوهنتون شموله مضمونونو او مونوگراف باندې وېشل شوي دي. په دې ډیپارټمنټ کې زده کړه د سمعي او بصري وسایلو لارې تر سره کیږي چې له زده:ړه‌ییزو فلمونو، د راډیویي برنامو او پروجکتور څخه پکې گټه اخیستل کیږي چې د محصلانو سهم پکې ډېر بارز دی. .

څرنگه چې لیدل کیږي د لوړوزده کړو وزارت په پام کې لري د نړۍ له پوهنتونونو سره د توامیتونو له لارې افغانستان په پوهنتونونو کې د تدریس مېتود په نړۍ کې د نورو پوهنتونونو د تدریس مېتود سره په نړیوالو معیارونو برابر کړي. چې له دې کړنې

سره به د استادانو او محصلانو لپاره اسانتیاوې رامنځ ته شي او د لوړو زده‌کړو کیفیت به لانور لوړ شي. په دې بنسټ د اسپانیاي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ سیمینارونه ایرایه کوي، گروپي کارونه په لاره اچوي او بحثونو ته لاره پرانیزي.

**ب. د ډیپارټمنټ موخې**

**۱. لیدلوری**

د اسپانیاي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ ارتقا یوه معتبر، علمي او اکاډمیک مرکز ته په ملي او نړیواله کچه د زده‌کړې، څېړنې او نورو علمي برنامو له لارې.

**۲. ماموریت**

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د اسپانیاي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ یو علمي او اکادمیک مرکز دی چې د اسپانیایي ژبې او ادبیاتو په برخه کې هر کال په معیاري توگه محصلان روزي. د یادشوي ډیپارټمنټ فارغان وروسته له فراغته لاندې اساسي او عمده مهارتونه چې د دې ډیپارټمنټ لخوا ورته ټاکل شوي دي؛ زده کوي.

**۳. اهداف اساسی**

- ټولنې د ته متعهدو، بامسولیته، مجربو، متخصصو، مسلکي او په اسلامي او ملي روحیه سمبال کادرونو وړاندې کول.
- د ټولنې د اړتیاو د پوره کولو او اسپاني ژبو وگړو ته د لوړ اسلامي کلتور ورپیژندلو په موخه د اسپانیاي ژبې د تکړه او مجربه استادانو او ژباړونکیو روزنه.
- له اسپانیایي ژبې څخه ملي ژبو او له ملي هغو څخه اسپانیایي ژبې ته د پوهې انتقال.
- په بېلابېلو علمي برخو کې د مقالو او کتابونو ژباړه.
- د اسپانیایي ژبې له ادبي او علمي اثارو څخه ښه گټه اخیستنه.
- د اسپانیایي ژبو هېوادونو له علمي، فرهنگي، اقتصادي، صنعتي او تجارتي منابعو ته لاسرسی.

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | گرامر I | LL.Sp.0120 | ۲ | ۱۹ | د څېړنې مېتود II | LL.Sp.0624 | ۲ |
| ۲ | د زده کړې او کار تخنیکونه | LL.Sp.0121 | ۲ | ۲۰ | د ادبپوهنې بنسټونه | LL.Sp.0618 | ۲ |
| ۳ | گرامر II | LL.Sp.0220 | ۲ | ۲۱ | لیکنی ژباړه II | LL.Sp.0619 | ۳ |
| ۴ | گرامر III | LL.Sp.0320 | ۲ | ۲۲ | د تدریس مېتود | LL.Sp.0609 | ۲ |
| ۵ | ارواه پوهنه I | LL.Sp.0308 | ۲ | ۲۳ | تخنیکي لیکوالي II | LL.Sp.0714 | ۳ |
| ٦ | د ژباړې فن | LL.Sp.0419 | ۲ | ۲۴ | د بیان فن III | LL.Sp.0715 | ۲ |
| ۷ | گرامر IV | LL.Sp.0420 | ۲ | ۲۵ | عمومي ژبپوهنه | LL.Sp.0717 | ۳ |
| ۸ | د ژبې ارواه پوهنه II | LL.Sp.0408 | ۲ | ۲٦ | کره کتنه | LL.Sp.0718 | ۳ |
| ۹ | د لیکوالی بنسټونه | LL.Sp.0514 | ۲ | ۲۷ | گړنی ژباړه I | LL.Sp.0719 | ۲ |
| ۱۰ | د بیان فن I | LL.Sp.0515 | ۲ | ۲۸ | د اسپانیا د فرهنگ تاریخ I | LL.Sp.0722 | ۲ |
| ۱۱ | د متن تحلیل I | LL.Sp.0516 | ۲ | ۲۹ | مونوگراف I | LL.Sp.0723 | ۳ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | لیکنۍ ژباړه I | LL.Sp.0519 | ۳ | ۳۰ | د بیان فن IV | LL.Sp.0815 | ۲ |
| ۱۳ | د څېړنې مېتود I | LL.Sp.0524 | ۲ | ۳۱ | تطبیقي ژبپوهنه | LL.Sp.0817 | ۳ |
| ۱۴ | للغت پوهنه | LL.Sp.0527 | ۲ | ۳۲ | معاصر ادبیات | LL.Sp.0818 | ۳ |
| ۱۵ | تخنیکي لیکوالي I | LL.Sp.0614 | ۳ | ۳۳ | ګړنۍ ژباړه II | LL.Sp.0819 | ۲ |
| ۱۶ | د بیان فن II | LL.Sp.0615 | ۲ | ۳۴ | تخنیکي لیکواليII | LL.Sp.0714 | ۳ |
| ۱۷ | د متن تحلیل II | LL.Sp.0616 | ۲ | ۳۵ | د اسپانیا د فرهنګ تاریخ II | LL.Sp.0822 | ۲ |
| ۱۸ | د ژبپوهنې بنسټونه | LL.Sp.0617 | ۲ | ۳۶ | مونوګراف II | LL.Sp.0823 | ۳ |

## د روسي ژبې ډیپارټمنټ

### الف. پېژندنه

روسي ژبه د زیاتو ځانګړنو په درلودلو سره د کابل پوهنتون درسي نصاب ته لاره پیدا کړې، چې له یوې زاویې څخه دغه ژبه د هندو اروپایي ژبو له ډلې څخه ده او هم له رسمي ژبو پښتو او دري سره نږدې والی لري. له بلې خوا روسي ژبه د نړۍ یو له علمي او نړیوالو ژبو څخه ده. زموږ هېواد ته د پخواني شوروي اتحاد جغرافیایي نږدیوالي او د پخواني شوروي اتحاد اوسني ګاونډ کې چې روسي ژبه یې د دویمې او لومړۍ ژبې حیثیت لري او په ټولیزه توګه د سوداګریزو او فرهنګي اړیکو لپاره یې د زده کړې اړتیا ده.

د روسي ژبې ډیپارټمنټ د نصاب په اړه باید وویل شي چې نصاب د پخواني شوروي اتحاد د استادانو او ساینسي-کارکونکو لخوا د ډیپارټمنټ د تاسیس په وخت کې طرح شوی و او څو څو ځله بیا تعدیل شوی دی. په دې وروستیو کلونو کې په دغه نصاب کې بدلونونه راغلي دي، خو د دغه نصاب د تازه کولو په موخه، چې د کابل پوهنتون د رهبرۍ له لوري ورته اشاره او ټینګار شوی، په دې وروستیو کې په دې تړاو څو ځانګړې غونډې جوړې شوې.

### ب. ښوونیزې موخې

### ۱- لیدلوری

دا ډیپارټمنټ د هر پوهنتون په چوکاټ کې د یو علمي او ساینسي مرکز په توګه یو له مرکزي علمي مرکزونو څخه ده، چې مسؤلیت یې د معاصر ساینسي پوهې سره د زده کونکو روزنه او تجهیز کول او د ټولنې اړتیاوو په پام کې نیول دي.

۲- ماموریت

زموږ دنده دا ده چې د پوهنتون اکاډمیک او ساینسي برنامې د هغې د یو اصلي مرکز په توګه بشپړې کړو. د تدریس او څېړنې معیاري کول او د ډیپارټمنټ د تعلیمي او تدریسي کچې لوړول د سیمې او نړۍ له مخکښو پوهنتونونو سره برابرول او ټولنې ته په اوسني پوهه سمبال یو لوستي نسل جوړول او وړاندې کول.

### ۳- بنسټیې موخې

په تېرو دوو پېړیو کې روسي ژبه په نړۍ کې تر ټولو مهمه علمي ژبه ګرځېدلې ده. په شلمه پېړۍ کې د روسانو علمي، او تخنیکي لاسته راوړنې او نن ورځ د روسي ژبې د اهمیت ثبوت دی. نن ورځ، روسیه لوی علمي مرکزونه لري چې نړیوال اهمیت

لري. له همدې امله، د روسيې د ساينسي تاسيساتو نړۍ ته د ننوتلو او د هغې کارولو لپاره د روسيې ژبې تدريس او زده کړه خورا مهمه ده.

ټولنې د ته متعهدو، بامسوليته، مجربو، متخصصو، مسلکي او په اسلامي او ملي روحيه سمبال کادرونو وړاندې کول، له روسي ژبې څخه ملي ژبو او له ملي هغو څخه روسي ژبې ته د پوهې انتقال، ټولنې د اړتیاو د پوره کولو او روسي ژبو وګړو ته د لوړ اسلامي کلتور ورپيژندلو په موخه د روسي ژبې د تکړه او مجربه استادانو او ژباړونکيو روزنه، د دې ډيپارټمنت له موخو څخه دي.

**ج. تحصيلي نصاب ( تخصصي مضمونونه )**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | علمي کورس | LL RU 110 | ۵ | ۱۷ | عملی کورس | LL RU 610 | ۳ |
| ۲ | غږپوهنه | LL RU 111 | ۲ | ۱۸ | ګړ پوهنه(مورفولوژی) | LL RU 412 | ۲ |
| ۳ | عملی کورس | LL RU 310 | ۳ | ۱۹ | روسی ادبیات | LL RU 613 | ۲ |
| ۴ | غږپوهنه | LL RU 211 | ۲ | ۲۰ | غونډله پوهه( نحو) | LL RU 614 | ۲ |
| ۵ | عملی کورس | LL RU 310 | ۳ | ۲۱ | ژباړه | LL RU 619 | ۲ |
| ٦ | روسی ادبیات | LL RU 313 | ۲ | ۲۲ | عملی کورس | LL RU 710 | ۳ |
| ۷ | وییپوهنه | LL RU 320 | ۲ | ۲۳ | روسی ادبیات | LL RU 713 | ۲ |
| ۸ | د وییونو جوړښت | LL RU 321 | ۲ | ۲۴ | عمومي ژبپوهنه | LL RU 715 | ۲ |
| ۹ | عملی کورس | LL RU 240 | ۳ | ۲۵ | ژباړه | LL RU 719 | ۲ |
| ۱۰ | روسی ادبیات | LL RU 413 | ۲ | ۲٦ | مونوګراف | LL RU 723 | ۴ |
| ۱۱ | د ژبپوهنې بنسټونه | LL RU 416 | ۲ | ۲۷ | عملی کورس | LL RU 810 | ۳ |
| ۱۲ | دادبپوهنې بنسټونه | LL RU 418 | ۲ | ۲۸ | ادبي کره کتنه | LL RU 818 | ۲ |
| ۱۳ | عملی کورس | LL RU 510 | ۳ | ۲۹ | ژباړه | LL RU 819 | ۲ |
| ۱۴ | ګړپوهنه (مورفولوژی) | LL RU 312 | ۲ | ۳۰ | د تدریس اصول | LL RU 822 | ۲ |
| ۱۵ | روسی ادبیات | LL RU 513 | ۲ | ۳۱ | مونوګراف | LL RU 823 | ۶ |
| ۱٦ | غونډله پوهه (نحو) | LL RU 514 | ۲ | | | | |

**٦. انګليسي ډيپارټمنټ**

**الف . د ډيپارټمنټ پېژندنه**

د انګليسي ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ په ۱۹٦۳ کال کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې تاسيس شو. د ښوونې او روزنې پوهنځي له منحل کېدو وروسته په ۱۹۷۴ کال کې د انګليسي ژبې ډيپارټمنټ د ژبو او ادبياتو پوهنځي کې د يو ډيپارټمنټ په توګه شامل شو.

**ب. ښوونيزې موخې**

د انګليسي ژبې ډيپارټمنټ غواړي په هېواد کې زده کونکو ته د انګليسي ژبې کارولو او تدريس کولو او مسلکي اهدافو ترلاسه کولو، نړيوال معلوماتو، د نړيوالو موسسو او سازمانونو سره د تعامل او کار کولو، د زده کړې کچې پراخولو او په پای کې د خصوصي، ټولنيز او هيواد په کيفيت کې اصلاحات او سمونونه راولي.

**۱- ليدلوری**

د انګليسي ژبې د زده کونکو مهارتونو پياوړتيا، په انګليسي-ژبه د زده کونکو انفرادي توپيرونو ته ځواب ويل، او د نورو مهارتونو د ترلاسه کول.

**۲- ماموريت**

د کابل پوهنتون د انګليسي ژبې او ادبياتو يوه نوښتګره، مبتکره، با استعداده او پرمختللې ډيپارټمنټ ده او په دې موخه زده کوونکي روزي، ترڅو په ټولنه کې مبتکر، مسووليت منلي او د ښو کړنو او ښو تجربو په درلودلو سره وکولی شي خپلې ټولنې ته د خدمت جوګه شي.

**۳- بنسټيزې موخې**

- ټولنې ته د انګليسي ژبې او ادبياتو مسلکي، متعهدو، بامسوليته او په اسلامي او ملي روحيه سمبال کادرونو وړاندې کول.
- د ټولنې د اړتياو د پوره کولو او انګليسي ژبو وګړو ته د لوړ اسلامي کلتور ورپيژندلو په موخه د انګليسي-ژبې د تکړه او مجربه استادانو او ژباړونکيو روزنه.
- له انګليسي ژبې څخه ملي ژبو او له ملي هغو څخه انګليسي ژبې ته د پوهې انتقال لپاره کدر روزل.

**ج . لابراتوار او ښوونيز تجهيزات**

د انګليسي ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ له انټرنيټ سره نښلول شوی يو مجهز کمپيوټر لب درلودونکې ده، چې زده کوونکي يې د درسي او ښوونيزو موخو لپاره ترې ګټه اخلي .

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | انشاء | L.L.Eng- 104 | ۳ | ۱۹ | ا نشاء | L.L.Eng-602 | ۳ |
| ۲ | ګرامر | L.L.Eng- 105 | ۳ | ۲۰ | شعر پيژندنه | L.L.Eng-603 | ۳ |
| ۳ | انشاء | L.L.Eng- 204 | ۳ | ۲۱ | د ژباړې پيژندنه ۲ | L.L.Eng- 604 | ۳ |
| ۴ | ګرامر | L.L.Eng- 205 | ۳ | ۲۲ | ميتود: د ځوانانو د ژبې ښوونه | L.L.Eng-605 | ۳ |
| ۵ | ا نشاء | L.L.Eng- 303 | ۳ | ۲۳ | معنــــــا پيژندنـــــــه ا و | L.L.Eng-606 | ۳ |
| ٦ | ګرامر | L.L.Eng- 304 | ۳ | ۲۴ | د څېړنې ميتود | L.L.Eng- 607 | ۳ |
| ۷ | د ادبياتو پيژندنه ۱ | L.L.Eng-305 | ۳ | ۲۵ | عملي ا نشاء | L.L.Eng-702 | ۳ |
| ۸ | د ژبپوهنې پېژندنه | L.L.Eng-306 | ۳ | ۲٦ | مونوګراف ليکنه | L.L.Eng-703 | ۳ |
| ۹ | ا نشاء | L.L.Eng- 403 | ۳ | ۲۷ | ژباړه | L.L.Eng- 704 | ۳ |
| ۱۰ | ګرامر | L.L.Eng- 404 | ۳ | ۲۸ | تيوری های اموزش زبان د ژبې د ښوونې تيورۍ | L.L.Eng-705 | ۳ |
| ۱۱ | د ادبياتو پېژندنه ۲ | L.L.Eng-405 | ۳ | ۲۹ | ميتود: عملی تدريس ۱ | L.L.Eng-706 | ۳ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | غږپوهنه او وییپوهنه (فنولوژي و مورفولوژي) | L.L.Eng-406 | | ۳۰ | د ناول پرتلیزتدریس | L.L.Eng- 707 | ۳ |
| ۱۳ | ا نشاء | L.L.Eng- 501 | ۲ | ۳۱ | عملي ا نشاء | L.L.Eng-802 | ۳ |
| ۱۴ | د ادبیاتو برخې | L.L.Eng-502 | ۳ | ۳۲ | مونوګراف لیکنه | L.L.Eng-803 | ۳ |
| ۱۵ | د ژباړې پېژندنه ۱ | L.L.Eng-503 | ۳ | ۳۳ | ژباړه | L.L.Eng- 804 | ۳ |
| ۱۶ | میتـــود: د تـــدریس او روزنې لارې چارې | L.L.Eng- 504 | ۳ | ۳۴ | ټولنیزه ژبپوهنه | L.L.Eng-805 | ۳ |
| ۱۷ | غونډله پوهه (نحو) | L.L.Eng-505 | ۳ | ۳۵ | میتود: عملی تدریس ۲ | L.L.Eng-806 | ۳ |
| ۱۸ | د څېړنې میتود | L.L.Eng-506 | ۳ | ۳۶ | ادبي کره کتنه | L.L.Eng- 807 | ۳ |

### ۷- د ترکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ

#### الف . پېژندنه

د ترکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ چې په هېواد کې د ترکي ژبې او ادبیاتو لومړنی ښوونیز مرکز ګڼل کېږي، په ۱۳۸۲ لمریز کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې تاسیس شو.

د ترکي ژبو او ادبیاتو د ډیپارټمنټ نصاب د دې ډیپارټمنټ د فعالیت له پیل راهیسې د لوړو زده کړو وزارت د اړوندو مقرراتـو په چوکاټ کې او د ترکیې د پوهنتونونو د ورته څانګو د نصاب په پرتله کولو سره تنظیم شوی دی، چې د وخت پـه تېرېـدو او د فارغینو د کاري ساحې له ارزونې وروسته به پکې د پام وړ بدلونونه راشي.

#### ب. ښوونیزې موخې

#### ۱- لیدلوری

د ترکي ژبو او ادبیاتو د ډیپارټمنټ د ستراتیژیک پروګرام پلي کول د دې امکان برابروي چې د ملي او نړیوال شهرت سره سـم د روزل شویو متخصصینو د ښوونې او روزنې په برخه کې د اکاډمیک مرکز کچې ته د خپل موقـف لوړولـو ټاکـل شـوي اهـداف ترلاسه کړي. د سیمې او نړۍ د هیوادونو د منل شویو معیارونو سره سم، حرکت کول د تدریس، روزنې او ساینسي څېړنو د کیفیت د لوړولو او ودې لار ګړندۍ کوي.

#### ۲- ماموریت

د ترکي ژبو او ادبیاتو د ډیپارټمنټ دنده د یوه قصدي او هدفمند پروګرام لـه مخې د ښـوونیزو، څېړنیـزو او علمـي خـدمتونو وړاندي کول دي، څو زموږ د ګران هېواد افغانستان د خلکو او د دوست هېواد ترکیې د خلکو ترمنځ اړیکې ټینګې شي. ترکیـې د دې لپاره چې د هیواد زده کونکي د ژبې، ادبیاتو او تاریخ سره معرفي کړي او د ترکیې د لرغوني او معاصر کلتور او د افغانستان لـه تاریخ، کلتور، ژبو او څو ژبنیو ادبیاتو سره د اشنا کېدو په برخه کې د ترکیې د اتباعو د ورپیژندلو په برخـه کـې هغـه رول تـه ادامـه ورکوو.

#### ۳- بنسټي موخې

- ترکي ژبو ټولنو ته د اسلامي لوړ فرهنګ د ورپېژندنې او د ټولنیزو اړتیاو د لرې کونې په موخه د مجربو استادانو او ژباړنو روزنه.
- له ملي ژبو څخه ترکي او له ترکي هغې څخه کورنیو ژبو ته پوهې او معرفت د لېږد په موخه د متخصصو کادرونو روزنه.
- د ترکي ژبې او ادبیاتو اړوند موضوعاتو کې د متخصصو کادرونو روزنه.

- د دې ډیپارټمنټ محصلین په راډیو ټلوېزیون کې د ویاند، ژباړن، افغان ترک او نورو هغو ښوونځیو کې ترکي ژبه پکې تدریسېږي د ښوونکیو په توګه دنده ترسره کړي.

**ج . توأمیتونه**

د ترکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ په هیواد کې دننه د ترکي ځانګو سره او له پولو بهر د دوست هیواد ترکیې سره اړیکه ولري.

**د . لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

د ترکي ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ د پروجکټر ،کمپیوټر او نورو درسي موادو دولودنکې ده .

**هـ . تحصیلي نصاب ( تخصصي مضمونونه )**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مقاله لیکنه | LL-TU 533 | ۲ | ۱۷ | مقاله لیکنه | LL-TU 643 | ۲ |
| ۲ | نړۍ ادبیات | LL-TU 534 | ۲ | ۱۸ | نړۍ ادبیات | LL-TU 644 | ۲ |
| ۳ | ادبیاتو تاریخ | LL-TU 535 | ۲ | ۱۹ | ادبیاتو تاریخ | LL-TU 645 | ۲ |
| ۴ | د ترکي ژبې تاریخ | LL-TU 536 | ۲ | ۲۰ | د ترکي ژبې تاریخ | LL-TU 646 | ۲ |
| ۵ | ګړدود پوهنه | LL-TU 537 | ۲ | ۲۱ | معاصر ترکي | LL-TU 647 | ۲ |
| ٦ | شفاهي ادبیات | LL-TU 538 | ۲ | ۲۲ | شفاهي ادبیات | LL-TU 648 | ۲ |
| ۷ | معاصر ترکي ادبیات | LL-TU 539 | ۲ | ۲۳ | معاصر ترکي | LL-TU 649 | ۲ |
| ۸ | چغتایی ژبه | LL-TU 540 | ۲ | ۲۴ | چغتایی ژبه | LL-TU 650 | ۲ |
| ۹ | عموي ژبپوهنه | LL-TU 753 | ۲ | ۲۵ | عموي ژبپوهنه | LL-TU 862 | ۲ |
| ۱۰ | د ژباړې اصول | LL-TU 754 | ۲ | ۲٦ | د ژباړې اصول | LL-TU 863 | ۲ |
| ۱۱ | د تدریس اصول | LL-TU 755 | ۲ | ۲۷ | د تدریس اصول | LL-TU 864 | ۲ |
| ۱۲ | د ترکي ژبې تاریخ | LL-TU 756 | ۲ | ۲۸ | د ترکي ژبې تاریخ | LL-TU 865 | ۲ |
| ۱۳ | ترکي لرغوني ادبیات | LL-TU 757 | ۲ | ۲۹ | ترکي لرغوني | LL-TU 866 | ۲ |
| ۱۴ | مونوګراف | LL-TU 758 | ۲ | ۳۰ | مونوګراف | LL-TU 867 | ۲ |
| ۱۵ | معاصرترکي ادبیات | LL-TU 759 | ۲ | ۳۱ | معاصرترکي | LL-TU 868 | ۲ |
| ۱٦ | چغتایی ادبیات | LL-TU 760 | ۲ | ۳۲ | چغتایی ادبیات | LL-TU 869 | ۲ |

**۸- عربي ډیپارټمنټ**

**الف . پیژندنې**

په ۱۳۲۳ لمریز کال کې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له تاسیس وروسته د نورو مضمونونو ترځنګ؛ لکه: دري، پښتو ، پښتو اد دري ادبي فونونو، فلسفه، روحانیت، تاریخ او جغرافیه، انګلیسي ژبه، عربي ژبه هم تدریس کېږي. په ۱۳۴۵ هجري لمریز کال کې د عربي ډیپارټمنټ د ادبیاتو پوهنځي په چوکاټ کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ. د خپل فعالیت په پیل کې د عربي ډیپارټمنټ تدریسي چارې د عربي هېواد مصر د الازهر پوهنتون د استادانو له خوا پر مخ وړل کېدې او د دې ډیپارټمنټ نصاب هم د دغه پوهنتون د لغتونو پر بنسټ جوړ شوی و. دې ډیپارټمنټ خپل لومړني فارغان په ۱۳۴۸ لمریز کال کې د لیسانس په کچه ټولنې ته وړاندې کړل.

د دې ډیپارټمنټ تدریسي چارې د خپل علمي ژوند په لومړیو کلونو کې د مصري استادانو له خوا د هغه مهال د شته تفاهم لیک له مخې پرمخ وړل کېدې، تر دې چې ورو ورو داخلي استادان د عربي استادانو په ځای، ځای پر ځای شول. او دغه مصري استادان، چې په ۱۳۵۷ کال کې له هېواده ووتل نو دغو استادانو په دې ډیپارټمنټ کې د تدریس دنده په غاړه واخیسته. د دې

ډیپارټمنټ له جوړېدو وروسته په لومړیو کلونو کې استادان د لوړو زده کړو لپاره عربي هېواد مصر ته ولېږل شول، چې لـه ۱۳۵۷ کال را وروسته دغه راشه درشه ودرېده .

په عربي ډیپارټمنټ کې د ورځې او شپې په برخو کې شاوخوا ۳۵۰ محصلین په زده کړو بوخت دي. دا ډیپارټمنټ ټولټال ۱۲ تنه استادان لري ، چې ینځه یې د دوکتورا، پنځه یې د ماسټرۍ او درې نور یې د لیسانس سندونه لري.

**ب . موخې**

**۱. لیدلوری**

د کابل پوهنتون په همکارۍ د دې ډیپارټمنټ د متخصصو کارکوونکو د روزلو او په بېلابېلو برخو کې د متخصصو کارکوونکو د روزلو په برخه کې یو معتبر ملي او نړیوال مرکز ته وده ورکول دي. نوموړي ډیپارټمنټ په پام کې لري چې ډېر ژر د ماسټرۍ او دوکتورا پروگرامونه هم پیل کړي.

**۲. ماموریت**

د عربي ژبې په ډگر کې د عملي مهارتونو د ودې لپاره د ساحو رامینځته کول د تعلیم او روزنې په برخه کې د متخصصو بشري سرچینو چمتو کولو لپاره د ساینسي کارمندانو د هڅو له لارې ژمن، تخلیقي او وړ زده کونکو ته روزنه ورکول.

**۳. بنسټیزې موخې**

د دې ډیپارټمنټ د جوړولو یوه بنسټیزه موخه دې ژبې ته د مجهز کادري غړو وړاندې کول دي، ځکه عربي ژبـه پـه اسـلامي هیوادونو کې د اسلامي ژبې په توگه پیژندل کیږي او افغانستان هم تـرې مسـتثنی نـه دی. د دې ډیپارټمنـټ فارغـان کـولی شي پـه اسانی سره په دولتي ښوونځیو، دیني مدرسو او دولتي دفترونو کې کار وکړي. د دې ډیپارټمنټ د تعلیمي اهدافو څخـه یـو دا دی چې د عربي علومو او پوهې سرچینې وکاروي. د عربي ژبې تدریس زده کونکو ته دا وړتیـا ورکـوي چـې د بډایـه عـربي سرچینـو څخه ډیره گټه پورته کړي.

دا ډیپارټمنټ د هیواد د بنسټیزو اړتیاوو سره سم د هیواد د ځوان نسل د روزلو په موخه جوړه شـوې، ترڅـو ځوانـان لـه عـربي علمي سرچینو څخه گټه پورته کړي. دا ډیپارټمنټ کولی شي یو شمیر کسان د هیواد په ښوونځیو کې د تدریس لپاره وروزي او یو شمیر یې د عربي او ملي ژبو ترمنځ د علومو د ژباړې او لیږد په برخه کې کار وکړي.

**ج. توأمیتونه**

عربي ډیپارټمنټ په څلوېښتمه لسیزه کې د الازهر پوهنتون سره د تاریخي ملگرتیا پر بنسټ خپل فعالیت پیل کـړ. او د همـدې یاددښت پر بنسټ هر کال مصر ته یو شمېر استادان استول کېدل او له عربي هېواد مصر څخه هم یو شمېر اسـتادان د تـدریس پـه موخه دغې ډیپارټمنټ ته را تلل، چې په دې ډیپارټمنټ کې د تدریسي بهیر د څارنې او مدیریت په موخه چارې تـر سره کـړې ، خو له ۱۳۵۷ کال څخه وروسته دغه مرستې او هوکړې په وقفیي ډول وې او په جدي توگه یې دوام نه دی کړی.

**د . لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

په عربي ډیپارټمنټ کې ځانگړی کتابتون نشته او د استادانو په خونه کې گڼ شمېر کتابونه شته چې د استادانو په شخصي هڅو برابر شوي او په دې برخه کې د مجهز او تخصصي کتابتون د جوړولو اړتیا ده. په ډیپارټمنټ کې د استادانو په خونو کـې کمپیـوټر شته او په دې ډیپارټمنټ کې د انټرنېټ سیستم فعال دی او استادان ترې گټه اخیستلای شي.

**هـ . تحصیلي نصاب ( تخصصي مضمونونه )**

| گڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | گڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نحو -۱ | LL.AR- 0115 | ۳ | ۲۲ | فقه اللغة- ۲ | LL.AR -0714 | ۳ |
| ۲ | نحو -۲ | LL.AR- 0215 | ۳ | ۲۳ | بلاغت - ۱ | LL.AR - 0417 | ۳ |
| ۳ | نحو -۳ | LL.AR- 0315 | ۳ | ۲۴ | بلاغت- ۲ | LL.AR - 0517 | ۳ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | نحو -۴ | LL.AR- 0415 | ۳ | ۲۵ | بلاغت-۳ | LL.AR - 0617 | ۳ |
| ۵ | نحو -۵ | LL.AR- 0515 | ۳ | ۲۶ | بلاغت-۴ | LL.AR - 0717 | ۳ |
| ٦ | نحو -٦ | LL.AR- 0615 | ۳ | ۲۷ | بلاغت-۵ | LL.AR - 0817 | ۳ |
| ۷ | نحو -۷ | LL.AR- 0715 | ۳ | ۲۸ | تاریخ ادب - ۱ | LL.AR - 0318 | ۳ |
| ۸ | نحو -۸ | LL.AR- 0815 | ۳ | ۲۹ | تاریخ ادب - ۲ | LL.AR - 0418 | ۳ |
| ۹ | صرف - ۱ | LL.AR–0116 | ۳ | ۳۰ | تاریخ ادب - ۳ | LL.AR - 0518 | ۳ |
| ۱۰ | صرف - ۲ | LL.AR– 0216 | ۳ | ۳۱ | تاریخ ادب - ۴ | LL.AR - 0618 | ۳ |
| ۱۱ | صرف -۳ | LL.AR– 0315 | ۳ | ۳۲ | تاریخ ادب - ۵ | LL.AR - 0718 | ۲ |
| ۱۲ | صرف - ۴ | LL.AR– 0416 | ۳ | ۳۳ | تاریخ ادب - ٦ | LL.AR - 0818 | ۳ |
| ۱۳ | نصوص-۱ | LL.AR– 0410 | ۲ | ۳۴ | ادب مقارن | LL.AR -0811 | ۳ |
| ۱۴ | نصوص- ۲ | LL.AR– 0510 | ۲ | ۳۵ | ترجمة- ۱ | LL.AR -0311 | ۲ |
| ۱۵ | نصوص- ۳ | LL.AR– 0610 | ۲ | ۳٦ | ترجمة- ۲ | LL.AR - 0411 | ۲ |
| ۱٦ | نصوص- ۴ | LL.AR – 0710 | ۲ | ۳۷ | أصول تدريس | LL.AR - 0227 | ۲ |
| ۱۷ | نقد ادبي-۱ | LL.AR – 0519 | ۲ | ۳۸ | مدارس | LL.AR- 0420 | ۲ |
| ۱۸ | نقد ادبي-۲ | LL.AR – 0619 | ۲ | ۳۹ | عروض- ۱ | LL.AR- 0520 | ۲ |
| ۱۹ | نقد ادبي-۳ | LL.AR – 0719 | ۲ | ۴۰ | عروض وقافية- ۲ | LL.AR– 0620 | ۳ |
| ۲۰ | نقد ادبي ۴ | LL.AR – 0819 | ۲ | ۴۱ | بحث علمي | LL.AR- 0526 | ۲ |
| ۲۱ | فقه اللغة - ۱ | LL.AR -0614 | ۳ | ۴۲ | بلاغت - ۱ | LL.AR - 0417 | ۳ |

**د بهرنيو ژبو او ادبياتو پوهنځي د ماسترۍ پروګرام**

**۱- د عربي ژبې د ماسترۍ پروګرام**

**الف . پېژندنه**

**ب. ښوونيزې موخې**

**۱- ليدلوری**

د عربي ژبې تر ليسانس پورته زده کړو پروګرام له جوړولو څخه موخه، په عربي ادبياتو کې د متخصصو او مسلکي معلوماتو درلودونکو افرادو روزنه ده.

دا برنامه کولی شي په تخصصي ډول د ظرفيت لوړونې او د عربي ژبې او ادبياتو له خزانې څخه د سمې پوهېدنې په پار ګټه واخيستل شي.

**۲. ماموريت**

په عربي ژبه کې د ماسترۍ په کچه د عملي مهارتونو د ودې لپاره د ساحو رامنځته کول، ترڅو د ساينسي کارمندانو د هڅو لـه لارې ژمن، تخليقي او وړ زده کونکي وروزل شي ترڅو د زده کړې په برخه کې ځانګړې بشري سرچينې چمتو کړي.

**۳ . بنسټيې موخې**

د عربي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د ماسټرۍ پروګرام موخه د افغان ټولنې د اړتیاوو علمي، ادبي او فرهنګي پرمختګونو په پـام کې نیولو سره د مسلکي پوهې د کچې لوړول او د هېواد د ځوان نسل د مهارتونو لوړول دي.

**هـ . تحصیلي نصاب ( تخصصي مضمونونه )**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نحو -۱ | LL.AR- 1001 | ۴ | ۱۱ | نحو -۲ | LL.AR - 2007 | ۲ |
| ۲ | صرف - ۱ | LL.AR – 1002 | ۴ | ۱۲ | صرف – ۲ | LL.AR - 2008 | ۲ |
| ۳ | عربی ادبیات -۱ | LL.AR – 1003 | ۴ | ۱۳ | عربی ادبیات -۲ | LL.AR - 2009 | ۲ |
| ۴ | نصوص | LL.AR – 1004 | ۴ | ۱۴ | نقد، حدیث (شعر) | LL.AR - 2010 | ۲ |
| ۵ | ژبپوهنه | LL.UR – 1005 | ۴ | ۱۵ | علم اللغات– ۱ | LL.UR - 2011 | ۲ |
| ٦ | بلاغت – ۱ | LL.UR – 1006 | ۴ | ١٦ | بلاغت – ۲ | LL.UR - 2012 | ۲ |
| ۷ | نحو – ۳ | LL.AR – 3013 | ۲ | ۱۷ | ادب مقارن | LL.AR – 3017 | ۲ |
| ۸ | اصول البحث العلمي–۲ | LL.AR – 3014 | ۲ | ۱۸ | اصول البحث العلمي | LL.AR – 3018 | ۲ |
| ۹ | ادبیات – ۳ | LL.AR – 3015 | ۲ | ۱۹ | الدروس البلاغية في القرآن | LL.AR - 4019 | ٦ |
| ۱۰ | نقد، حدیث (نثر) | LL.AR – 3016 | ۲ | ۲۰ | تیزس | LL.AR - 4023 | ٦ |

# د کرنې پوهنځی



**۱. پېژندنه**

د کرنې پوهنځی په ۱۳۵۵ کال کې د انجنیري پوهنځي سره یو ځای د «کرنې او انجنیري» پوهنځي په نامه د کابل پوهنتون په چوکاټ کې تأسیس شو. د دې پوهنځي چارې تر دوو کلونو د علومو پوهنځي له لوري اداره کېدې. په ۱۳۳۷ کال کې دواړه پوهنځي د علومو له پوهنځي بېل او هر یوه یې په خپلواکه توګه فعالیت پیل کړ.

د کرنې پوهنځی په همدې کال د جراحي طب پوهنځي تعمیر ته انتقال شو او تر ۱۳۴۴ کال پورې هلته پاتې شو. په همدې کال د کرنې پوهنځي لپاره په ټولو معاصرو معیارونو مستقل تعمیر جوړ شو او د کرنې پوهنځی هم هلته انتقال شو. د تعمیر په ۲۸۰۰ متر مربع ځمکه کې جوړ شوی و، لویې او کوچنۍ درسي خونې، لابراتوار، دفترونه او نور د اړتیا وړ ځایونه او وسایل یې درلودل. تر ۱۳۴۵ کال پورې د دې پوهنځي نصاب عمومي و، د دې پوهنځي لومړنیو فارغانو چې شمېر نهه کسانو ته رسېده د کرنې عمومي ډیپلومونه ترلاسه کړل؛ خو تر دې وروسته د کرنې پوهنځي د حیواني علومو، نباتي علومو او د کرنیز اقتصاد پراختیا په ډیپارټمنټونو ووېشل شو. ځینې وخت له اړتیا سره سم د دې پوهنځي په نصاب کې تغییرات هم راوستل شوي دي. پر همدې اساس په ۱۳۵۹ کال کې د کرنې پوهنځی په شپږو ډیپارټمنټونو او شپږو تحصیلي رتبو، چې د کرنې اختصاصي رشتې وې ووېشل شو او له دې سره یې د یو نوی اکاډمیک جوړښت خپل کړ. تر دې وروسته په یاد پوهنځي کې دوې نورې ځانګې هم رامنځته شوې چې وسمهال ټولې اته ځانګې لري.

د کرنې پوهنځي په پخواني تعمیر کې نهه درسي، لس د استادانو او اته د لابراتورا خونې وې. د دې پوهنځي په نوي تعمیر کې اته درسي خونې، لس د استادانو کاري اتاقونه او دوه لابراتوانه دي. تر دې وړاندې د کرنې پوهنځي د چاپېریال ساتنې د ملاتړ مرکز هم درلود. دا راز دغه پوهنځي، یو انټرنېټ کلب، د کمپیوټر زده کړې لابراتوار، کتابتون، د کرنیزو ماشینونو ورکشاب، ګلخانه، څېړنیز فارم او نباتي باغ هم لري.

**۲. موخې**

**الف. ليدلوری**

د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځی مصصم دی، چې د کرنې په دايمي کولو، د علمي څېړنو پـه اجـرا، ځـان بسـياينه، د ټـولنيزو خدمتونو په عرضه او د عصري کرنيزو علومو د وړاندې کولو په برخه کې د معياري څېړنو، علمي څېړنيزو اجراآتو او د خدمتونو په عرضه کولو سره په يوه باوري ملي او نړيوال مرکز تبديل شي.

**ب. ماموريت**

د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي د کرنې او مالدارۍ په مختلفو ډيپارټمنټونو کې د ليسانس او ماسـټرۍ پـه کچـه د مختصصـو کادرونو په روزنه بوخت دی. دا راز د داسې علمي څېړنـو پـه تـرسره کولـو سره خـدمت کـوي، چـې د فقـر د کمـوالي، د غـذايي مصونيت ترلاسه کولو، په يوه توليدي او صادراتي هېواد اووښتلو، د کرنيزو توليداتو زياتوالی او په نهايت کې د افغانستان د خلکـو د اقتصاد د ودې لامل شي.

**ج. اساسي موخې**

په افغانستان کې د کرنې په سکټور کې د پراخو پانګونې لپاره پياوړي دلايل شته دي. له مخدرو توکو پرتـه د کرنـې سـکټور د افغانستان د ملي ناخالص (GDP) توليد يوه ربع جوړوي.

دا پوهنځي لاندې موخې لري:

- د کرنې په برخه کې د داسې متخصصانو روزل چې د مارکېټ او ټولنې غوښتنې پوره کړای شي، د کرنې په پراختيا کې ګټـور تمام شي او له ټولنې سره په دغه سکټور کې مرسته وکړي.
- د ليسانس او ماسټرۍ په کچه د کرنې د مختصصانو د پروګرامونو پراختيا تر څو وکولای چې لـه علمـي پرمختګونـو سره مـل مخته لاړ شي.
- د داسې علمي څېړنو تر سره کول چې په هېواد کې د کرنيزو ستونزو په حل او غذايي خونديتوب په برخه کې مرسـته وکـړای شي.
- د مـلي او نړيوالـو پوهنتونـو د کرنـې د پوهنځيـو تـرمنځ د علمـي څېړنيـزو همکـاريو، د مـاموريتي فعـاليتونو، کنفرانسـونو، سيمينارونو، ورکشاپونو، ګډو پروژو او مهارتونو په تبادله کې د همغږۍ او همکارۍ رامنځته کول.
- د کرنې او مالدارۍ په سکټور کې د همدې سکټور د مينه والو او اړمنو د استفادې لپاره د کتابونو ژباړل، علمي آثار، په مـلي او نړيوالو ژورنالونو کې د څېړنيزو مقالو خپرول، د علمي او مسلکي سيمينارونو ارايه کول او نورو اکاډميکو فعـاليتونو تـرسره کول.

**۳. تواميتونه**

۱. د کرنې پوهنځي پخوا نبراسکا، کولورادو، وايمينګ، پردو، بيروت امريکايي پوهنتون، د چاپان، جرمني، هند او فرانسې لـه ځينې پوهنتونونو سره ګډه همکاري درلوده.

۲. دغه پوهنځي د WFP, FAO, NEI, ICARDA, USAID, WB, FOCO-MAIL ملي او نړيوالو موسسو، کرنـې وزارت، د کابل ولايت د کرنې رياست، د کليو د پراختيا وزارت او نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې له وزارت سره فعاله همکاري درلوده.

۳. په ۱۳۹۷ کال کې يې د GFAIN او FAO موسسو سره تواميتونه درلودل او د ماسـټرۍ او ليسـانس پـه کچـه د محصـلانو او استادانو د ساحوي څېړنو په برخه کې يې همکاري کوله.

٤. د کرنې پوهنځي په ۱۳۹۸ کال کې د هندوستان لـه هاریانـای کرنیـز پوهنتـون او د افغانسـتان د کرنیـز او تعلیمـي انسـتیتوت (NAEC) سره هم همکاری هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي. دغه هوکړه لیکونه وسمهال مرغی الاجرا نه دي.

**۴. ډیپارټمنټونه**

**الف. ډیپارټمنټونو پېژندنه**

اوسمهال د کرنې پوهنځي لاندې اته ډیپارټمنټونه لري:

۱. د کرنیزې پراختیا او اقتصاد ډیپارټمنټ
۲. د اګرانومي ډیپارټمنټ
۳. د بائیوټکنالوژي او کرنیزو تخمونو د تولید ډیپارټمنټ
۴. د طبیعي سرچینو او ځنګلونو ډیپارټمنټ
۵. د بوټو د ساتنې ډیپارټمنټ
۶. د اوب.لګونې او خاوره پوهنې ډیپارټمنټ
۷. د حیواني علومو ډیپارټمنټ
۸ د هارټي‌کلچر ډیپارټمنټ

**د حیواني علومو ډیپارتمېنت**

**الف. د ډیپارتمېنت پېژندنه**

د حیواني علومو ډیپارتمېنت د ۱۳۴۵ کال کې فعالیت پیل کړ، موخه یې د حیواني علومـو پـه بېلابېلـو برخـو لکـه د شـیدو او غوښې د غوبانو روزنه او تغذیه، د هګیو او غوښې د تولید لپاره د کورنیو چرګانو روزنه، د مېږو او وزو روزنـه او لویونـه، د فـارمي حیواناتو د انواعو په روزنه او لویونه د فارم د محصولاتو زیاتولو په برخه کې محصلان روزل دي.

**ب. د ډیپارتمېنت موخې**

**۱. لیدلوری**

د حیواني علومو ډیپارتمېنت غواړي د مالداری (حیواني خوړو او تغذیې، د حیواناتو وراثت او د نسل اصلاح، او د حیواناتو د فارمونو مدېریت) د څانګې په بېلابېلو برخو کې د تدریس، څېړنې او خدمت کولو له لارې ماهر او وتلي کارپوهان او متخصصان وروزي چې د ټولنې په اقتصادي پرمختیا کې فعاله ونډه واخلي.

**۲. ماموریت**

د حیواني علومو ډیپارتمېنـت اوس د حیوانـاتو، مرغـانو، د حیـواني خـوړو او تغـذیې، د حیوانـاتو د وراثـت او اصـلاح، او د حیواناتو د اداري (مالځایونو او پنډغالیو، حیواني ناروغیو او آفتونو وقایـه او درملنـه او هـم د حیوانـاتو د روغتیـا د خونـدیتوب او حیواني محصولاتو) په برخو کې د تدریس، څېړنې او خدمت کولو له لارې متخصص کادرونه روزي.

**۳. بنسټي موخې**

- د فارمونو په کچه د ماهرو کارپوهانو او کادرونو روزنه.
- د وطن، خلکو او بشریت په اړه د پانګوالو د فردي او ټولنیز مسؤولیت د احساس تقویه کول.
- د محصلانو او فارموالو ترمنځ د علمي فکر او علمي اخلاقو تقویه کول.
- د حیواني علومو پرمختیا.
- په انفرادي او ګروپي ډول په اړوندو برخو کې د علمي څېړنو پرمختګ.

- په ټولنه کې د علومو ترويج او عامول.
- د حيواني خوړو او تغذيې، څړځايونو، د حيواناتو د جنيټيک او اصلاح او د حيواني فارمونو د ادارې په برخه کې د مالـدارنو ستونزې هوارول.

**ج. تواميتونه**

تر اوسه له پوهنتونونو سره د ډيپارتمېنتونو په کچه تواميتونه نه لرو.

**د. لابراتوار او تجهيزات**

د حيواني علومو ډيپارتمنت خپلواک لابراتوار لري چې په اړينو ابتدايي وسايلو يـو څـه مجهـز دی. دا وسـايل د محصـلانو د څېړنو لپاره کارول کېږي.

**هـ. د زده‌کړو نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مايکروبيولوژي مبادي | Ag.AnSc 0320 | ۴ | ۱۶ | حيواني اناټومي | Ag-AnSc 0541 | ۳ |
| ۲ | د مالدارۍ مبادي | Ag .AnSc 0330 | ۴ | ۱۷ | حيواني فيزيولوژي | Ag-AnSc 0542 | ۴ |
| ۳ | حياتي کېميا | Ag. AnSc 0321 | ۴ | ۱۸ | د مرغانو روزنې بنسټونه | Ag-AnSc 0543 | ۴ |
| ٤ | د علمي تجربو طرح کول | Ag-Agron 0638 | ۲ | ۱۹ | د خوړو او تغذيې بنسټونه | Ag-AnSc 0544 | ۴ |
| ۵ | د وراثت علم | Ag-AnSc 0632 | ۳ | ۲۰ | کب روزنه | Ag-AnSc 0545 | ۴ |
| ٦ | د څړځای پېژندنه | Ag. Fnr 0641 | ۳ | ۲۱ | علمي سيمينار (۱) | Ag-AnSc 0752 | ۲ |
| ۷ | حيواني تغذيه | Ag-AnSc 0649 | ۳ | ۲۲ | د هګيو او غوښې چرګانو روزنه | Ag-AnSc 0753 | ۳ |
| ۸ | د مېږو او وزو روزنه | Ag-AnSc 0650 | ۳ | ۲۳ | حيواني نسل‌ګيري | Ag-AnSc 0754 | ۳ |
| ۹ | د شاتو مچيو روزنه | Ag-AnSc 0651 | ۲ | ۲۴ | پرازيټولوژي | Ag-AnSc 0755 | ۲ |
| ۱۰ | څېړنيزه پروژه (۲) | Ag-AnSc 0860 | ۲ | ۲۵ | د غواووساتنې علم | Ag-AnSc 0756 | ۳ |
| ۱۱ | پيله‌روزنه (د ورېښمو چنجي روزنه) | Ag-AnSc 0861 | ۲ | ۲٦ | د لبنياتو علم | Ag-AnSc 0757 | ۳ |
| ۱۲ | د حيواني محصولاتو پروسېس او زېرمه کول | Ag-AnSc 0862 | ۳ | ۲۷ | جيره سنجي | Ag-AnSc 0758 | ۲ |
| ۱۳ | اېنټرشيپ | Ag-AnSc 0863 | ۱ | ۲۸ | تکثيري فيزيولوژي | Ag-AnSc 0865 | ۳ |
| ۱۴ | د وړيو او قره‌قل څرمنو علم | Ag-AnSc 0864 | | ۲۹ | حفظ الصحه و حيواني ناروغۍ | Ag-AnSc 0866 | ۳ |

## د هارټیي کلچر ډیپارتمنټ

### الف. د ډیپارتمنټ پېژندنه

د هارټیي‌کلچر ډیپارتمنټ په ۱۳۷۳ کال کې له ځنګل‌پالنې او بڼوالۍ ډیپارتمنټه رابېل شو او خپلواک فعالیت یې پیل کړ. د دې ډیپارتمنټ د جوړولو آره موخه د سبزیو او مېوو د تولید او تکثیر په عمده ساحو کې د ځوانانو روزنه ده. پر تدریس سربېره د زینتي نباتاتو، ګلونو او باغونو اېښودلو په اړه معلومات هم ورکول کېږي. محصلان د زیاتې او عملي زده‌کړې لپاره په ټاکلیو وختونو کې د مېوو نمونې، د سبزیو او مېوه‌لرونکو ونو لیدلو ته ورځي، چې له یوې خوا نوې پروژې او له بلې خوا موجودې ستونزې وپېژني.

### ب. موخې

#### ۱. لیدلوری

د هارټیي کلچر ډیپارتمنټ هوډ لري چې د تدریس، څېړنې او ترویج د معیاري طریقو د کارونې له لارې د بڼوالۍ سکتور د ودې او پرمختیا لپاره علمي او مسلکي کادرونه ټولنې ته ورمخته کړي او پر بنسټ یې د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا په هراړخیزه پروسه کې ونډه واخلي.

#### ۲. ماموریت

هارټیي‌کلچر ډیپارتمنټ اوس د بڼوالۍ سکتور د پرمختیا او ښه‌کېدن لپاره د هارټیي‌کلچر ټېکنالوژۍ د علم او فن د تدریس او څېړنې له لارې علمي او مسلکي کادرونه روزي، چې د بڼوالۍ په خدمتونو سره په ټولنه کې خپله ونډه واخلي.

#### ۳. بنسټیې موخې

- محصلانو ته د هارټیي‌کلچر د بېلابېلو مضمونونو تدریس.
- په هارټیي‌کلچر کې د محصلانو د پوهې، مهارتونو او ظرفیتونو لوړول.
- پر کارېدونکې ټېکنالوژۍ د محصلانو پوهول.
- په هارټیي‌کلچر صنعت کې د ځوانو کادرونو روزنه.
- د هارټیي‌کلچر سکتور بېلابېلو پروژو پر تطبیقولو د محصلانو پوهول.

### ج. توامیتونه

اوس له پوهنتونونو سره د ډیپارمنټ په کچه توامیتونه نشته.

### د) لابراتوار او تجهیزات

د حیواني علومو ډیپارتمنټ خپلواک لابراتوار لري چې پر لومړنیو اړینو وسایلو یو څه مجهز دی. محصلان دا وسایل د څېړنو لپاره کاروي.

### هـ. نصاب (تخصصي مضمونونه)

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د هارټیي‌کلچر بنسټونه | Ag.Hort. 427 | ۴ | ۱۶ | د کرنیزو محصولاتو ارزونه | Ag. EcEx.624 | ۲ |
| ۲ | د وچو سیمو هارټیي‌کلچر | Ag.Hort.531 | ۲ | ۱۷ | طرحه او علمي تجربې | Ag. Agron.638 | ۴ |

| ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضمون نوم | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | د بېکاره ګیاوو د کنټرول بنسټونه | Ag. Agron.532 | ۴ | ۱۸ | ګل‌روزنه | Ag.Hort.635 | ۴ |
| ٤ | د سبزیو د تولید بنسټونه | Ag.Hort.532 | ۲ | ۱۹ | د وراثت د علم مبادي | Ag.BT.632 | ۴ |
| ۵ | د کرنیزې احصایې مبادي | Ag. EcEx. 521 | ۴ | ۲۰ | نباتي فیزیولوژي | Ag. Agron.641 | ۴ |
| ٦ | د مېوو د تولید بنسټونه | Ag.Hort.533 | ۲ | ۲۱ | د سبزیو ناروغی | Ag.PP.643 | ۴ |
| ۷ | د هارټیي کلچري نباتاتو تکثیر او قوریه | Ag.Hort.534 | ۴ | ۲۲ | د هارټیي‌کلچري نباتاتو د تخم د تولید ټېکنالوژي | Ag.Hort.636 | ۴ |
| ۸ | د اوبو لګونې مبادي | Ag.SS.740 | ۴ | ۲۳ | د هارټیي‌کلچري محصولاتو زېرمه او پروسېس | Ag.Hort.844 | ۴ |
| ۹ | طبي او مصاله‌یي نباتات | Ag.Hort.737 | ۴ | ۲۴ | د سبزیو تولید | Ag.Hort.845 | ۴ |
| ۱۰ | په خوندي چاپېریال کې د هارټیي‌کلچر نباتاتو کرنه | Ag.Hort.738 | ۴ | ۲۵ | د پاڼې رژېدونکو مېوو تولید | Ag.Hort. 846 | ۴ |
| ۱۱ | زینتي نباتات او د زرغونې فضا دیزاین | Ag.Hort.739 | ۴ | ۲٦ | د هارټیي کلچري نباتاتو نسل‌ګیري | Ag.Hort.847 | ۴ |
| ۱۲ | د خاورو حاصل‌خېزي او د نباتاتو تغذیه | Ag.SS.741 | ۴ | ۲۷ | عضوي او پایښتمن هارټیي‌کلچر | Ag.Hort.848 | ۴ |
| ۱۳ | تل‌زرغونې مېوې | Ag.Hort.740 | ۴ | ۲۸ | څېړنیزه پروژه | Ag.Hort.849 | ۴ |
| ۱۴ | | | | ۲۹ | څېړنیزه پروژه (سیمینار) | Ag.Hort.742 | ۴ |

**د بایوټیکنالوژۍ او کرنیزو تخمونو د تولید ډیپارټمنټ**

**الف.پېژندګلوي**

دا په خپل مسلک کې د هېواد په کچ یوازنی ډیپارټمنټ دی. په لوړ کیفیت تدریس او د بایوټیکنالوژۍ او کرنیزو تخمونو په ډګر کې علمي څېړنې او بوختیاوې د دې ډیپارټمنټ د یووالې نښه ده.

**ب. ښوونیزې موخې**

**۱. لرلید**

د بایوټیکنالوژۍ او کرنیزو تخمونو د تولید څانګې پرېکړه کړې، چې د افغانستان کرنې ته د غوره تدریس او علمي څېړنو په مټ غوره خدمتونه وکړي.

**۲. مأموریت**

دا ډیپارټمنټ ژمنه ده، چې د نباتي محصولاتو د تولید د ډېرولو او په ټوله کې له خوراکي پلوه د بایوټیکنالوژۍ او کرنیزو تخمونو په مټ د هېواد د بساینې په موخه غوره تخصصي کادرونه وروزي.

**۳. بنسټي موخې**

- د اصلاح شویو تخمونو د تولید هې برخه کې د تخصصي کادرونو روزنه او د ناروغیو، آفتونو او وچوالي پر وړاندې د مقاومو او لوړ حاصلو ورایټیونو پرمختیا.
- د جنتیکي سرچینو د خوندیتوب او کارونې لپاره د ځانګوالو کادرونو روزنه او د هېواد د سیمه ییزو ونو بوټو د مړینې مخنیوی.
- له ونو بوټو او ژویو نه د جوړو آفت وژونکو په کیمیاوي آفت وژونکو د بدلونو په برخه کې د ځانګوالو کادرونو روزنه
- په جنتیکي مهندسی یا د آفتونو، وښو وژونکو، وچوالي، ښورې، تودوخې او سړو په مقابل کې د مقاومو کرنیزو نباتاتو په ډګر کې د ځانګوالو کادرونو روزنه
- د سبو او مېوو د خوراکي توکیو د ښه کولو او د زېرمتون د عمر د زیاتوالي او خوندیتوب لپاره د ځانګوالو کادرونو روزنه.

**ج. توأمیتونه**

سملاسي له پوهنتونو سره د ځانګو په کچ کوم توأمیت نشته.

**د.لابراتوار او تجهیزات**

دا ډیپارټمنټ خپل ښل لابراتوار لري، چې په لومړنیو اړتیاوړ وسایلو سمبال دی، چې محصلان ترې استفاده کوي.

**هـ. تحصیلي مضامین (ځانګوال مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نوم | کود نمبر | دکریډیټ | ګڼه | د مضامینو نوم | کود نمبر | دکریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د وراثت د علم بنسټونه | AgBT 632 | ۳ | ۸ | نباتي نسل اخیستنه | AgBT 736 | ۳ |
| ۲ | د نباتي نسج کر | AgBT633 | ۳ | ۹ | د کرنیزو نباتاتو د محصولاتو زېرمه کول او پروسس | AgBT 737 | ۳ |
| ۳ | مایکروبیولوژی او د تخم تکنالوژی | AgBT 634 | ۳ | ۱۰ | څېړنیزه پروژه | AgBT 738 | ۲ |
| ٤ | جنتیک انجنیرینګ | AgBT 839 | ۳ | ۱۱ | د حجرې مالیکوالي بیولوژي | AgBT 531 | ۳ |
| ۵ | د نباتي مالیکولي نسل اخیستنه | AgBT840 | ۳ | ۱۲ | بایوانفورماټیک | AgBT 842 | ۳ |
| ٦ | د کرنیزو تخمونو د علم او ټیکنالوژی بنسټونه | AgBT 841 | ۳ | ۱۳ | څېړنیزه پروژه | AgBT 843 | ۲ |
| ۷ | مالیکولي جنتیک | AgBT 735 | ۳ | ۱۴ | | | |

**۴. د ځنګلونو او طبیعي سرچینو ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندګلوي**

دا ډیپارټمنټ په ۱۳۵۴ کال کې د کرنې پوهنځي په چوکاټ کې د ځنګل داری او باغداری په نامه رامنځته شو، چې لومړی دوره یې پر ۱۳۵۸ کال ټولنې ته ورکړه.

د دې څانگې مهمه موخه د ځنگلونو، څرځایونو، وحشي ژویـو او د دې سرچینـو د اصـلي او فرعـي محصـولاتو د زیـاتولو، علمي کارونې، پایښت او خوندیتوت لپاره د مسلکي او څانگوالو کادرونو روزنه ده.

**ب. ښوونیزې موخې**

۱ . د ځنگلدارۍ او او طبیعي سرچینو په برخه کې د کارپوهانو او فني څانگوالو روزنه.

۲ .د طبیعي او مصنوعي سرچینو د خوندیتوب او پرمختیا لپاره له نویو سیستمونو سره اشنایي او دودونه یې.

۳ . د استوگنې د چاپېریال، څرځایونو، خوندي سیمو، مـلي پـارکونو او وحشـي ژویـو سـاتنه. د طبیعـي او مصـنوعي سرچینـو د خوندیتوب او پرمختیا لپاره له نویو سیستمونو سره اشنایي او دودونه یې.

٤ .د طبیعي چاپېریالونو، څرځایونو، ځنگلونو، وحشي ژویو او بېدیاووو ساتنه

۵ .د لرگو، ځنگلي مېوو او طبي ونو بوټو د کارونې لپاره د نوې ټیکنالوژۍ پېژندنه.

٦ . د هېواد د بهاندو اوبو د څار او کنترول په موخه د محصلانو د فني او څانگوالو مهارتونو زیاتول.

۷ . د ځنگلدارۍ او طبیعي سرچینو په برخه کې سروې او څېړنه.

**۱. لرلید**

د ځنگلدارۍ او طبیعي سرچینو ډیپارټمنټ د ځنگلدارۍ، طبیعي سرچینو، له ځنگلونو، ملي پارکونو، وحشي ژویو نه پـه گټنـه او نورو برخو کې د تدریس او څېړنې له لارې په ملي کچ د څانگوالو کادرونو روزنې ته ژمنه ده.

**۲. مأموریت**

دا ډیپارټمنټ د ځنگلدارۍ او طبیعي سرچینو په بېلابېلو برخو کې د نوې او هوسا ټولنې د پرمختیا او پراختیا لپاره د زده کـړې، ښوونې او څېړنې په موخه د څانگوالو او ژمنو ځوانانو په روزنه بوخته ده.

**۳. موخې**

- د ځنگلونو او طبیعي سرچینو په برخه کې د کارپوهانو او فني څانگوالو روزنه؛
- د طبیعي او مصنوعي سرچینو د خوندیتوب او پرمختیا لپاره له نویو سیستمونو سره اشنایي او دودونه یې؛
- د پایدارې پرمختیا په موخه له سرچینو نه د پایدارې استفادې دودونه
- د هېواد د طبیعي سرچینو د کنترول او څار په لړ کې د محصلانو د فني او څانگوالو مهارتونو لوړول؛
- د ځنگلونو او طبیعي سرچینو په اړه د سروې او څېړنې لپاره د څانگوالو روزنه.

**ج. توأمیتونه**

سملاسي له پوهنتونو سره د څانگو په کچ کوم توأمیت نشته.

**د. لابراتوار و تجهیزات**

دا ډیپارټمنټ خپل بېل لابراتوار لري، چې په لومړنیو اړتیاوړ وسایلو سمبال دی، چې محصلان ترې د خپلو څېړنـو د بشـپړولو لپاره استفاهد کوي. د یادونې وړ ده، چې دا ډیپارټمنټ د طبیعي سرچینو د اندازه کولو، په تېره د ځنگلونـو د انـدازه کولـو لپـاره د سروې په بڼه عملي کارونه ترسروي.

**هـ. تحصیلي نصاب (ځانګوال مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ونه پېژندنه | AgFNR0531 | ۳ | ۱۲ | د لرګي لار د جاج بنسټونه | AgFNR0644 | ۲ |
| ۲ | د اکولوژۍ بنسټونه | AgFNR0532 | ۳ | ۱۳ | طبیعت ګرځ | AgFNR0731 | ۲ |
| ۳ | ځنګلي پېښې | AgFNR0533 | ۳ | ۱۴ | ټولنیزه ځنګلداري او اګروفورستری | AgFNR0732 | ۲ |
| ٤ | د طبیعي سرچینو | AgFNR0534 | ۲ | ۱۵ | اقلیمي بدلونونه | AgFNR0733 | ۲ |
| ۵ | د ځنګلونو اداره او پالیسي | AgFNR0857 | ۲ | ۱٦ | لرګي پېژندنه او د لرګو صنایع | AgFNR0734 | ۳ |
| ٦ | د ځنګلونو روزنه او ګټنه | Ag FNR0858 | ۳ | ۱۷ | ملي پارکونه؛ خوندي شوې سیمې او وحشي ژوي | AgFNR0735 | ۲ |
| ۷ | د طبی ونو بوټو پېژندنه | AgFNR0859 | ۳ | ۱۸ | نباتی سیستماتیک | AgFNR0213 | ۳ |
| ۸ | د چاپېریال پوهنې بنسټونه | AgFNR0214 | ۲ | ۱۹ | چاپېریال ساتنه | AgFNR0860 | ۲ |
| ۹ | د ځنګلونو سروې او اندازه کول | AgFNR0641 | ۳ | ۲۰ | د ځنګلدارۍ بنسټونه | AgFNR0429 | ۳ |
| ۱ | د څرځایونو مدیریت | AgFNR0642 | ۲ | ۲۱ | څېړنیزه پروژه | AgFNR0736 | ۲ |
| ۱ | د ځروبیو مدیریت | AgFNR0643 | ۲ | | | | |

**٦. د ماسټرۍ برنامه**

۱- د حیواني علومو د ماسټرۍ پروګرام

**الف. د ماسټرۍ پروګرام پېژندنه**

د حیواني علومو ماسټري مهمه ډیپارټمنټ ده او په ټوله کې د علومو او تکنالوژۍ هغه برخې رانغاړي چې د خوړو، حیواناتو د تغذیې، جنیتیک او د نسل اصلاح، د هګیو او غوښو د چرګانو روزنه، تولید او نورو برخو په مدیریت، پروګرام جوړونې او د فارمونو په تنظیم کې ګټه ترې اخیستل کېږي. ددغه برنامې موخه دا ده چې په یادو برخو کې متخصصین وروزي او دوی وکړی شي په اړوندو برخو کې تدریس وکړي، څېړنې وکړی شي او تر څنګ یې په دې برخه کې د روزنیزو او تحقیقاتي مرکزونو د مدیریت وړتیا ولري.

دا پروګرام په ۱۳۹۲هـ ل کال کې جوړ شوی او تر ۱۳۹۷هـ ل کال پورې یې ۸۱ کسان فارغ کړي دي. ددې برخې فارغان متخصص او وړ مدیران دي چې په ټولنه کې د ژوو د روزنې، د حیواني تولید د انکشاف او پراختیا او په نورو اړوندو برخو کې په ټولنه کې په ارزښتناکو خدماتو بوخت دي. ددغه برخې متخصصین همدا راز هڅه کوي چې د هېواد حیواني او نور ددې برخې

اړوند تولیدات له نړیوالو معیارونو سره سم شي او وکړی شي چې په نړیواله کچه سیالي وکړي او تر څنګ یې هېواد لـه دې اړخـه پر ځان بسیاینې ته ورسوي.

**ب.موخې**

د حیواني علوم د ماسترۍ موخه دا ده چې د زده کوونکو مسلکي پوهه لوړه کړي، مسلکي مهارتونه خپل کړي څو په عملي او نظري توګه وروزل شي او په بېلو برخو کې لکه جنتیک او د نسل اصلاح، د الوتونکو روزنه، د ژوو د فارمونو مدیریت او نورو کې اغېزناک فعالیت ولري. ددې ځانګې مشخصې موخې دا دي:

- په کار پوه او د مسلکي متخصصینو روزنه
- په دې ډیپارټمنټ کې د اړینو څېړنو ترسره کول
- د حیواني علومو په برخه کې د نوې تکنالوژۍ معرفي او د ښې تګلارې دودول
- د مالدارۍ په برخه کې نوښت رامنځته کول

**ج. توامیتونه**

د حیواني علومو د ماسترۍ ډیپارټمنټ تر اوسه له کوم بهرني پوهنتون سره توامیت نه لري، خو په دې لټه کې دي چې وکـړی شي له سیمه ییزو او نړیوالو پوهنتونونو سره توامیتونه رامنځته کړي.

**د. لابرتوار**

د کرنې پوهنځي یوه برخه د حیواني علومو د فارم لپاره ځانګړې شوې ده چې پـه هغـه کـې ډول ډول ژوي شـته دي او ددغـه پوهنځي محصلین یې په خپلو تجربو کې کارولی شي.

د حیواني علومو په ډیپارټمنټ کې دغه ځانګې ته ځانګړی شوی لابراتوار هم شته دی چې محصلین په خپلو څېړنیزو کـارونو کې له دې لابراتوار ګټه اخلي. هېره دې نه وي چې دغه لابراتوار مجهز نه دی، نیمګړتیاوې لري او د بشپړتیا هڅه یې کېږي.

**هـ. د حیواني علومو د ماسترۍ پروګرام تحصیلي نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حیاتي کیمیا | AnSc-02101 | ۴ | ۹ | د علمي تجربو طرحه کول | AnSc-02206 | ۳ |
| ۲ | د شخوند وهونکیو حیواناتو تغذیه | AnSc-02102 | ۴ | ۱۰ | نسلګیري او په فارمي حیواناتو کې یې مدیریت | AnSc-02207 | ۴ |
| ۳ | د غوښې او شیدو مایکرو بیولوژي | AnSc-02103 | ۲ | ۱۱ | د څارویو او الوتونکیو د خوراک سنجش | AnSc-02208 | ۴ |
| ۴ | د بچونو ایستلو د عملیې مدیریت | AnSc-02104 | ۴ | ۱۲ | د هګی اچوونکیو او غوښنو چرګانو د تولید مدیریت | AnSc-02209 | ۴ |
| ۵ | احصایوي تګلارې | AnSc-02105 | ۳ | ۱۳ | د پریزنټېشن د جوړولو مهارتونه | AnSc-02210 | ۱ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | د غوښې او شیدو تولید ټکنالوژي | AnSc-02313 | ۴ | ۱۴ | فارمي حیواناتو کې د نسل اخیستلو پروسې مدیریت | AnSc-02311 | ۴ |
| ۷ | د پریزنټېشن د جوړولو مهارتونه | AnSc-02314 | ۱ | ۱۵ | د فارم د څارویو د خوراک او تغذیې مدیریت | AnSc-02312 | ۴ |
| ۸ | د مقالې لیکلو اصول | AnSc-02315 | ۲ | ۱٦ | | | |

**۲- د اګرانومۍ د ماسټرۍ پروګرام**

**الف.د ماسټرۍ پروګرام معرفي**

دا ټولو ته معلومه ده چې کرنه د افغانستان د اقتصادي سکتور مهمه برخه جوړوي. په دې ډیپارټمنټ کې د افغانستان ډېرى ناخالص تولید جوړېږي او د افغانستان ډېره برخه نفوس په دې چاره بوخت دی او له دې لارې خپل ژوند تېروي. له بلې خوا اګرانومي ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي له مهمو څانګو ګڼل کېږي چې له کلونو راهیسې فعالیت کوي، ګڼ کادرونه یې ټولنې ته وړاندې کړي خو لا هم د کادرونو له کمښت سره مخ ده او ددې اړتیا وه چې د ماسټرۍ پروګرام په دې ډیپارټمنټ کې جوړ شي.

همدې اړتیا ته په کتو د لوړو زده کړو وزارت د انکشافي پلان پر بنسټ د کابل پوهنتون د اګرانومي پوهنځي د موخو، پلان او پروګرام له مخې د کابل پوهنتون او د افغانستان د زراعتي علومو او تکنالوژۍ د ملي پوهنتون (انستو) د همکارۍ د هوکړې له مخې په ۱۳۹۷هـ ل کال کې د ماسټرۍ برنامه رامنځته شوه. د اګرانومۍ پوهنځي له پرله پسې غوښتنو او هڅو وروسته د لوړو زده کړو وزارت له امکاناتو سره ددغه برنامې رامنځته کېدل و منل او دمګړۍ د کابل پوهنتون په چوکاټ کې فعالیت کوي.

د کابل پوهنتون او انستو ترمنځ د رسمي هوکړې پر بنسټ، د لوړو زده کړو وزارت له لوري د لنډمهاله پروګرامونو د تدریس چارې هم د زراعتي علومو او ټکنالوژۍ د ملي پوهنتون له لارې ترسره کېږي چې ددغه پوهنتون ملاتړی بیا هند دی او دا دواړه برنامې چې هم د کرنې په ملي پوهنتون کې او هم د اګرانومۍ ماسټري ده له دې ملاتړ برخمنې دي.

د مالي ملاتړ د جذب لپاره د کورنیو او نړیوالو بنسټونو ترمنځ هوکړې هم لاسلیك شوې دي چې په دې کې ( ICARDA, CAAI FAO, GRAIN, UNDP,) بنسټونه شامل دي. دغه هوکړې د څېړنو په برخه کې هم لاسلیك شوې دي چې د اګرانومۍ ډیپارټمنټ هم ددې هوکړو له ګټو برخمنېدای شي.

**ب. موخې**

**۱- لیدلوری**

د اګرانومۍ ماسټرۍ پروګرام غواړي چې د غوره تدریسي خدماتو په وړاندې کولو او د وړ متخصصو کادرونو په روزنې سره په سیمه ییزه او نړیواله کچه غوره ځای خپل کړي.

**۲- ماموریت**

د اګرانومۍ د ماسټرۍ ډیپارټمنټ غواړي چې عالي څېړنیز، علمي او عملي خدمات وړاندې کړي، وړ او خپل مسلك ته ژمن کادرونه وروزي، د تدریس او څېړنو په مرسته د هېواد د کرنیز سکتور په چټکه وده کې ونډه واخلي، تخصصي ظرفیتونه لوړ کړي، د اګرانومۍ په بېلو برخو کې د سالم مدیریت او مشرۍ لپاره وړ کسان وروزي.

**۳- بنسټي موخې**

ددغه برنامې اصلي موخه دا ده چې د اګرانومۍ په برخه کې وړ او مسلکي کادرونه وروزي، چې دوی به وکولی شي په سیمه ییزه او نړیواله کچه د کرنې په برخه کې خدمات وړاندې کړي او بېلې ستونزې حل کړي.

**ج. توامیتونه**

د مالي ملاتړ د جذب لپاره د کورنیو او نړیوالو بنسټونو ترمنځ هوکړې هم لاسلیك شوې دي چې په دې کې ( ICARDA, CAAI (FAO, GRAIN, UNDP, بنسټونه شامل دي. دغه هوکړې د څېړنو په برخه کې هم لاسلیك شوې دي چې د اګرانومۍ ډیپارټمنټ هم ددې هوکړو له ګټو برخمنېدای شي.

**د. لابرتوار**

د کرنې پوهنځي یوه برخه د حیواني علومو د فارم لپاره ځانګړې شوې ده چې په هغه کې ډول ډول ژوي شته دي او ددغه پوهنځي محصلین یې په خپلو تجربو کې کارولی شي.

د حیواني علومو په ډیپارټمنټ کې دغه ځانګې ته ځانګړی شوی لابراتوار هم شته دی چې محصلین په خپلو څېړنیزو کارونو کې له دې لابراتوار ګټه اخلي. هېره دې نه وي چې دغه لابراتوار مجهز نه دی، نیمګړتیاوې لري او د بشپړتیا هڅه یې کېږي.

**هـ. د اګرانومۍ د ماسټرۍ پروګرام نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کوډ نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | Introduction to Research Project | Ag 02101 | ۲ | ۱۰ | Advanced Oilseed and Commercial Crops | Ag 02209 | ۲ |
| ۲ | Crop Physiology and Growth Development | Ag 02102 | ۲ | ۱۱ | Seminar on Agronomy | Ag 022010 | ۱ |
| ۳ | Advanced Weed Management | Ag 02103 | ۲ | ۱۲ | Advanced Experiment on Agronomy | | ۵ |
| ۴ | Dry Land Farming and Watershed Management | Ag 02104 | ۲ | ۱۳ | Advanced Forage and Cover Crops | Ag 023011 | ۲ |
| ۵ | Integrated Pest Management | Ag 02105 | ۲ | ۱۴ | Advanced Experiment on Agronomy | Ag 023012 | ۲ |
| ۶ | Seminar on Agronomy | Ag 02106 | ۱ | ۱۵ | Irrigation System Design | Ag 023013 | ۲ |
| ۷ | Advanced Crop | Ag 02207 | ۲ | ۱۶ | Advanced Crop | Ag 023014 | ۲ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کوډ نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Production | | | | Science | | |
| ۸ | Advanced Fodder and Pluses Crops | Ag 02208 | ۲ | ۱۷ | Sustainable Agricultural Technology | Ag 023015 | ۱ |
| ۹ | Soil Fertility and Nutrient Management | Ag 02208 | ۲ | ۱۸ | Seminar on Agronomy | Ag 024016 | ۱ |

**د کرنې څېړنېز فارم**

**د کرنې پوهنځی د جوړېدو له پیله بیا تر ننه د محصلینو او استادانو لپاره څېړنیز فارم لري چې په دوو برخو کې فعالیت کوي**

- په کابل پوهنتون کې بېلابېل څېړنیز باغونه او کروندې چې شاوخوا ٦۰ جریبه کېږي، په دې برخه کې محصلین او استادان خپل څېړنیز فعالیتونه سر ته رسوي، او تر ډېره د کرنیزې پراختیا، د بوټو ساتنه، هارتیکلچر، ځنګلداری او طبیعي سرچینې، خاوره پېژندنه او اوبو لګول، بایو تکنالوژي، د کروړ تخمونو تولید، اګرانومي او نورو فعالیتونه پکې ترسره کېږي. همدا راز دغه پوهنځی د کابل ښار په دارالامان سیمه کې شاوخوا سل جریبه ځمکه لري چې د لومړي نمبر کرنیز فارم اړوند ده.
- د حیواني علومو څېړنیز فارم چې ډول ډول اهلي ژوي پکې راټول کړل شوي او له تېرو کلونو راهیسې په اغېزناکه توګه فعالیت کوي چې د استادانو او شاګردانو د عملي کارونو لپاره یې غوره فرصت برابر کړی دی. په دې فارم کې د حیواني علومو استادان او زده کوونکي خپلې څېړنې ترسره کوي.

# د ځمکپوهنې پوهنځی



**۱. د پوهنځي پېژندنه**

په هېواد کې د لوړو زده‌کړو د مؤسسو له پراختیا او پرمختګ سره سم په ۱۳۵۹ کال کې د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي د جغرافیې ډیپارټمنټ او د ساینس د پوهنځي د متیورولوژي او جیولوژي څانګو له یوځای کېدو د ځمکپوهنې پوهنځی رامنځته شو.

له هغه وروسته په ۱۳۶۱ کال کې د هایدرولوژي په نوم بله ډیپارټمنټ ورزیاته شوه چې د کادري غړیو او بازار کې د اړتیا د کمښت له کبله په ۱۳۶۸ کال کې له متیورولوژي ډیپارټمنټ سره یوځای او په یاد پوهنځي کې یې د هایدرومتیورولوژي ډیپارټمنټ په نامه خپل فعالیت پیل کړ.

په ۱۳۳۰کال کې د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي کې له تاریخ ډیپارټمنټ سره یوځای د جغرافیې ډیپارټمنټ جوړه شوه چې وروسته په نړۍ کې د جغرافیې علم د پراختیا او همداراز لکه نور علوم هېواد کې دننه د جغرافیې برخو کې د څېړنو او پوهنې چارو کې پرمختګ د دې لامل شو، چې په ۱۳۵۴ کال کې د جغرافیې ډیپارټمنټ له تاریخ ډیپارټمنټ بېله او د یوې ځانګړې ډیپارټمنټ په توګه فعالیت ترسره کړي.

له ساینسي علومو سره د نژدېوالي له کبله د جغرافیې ډیپارټمنټ په ۱۳۵۹ کال کې له ادبیاتو بېله او د نوې جوړې شوې ځمکپوهنې پوهنځي له جیولوژي او متیورولوژي څانګو سره خپل فعالیت پیل کړ.

ویلای شو چې جغرافیه د ځمکې پرمخ ټولې پدیدې له خپلو څانګړنو سره تر بېلابېلو عنوانونو لاندې مطالعه کوي. له ټولو وړاندې په فزیکي جغرافیه کې هوا پېژندنه او جیومورفولوژي راځي ځکه چې د هوا او ځمکې پر مخ ساختمانونه له بشر-سره مخامخ اړیکه لري. اقلیم د جغرافیې یوه برجسته موضوع ده چې د ځمکې پر مخ پر ټولو کلتوري او بشري فعالیتونو راخرخي.

لومړیو کې د جغرافیې ډیپارټمنټ د امریکا د نبراسکا پوهنتون سره توامیت/همکاري درلوده چې د وخت په تېرېدو سره په ۱۳۵۹ کال کې په نصاب کې د بدلون له کبله دغه توامیت د المان پوهنتون سره وشو چې له څه څنډ وروسته تر اوسه پورې دوام لري.

په ۱۳۳۴ کال کې د جیولوجستانو د روزنې په موخه د کورنیو او همداراز د بهرنیو الماني متخصصانو په مرسته په دغه پوهنځي کې د کانونو او جیولوژي ډیپارټمنټ جوړ شو او تل یې د جرمني د بن پوهنتون د جیولوژي انستیتوت تخنیکي او علمي همکارۍ

درلودې. وروسته بیا په ۱۳۵۹ کال کې جیولوژي ډیپارټمنټ د وخت د غوښتنو او د پوهنتون د پرمختګ او پلان و پالیسی سره او همدارز د اکاډیمیکې ساحې ځانګړي کولو سره خپل فعالیت د ځمکپوهنې پوهنځي په چوکاټ کې پیل کړ چې تراوسه پورې دوام لري.

په ۱۳۴۲ کال کې ساینس پوهنځي میتورولوژي ډیپارټمنټ خپل علمي فعالیت پیل کړ او په ۱۳۵۹ کال کې نوې جوړه شوې ځمکپوهنې پوهنځي ته ولیږدول شوه. څه موده وروسته په ۱۳۶۱ کال کې د هایدرولوژي په نوم بله ډیپارټمنټ ورزیاته شوه چې د کادري غړیو او بازار کې د اړتیا د کمښت له کبله په ۱۳۶۸ کال کې له متیورولوژي ډیپارټمنټ سره یوځای او په یاد پوهنځي کې یې د هایدرومتیورولوژي ډیپارټمنټ تر نامه لاندې خپل فعالیت پیل کړ.

د وخت په تیریدو او د خپلو اکاډمیکو فعالیتونو په ترسره کولو سره هایدرومتیورولوژي ډیپارټمنټ د هیواد بیلابیلو اقتصادي ادارو ته سلګونه هواپیژندونکي او اوبه پیژندونکي روزلي دي چې د یادې ډیپارټمنټ یوه لویه اساسي او علمي موخه ګڼل کیږي.

**۲. موخې**

د ځمکپوهنې پوهنځي په بیلابیلو کلونو کې د ټولنې او وخت اړتیاوو ته په کتو رنګارنګ د ودې پړاوونه وهلي دي. د یادونې ده چې په ۱۳۵۹ کال کې دوه ډیپارټمنټ متیورولوژي او جیولوژي له سانیس پوهنځي او دریمه ډیپارټمنت د ادبیاتو او بشري علومو جغرافیې ډیپارټمنټ بیلې کړې او نوموړی پوهنځی یې تاسیس کړ. طبیعي سرچینې، د طبیعي سرچینو ارزونه او د ځمکې د طبیعي سرچینو او امکاناتو او اسانتیاوو ته لاس‌رسی د هر هیوادوال اساسي حق دی؛ نو د یادې چارې ترسراوي لپاره اړینه وه چې یاد پوهنځی جوړ شي تر څو په دې برخه کې کادري مسلکي او تخصصي کسان وروزي.

**الف. لیدلوری**

د ځمکپوهنې پوهنځی د ګټورو علمي او تحصیلي خدماتو په وړاندې کولو سره افغاني ټولنې او د هیواد ځوان کهول ته د پرمختګ او ظرفیت جوړونې لپاره کړکی پرانیزي.

د ځمکپوهنې پوهنځي لیدلوری له نړیوالو سټندردونو او نورمونو سره مطابق د یوه معیاري، ښه کیفیت لرونکي تحصیلي او علمي سیسټم رامنځته کول دي چې له تعصب او منفي کړنو څخه پاک وي چې له یوه لوري له مجهزو او نویو ټکنالوژی برخه‌من دی او له بل لوري د ښه اداري او علمي مدیریت خاوند دی چې د وزارت او پوهنتون په کچه ځانګړی ځای لري.

**ب. ماموریت**

د ځمکپوهنې پوهنځی اوس‌مهال د خپلو دریو ډیپارټمنټونو هایدرومتیورولوژي، جیولوژي او جغرافیې چې د ځمکې اتموسفیر( Atmospher)، هایدروسفیر (Hydrosphere)، لیتوسفیر ( Lithosphere) او بایوسفیر (Biosphere) مطالعه، څیړي او ارزوي.

د ځمکپوهنې پوهنځی چې په ۳ څانګو کې یې فارغان ورکړي په ۱۳۵۹ ه.ش کې د ځمک‌پیژندونکیو د روزنې په موخه جوړه او تر اوسه پورې یې بیلابیلو برخو کې لکه د اوبو، هوا، کانونو، طبیعي سرچینو، جغرافیې او چاپیریال ساتنې برخو کې د لسانس په کچه زرګونه متخصصان ټولنې ته په علم روزلي وړاندې کړي چې بیلابیلو وزارتونو او یو شمیر ادارو کې دندې پر مخ وړي. اوسمهال هیواد کې هم اړتیا ده چې د ځمکپوهنې برخه کې خلک وروزي ترڅو د هیواد د طبیعي سرچینو نه په کار اخیستو کې کلیدي رول ولوبوي.

**ج.اساسي موخې**

طبیعي سرچینې، د طبیعي سرچینو ارزونه او د ځمکې د طبیعي سرچینو او امکاناتو او اسانتیاوو تـه لاس‌رسـی د هـر هېـوادوال اساسي حق دی. نو د یادې چارې ترسراوي لپاره اړینه وه چې یاد پوهنځي جوړ شي تر څو په دې برخـه کـې کـادري مسـلکي او تخصصي کسان وروزي.

یادو موخو ته رسېدو لپاره اړینه وه چې په مډرنو علومو سمبال د ځمکپوهنې پوهنځی جوړ شي چې لاندې موخې لري:

- ټولنې ته د ځوانو متخصصو، ځمکپوهانو، جیولوجستانو، جغرافیه پوهانو، هایدرومتیورولوجي په علم سمبالو کسـانو وړانـدې کول؛
- د هېواد د طبیعي سرچینو برخه کې د ځمکپوهنې د فعالو، په عصري علمـي او تخنیکـي چـارو کـې د سـمبالو فارغـانو برخـه اخیستل؛
- د ځمکپوهنې د فارغانو پر مټ د هېواد د دولتي ادارو د مسلکي او فني چارو پرمخ وړل؛
- د کمیت او کیفیت له مخې د افغانستان د طبیعي سرچینو د ډېټا د شمېرو تحلیل؛
- د افغانستان د ټولو طبیعي سرچینو د سمې پېژندنې، ودې او علمي کارونو کې د ځمکپوهنې د فارغانو د فعالې ونډې لرل؛
- د هېواد له ټولو طبیعي سرچینو لکه له اوبو، هوا، کانونو او چاپېریال څخه سمه او پر ځای کارونه او ساتنه؛
- یادو موخو ته رسېدو لپاره اړینه ده چې نوی تحصیلي نصاب عملي شي او همداراز هـره ډیپارټمنـټ ځانتـه ځـانگړې مـوخې لري چې بېلابېلو برخو کې یې شرحې شوې دي.

**۳. تواميتونه/ ملگرتیاوې**

۱. بله هرنیو موسسو سره؛

- د غرونو د پراختیا نړیوالې موسسې سره ( ICIMOD) او
- GIZ موسسې سره.

۲. له وزارتونو او ملي ریاستونو سره

- د اوبو او انرژۍ وزارت هایدرولوژي ریاست سره؛
- د اوبو او انرژۍ وزارت هایدروجیولوژي ریاست سره؛
- د افغانستان د هواپېژندنې ملي ادارې سره؛
- دکانونو او پټرولیم وزارت د جیولوژي د سروې له ریاست سره؛
- د کارتوگرافۍ او جیودیزۍ ریاست سره.

**۴. ډیپارټمنټ/ ډیپارټمنټونه**

د ځمکپوهنې پوهنځی درې ډیپارټمنټونه لري چې هر یو یې د ټولنې اړتیاوو ته په کتو جوړ شـوی دی چـې عمـلي فعالیتونـه لري او په لنډ ډول مو په دې اړه خبرې هم وکړې.

**۱. د جغرافیې ډیپارټمنټ**

الف. د ډیپارټمنټ پېژندنه

په ۱۳۳۰کال کې د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي کې له تاریخ ډیپارټمنټ سره یوځای د جغرافیې ډیپارټمنټ جوړه شوه چې وروسته په نړۍ کې د جغرافیې علم د پراختیا او همداراز لکه نور علوم هېواد کې دننه د جغرافیې برخو کې د څېړنو او پوهنې چارو کې پرمختگ د دې لامل شوه چې په ۱۳۵۴ کال کې د تاریخ له ډیپارټمنټ بېله او د یوې ځـانگړې ډیپارټمنـټ پـه توگـه فعالیت ترسره کړي.

له ساينسي علومو سره د نږدېوالي له کبله د جغرافيې ډيپارټمنټ په ۱۳۵۹ کال کې له ادبياتو بېله او د جيولوژي او متيورولوژي څانګو سره يوځای او د ځمکپوهنې پوهنځی يې جوړ کړ.

کله چې په ۱۳۵۹ کې ځمکپوهنې پوهنځی جوړ شو نو د ياد پوهنځي د پرمختګ لپاره لازم ګامونه واخيستل شول چې د يادې ډيپارټمنټ د استادانو د هڅو له کبله پر تحصيلي نصاب بيا کتنه وشوه او يو شمېر نوي مضمونونه چې اوس مهال د نړۍ په پوهنتونونو کې تدريسېږي د يادې ډيپارټمنټ په نصاب کې ورزيات شول.

د تدريس ميتود او د درسي موادو امکانات مهم موارد دي چې په وروستيو کلونو کې يې د ښه والي په موخه پرې کار شوی دی تر څو د يادې ډيپارټمنټ لابراتوارونه مجهز شي. همدې لپاره المان يادو لابراتوارونو ته توکي او نور تجهيزات مرسته وکړه.

**ب. موخې**

د انسان په اړه د ځمکې د مخ سمه پېژندنه، له بشري او طبيعي سرچينو سمه ګټه اخيستنه، د مزاياوو او عيبونو ارزونه او همداراز د ځمکې د طبيعي سرچينو او امکاناتو او اسانتياوو ته لاس رسی د هر هېوادوال اساسي حق دی. نو د يادې چارې ترسراوي لپاره اړينه وه چې ياد پوهنځي جوړ شي تر څو په دې برخه کې کادري مسلکي او تخصصي کسان وروزي.

د جغرافيې پېژندونکيو، علمي کادرونو، مسلکي او تخصصي کسانو روزل چې په عصري علومو سمبال وي ترڅو د هېواد د طبيعي سرچينو برخه کې او همداراز په دولتي سکټور کې لکه د ځمکو سروې، د چاپېريال ساتنه، پېښو سره مبارزه، د کليو او بيارغونې وزارت، ښارجوړونې، ښارواليو او همداراز د نادولتي سکټورونو لکه نړيوال بنسټونه او نورو برخو کې ونډه واخلي، کسان وروزي؛

- د يادې ډيپارټمنټ پر فارغانو د هېواد د دولتي او نادولتي سکټور ادارو د طبيعي سرچينو د فني او مسلکي چارو مخته وړل؛
- د کميت او کيفيت له مخې د طبيعي سرچينو اړوند د ډېټاوو او شمېرو تحليل.

**۱. ليدلوری**

د جغرافيې ډيپارټمنټ د افغانستان د ځوانانو لپاره د علمي او تحصيلي خدماتو د وړاندې کولو او همداراز د اکاډميک پرمختګ او بشري ظرفيت جوړولو په موخه جوړه شوې.

د جغرافيې د ډيپارټمنټ موخه داده چې په هېواد او سيمه کې د جغرافيايي مسلو په اړه د پوهاوي علمي مرکز جوړ کړي او همدارنګه د نړيوالو معيارونو او نورمونو سره سم د باکيفيته علمي زده کړو سيستم رامنځته کړي.

**۲ . ماموريت**

د انسان په اړه د ځمکې د مخ سمه پېژندنه، له بشري او طبيعي سرچينو سمه ګټه اخيستنه، د مزاياوو او عيبونو ارزونه او همداراز د ځمکې د طبيعي سرچينو او امکاناتو او اسانتياوو ته لاس رسی د هر هېوادوال اساسي حق دی. نو د يادې چارې ترسراوي لپاره اړينه وه چې ياد پوهنځي جوړ شي تر څو په دې برخه کې کادري مسلکي او تخصصي کسان وروزي.

- د جغرافيه پوهانو ، علمي کادرونو، مسلکي او تخصصي کسانو روزل؛
- په عصري علومو د سمبال ځوانانو روزل ترڅو د هېواد د طبيعي سرچينو برخه کې او همداراز په دولتي سکټور کې لکه د ځمکو سروې، د چاپېريال ساتنه، پېښو سره مبارزه، د کليو او بيارغونې وزارت، ښارجوړونې، ښاروالیو او همداراز د نادولتي سکټورونو لکه نړيوال بنسټونه او نورو برخو کې ونډه واخلي؛
- د يادې ډيپارټمنټ پر فارغانو د هېواد د دولتي او نادولتي سکټور ادارو د طبيعي سرچينو د فني او مسلکي چارو مخته وړل؛

- جغرافيې ډيپارټمنټ کې د ماسټرۍ برنامې ايجادول؛
- دوکتوار او ماسټرۍ کچې ته د استادانو د عملي سويو لوړول؛
- د علمي لوړتيا په موخه د استادانو علمي ترفيعات؛
- د جغرافيې مجلې خپرول؛
- د نويو کادرنو تقرر او

- د اړتیا وړ درسي کتابونو تالیف.

**۳ . اساسي موخې**

د ځمکپوهنې پوهنځي د جغرافیې ډیپارټمنټ د دې ډیپارټمنټ د محصلانو، استادانو او کارکوونکیو د تحصیلي کچې د لوړولو ترڅنګ هڅه کوي چې د لاندې موخو د ترلاسه کولو په موخه د دې ډیپارټمنټ نصاب معیاري کړي.

- د جغرافیې برخه کې د لسانس تر کچې د علمي کادرونو روزل؛
- د ټولنې او محصلانو اړتیاوو ته په کتو د ښه کیفیت روزنې خدماتو وړاندې کول؛
- لوړو او د کارونې وړ علمي څېړنو لپاره د امکاناتو او اسانتیاوو برابرول؛
- د ډیپارټمنټ په کچه د روزنیزې ټکنالوژۍ او سرچینو ایجاد او پرمختیا؛
- د ډیپارټمنټ د استادانو او محصلانو د ارزیابۍ د سیستم معیاري کول؛
- د فعال تدریس روشونو او د روزنې د سیستم ښه والی او اصلاح او
- د محصلانو د ساحوي کارونو ترسراوي لپاره له اړوندو موسساتو سره د اړیکو په موخه د ګټورو اړیکو جوړول.

**ج. تواميتونه**

۱. بهرنیو موسسو سره: د غرونو د پراختیا نړیوالې موسسه ( ICIMOD) ؛ GIZ موسسه؛ د امریکا نبراسکا پوهنتون؛ د المان ګېسن پوهنتون او د المان DAAD.

2. له وزارتونو او ملي ریاستونو سره: د کارتوګرافۍ او جیودیزۍ ریاست.

**د. لابراتوارونه او روزنیز تجهیزات**

د ډیپارټمنټ ډېر درسونه په لابراتوارونو کې ترسره کېږي چې څو لابراتواره د یوه ټکنېشن له لوري کنټرولېږي او ټکنېشن خپل راپور د اړوندې ډیپارټمنټ امر ته ورکوي.

د جغرافیې ډیپارټمنټ لابراتوارونه

د انځورګرۍ لابراتوار.

GIS لابراتوار.

**هـ. د تخصصي مضمونونو تحصیلي نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | استرانومي | Geo-GG-1-2-100 | ۲ | ۲۱ | چاپېریالي جغرافیه | Geo-GG-3-2-116 | ۲ |
| ۲ | علمي لیکنه | Geo-GG-1-2-107 | ۲ | ۲۲ | کارټوګرافي 1 | Geo-GG-3-4-119 | ۴ |
| ۳ | احصایوي جغرافیه | Geo-GG-6-2-144 | ۲ | ۲۳ | د نړۍ طبیعي سیمې | Geo-GG-3-2-120 | ۲ |
| ۴ | د فزیکي جغرافیې بنسټونه | Geo-GG-2-2-110 | ۲ | ۲۴ | ټولنیزه جغرافیه او د نړۍ فرهنګونه | Geo-GG-3-2-121 | ۲ |
| ۵ | د بشري جغرافیې بنسټونه | Geo-GG-2-2-111 | ۲ | ۲۵ | د افغانستان طبیعي جغرافیه | Geo-GG-3-4-122 | ۴ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | د کمیت او کیفیت(څومره والي او څرنګوالي) میتود | Geo-GG-2-2-115 | ۲ | ۲۶ | اقتصادي جغرافیه 2 | Geo-GG-5-4-135 | ۴ |
| ۷ | کارټوګرافي 2 | Geo-GG-4-4-127 | ۴ | ۲۷ | د اوقیانوس او اسیا جغرافیه | Geo-GG-5-4-136 | ۴ |
| ۸ | اقتصادي جغرافیه ۲ | Geo-GG-4-4-128 | ۴ | ۲۸ | جیودیزي | Geo-GG-5-2-137 | ۲ |
| ۹ | بشري جغرافیه AF | Geo-GG-4-4-129 | ۴ | ۲۹ | GIS-1 | Geo-GG-5-4-140 | ۴ |
| ۱۰ | کلیواله جغرافیه | Geo-GG-4-2-123 | ۲ | ۳۰ | ریموټ سنسنګ | Geo-GG-5-4-138 | ۴ |
| ۱۱ | ظرفیت لوړونه | Geo-GG-4-2-124 | ۲ | ۳۱ | ښاري جغرافیه | Geo-GG-5-2-130 | ۲ |
| ۱۲ | د ګرځندوی جغرافیه | Geo-GG-4-2-152 | ۲ | ۳۲ | د ځمکې حغرافیه | Geo-GG-7-2-132 | ۲ |
| ۱۳ | جیومورفولوژي | Geo-GG-6-4-134 | ۴ | ۳۳ | اقلیمپېژندنه | Geo-GG-7-2-131 | ۲ |
| ۱۴ | GIS-2 | Geo-GG-6-4-150 | ۴ | ۳۴ | د اوبو جغرافیه | Geo-GG-7-2-132 | ۲ |
| ۱۵ | حیاتي جغرافیه | Geo-GG-6-2-141 | ۲ | ۳۵ | سیاسي جغرافیه | Geo-GG-7-4-147 | ۴ |
| ۱۶ | د افریقا منطقوي جغرافیه | Geo-GG-6-4-142 | ۴ | ۳۶ | د اروپا جغرافیه | Geo-GG-7-4-148 | ۴ |
| ۱۷ | د ټرانسپورټ جغرافیه | Geo-GG-6-4-145 | ۴ | ۳۷ | د افغانستان تاریخي جغرافیه | Geo-GG-7-4-149 | ۴ |
| ۱۸ | د نفوسو جغرافیه | Geo-GG-8-4-116 | ۴ | ۳۸ | د امریکا منطقوي جغرافیه | Geo-GG-8-4-155 | ۴ |
| ۱۹ | د طبیعي پېښو د خطرونو جغرافیه | Geo-GG-8-2-156 | ۲ | ۳۹ | د افغانستان اقتصادي جغرافیه | Geo-GG-8-4-134 | ۴ |
| ۲۰ | اټموسفیر، جیوسفیر و بایوسفیر | Geo-GG-8-2-123 | ۲ | ۴۰ | مونوګراف | . | ۴ |

### ۲. جیولوژي ډیپارټمنټ

#### الف. پېژندنه

د جیولوژي ډیپارټمنټ په ۱۳۳۴ کال کې ساینس پوهنځي کې تاسیس شو او د څمکپوهنې پوهنځي له جوړېدو وروسته په ۱۳۵۹ کال کې د نوموړي پوهنځي د یو ډیپارټمنټ په توګه ورګډ شو. جیولوژي ډیپارټمنټ دې لپاره جوړ شو چې ټولنې لپاره دې برخه کې د متخصصو کسانو اړتیا لیدل کېده چې ویې شوای کولای د لیسانس په کچه جیولوجسټ ځوانان ټولنې ته وړاندې کړي وکولای شي د طبیعي سرچینو د کارونې برخه کې کلیدي رول ولوبوي.

دغه ډیپارټمنټ ټولنې ته له ۱۳۳۴ کال راهیسې بلها شمېره ځوان او مسلکي متخصصین وړاندې کړي.

په ۱۳۵۹ کال کې د څمکپوهنې پوهنځي له جوړېدو وروسته، د دې ډیپارټمنټ د لا ښه پرمختګ لپاره اړین او اغېزمن ګامونه پورته شول چې د اوسنیو پرمختګونو او د دې ډیپارټمنټ د استادانو د هڅو په پایله کې پر نصاب بیا کتنه وشوه او د وخت د اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو شمېر نوي مضمونونه چې د نړۍ په نورو پوهنتونونو کې تدریسېږي؛ د دې ډیپارټمنټ په نوي نصاب کې شامل شول.

د تدریس طرز او د درسي موادو امکانات مهم موارد دي چې په وروستیو کلونو کې یې د ښه والي په موخه پرې کار شوی دی چې د یاد ډیپارټمنټ لابراتوارونه مجهز شي. همدې لپاره د جرمني له خوا له یادو لابراتوارونو د سره د موادو او نورو تجهیزاتو مرسته وکړه چې اوس‌مهال ګټې اخیستنې ته تیار دي.

#### ب. موخې

د طبیعي سرچینو او د هغوی ارزونه او همدارنګه د څمکې طبیعي اسانتیاوو او طبیعي سرچینو ته لاسرسی د هېواد د هر وګړي اساسي حق دی، د دې کار د ترسراوي لپاره اړتیا وه چې د جیولوژي ډیپارټمنټ جوړه شي چې متخصص او مسلکي کسان ټولنې ته وړاندې کړي. یادو موخو ته رسېدو لپاره اړینه وه چې په مډرنو علومو سمبال د جیولوژي ډیپارټمنټ جوړه شي چې لاندې موخې لري:

- ټولنې ته د ځوانو روزل شویو او متخصصو جیولوژستانو وړاندې کول؛
- د هېواد د طبیعي سرچینو برخه کې د څمکپوهنې د فعالو، په عصري علمي او تخنیکي چارو کې د سمبالو فارغانو برخه اخیستل؛
- د یادې ډیپارټمنټ پر فارغانو د هېواد د دولتي او نادولتي سکټور ادارو د طبیعي سرچینو د فني او مسلکي چارو مخته وړل؛
- د کمیت او کیفیت له مخې د افغانستان د طبیعي سرچینو د ډېټا او شمېرو تحلیل؛
- د افغانستان د ټولو طبیعي سرچینو د سمې پېژندنې، ودې او علمي کارونو کې د جیولوژي ډیپارټمنټ د فارغانو د فعالې ونډې لرل؛

#### ۱. لیدلوری

جیولوژي ډیپارټمنټ تل هڅه کړې چې د زده کړې، څېړنیزو او اعلاناتو پر پروګرامونو بیاکتنه وکړي ترڅو د لوړې کچې زده کړې چمتو کړي او ټولنې ته تکړه، وړ او مسلکي جیولوژستان وروزي.

#### ۲. ماموریت

د جیولوژي ډیپارټمنټ هڅه کوي چې په هر محصل کې نوښت او اړین مهارتونه رامنځته کړي. په دې علمي چاپېریال کې د څېړنې له لارې د بنسټي مفاهیمو او تخنیکونو په زده کړه تمرکز کول د دې لامل کېږي چې په ټولنیزو، فرهنګي او بشري مسایلو او

ژورو اخلاقي ارزښتونو کې مسلکي پرمختګ وشي. په دې توګه، د نوي علم او ساینسي څېړنو خپرولو له لارې د ټولنې پرمختګ کې مرسته کوي.

د جیولوژي ډیپارټمنټ ځانګړې موخې په لاندې ډول دي:

په دولتي، خصوصي مؤسسو او صنعت کې د مسلکي پوستونو ترلاسه کولو لپاره د مسلکي کسانو چمتو کول؛

- د علومو په نورو څانګو کې د ځمکې او چاپیریال د زده‌کړو په اړه د پوهاوي لوړول؛

- د تعلیمي پروګرامونو له لارې په عمومي کچه د ځمکې د علومو ډېر پوهاوی.

**۳. اساسي موخې**

د ځمکپوهنې پوهنځي جیولوژي ډیپارټمنټ د محصلینو، استادانو او کارکوونکیو د تحصیلي کچې د لوړولو ترڅنګ هڅه کوي چې د لاندې موخو د ترلاسه کولو په موخه د دې ډیپارټمنټ نصاب معیاري کړي.

- د کاني سرچینو او جیولوژي برخه کې د لسانس تر کچې د علمي کادرونو روزل؛
- د ټولنې او محصلینو اړتیاوو ته په کتو د ښه کیفیت روزنې خدماتو وړاندې کول؛
- لوړو او کاري علمي څېړنو لپاره د امکاناتو او اسانتیاوو برابرول؛
- د ډیپارټمنټ په کچه د روزنیزې ټکنالوژۍ او سرچینو ایجاد او پرمختیا؛
- د ډیپارټمنټ د استادانو او محصلینو د ارزونې د سیستم معیاري کول؛
- د فعال تدریس د لارو چارو او د روزنې د سیستم ښه والی او اصلاح؛
- او د محصلانو د ساحوي کارونو ترسراوي لپاره له اړوندو مؤسساتو سره د اړیکو په موخه د ګټورو اړیکو جوړول.

**ج. توامیتونه/ ملګرتیاوې**

- له ۲۰۰۱ کال راهیسې د المان له بن پوهنتون سره تر اوسه پورې همکاري؛
- د المان GIZ مؤسسې سره همکاري؛
- له کانونو او پټرولیم وزارت سره همکاري.
- د . لابراتوارونه او روزنیز تجهیزات
  - خاوره پېژندنه؛
  - هایدروجیولوژي؛
  - پالینتولوژي؛
  - کرسټل ګرافي؛
  - انځورګرۍ؛
  - پټروګرافي؛
  - د تیرو مایکروسکوپي او
  - جیوانجنیري.

**هـ. د تخصصي مضمونونو تحصیلي نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تاریخي جیولوژي –I | GEO-GL27 | ۲ | ۲۰ | پالنتیولوژي (ماکروپالنتیولوژي)I | GEO-GL25 | ۳ |
| ۲ | جیومورفولوژي | GEO-GL29 | ۲ | ۲۱ | کرسټل اوپټیک | GEO-GL31 | ۱ |
| ۳ | کرسټالوګرافي | GEO-GL30 | ۳ | ۲۲ | تحلیلي او کمیتي کیمیا | GEO-GL32 | ۲ |
| ۴ | د راسبې پټروګرافي | GEO-GL40 | ۳ | ۲۳ | منرالوژي-I | GEO-GL34 | ۳ |
| ۵ | د ناریه ډبرو پټروګرافي | GEO-GL26 | ۳ | ۲۴ | د افغانستان جیولوژي | GEO-GL41 | ۲ |
| ۶ | جیوفزیك | GEO-GL33 | ۳ | ۲۵ | رسوب پېژندنه | GEO-GL48 | ۳ |
| ۷ | منرالوژي-II | GEO-GL35 | ۲ | ۲۶ | تاریخي جیولوژي–II | GEO-GL41 | ۲ |
| ۸ | هایدروجیولوژي | GEO-GL38 | ۳ | ۲۷ | انځورګری -I | GEO-GL46 | ۲ |
| ۹ | د انځورګری اساسات– I | GEO-GL44 | ۲ | ۲۸ | د ډبرو مایکروسکوپي | GEO-GL37 | ۲ |
| ۱۰ | ساختماني جیولوژي او تخنیکونه –I | GEO-GL49 | ۳ | ۲۹ | نافلزي کانپوهنه | GEO-GL51 | ۲ |
| ۱۱ | پتروګرافی احجار متحوله | GEO-GL36 | ۳ | ۳۰ | د ډبرو سکرو جیولوژي | GEO-GL56 | ۲ |
| ۱۲ | هایدروشیمي | GEO-GL39 | ۲ | ۳۱ | د چاپېریال جیولوژي –II | GEO-GL58 | ۲ |
| ۱۳ | جیوفزیك –I | GEO-GL42 | ۳ | ۳۲ | انځورګری –II | GEO-GL47 | ۲ |
| ۱۴ | د انځورګری اساسات – II | GEO-GL45 | ۲ | ۳۳ | مونوګراف | GEO-GL71 | ۴ |
| ۱۵ | د فلزو -کان علم | GEO-GL50 | ۳ | ۳۴ | ریموت سنسنګ او GIS | GEO-GL54 | ۳ |
| ۱۶ | د پټرولیم جیولوژی | GEO-GL55 | ۲ | ۳۵ | د انجنیری جیولوژي | GEO-GL59 | ۲ |
| ۱۷ | د چاپېریال جیولوژي –I | GEO-GL57 | ۲ | ۳۶ | د منرالونو سپړنه | GEO-GL61 | ۲ |
| ۱۸ | خاوره پېژندنه | GEO-GL65 | ۳ | ۳۷ | انځورګری –II | GEO-GL47 | ۲ |
| ۱۹ | سیمه‌ییزه جیولوژي | GEO-GL69 | ۲ | ۳۸ | د داخلي قواوو عمومي جیولوجي | GEO-GL01 | ۳ |

**۳. د هایدرو متیورولوژي ډیپارټمنټ/ د هوا پېژندنې ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د هوا پېژندنې ډیپارټمنټ لومړي ځل په ۱۳۳۹ کال کې د طبیعي علومو د پوهنځي په چوکاټ کې د هوا پېژندونکو د روزنې په موخه جوړ شو او له ځو کلونو راهیسې یې د هوا پېژندنې پوهان ټولنې ته وړاندې کړي دي. په ۱۳۵۹ کال کې د هوا پېژندنې ډیپارټمنټ د طبیعي علومو له پوهنځي بېله او د جیولوژي له نوي تاسیس شوي پوهنځي سره یوځای شو. په ۱۳۶۰ کال کې د هایدرولوژي په نوم یوه بل ډیپارټمنټ د انجنیری له پوهنځي بېل او د ځمکپوهنې پوهنځي کې یې د اوبو د مسایلو د متخصصانو د روزلو په موخه په کار پیل وکړ.

په ۱۳۶۸ کال کې د هایدرومیټرولوژي ډیپارټمنټ د ساینسي شاخصونو د غوښتنو او د افغاني ټولنې د اړتیاوو او د هوا او اوبو ترمنځ د نږدې اړیکو له مخې د هوا پېژندنې له ډیپارټمنټ سره یو ځای شو چې وروسته یې د هایدرومتیورولوژي ډیپارټمنټ کې د دولتي او نادولتي ادارو ته د ځوانانو د روزلو په موخه فعالیت پیل کړ.

اوس مهال، د هایدرومیټرولوژي ډیپارټمنټ، د دې ساحې د فارغانو د بېړنیو اړتیاو پر بنسټ، د اوبو او انرژۍ، کرنې او مالدارۍ، ټرانسپورټ، ټولګټو چارو، د کلیو د بیارغونې، اقتصاد، ښارجوړونې، پوهنې، ملي دفاع، کانونو او پټرولیم، چاپېریال ساتنې، له طبیعي پېښو سره د مبارزې، د هوا پېژندنې ملي ریاست او د هوایي چلند ادارې لپاره کسان روزي.

د پورته یادو شویو وزارتونو او ادارو پرته د هوا پېژندنې ډیپارټمنټ فارغان د دولتي او نادولتي نړیوالو موسسو په اقتصادي سکتور کې د خدماتو پر وړاندې کولو بوخت دي.

**ب. موخې**

څرنګه چې هر پوهنځی د ټولنې اړتیاوو او د وزارتونو د کاري پروګرامونو جوړښت چې مسلکي خدمتونه وړاندې کوي؛ رامنځته کېږي چې د هواپېژندنې ډیپارټمنټ هم د دولتي ادارو د مسلکي اړتیاوو او د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د مسلکي فارغانو د روزنې موخې لپاره فعالیت پیل کړی دی. چې په لاندې توګه یې ځینې موخې بیانوو:

اوبو او انرژۍ، د کانونو او پټرولیم، اوبو لګولو ا مالدارۍ، د کلیو د بیارغونې، ښارجوړونې، ملي دفاع وزارت، هوایي ځواک او د هوا پېژندنې د هوا ساتنې د ملي ادارې او یو شمېر نورو دولتي‌او نادولتي ارګانونو لپاره د کادرونو روزل؛

- د محصلانو د لومړنیو زده‌کړو بسنې د پیاوړي کولو په توګه د نوي تعلیمي سیستم جوړول.

- د هغو زده کوونکو لپاره د ظرفیت لوړول چې دهایډرولوژۍ برخه کې لا تر اوسه د کمپیوټر او انټرنیټ له ټیکنالوژۍ سره بلد نه دي.

- د څېړنیزو مقالو لیکلو وړتیا پیداکول، مونوګراف لیکل او د لیسانس دورې لپاره د تېزس چمتو کول.

- د ظرفیت لوړنې په موخه په شفاهي توګه او هم په پاورپواینټ کې د سیمینارونو، ورکشاپونو، علمي کانفرنسونو او د لیکچرونو وړاندې کول.

- اړتیا وړ د ظرفیت لوړونې لپاره له لیسانس برنامې نه پرته د کمپیوټر او ریاضیکي ماډلونو سره اشنا کېدل.

- د ظرفیت لوړول او په هېواد کې دننه او بهر د ماسټرۍ په کچه د لوړو زده‌کړو لپاره د زده‌کوونکیو چمتو کول.

- تر خپلې وسې پورې هڅه کول چې د یاد ډیپارټمنټ محصلین په تخنیکي او علمي برخو کې داسې وروزل شي چې دګاونډیو هېوادونو له محصلانو سره سیالي وکړي.

**۱.لیدلوری**

دا چې د هوا پېژندنې ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون یوه اساسي او نوې ډیپارټمنټ دی او تراوسه پورې یې لومړنۍ اړتیاوې هم نه دي پوره شوي، نو راتلونکي کې باید د متیورولوژي او هایدرولوژي پر لابراتوارونو سمبال شي.

همداراز غوره ده چې د ځمکپوهنې پوهنځي کې د اوبو د مدیریت هایدرولوژي په نامه یو بل ډیپارټمنټ هم جوړ شي.

له بلې خوا، د اړتیاوو د پوره کولو او د لومړیتوبونو د پوره کولو لپاره باید د اړوندو دولتي او نادولتي ادارو سره د کاري اړیکو ډاډ ترلاسه کولو لپاره هر اړخیزې هڅې وشي.

د استادانو او محصلینو د علمي او اکاډمیکي کچې د لوړولو په موخه د سیمینارونو، ورکشاپونو، علمي کانفرنسونو، د تدریس، څېړنو د کیفیت د لوړولو او مسلکي خدمتونه وړاندې شي چې د نوموړي ډیپارټمنټ فارغان وکولای شي په راتلونکي کې د ملي

اقتصاد په بېلابېلو څانگو کې سیالی وکړي او همداراز په راتلونکي کې هم د اقتصادي ودې او د ټولنې پـه پرمختـگ کـې د ملـت جوړونې او د هېواد په ثبات کې د پام وړ ونډه لري.

**۲. ماموریت**

د هایدرومیټرولوژي ډیپارټمنټ د ټولنې د اړتیاوو د پوره کېدو په موخه او د علمي اغېزمنتیا لپاره د لیسانس او مسلکي کسانو په لور د ځوانو کارکوونکیو د روزنې ماموریت لري، په څانگړې توگه کوم چې پورته یاد شوي دي چې د دوامدار پرمختـگ لپـاره د معاصرې ټیکنالوژۍ ودې او پراختیا ته په پام سره د ټولنې هوساینې لپاره او همداراز د خلکو او د اوسني عصر اړتیاوې په پام کـې ونیسي او ټولنې ته یې وړاندې کړي.

د افغانسـتان د ټـولنې او خلکـو د بېړنـی اړتیـا پـه پـام کـې نیولـو سره، د ټولـو وزارتونـو او ادارو لپـاره چـې د هواپېژنـدنې او هایدرولوژي په برخو کې کسانو ته اړتیا لري، تخنیکي کسان روزي.

**۳. اساسي موخې**

د هایدرومیتیرولوژي ډیپارټمنټ د لیدلوري په پام کې نیولو سره، د یادې ډیپارټمنټ اساسي موخې په لاندې ډول ښودلی شو:

- د لابراتوارونو او د تدریسي سټیشنونو پراختیا او رامنځته کول او له اړوندو ادارو سره د دوامدارو اړیکو ساتل؛
- د ماسټرۍ او دوکتورا کچې ته د دې ډیپارټمنټ د علمي کادري غړیو زیاتوالی او د کمیت او کیفیت د ښه والي لپاره د دوی له علمي تجربو گټه اخیستل؛
- په اکاډمیکو برخو کې د علمي، تخنیکي او مسلکي پرمختگونو په موخه د دې ډیپارټمنټ پر نصاب بیا کتنه او د تـدریس د طریقې او څېړنې د طریقې اصلاح؛
- د ماسټرۍ د پروگرام کریکولم او درسي مفردات به د جنوبي اسیا هېوادونو HUC او ICIMD په مالي‌مرسته جوړ شي.
- د محصلینو د استعدادونو د ودې لپاره د مناسب اکاډمیک چاپیریال رامنځته کول او همداراز په ډیپارټمنټ کې د اسـتادانو او محصلینو ترمنځ د همکارۍ روحیه رامنځته کول؛
- د علمي او اکاډمیکو بنسټونو ترمنځ لکه د څانگو، پوهنځیو، پوهنتونونو او اړوندو دفترونو سره د متقابلو اړیکو ټینگول او
- له کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره داړیکو د ټینگولو او د همکارۍ د ترلاسه کول هڅه.

**ج. توامیتونه**

د هواپېژندنې ډیپارټمنټ له کورنیو او بهرنیو موسسو سره علمي او تخنیکي همکاري لري چې کولای شو ځینې یې لاندې یـاد کړو:

- د سټندرد ملي کمېټه او همداراز د اقلیم د بدلون اداره NEPA؛
- د ICIMOD، HUC مؤسسې او همداراز د جنوبي اسیا د اقلیم د بدلون اداره؛
- د ICIMOD اداره؛
- د اوبو IWRM اداره، د ICIMOD،ادارې سره او همداراز د اوبو لگولو او ابو او انرژۍ وزارتونو سره؛
- د هواپېژندنې ادارې سره؛
- د امریکا د کلورادو پوهنتون CHARIS موسسې سره؛
- ICIMOD ادارې سره؛
- همداراز د هایدرومتیورولوِژي ډیپارټمنټ د انرژۍ وزارت SWARMA پروژه کـې د کرایوسـفیر مطالعـاتو او ICIMOD ادارې د اوبو سرچینې سره.

له پخوانیو همکاریو پرته په دې وروستیو کې به د اوبو او انرژۍ وزارت او د هایدرومیټرولوژي ډیپارټمنټ ترمنځ به د علمي‌او تخنیکي همکاریو یو هوکړه لیک لاسلیک شي.

**د . لابراتوارونه او روزنيز تجهيزات**

د هواپېژندنې ډيپارټمنټ کې د اوبو او هوا په اړه مسايل مطالعه کېږي. څرنګه چې د اوبو او هواپېژندنې مسالو مطالعه د لابراتواري تجهيزاتو، څېړنې او سيمه‌ييز کار کولو ته اړتيا لري نو اړينه ده چې د ميخانيکي، الکتروميخانيکي او کمپيوټر ټکنالوژۍ وکاروي څکه چې له دې پرته کار کول ناشوني دي.

د هايدروميټرولوژي ډيپارټمنټ د خپل تاسيس راهيسې د لابراتوار او سيمه‌ييزو تجربوي تاسيساتو څخه ښه ګټه اخيستې او دې کار ته دوام ورکوي چې لاندې لابراتوارونه لري:

**۱.د متيورولوژي لابراتوار**

دا لابراتوار د هوا او اوبو د مطالعاتو لپاره پوره وسايل لري چې په دې برخه کې يو متخصص ټکنېشن چې د لابراتور له ټولو وسايلو سره بلد دی، کارونه مخته وړي او همداراز يو استاد چې د يادې برخې د مضمون تدريس ور له غاړې دی له ټکنېشن سره مرسته کوي چې محصلان وروزي.

د هايدرومتيورولوژي ډيپارټمنټ د هوا د حالاتو د مطالعې او د هوا د وړاندوينه کوي، يو سټېشن لري چې د ځمکپېژندنې پوهنځي له ودانۍ سره څنګ کې موقعيت لري چې په هغه کې د هوا د تودوخې او د ځمکې ژوروالی، باران، نسبي رطوبت، د باد لوری او ګرنديتوب، براس او د لمر د رڼا موده په ټاکلو وختونو کې ترسره کېږي.

د هواپېژندنې اتومات سټيشن (AWS) چې د پورته ذکر شويو مواردو په اړه موږ ته معلومات راکوي، کارول کېږي هم د ميخانيک سټيشن په شاوخوا کې هم نصب شوی چې برېښنا يې د لمريزې انرژۍ يا سولري سيسټم له لوري تامينېږي. ترلاسه شوې شمېرې کمپيوټر کې ترلاسه او مطالعه کېږي.

د هواپېژندنې OTT ډوله (AWS) اتومات سټيشن چې د هوا پېژندنې موارد څاري؛ انرژي يې له ښاري برېښنا تمولېږي؛ د سمو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره بايد په ازاده فضا کې پرېښودل شي چې د ځمکپوهنې پوهنځي ودانۍ پر چت اېښودل شوی دی.

**۲. د هايدرولوژي لابراتوار**

د هايدرولوژي لابراتوار د هايدرولوژيکي مطالعاتو پر وسايلو سمبال دی. په دې لابراتوار کې د اوبو د جريان د سرعت د اندازه کولو لپاره بېلابېل وسايل شته چې د جريان اندازه، د اوبو د تودوخې اندازه او د واورې او يخ اندازه کوي. همداراز په ياد لابراتوار کې له نورو تجهيزاتو سربېره، سيمه‌ييز فعاليتونه او د سمندر د اوبو اندازه کول، د واورې اندازه کول، د يخ اندازه کول او د غرونو د يخچالونو د مطالعاتو برخه موجوده ده.

يو تخنيکي کس چې په دې برخه کې يې لوړې زده‌کړې کړې له استادانو سره د لابراتوار د عملي‌کارونو مسوولیت پر غاړه لري، فعاليت کوي همداراز له استادانو او محصلانو سره په سيمه‌ييزو تطبيقاتو کې هم عملي کار کوي.

**۳. جي ای اس لابراتوار او یا GIS Lab**

دغه لابراتوار کې ۳۰کمپيوټر، پرېنټر، سکنر، ټلويزيون او بيمر شته دي او همداراز له انټرنټي اسانتياوو هم برخه من دی. په يوه وخت کې د ۳۰ محصلينو د تدريس ظرفيت لري. په دې لابراتوار کې د کارونې بېلابېل سافټويرونه موجود دي چې محصلان ترې ګټه واخلي.

محصلان کولای شي په اسانۍ سره په دې لابراتوار کې خپل علمي کانفرنسونه هم وړاندې او هم ګډون وکړي او همداراز د سافټويرونو پر کارونې وپوهېږي. هغه استادان چې په دغه لابراتوار کې له سافټويرونو کار اخلي او د دوی د کارونې طريقې ښيي، له ټکنېشنونو او محصلانو سره له مزاياوو برخه‌من دي.

**هـ. د تخصصي مضمونونو تحصيلي نصاب**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | احصاييه | GEO-HM218 | ۳ | ٦ | ريموت سنسنګ | GEO-HM220 | ۲ |
| ۲ | د اوبو کيميا | GEO-HM225 | ۳ | ۷ | GIS (۱) | GEO-HM233 | ۳ |
| ۳ | فزيکي جغرافيه | GEO-HM229 | ۲ | ۸ | GIS (۲) | GEO-HM234 | ۳ |
| ۴ | احصاييه | GEO-HM218 | ۳ | ۹ | جيوديزي | GEO-HM231 | ۳ |
| ۵ | چاپېريال | GEO-HM222 | ۴ | ۱۰ | هايدروجيولوژي | GEO-HM224 | ۴ |

# د شرعياتو پوهنځی




### ۱. د پوهنځي پېژندنه

پوهېږو افغانستان يو اسلامی هېواد دی او ټول افغان ملت د اسلام سپېڅلي دين پر معتقداتو بشپړ يقين او قاطع باور لري، له دويمې هجري پېړۍ را په دېخوا چې زموږ خلکو پخواني معتقدات پرېښي او د اسلام سپېڅلی دين يې منلی دی، دې دين تر اوسه د افغانستان د خلکو پر ټولو بنسټي فردي او ټولنيزو چارو اغېزه کړې ده او په کړنو او عملونو کې يې ژورې ريښې ځغلولي.

د شرعياتو پوهنځی د هېواد په تاريخ کې اوږده مخينه لري، دا د هماغو رسمي دولتي مدرسو او علمي مرکزونو لړۍ ده چې د افغانستان په تاريخ کې يې د هېواد عدلي، قضايي او نورو مهمو ادارو ته کادرونه روزل، لکه د اميرعبدالرحمن خان په پاچاهۍ کې «د ديني علومو شاهي مدرسه»، د امير حبيب‌الله خان په واکمنۍ کې «بيت العلوم»، د شاه امان الله خان په پاچاهۍ کې «دارالقضاة الامانيه» او «د شرعي علومو مدرسه» او د اعليحضرت محمدظاهرشاه په واکمنۍ کې «د شرعي علومو مدرسه»، څرنگه چې د شرعي علومو مدرسه لومړی په ۱۲۹۸هـ ل کال په اماني دوره کې د هېواد د قضايي او عدلي نظام د قاضيانو او مدېرانو د رزونې لپاره جوړه شوې وه، د هماغې موخې لپاره په ۱۳۲۲ لمريز کال کې بيا جوړه شوه.

پر ۱۳۳۰ کال کې د شرعياتو پوهنځی د شرعي او حقوقي علومو لومړنی اکاډميک مرکز او د کابل پوهنتون پنځم پوهنځی شو، د ۴ تنو استادانو په زيار او علمي فعاليت سره چې د شرعي علومو مدرسې (اوسنۍ ابوحنيفه مدرسې) د دوولسم ټولگي (۲۰) تنه فارغان يې محصلان وو د هغه وخت د حقوقو او سياسي علومو اکاډمۍ د رييس اروابناد پوهاند محمداصغرخان په سرپرستۍ پرانيستل شوه او فعاليت يې پيل کړ؛ اداري او تدريسي چارې يې څه موده د حقوقو او سياسي علومو اکاډمۍ رياست مخته بېولې او بيا اروابناد جناب ښاغلی مولانا عبدالحق د شرعياتو پوهنځي لومړنی رسمي رييس وټاکل شو.

هغه وخت د شرعياتو پوهنځي درسي پروگرام له شرعي او حقوقي مضامينو جوړ و او محصلانو په دې برخو کې يو عمومي او جامع پروگرام مخته بېوه.

د شرعياتو پوهنځي په پيل کې يو عمومي پروگرام مخته بېوه، يعنې د زده‌کړو يوه عمومي ډيپارټمنټ يې لرله. په ۱۳۴۵ کال کې د ښځينه ځوانو کادرونو روزنې ته د زياتې اړتيا پر بنسټ د شرعياتو پوهنځي وپتېيله چې د نجونو د اسلامي تعليماتو ډيپارټمنټ

جوړه کړي، چې تر اوسه د عمومي لېسو او ديني مدرسو د دوولسمو ټولګيو فارغانې ورته جذبېږي او د زده‌کړو يو درسي نصاب زده کوي.

په ۱۳۴۹ – ۱۳۵۰ کال کې د نارينه‌و ځانګړې تحصيلي برخه د زده‌کړو پر دوو ډيپارټمنټونو «فقه او قانون» او «اسلامي تعليمات» وويشل شوه، چې د ديني مدرسو فارغان د اختصاصي کانکور په مټ د زده‌کړو دې دوو ډيپارټمنټونو ته راځي.

د شرعياتو پوهنځي د لېسانس دورې زده‌کړې په ورځ کې څلور او په شپه کې پينځه تحصيلي کلونه دي. محصلان يې چې د زده‌کړو د دورې پروګرام پايته ورسوي، د مونوګراف په بشپړولو سره له پوهنځي فارغېږي او په عدلي او قضايي ادارو او مؤسسو، څارنواليو، د زده‌کړو او روزنې مؤسسو او نورو دولتي او نادولتي ادارو او اورګانونو کې پر کار بوختېږي.

د شرعياتو پوهنځي تل د کار مارکېټ ته په کتو اړتياوو ته زيات پام کړی او د درسي نصاب د تطبيقيوالي او ښه‌کېدن هڅې يې کړې دي، په ۱۳۸۹، ۱۳۹۶، ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کلونو کې يې د نصاب بياکتنه کړې ده، چې د لوړو زده‌کړو وزارت د علمي پروګرامونو د پراختيا د رياست د ۱۳۹۸ کال د پلان پر بنسټ د شرعياتو پوهنځي د درېيو (فقه او قانون، اسلامي تعليمات او اسلامي ثقافت) ډيپارټمنټونو د زده‌کړو نصاب بشپړ، چاپ او د زده‌کړو په ملي نصاب کې شامل شوی دی او د لوړو زده‌کړو وزارت تر منظوورۍ وروسته په ۱۳۹۹ کال کې د هېواد پوهنتونونو او د لوړو زده‌کړو مؤسسو ته چې د نوموړيو ډيپارټمنټونو جواز يې لاره، د تطبيق لپاره خپور شو.

### ۲. د پوهنځي موخې

#### الف. ليدلوری

د هېواد په کچه د شرعياتو پوهنځي موخه خلکو او ټولنې ته د پوهو، ماهرو او خدمتګارو کادرونو روزنه ده. په شرعياتو پوهنځي کې روزلي کادرونه په عدلي، قضايي، اداري او نورو اړوندو برخو کې خدمت کوي او عملاً د محلي، سيمه‌ييزې، ملي او ټولنيزې پرمختيا لپاره کار او خدمت کوي او د پوهنځي مرام رښتيا کوي.

په دې پوهنځي کې د اسلام د سپېڅلي دين ښوونو، پر ټولنه واکمنو نېکو اصولو، د هېواد لويو ګټو خونديتوب، د ملي يووالي ټينګښت، د شرعي پوهې د علمي او تطبيقي کمي او کيفي ودې ته په کتو په اکاډميک چاپېريال کې نړيوال منلي معيارونه، مسؤوليت منل، او لاندې اساسي ارزښتونه په پام کې نيول کېږي:

- د اسلام سپېڅلي دين پر ارزښتونو او ملي ارزښتونو باندې باور او درناوی يې؛
- د شرعي مسلکي پوهې، د عدالت تعميم او قانونيت زيات او ښه ترويج؛
- د دينپالنې، ملي وحدت، يوبل پالنې او د ټولنيز او سياسي ټيکاو د روحيې پياوړي کول او عامول؛
- د ټولنې او کاري بازار له غوښتنو سره سم لوړکيفيته او معياري لوړې زده‌کړې؛
- د مسؤوليت‌منلو او قانون‌منلو، روغې، اغېزناکې او کارنده ټولنې اصل پامنيوی.

#### ب. دنده

د کابل پوهنتون پراختيا او پرمختيا او ټولنې ته د مسلکي او متخصصو کادرونو اړتيا ته په کتو شرعياتو پوهنځي د قضا، څارنوالۍ، عدليې وزارت او دفاع وکالت برخو کې د کلونو کلونو علمي او اکاډميک فعاليت سربېره خپل فعاليت نورو برخو ته هم غځولی، د ټولنې اړتياوې د کادرونو په روزنې پوره کوي او خپلو سپېڅليو ښوونيزو موخو ته د رسېدو لپاره کار کوي.

**ج. بنسټيي موخې**

د هېواد په کچه د شرعیاتو پوهنځی موخه خلکو او ټولنې ته د پوهو، ماهرو او خدمتګارو کادرونو روزنه ده. په شرعیاتو پوهنځي کې روزلي کادرونه په عدلي، قضايي، اداري او نورو اړوندو برخو کې خدمت کوي او عملاً د محلي، سیمه‌ییزې، ملي او ټولنیزې پرمختیا لپاره کار او خدمت کوي او د پوهنځي مرام رښتیا کوي. د دې پوهنځي بنسټيي موخې په لنډ ډول دا دي:

- شرعي، فقهي او حقوقي پوهه زده کول؛ د اسلامي شریعت او د هېواد د نافذو قوانینو پر مفاهیمو سم پوهېدل.
- د قرآن او سنتو د درست تفسیر مهارت زده‌کول.
- د قرآن کریم د تفسیر، د احادیثو د تخریج او حنفي مذهب په رڼا کې د فقهي مسائلو تحقیق او څېړنې مهارت زده کول.
- د قضا، څارنوالۍ، حقوقي او شرعي سلاکارۍ او د عدلیې وزرات اړوند اړین مهارتونه زده کول.
- د هېواد د عدلي او قضايي نظام په لاښه‌کېدن کې له نظري او عملي تجربو کار اخیستل.
- په بېلابېلو جزايي، مدني، کورنیو او سوداګریزو دوسیو کې د حکمیت اړوند مهارتونه زده کول.
- د نویو قوانینو په جوړولو او تسوید او نورو تقنیني اسنادو کې د مهارتونو زده‌کړه.
- د اسلامي شریعت او حنفي مذهب په رڼا کې د تقنیني اسنادو په ځینو مادو کې د زیاتونې، تعدیل او حذف د مواردو سم پېژندل.
- د عدلي او قضايي نظام اړوندو څوکیو د لاسته‌راوړلو لپاره له اسلامي عقیدې، عدالت، اسلامي حقونو او ارزښتونو سره سم اخلاق، سیرت او عالي چلن زده‌کول.
- په دعوت، کتاب، لیکنو، سیمینارونو او مرکو سره پر اسلامي شریعت او حنفي مذهب د وګړیو پوهول.
- د ښوونیز نظام سمون او ښه‌کول.

**۳. تواميتونه**

د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي او د اندونیزیا جمهوریت د جاګارتا ښار د شریف هدایت‌الله اسلامي پوهنتون ترمنځ د دکتورا دورې د زده‌کړو لپاره د دې پوهنځي د استادانو د تګ هوکړه‌لیک،

د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي او د اندونیزیا جمهوریت د جوګ جاکرتا ښار د شریف هدایت الله او سونم پوهنتونو ترمنځ د ماسترۍ او دکتورا د ګډو پروګرامونو د جوړولو لپاره چمتووالی.

د کابل پوهنتون او ترکیې ترمنځ په ځینو پوهنځیو کې، له هغې ډلې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي ترمنځ د ماسترۍ او دکتورا پروګرامونو او ګډو علمي څېړنو د مرکز جوړېدو ته چمتووالی نیول کېږي.

**۴. ډيپارتمېنتونه**

په ۱۳۵۱ کال کې په کابل پوهنتون کې لومړی ځل د ډيپارټمنټونو او ډيپارتمېنتونو پر بنسټ د تدریس نظام عملي شو او په ټولو پوهنځیو کې له علمي اړتیاو سره سم ډيپارتمېنتونه جوړ شول؛ په شرعیاتو پوهنځي کې هم ۸ ډيپارتمېنتونه جوړ شول: د تفسیر ډيپارتمېنت؛ د حدیث ډيپارتمېنت؛ د فقهې او پرتلیزو حقوقو ډيپارتمېنت؛ د غرب د حقوقو ډيپارتمېنت؛ د بهرنیو ژبو او عربي ژبې ډيپارتمېنت؛ د عقلي علومو ډيپارتمېنت؛ د ټولنیزو علومو ډيپارتمېنت؛ او د فقهې د اصولو ډيپارتمېنت. دې ۸ ډيپارتمنتونو تر ۱۳۵۷ کاله فعالیت وکړ، د وخت چارواکو اړتیا ته په کتو اته واړه په دریو لاندې ډېپارتمېنتونو کې مدغم او راکم کړل:

۱. د تفسیر او حدیث ډيپارتمېنت؛
۲. د فقه او اصول فقه ډيپارتمېنت؛ او
۳. د عقیدې او فلسفې ډيپارتمېنت

د شرعياتو پوهنځی د اسلامي تعليماتو، فقهې او قانون ا و دعوت په برخو کې د ليسانس درې پروګرامونه او د عقيدې او فلسفې، فقهې او اصول فقهې او اسلامي تعليماتو ډيپارټمنټونه په ګډه د قرانپوهنې او دعوت د ماسترۍ دوه پروګرامونه پرمخ وړي. د اسلامي ثقافت ډيپارټمنټ په دوه ويشتو پوهنځيو کې ديارلس پوهنتون شمول کورسونه تدريسوي.

**د فقهې او اصول فقهې ډيپارټمېنت**

**الف. پېژندنه**

دا ډيپارټمېنټ د دې پوهنځي د دوو ډيپارټمنټونو «فقه او قانون» او «اسلامي تعليماتو» د فقه، حقوق، اصول فقه او ورپورې اړوندو مضمونونو تدريس پرمخ وړي، خو خپلواک فارغوال ډيپارتمېنت نه دی.

**ب. موخې**

**۱. ليدلوری**

- شرعي، فقهي او حقوقي پوهه زده کول؛ د اسلامي شريعت او د هېواد د نافذو قوانينو پر مفاهيمو سم پوهېدل.
- د قضا، څارنوالۍ، حقوقي او شرعي سلاکارۍ او د عدليې وزرات اړوند اړين مهارتونه زده کول.
- د خلکو او نظام د فقهي اړتياو پوره کولو پوهه او مهارت زده‌کول.
- په بېلابېلو جزايي، مدني، کورنيو او سوداګريزو دوسيو کې د حَکمتوب اړوند مهارتونه زده کول.
- د نويو قوانينو په جوړولو او تسويد او نورو تقنيني اسنادو کې د مهارتونو زده‌کړه.
- د اسلامي شريعت او حنفي مذهب له اصولو سره سم د تقنيني اسنادو په ځينو مادو کې د زياتونې، تعديل او حذف د مواردو سم پېژندل.

**۲. ماموريت**

هره ټولنه قانونيتوب، عدالت، نظم او سالمې ادارې ته اړتيا لري، دا اړتياوې هله پوره کېږي چې د اسلامي شريعت (په تېره اسلامي فقهې) او حقوقي نظام سمه او کره پوهه موجوده وي چې په مټ يې ټولنې ته په ملي او نړيوالو معيارونو او نورمونو سمبال قاضيان، څارنوالان، مدافع وکيلان، حقوقي او ديني سلاکاران ورمخته کړي، داسې وتلي کارپوهان چې علم او مهارت او اړين ديني اخلاق ولري او په اړونده برخه کې د ټولنې د الګو په توګه کار وکړي.

**۳. بنسټيې موخې**

دا ډيپارټمنت د پوهنځي له درې نورو ډيپارتمېنتونو سره په ګډه د افتاء، فقه، اصول فقه، قضاء، څارنوالۍ، او حقوقو په برخو کې زده‌کړه‌يزو موخو ته د رسېدو لپاره د متخصص کادر په مټ پوه متخصص کادرونه روزي او ښوونه.

**ج. لابراتوار او ښوونيز تجهيزات**

- ژبنی لابراتوار (Language Lab)
- د تمثيلي محکمې هال؛
- حقوقي کلينيک؛
- مجهز کتابتون او
- کمپيوټرلب.

**د. د زده‌کړو نصاب**

څرنګه چې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي څلور داخلي ډیپارتمېنتونه په ګډه د زده‌کړو په درېیو ډیپارټمنټونو «اسلامي تعلیمات، او فقه او قانون» کې مضمونونه تدریسوي، ځکه دا ډیپارتمېنت په خپلواک ډول محصل نه فارغوي، نو جلا نصاب نه لري.

**۲. د اسلامي تعلیماتو ډیپارتمېنت**

**الف) پېژندنه**

د اسلامي تعلیماتو ډیپارتمېنت د حدیث، د حدیث د علومو او ورپورې اړوند مضمونونه له درېو نورو داخلي ډیپارتمېنتونو سره یوځای د دې پوهنځي په دوو ډیپارټمنټونو کې تدریسوي، خو په خپلواک ډول محصلان نه فارغوي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

- شرعي، فقهي او حقوقي پوهه زده‌کول؛ د اسلامي شریعت او د هېواد د نافذو قوانینو پر مفاهیمو سم پوهېدل.
- د اسلامي شریعت په رڼا کې د حقوقو او مقارنې د فلسفې د شننې او د بېلابېلو موضوعاتو د پرتلې وړتیا موندل.
- د عدلي او قضایي نظام اړوندو څوکیو د لاسته‌راوړلو لپاره له اسلامي عقیدې، اسلامي حقونو او ارزښتونو سره سم اخلاق، سیرت او عالي چلن زده‌کول.

**۲. ماموریت**

په هېواد کې قانونیت، نظم او سالمه اداره رامنځته کونه، د شرعي اصولو مطابق قضاء، ځارنوالي عیارول د لوړو زده‌کړو تدریس او د خدمتونو وړاندې کول یې په اساسي اړتیاو کې راځي. دا اړتیاوې هله پوره کېږي چې د شرعي او قضایي علومو په برخه کې سمه او دقیقه پوهه او د ایمان او عقیدې علمي پېژندنه موجوده وي، چې د عدلي او قضایي نظام کارپوهان او د اسلامي شریعت (په تېره حدیث، علوم الحدیث او نورو اړوندو علومو) وتلي پوهان، پر علم واکمن، د مسلکي مهارت څښتن، پر دیني اخلاقو سنبال د ټولنې د بېلګو په توګه په اړوندو برخو کې وګومارل شي او د ټولنې د خدمت جوګه شي.

**۳. بنسټي موخې**

اسلامي تعلیماتو ډیپارتمېنت له درېو نورو داخلي ډیپارتمېنتونو سره په ګډه د شرعي علومو د تدریس، دعوت، حدیث او علوم الحدیث برخو کې تحصیلي موخو ته د رسېدو لپاره د متخصص کادر په مټ پوه متخصص کادرونه روزي.

**ج. لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

- ژبنی لابراتوار (Language Lab)
- تمثیلي محکمه؛
- حقوقي کلینیک؛
- مجهز کتابتون او
- کمپیوټرلب.

**۳. د عقیدې او فلسفې ډیپارتمېنت**

**الف. پېژندنه**

د عقیدې او فلسفې ډیپارتمېنت د پوهنځي له درېیو نورو داخلي ډیپارتمېنتونو سره یوځای په دوو ډیپارټمنټونو «فقهې او قانون، او اسلامي تعلیماتو» کې مضمونونه تدریسوي، خو په خپلواک ډول محصلین نه فارغوي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

- اسلامي شريعت د لوړو مفاهیمو اړوند شرعي فقهي او حقوقي زده کړه ترلاسه کول.
- د اسلامي شريعت او حنفي مذهب له اصولو سره سم د تقنيني اسنادو په ځینو مادو کې د زیاتونې، تعدیل او حذف د مواردو سم پېژندل.
- د اسلامي شريعت په رڼا کې په بېلابېلو موضوعاتو کې د فلسفي تحليل وړتیا موندل.
- د قرآن کريم د تفسیر، د احادیثو د تخریج او د عقیدوي مسائلو د تحقيق او څېړنې مهارت زده کول.
- د نړۍ د مطرحو دینونو د مقارنې، د ديني پلورالېزم کره کتنې او اسلامي کلامي مذاهبو د اعتقادي اصولو د تحلیل وړتیا موندل.

**۲. ماموریت**

د شرعي او قضایي علومو په برخه کې سمه او دقیقه پوهه او د ایمان او عقیدې علمي پېژندنه، ترڅو د عدلي او قضایي نظام کارپوهان او د اسلامي شريعت (اسلامي عقایدو او اړوندو علومو) وتلي پوهان، پر علم واکمن، د مسلکي مهارت څښتن، پر ديني اخلاقو سنبال د ټولنې د الگوگانو په توگه په اړوندو برخو کې وروزل شي او د ټولنې د خدمت جوگه شي.

**۳. بنسټي موخې**

عقيده او فلسفه د پوهنځي له دريوو ډيپارټمېنټونو سره په گډه په «اسلامي تعليمات، او فقه او قانون» ډيپارټمنټونو کې د شرعي علومو د تدريس، دعوت، مشاورې او د قضا حَکمیت، څارنوالۍ، د دفاع وکالت او حقوقو برخو کې د تحصیلي موخو ته د رسېدو لپاره متخصص کادرونه روزي.

**ج. لابراتوار او ښوونيز تجهيزات**

- ژبنی لابراتوار (Language Lab)
- مجهز کتابتون او
- کمپیوټرلب.

**د) د زده‌کړو نصاب**

څرنگه چې د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي څلور داخلي ډيپارټمېنټونه په گډه د زده‌کړو په دريو ډيپارټمنټونو «اسلامي تعليمات، او فقه او قانون» کې مضمونونه تدريسوي، ځکه دا ډيپارټمېنټ په خپلواک ډول محصل نه فارغوي، نو جلا نصاب نه لري.

**۴. د تفسير او قرآني علومو ډيپارټمېنټ**

**الف. د ډيپارټمېنټ پېژندنه**

لومړی ځل په ۱۳۵۱ کال کې د شرعياتو پوهنځي کې د تفسير ډيپارټمېنټ جوړ شو. په ۱۳۵۷ کال کې چې دا ډيپارټمېنت له حديث ډيپارټمېنت سره مدغم شو «د تفسير او حديث ډيپارټمېنت» په نامه یې فعالیت پیل کړ، په ۱۳٦٦ کال کې له اسلامي تعليمات ډيپارټمېنت سره يو ځای شو او په ۱۳۹۱ کال کې د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي د ننه د تفسير او قرآني علومو ډيپارټمېنت په نامه بيرته رامنځته شو. دا ډيپارټمنت له دريو نورو داخلي ډيپارټمېنټونو سره په گډه د زده‌کړو په دوو ډيپارټمنټونو «فقه او قانون، او اسلامي تعليمات» کې د قرآن تفسير او قرآني علومو تدريس کوي، خو په خپلواک ډول محصلان نه فارغوي.

**ب. ښوونیزې موخې**

**۱. لیدلوری**

- د قرآن کریم د تفسیر د احادیثو د تخریج مهارت زده کول.
- په ټولنه کې د الهي کلام د ترجمې او تفسیر د لا زیات ترویجولو په موخه مسلکي او متخصص کادر روزل.
- د ټولنې د ښیرازۍ لپاره د تفسیر علم ته وده ورکول.
- د اسلامي شریعت او د هېواد نافذو قوانینو پر مفاهیمو سم پوهېدل.

**۲. ماموریت**

د شرعي علومو په برخه کې سمه او دقیقه پوهه ترویجول، ترڅو د شرعي علومو او اسلامي شریعت (په تېره قرآن او اړوندو علومو) وتلي پوهان، پر علم واکمن، د مسلکي مهارت څښتن، پر دیني اخلاقو سنبال د ټولنې د الګوګانو په توګه په اړوندو برخو کې وروزل شي او د ټولنې د خدمت جوګه شي.

**۳. بنسټي موخې**

دا ډیپارټمنټ له دریو نورو ډیپارتمېنتونو سره په ګډه په «اسلامي تعلیماتو، او فقهې او قانون» ډیپارټمنټونو کې د شرعي علومو د تدریس، دعوت، په دقیق او مسلکي ډول پر تفسیر او قرآني علومو پوهېدلو سره تحصیلي موخو ته د رسېدو لپاره متخصص کادرونه روزي.

**ج. لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

- ژبنی لابراتوار (Language Lab)
- مجهز کتابتون او
- کمپیوټرلب.

**د. د زده کړو نصاب**

څرنګه چې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي څلور داخلي ډیپارتمېنتونه په ګډه د زده کړو په دریو ډیپارټمنټونو «اسلامي تعلیمات، او فقه او قانون» کې مضمونونه تدریسوي، ځکه دا ډیپارتمېنت په خپلواک ډول محصل نه فارغوي، نو جلا نصاب نه لري.

**۵. اسلامي ثقافت ډیپارتمېنت**

**الف) پېژندنه**

په ۱۳۷۲ کال کې د افغانستان د پوهنتونونو په ټولو پوهنځیو کې د «اسلامي ثقافت» په نامه مضمون د تدریس پرېکړه وشوه، نو د کابل پوهنتون په شرعیاتو پوهنځي کې د «اسلامي ثقافت» په نامه ډیپارتمېنت جوړ شو.

دا ډیپارتمېنت د کابل پوهنتون تر شلو زیاتو پوهنځیو کې په هر سمستر کې د «اسلامي نړۍ لید، عبادت او حکمتونه یې، د اسلام اخلاقي، ټولنیز، سیاسي او قتصادي نظامونه، قرآن او معاصر علوم، د اسلام تمدن، سیرة النبي -صلی الله علیه وسلم- او اړوند مضممونونو» یو مضمون تدریسوي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

متخصص او ژمن اسلامي کادرونه روزل چې له افراط او تفریطه د پاکې اسلامي روزنې د عملي الګانونو په توګه د دنیا او آخرت نېکمرغۍ همغږې کړي.

**۲. ماموریت**

پر اسلامي شریعت سمه او دقیقه پوهه ترلاسه کول، ترڅو د دیني علومو وتلي کارپوهان چې پر علم او مسلکي مهارتونو سمبال او پر دیني اخلاقو ښکلي وي، په اړونده برخه کې د ټولنې د الګوګانو په توګه د ټولنې د خدمت جوګه شي.

**۳. بنسټیي موخې**

- د اسلام له کلي اصولو او بنسټونو سره د لوړو زده‌کړو د بېلابېلو ډیپارټمنټونو د محصلانو علمي او اکاډمیکي پېژندګلوي؛
- له مطرحو نړۍ‌لیدونو سره آشنایي او د معاصرو علومو له موندنو سره د اسلام اړیکې موندل؛
- د اسلامي فرهنګ او ثقافت په ارزښتونو او بنسټونو سمبال پوهو او تکړه ځوانانو روزل؛
- داسې متخصص، ژمن او معتدل اسلامي کادرونه روزل چې د اسلام د منځلارې سالمې عملي روزنې د الګوګانو په توګه د دنیا او آخرت د نېکمرغیو لامل شي.
- د اسلامي کلي مسایلو د توضیح او څرګندونې لپاره د داسې نظري پوهې وړاندې کول چې پر نقلي او عقلي دلایلو ولاړ وي او د هرې موضوع اغېزې او حکمتونه ورسره بیان شي؛
- د محصلانو د دیني او اسلامي پوهې لوړول، چې د انساني ټولنې په مهمو فردي او ټولنیزو پراختیاوکې سالم او فعال ګډون وکړي،
- د علمي څېړنو او مهارتونو پیاوړي کول چې سالمه اسلامي فکري پراختیا رامنځته او له خدای او انساني ټولنې سره سمه اړیکه جوړه کړي او د کاینااتو له ارزښتناکو نعمتونو سالمه ګټه واخیستل شي.

**ج. لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

- د پوهنځي کتابتون

**هـ.تحصیلي نصاب**

د اسلامي ثقافت مضمونونه د لیسانس دورې په بېلابېلو ډیپارټمنټونو او پوهنځیو کې د پوهنتون‌شمول مضمون په توګه په اتو تحصیلي سمسترونو کې ۱٦ درسي اونۍ تدریسېږي. په دې ډیپارټمنټ کې د کابل پوهنتون تر دوه ویشتو زیاتو پوهنځیو کې ټول ۱۲ مضمونونه۲۴ کریډیټه تدریسېږي.

د لسانس دروې تحصیلي څانګې:

**د اسلامي تعلیماتو څانګه**

د اسلامي تعلیماتو په څانګه کې د لیسانس دوره اته تحصیلي سمسترونه لري، چې هر سمستر ۱٦ درسي اونۍ دی. په دې ډیپارټمنټ کې ټولټال ۸٦ مضمونونه دي، ۲۷ یې اساسي، ۳۸ تخصصي، ۱٦ اختیاري او پوهنتون شمول او ٦ مضمونونه یې عملي کار دی، چې په ۱٦۸ کریډیټونو کې تدریسېږي.

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | SL_IS0305 | عقاید (۳) (سمعیات) | ۲۰ | ۲ | SL_IS010 | عقاید (۱) (الهیات) | ۱ |
| ۳ | SL_IS0315 | تفسیر(۲) (صفوه التفاسیر) | ۲۱ | ۳ | SL_IS0106 | حدیث ۱(سنن ترمذي) (عبادات) | ۲ |
| ۳ | SL_IS0306 | حدیث (۳) صحیح مسلم | ۲۲ | ۲ | SL_IS0107 | تجوید او حفظ (جزء ۳۰) | ۳ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | (ایمان) | | |
| ۴ | د عباداتو احکام | SL_IS0111 | ۲ | ۲۳ | فقه (۳)(د بیعې احکام) | SL_IS0312 | ۲ |
| ۵ | فقه(۱) (شخصي- احوال- نکاح) | SL_IS0112 | ۲ | ۲۴ | تفسیر (۳) (صفوة التفاسیر) | SL_IS0415 | ۳ |
| ٦ | عقاید (۲) (نبوات) | SL_IS0205 | ۲ | ۲۵ | حدیث(۴) | SL_IS0406 | ۳ |
| ۷ | تفسیر(۱) (أیسر التفاسیر) | SL_IS0215 | ۳ | ۲٦ | فقه (۴) (د بیعې احکام) | SL_IS0415 | ۲ |
| ۸ | حدیث (۲) (سنن ترمذي) (عبادات) | SL_IS0206 | ۳ | ۲۷ | تفسیر (۴(مدارك التنزیل) | SL_IS0515 | ۳ |
| ۹ | دحدیث علوم (۲) قواعد او آداب | SL_IS0209 | ۲ | ۲۸ | حدیث ۵ (صحیح البخاري) | SL_IS0506 | ۳ |
| ۱۰ | فقه (۲) (شخصي احوال – د نکاح انحلال) | SL_IS0212 | ۲ | ۲۹ | فقه (۵)(دعوی) | SL_IS0512 | ۲ |
| ۱۱ | تفسیر (۵) (مدارك التنزیل) | SL_IS0615 | ۳ | ۳۰ | نړیوال عمومي حقوق | SL_IS0530 | ۲ |
| ۱۲ | حدیث (٦) (صحیح البخاري) (دښمنی، ظلمونه، سوله و فتنې) | SL_IS0606 | ۳ | ۳۱ | په فقه او قانون کې د التزام نظریه | SL_IS0531 | ۲ |
| ۱۳ | فقه (٦) (د دعوې د اثبات وسایل) | SL_IS0612 | ۲ | ۳۲ | تفسیر (٦) (مختصر- ابن کثیر) | SL_IS0715 | ۲ |
| ۱۴ | په فقه کې د جزایي محکمو اصول | SL_IS0637 | ۲ | ۳۳ | حدیث (۷) (سنن ابي داود) (د ایمان، نذرونو، اقضیط او شهادتونو کتاب) | SL_IS0706 | ۲ |
| ۱۵ | تفسیر (۷) (مختصر ابن کثیر) | SL_IS0815 | ۲ | ۳۴ | فقه (۷) (د جنایتونو احکام) | SL_IS0712 | ۲ |
| ۱٦ | حدیث (۸) (سنن ابي داود) (حدود.) | SL_IS0806 | ۲ | ۳۵ | کلي فقهي قواعد | SL_IS0743 | ۲ |
| ۱۷ | فقه (۸) (د جنایاتو احکام) | SL_IS0812 | ۲ | ۳٦ | د میراث علم | SL_IS0744 | ۳ |
| ۱۸ | په فقه او قانون کې د قانونجوړونې لار او د قوانینو پېژندنه | SL_IS0850 | ۲ | ۳۷ | د افتاء قواعد | SL_IS0745 | ۲ |
| ۱۹ | په فقه او قانون کې د عمومي | SL_IS0851 | ۲ | ۳۸ | په فقه او قانون کې د | SL_IS0746 | ۲ |

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ملکیت نظریه | | | | جزا حقوق | |

**۲. د فقه او قانون تحصیلي څانګه**

دا تحصیلي څانګه د ورځې په درسي سیستم کې څلور او په شپني هغه کې پینځه تحصیلي کلونه نیسي. محصلان یې د مونوګراف په بشپړولو سره له پوهنځي فارغېږي او په عدلي، قضایي او حقوقي ادارو او مؤسسو، څارنوالیو، د زده‌کړو او روزنې مؤسسو او نورو دولتي او نادولتي ادارو او اورګانونو کې پر دندو ګومارل کېږي.

فقهې او قانون څانګه کې د لېسانس دوره اته تحصیلي سمېسترونه لري، چې هر سمېستر ۱٦ درسي اونۍ دی. په دې ډیپارټمنټ کې ټولټال ۸٦ مضمونونه دي، ۲۳ یې اساسي، ۴۴ تخصصي، ۱۳ اختیاري او پوهنتون شمول او ٦ مضمونونه یې عملي کار دی، چې په ۱٦۷ کرېډېټونو کې تدریسېږي.

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | SL_IL0416 | د احکامو حدیثونه (۲) (مناکحات) | ۲۳ | ۳ | SL_IL0109 | د فقهې مبادي | ۱ |
| ۲ | SL_IL0410 | فقه (۴) معاملات (توثیقات) | ۲۴ | ۲ | SL_IL0110 | فقه ۱ (شخصي احوال) (نکاح) | ۲ |
| ۲ | SL_IL0425 | د اسلام قضایي نظام | ۲۵ | ۳ | SL_IL0215 | د احکامو د آیتونو تفسیر (۱) | ۳ |
| ۲ | SL_IL0426 | په فقه او قانون کې د التزام نظریه | ۲٦ | ۳ | SL_IL0216 | د احکام حدیثونه (۱) (عبادات) | ۴ |
| ۲ | SL_IL0427 | په فقه او قانون کې د عمومي جزا حقوق | ۲۷ | ۳ | SL_IL0210 | فقه(۲) شخصي احوال | ۵ |
| ۲ | SL_IL0428 | په فقه او قانون کې نړیوال عمومي حقوق | ۲۸ | ۲ | SL_IL0315 | د احکامو د آیتونو تفسیر (۲) | ٦ |
| ۳ | SL_IL0616 | د احکامو د آیتونو تفسیر (۳) | ۲۹ | ۳ | SL_IL0310 | فقه (۳) معاملات (بیوع) | ۷ |
| ۲ | SL_IL0610 | فقه (٦) (د اثبات وسایل) | ۳۰ | ۲ | SL_IL0321 | عمومي اساسي حقوق | ۸ |
| ۲ | SL_IL0632 | د میراث علم(۲) | ۳۱ | ۲ | SL_IL0322 | د کار او ټولنیز خونديتوب حقوق | ۹ |
| ۲ | SL_IL0640 | په فقه او قانون کې د سوداګرۍحقوق | ۳۲ | ۲ | SL_IL0517 | حدیث احکام (۳) (معاملات) | ۱۰ |
| ۲ | SL_IL0641 | په اسلامي فقه کې د | ۳۳ | ۲ | SL_IL0510 | فقه(۵) (دعوی) | ۱۱ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | محکمو اصول | | |
| ۱۲ | د میراث علم (۱) | SL_IL0532 | ۲ | ۳۴ | د اداري حقوق | SL_IL0642 | ۲ |
| ۱۳ | کلي فقهي قواعد | SL_IL0533 | ۲ | ۳۵ | کرېمینالېستیک | SL_IL0640 | ۱ |
| ۱۴ | پــه فقــه او قــانون کــې د | SL_IL0534 | ۱ | ۳۶ | د احکـامو حدیثونــه(۴) | SL_IL0717 | ۲ |
| ۱۵ | د مدني قانون فقهي شننه | SL_IL0535 | ۲ | ۳۷ | فقـــه(۷) (د جنـــایتونو احکام) | SL_IL0710 | ۲ |
| ۱۶ | پـه فقـه او قـانون کـې نړیـوال خصوصي حقوق | SL_IL0536 | ۲ | ۳۸ | د افتاء قواعد | SL_IL0747 | ۲ |
| ۱۷ | کرېمېنولوژي | SL_IL0538 | ۱ | ۳۹ | پـه فقـه او قـانون کـې د سوداګری (۲)(شرکتونه) | SL_IL0740 | ۱ |
| ۱۸ | د احکامو د آیتونو تفسیر (۴) | SL_IL0816 | ۳ | ۴۰ | پـه اسـلامي فقـه کـې د جزايي محکمو اصول | SL_IL0749 | ۲ |
| ۱۹ | فقه (۸) (د جنایتونو احکام) | SL_IL0810 | ۳ | ۴۱ | د اسلامي مالي او بانکي | SL_IL0759 | ۲ |
| ۲۰ | معاصرې فقهي قضیې | SL_IL0854 | ۲ | ۴۲ | عدلي طب | SL_IL0751 | ۲ |
| ۲۱ | د مذهبونو ترمنځ پرتلیزه فقه | SL_IL0855 | ۲ | ۴۳ | پـه فقـه او قـانون کـې د قـــانون‌جوړونې لار او د قوانینو پژندنه | SL_IL0752 | ۲ |
| ۲۲ | په فقه او قانون کې د ملکیـت نظریه | SL_IL0856 | ۲ | ۴۴ | د جزا نړیوال حقوق | SL_IL0857 | ۲ |

**۶. د ماسټرۍ پروګرام**

له ډېرو کلونو راهیسې د دې پوهنځي د فارغانو لویه هیله د ماسټرۍ د دورې پیلېدل وو او دا د ټـولنې غوښـتنه او اړتیـا هـم وه چې په خپل هېواد کې د ماسټرۍ او دکتورا دورې پیل او له بهره مو لاس رالنډ شي، چې د دې هیلې او اړتیا د پوره کولو لپـاره تـل زیار ایستل شوی دی. په ۱۳۴۳لمریز کال کې د دې پوهنځي علمي شورا د قضـا پـه برخـه کـې د ماسـټرۍ دوره تصـویب کـړه او قانوني پړاوونه یې بشپړ کړل، چې «۱۰» تنو فارغانو پکې درس پیل کړ، خو د استادانو د کموالي او مالي سـتونزو لـه املـه یـو کـال وروسته دا پروګرام ودرېد او شامل محصلین یې د زده‌کړو د بشپړولو لپاره د مصر الازهر پوهنتون ته واسـتول شـول. پـه ۱۳۶۴کـال کې په فقه او قانون برخه کې د ماسټرۍ د پروګرام موکه برابره شوه چې «۱۴» محصلین پکې شـامل شـول، چـې د وخـت د سـترې محکمې مرستیال او رییسان او د لوی څارنوالۍ رییسان پکې وو. په ۱۳۶۵ کې دویمه دوره او په ۱۳۶۶ کـې دربیمـه دوره هـم پیـل شوه. په ۱۳۶۷لمریز کال کې یې «۶» تنه د تېزسونو په بشپړولو او دفاع کولو سره لـه دې ډیپارټمنتـه فـارغ شـول او پـاتې نـورو یـې وروسته خپل تېزسونه بشپړ کړل او دفاع یې وکړه. دا پروګرام د رژیم په بدلېدو سره بیا ودرېد.

په ۱۳۸۷لمریز کې د استادانو په هڅه او هاند او د شرعیاتو پوهنځي د ریاست په وړاندیز د «شریعت او قانون» ځانګې ماسټرۍ د زده‌کړو پروګرام تایید شو او د قانوني پړاوونو تر بشپړولو او د لوړو زده‌کـړو وزارت تـر منظـورۍ وروسـته د ۱۳۸۹ کـال د غـویي میاشتې په دویمه پرانیستل شو .

د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی د «شریعت او قانون» او «تفسیر او حدیث» د ماسټرۍ دوه پروګرامونه لري.

**۱. د شریعت او قانون د ماسټري پروګرام**

**الف. پېژندنه**

د شریعت او قانون څانګې د ماسټرۍ پروګرام په ۱۳۸۸ کال کې رامنځته شو او تر اوسه یې د ماسټرۍ په کچه یوولس دورې فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي، چې د عدلي، قضایي او شرعي ډیپارټمنټونو لپاره متخصص کادرونه روزي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

په عدلي، قضایي او جزایي برخو کې د متخصصو او پوهو کادرونو روزنه، د دیني، عدلي او قضایي علومو د کادرونو د پوهې او زده کړو د کچې لوړول، او ټولنې ته پر دین، د هېواد نافذو قوانینو پوه او ژمن متخصصان ورمخته کول.

**۲. ماموریت**

د دیني، شرعي، عدلي او قضایي علومو د متخصصانو ښوونه او روزنه؛ د دیني، قضایي او عدلي علومو د کادرونو ظرفیت لوړونه؛ په ټولنیز عدالت، د قانون ټینګښت او د وګړیو د دیني، شرعي او ټولنیزو قضیو په هوارولو کې د همکارۍ او ونډې اخیستلو لپاره ټولنې ته وړاندې کول.

**۳. بنسټي موخې**

په شرعي، دیني، عدلي او قضایي علومو کې د متخصصو پوهو کادرونو ښوونه او روزنه. په تېره د اسلامیو فقهي، عدلي، قضایي او ټولنیزو مسایلو د پوهو، وتلیو او متخصصو کادرونو روزنه.

**ج. توامیتونه**

له قضائیه قوې سره هوکړه لیک او له عدلیې وزارت سره هوکړه لیک.

**د. لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

- د پوهنځي مجهز لوی کتابتون
- د شریعت او قانون د ماسټرۍ پروګرام څانګړی کتابتون

**هـ. د ماسټرۍ پروګرام د زده کړو نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | الفقه ۱ (البیوع = الصرف، السلم، الربا) | Sh 116 | ۲ | ۵ | الفقه۳ (الفقه الجنائی المقارن بقانون الجزاء الافغانی) | Sh 312 | ۳ |
| ۲ | طرق اثبات الجرم فی الفقه الاسلامی و قانون الاجراءات الجنائیة الافغانی | Sh 119 | ۳ | ۶ | القضایا الفقهیة المعاصرة۲ (القضایا الطبیة المعاصرة) | Sh 324 | ۲ |
| ۳ | طرق اثبات القضایا المدنیة المقارن بقانون الاجراءات المدنیة الافغانی | Sh 228 | ۳ | ۷ | الفقه المقارن (فقه الأسرة) | Sh 318 | ۲ |
| ۴ | الفقه ۲ (الشرکات مقارنة بالقانون الوضعی) | Sh 227 | ۲ | ۸ | القضایا الفقهیة المعاصرة ۱ (القضایا الاقتصادیة المعاصرة) | Sh 213 | ۲ |

**۲. د تفسیر او حدیث د ماسټرۍ پروګرام**

د تفسیر او حدیثو د ماسټرۍ پروګرام د تفسیر د علومو او حدیث د علومو په برخو کې متخصص کادرونه روزي، په ۱۳۹۲ کال

رامنځته شوی او له رامنځته‌کېدو راهیسې یې تر اوسه ټولنې ته د ماسټرۍ په کچه شپږ دورې نارینه او ښځینه فارغان وړاندې کړي دي.

**ب. تحصیلي موخې**

**لیدلوری**

د تفسیر د علومو، او حدیث د علومو په برخو کې د متخصصو او پوهو کادرونو روزنه، د دیني او قضایي علومو د کادرونو د پوهې او زده‌کړو د کچې لوړول، او ټولنې ته پر کتاب او سنت پوه پوه او ژمن متخصصان ورمخته کول.

**ماموریت**

د دیني علومو په تېره د تفسیر او حدیث د متخصصانو ښوونه او روزنه، د کادرونو ظرفیت لوړونه، د وګړیو د دیني، شرعي او ټولنیزو قضیو په هوارولو کې د همکارۍ او ونډې اخیستلو لپاره یې ټولنې ته وړاندې کول.

**بنسټي موخې**

د علوم التفسیر، علوم الحدیث او اړوندو نور شرعي علومو کې د متخصصو پوهو کادرونو ښوونه او روزنه.

**ج. لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

- د پوهنځي مجهز لوی کتابتون
- د تفسیر او حدیث د ماسټرۍ پروګرام ځانګړی کتابتون

**د. د زده‌کړو نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تحلیلي تفسیر (۱) | Sh 112 | ۳ | ۵ | تحلیلي تفسیر (۲) | Sh 214 | ۳ |
| ۲ | أصول التفسیر و قواعده | Sh 110 | ۳ | ٦ | تحلیلي حدیث (۱) | Sh 213 | ۳ |
| ۳ | مناهج کتب الشروح واحادیث الأحکام | Sh 427 | ۳ | ۷ | الجرح والتعدیل | Sh 217 | ۲ |
| ۴ | تحلیلي حدیث (۲) | Sh 219 | ۳ | ۸ | التفسیر بالمأثور | Sh 323 | ۲ |

د ماسټرۍ دورې ټول درسي کریډېټونه (۴۰) او د ماسټرۍ د تېزېس کریډېټونه (۵) دي. د ماسټرۍ دورې ټول درسي کریډېټونه (۴۵) دي، چې د اختصاصي کریډېټونو شمېر: (۲۲) د اساسي کریډېټونو شمېر: (۱٦) او د اختیاري کریډېټونو شمېر (۴) دی.

# د ټولنيزو علومو پوهنځی




## ۱. د پوهنځي پېژندنه

د ټولنيزو علومو پوهنځی د وخت له غوښتنو او د کابل پوهنتون د انکشافي پلان په رڼا کې په ۱۳۵۹ لمريز کال کې د کابل پوهنتون د يوه پوهنځي په توګه تاسيس شو، چې په پايله کې يې د تاريخ، ژورناليزم، فلسفې او ټولنيزو علومو ډيپارټمنټونه، د ادبياتو او بشری علومو له پخواني پوهنځی څخه را جلا شوې. او پوهنځي له يادو ډيپارټمنټونو سره فعاليت پيل کړ، خو ډېر ژر په دې پوهنځي کې يو په بل پسې نورې رشتې او ډيپارټمنتونه را منځته شول. په ۱۳۶۰ کال کې د بشر- پېژندنې او لرغونپوهنې او د افغانستان د نوي تاريخ ډيپارټمنټ (چې وروسته د افغانستان د معاصر تاريخ په نامه ونومول شوه)؛ په ۱۳۶۱ کال کې يې په پوهنځي کې په فعاليت پيل وکړ، د دې پوهنځي د بېلابېلو ډيپارټمنتونو په نصاب کې د پوهنتون ځانګړي او عمومي موضوعات لکه د افغانستان معاصر تاريخ، علمي ټولنپوهنه، سياسي اقتصاد او بهرنۍ ژبې شاملې وې. د تعليمي موخو په اساس، د تاريخ او فلسفې په نصاب کې هم لس سلنه مسلکي موضوعات شامل وو، چې د ښوونې او روزنې پوهنځي د استادانو له خوا تدريسېدل.

د ټولنيزو علومو پوهنځي په ۱۳۵۹ کال کې د شپې پروګرام پيل کړ او په ۱۳۶۶ کال کې يې د ماسترۍ لومړنی پروګرام هم پيل کړ او افغاني ټولنې ته يې د ماسترۍ پروګرام فارغان وړاندې کړي دي. خو له بده مرغه له ۱۳۷۱ کال وروسته د کورنيو جګړو له امله د ماسترۍ پروګرام له خنډ سره مخ شو. البته په ۲۰۱۵ کال کې په دغه پوهنځي کې د «جندر او ښځو مطالعات» تر سرليک لاندې د ماسترۍ دوهم پروګرام پيل شو چې اوسمهال د تحصيلي نصاب د بيا کتنې له امله ځنډول شوی دی.

په تېرو کلونو کې په دغه پوهنځي کې د انتروپولوژي او لرغونپوهنې د پوهنځي لپاره تعليمي موزيم موجود و، خو د جګړو پر مهال زيانمن شوی. وسايل يې له منځه تللي وو، خو په وروستيو کلونو کې د جرمني د فري پوهنتون او د فرانسې د دافا مرکز په همکارۍ تر يو څه حده بيا مجهز او د محصلينو د فعاليت لپاره چمتو شوي دي.

اوس مهال دغه پوهنځی څلور څانګې لري؛

۱. انتروپولوژي او لرغونپوهنه؛

۲. عمومي تاريخ؛

۳. معاصر تاريخ؛

٤. فلسفه او ټولنپوهنه.

او درې ځانګې يې محصلين فارغوي.

د ټولنيزو علومو پوهنځي له بېلابېلو ډيپارټمنټونو څخه ډېر نامتو شخصيتونه ټولنې ته وړاندې شوي او غښتليو استادانو پـه دې پوهنځي کې تدريسي چارو ته په لوړ همت او پخه اراده اوږه ورکړې وه، د بيلګې په توګه پوهاند سيد بهاء الدين مجروح، پوهاند محمد حسن کاکړ، پوهاند سيد سعد الدين هاشمي، پوهاند ميرحسين شاه خان جوادي.

له ۲۰۱۳ کال وروسته هڅې پيل شوې چې له نړيوالو بنسټونو سره د پوهنځيو او ډيپـارټمنټونو اړيکـې ټينګـې او را منځتـه شي چې په پايله کې د دغه پوهنځي يو شـمېر اسـتادانو فيلوشـيپونه او سکالرشـيپونه واخيسـتل، او د دې پـوهنځي دوه کسـه اسـتادان د انتروپولوژي، لرغونپوهنې او فلسفې او ټولنپوهنې لـه ډيپـارټمنټونو څخـه د ماسـترۍ زده کـړو پـه موخـه هنـد تـه ولېـږل شـول. د انتروپولوژي او لرغونپوهنې د پوهنځي يو شمېر استادان او محصلين د خپلو زده کـړو د دوام لپـاره فرانسـې تـه واسـتول شـول، پـه وروستيو کلونو کې د دغه پوهنځي يو شمېر استادانو متحده عربي اماراتو، هند، چين، نيپال، قزاقستان او ايران تـه سـفر وکـړ. هغـه فعاليتونو ته په کتو سره چې د ټولنيزو علومو په پوهنځي کې ترسره شوي دا څرګنده بسنه نه کوي، لا نورې هڅې هم روانې دي چې د دې پوهنځي د لا پراختيا لپاره تر سره شي.

په پام کې ده چې ډېر ژر په دې پوهنځي د افغانستان پېژندنې په برخه کې د ماسترۍ پروګرام هم پيل شي.

### ۲. د پوهنځي موخې

#### الف. ليدلوری

د اکاډميکو لارو چارو پر بنسټ د ټولنيزې پوهې د توليد او را منځته کېدو او د افغاني ټولنې د فرهنګ لوړولو په برخه کې، د کابل پوهنتون د معتبرو علمي او اکاډميکو بنسټونو په توګه د ټولنيزو علومو د پوهنځي د مقام ټينګول.

#### ب. مأموريت

د ټولنيزو علومو پوهنځی د دغه پوهنځي او په ټوله کې د کابل پوهنتون د سپېڅليو ارمانونو او موخو د پلي کېـدو پـه موخـه د دغه پوهنځي د محصلينو، استادانو او کارکوونکو د تخنيکي، مسلکي او فني ظرفيتونو د لوړولو په برخه کې هلې ځلې کـوي او د لاسته راوړنو زمينه برابروي.

#### ج. اساسي موخې

د ټولنيزو علومو پوهنځی د يوې علمي او اکاډميکې ادارې په توګه د معياري علمي او څېړنيزو فعاليتونو شاليد لري، هڅه کوي چې په ټولنيزو برخو کې د پوهې په تدريس او خپرولو او په دې برخه کې د رضاکارانو په روزلـو سره ټـولنې تـه د اړتيـا وړ علمـي خدمات وړاندې کړي. د دې پوهنځي دنده د معياري ښوونيزو خدمتونو وړاندې کول، علمي څېړنې ترسره کول او په ټولنـه کـې د متخصصو کارکوونکيو روزل او وړاندې کول دي.

د ټولنيزو علومو پوهنځی د استادانو او کارکوونکو د علمي او اکاډميک ظرفيت د لوړولو ترڅنـګ لانـدې فعاليتونـه او مـوخې لري؛

- د ټولنې له اړتياوو سره سم د لوړ کيفيت تعليمي خدماتو چمتو کول؛
- د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د اسانتياوو او امکاناتو رامنځته کول او پراختيا؛
- د تکنالوژيکي وسايلو په کارولو سره د سالم تعليمي چاپيريال رامينځته کول؛
- د استادانو او محصلينو د ارزونې سيستم معياري کول؛
- د ښوونيز نظام او تدريسي ميتودونو اصلاح او ښه کول؛
- له علمي بنسټونو، کورنيو او بهرنيو پوهنتونونو سره د علمي – تحصيلي تړونونو لاسليک کول.

**۳. توأمیتونه**

تر تیرو کلونو پورې، د ټولنیزو علومو پوهنځي لـه بېلابېلـو بنسـټونو، لکـه: د ایریزونـا پوهنتـون، د شـیکاګو پوهنتـون، او دافـا انستیټیوټ سره لند مهاله توامیتونه درلودل؛ له دې سربېره یې له آغـا خـان فرهنګـي بنسـټ سره د همکـارۍ یـو تفـاهم لیـک هـم لاسلیک کړ.

**۴. دیپارتمنتونه**

د ټولنیزو علومو پوهنځی څلور دیپارتمنتونه لري، چې هر یو یې د اړتیا په اساس جوړ او فعالیت کوي.

**د انتروپولوژي او لرغونپوهنې ډيپارټمنټ**

**الف. معرفي**

د ټولنیزو علومو پوهنځي د انتروپولوژي او لرغونپېژندنې ډیپارټمنټ پـه **۱۳۶۲** کـال کـې د ټـولنې د اړتیـاوو او د تېـر تـاریخ او فرهنګ د پوهې او همدارنګه د افغاني ټولنې د لرغونو اثارو د پېژندنې په موخه رامنځته شوه.

د دې څانګې نصاب د وخت له غوښتنو سره سم څو څو ځله تعدیل شوی، لومړی پـه **۲۰۱۵** کـال کـې د یـو شـمېر بهرنیـو او داخلي استادانو په مشوره تعدیل شو چې یو شمېر نور تخصصي او مسلکي موضوعات یې په نصاب کې شـامل کـړل او پـه ۲۰۱۸ کال کې یې ځینې نور بدلونونه هم پکې راوستل. اوس مهال په نصاب کې د کاري اړتیاوو او د OBE سیستم په اړه بنسټي بدلونونـه راغلي دي.

افغانستان د یوه اوږده تاریخ درلودونکی هیواد دی، چې د کلونو په اوږدو کې یې ارزښتمنې مادي او معنوي کلتوري زیرمې په ځای پریښې دي، چې د نړۍ پام یې ځان ته را اړولی.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

د داسې تعلیمي فرصتونو رامینځته کول، چې د انتروپولوژي او لرغونپوهنې په برخه کې د زده کونکو پوهه، چلن او مهارتونه له خورا لوړ کیفیت څخه برخمن شي. په دې برخه کې به د انتروپولوژي او لرغونپوهنې څانګې له نوښتګر انـد سره مـل د څېړنـې او تدریس پر مټ د نوښتګرو، ژمنو او مسولیت منونکو انسانانو د روزنې په لټه کې وي.

**۲. مأموریت**

د انتروپولوژي او لرغونپوهنې پـه برخـه کـې د علمـي او عمـلي مهـارتونو د پراختیـا لپـاره د لارو چـارو رامینځتـه کـول څـو د انتروپولـوژي او لرغونپـوهنې پـه برخـه کـې د څـانګړو پروګرامونـو لـه لارې ژمـن، نوښـتګر او وړ محصـلین وروزل شي، څـو د انتروپولوژي او لرغونپوهنې په برخه کې متخصص انساني ځواک چمتو کړي.

**۳. اساسي موخې**

انتروپولوژي او لرغونپوهنه د ټولنیزو علومو له هغو ډیپارټمنټونو څخه دي چې له پخـوا تـر نـن د انسـانانو د ژونـد کـړه وړه او فرهنګ مطالعه کوي چې له جغرافیوي پلوه د ځمکې ټولې هغه برخې چې انسانان پکې استوګن دي په خپله غېږه کې لري.

۱. په یادو ډیپارټمنټونو او تخصصونو کې د لیسانس زده کونکو روزل د دې څانګې له بنسټیزو موخو څخه دي.
۲. د لومړنیو فرهنګونو پېژندنه او فرهنګي بدلونو ته په کتو سره د هغه وخت د خلکو لاسته راوړنې.
۳. د نړۍ د توکمونو او په ځانګړې توګه د افغانستان؛ چې بېلابېل قومونه لري، د افغاني ټولنې د پېژندنې لپاره ښه بنسټ دی.
۴. د کلتوري میراثونو پېژندل او په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو پرمختګونو کې د هغه ونډه؛

۵. د نړۍ او افغانستان د پخوانیو تمدنونو او مدنیتونو پېژندنه.

۶. د لرغونو دورو پېژندنه، د ژوند څرنګوالی، باورونه او د ټولنې په بېلابېلو برخو کې د اړیکو درلودل.

۷. نړیوالو ته د هغوی د رامنځته شویو میراثونو په مرسته د افغانستان د اصلي او سنتي ټولنې معرفي کول.

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي یا ډیپارټمنټ وال مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د انتروپولوژي یا بشر پېژندنې بنسټونه | SS-AA 0104 | ٤ | ۹ | د انتروپولوژي یا بشر پېژندنې مکاتب | SS-AA 0303 | ٤ |
| ۲ | د لرغون پېژندنې بنسټونه | SS-AA 0203 | ٤ | ۱۰ | د افغانستان لرغون پېژندنه | SS-AA 0403 | ۳ |
| ۳ | د لرغونپېژندنې د مهندسۍ سیستمونه | SS-AA 0507 | ٤ | ۱۱ | وقایوي لرغون پېژندنه | SS-AA 0404 | ۳ |
| ٤ | سکه پېژندنه | SS-AA 0705 | ۳ | ۱۲ | د لرغون پېژندنې د پروژې مدیریت | SS-AA 0604 | ٤ |
| ۵ | د لرغونپېژندنې سرچینې | SS-AA 0706 | ٤ | ۱۳ | عملیاتي لرغون پېژندنه | SS-AA 0605 | ٤ |
| ٦ | د ګاونډیو هیوادونو لرغون پېژندنه | SS-AA 0803 | ۳ | ١٤ | د منځني ختیځ لرغون پېژندنه | SS-AA 0805 | ۲ |
| ۷ | موزیم پېژندنه | SS-AA 0804 | ٤ | ۱۵ | مونوګراف | SS-AA 0802 | ۵ |
| ۸ | د افغانستان لرغون پېژندنه (د ډبرو دوره) | SS-AA 0303 | ۲ | | | | |

**۲. د فلسفې او ټولنپوهنې ډیپارټمنټ**

**الف. معرفي**

د فلسفې ډیپارټمنټ د ۱۳۵۳ لمریز کال په لومړیو کې د ادب او بشري علومو د پوهنځي په چوکاټ کې د ارواښاد پوهاند ډاکټر سید بهاءالدین مجروح په هلو ځلو تاسیس شو، خو د لومړي کال له فراغت وروسته د فلسفې او ټولنیزو علومو ډیپارټمنټ وتړل شو، چې وروسته د ټولنې د او اړتیاوو او د کار د بازار د اړتیا په صورت کې د اوبایمې لسیزې په لومړیو کې دا ډیپارټمنټ د فلسفې او ټولنپوهنې په ډیپارټمنټ بدل شو.

د فلسفې او ټولنپوهنې پوهنځي خپل نصاب د پوهنتون د اړتیاوو او اکاډمیکو معیارونو په رڼا کې تنظیم کړی او په منظم ډول یې نوي کړی دی.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

د داسې تعلیمي فرصتونو رامینځته کول، چې د فلسفې او ټولنپوهنې په برخه کې د محصلینو پوهه، چلن او مهارتونه له خورا لوړ کیفیت څخه برخمن شي. په دې برخه کې به د فلسفې او ټولنپوهنې ډیپارټمنټ له خلاقه اند سره مل د څېړنې او تدریس پر مټ د نوښتګرو، ژمنو او مسولیت منونکو انسانانو د روزنې په لټه کې وي.

**۲. مأموریت**

د فلسفې او ټولنپوهنې په برخه کې د علمي او عملي مهارتونو د پراختیـا لپـاره د لارو چـارې رامینځتـه کـول څـو د فلسـفې او ټولنپوهنې په برخه کې د فلسفې او ټولنپوهنې د څانګړو کورسونو له لارې ژمن، نوښتګر او وړ زده کونکو روزل شي.

**۳. اساسي موخې**

په افغاني ټولنه کې د افکارو تولید او د افکارو پیژندنه، او د ټولنپوهنې له اړخه د افغاني ټولنې پېژندنه د دې څانګې لـه مهمـو موخو څخه دي.

د فلسفې او ټولنپوهنې د څانګې نورې موخې په لاندې ډول دي:

۱- د فلسفې او ټولنپوهنې په ډیپارټمنټ کې د لیسانس په کچه د محصلینو روزنه او ټولنې ته یې وړاندې کول.

۲- د افغاني ټولنې د ستونزو درک.

۳- له اړوندو دولتي او خصوصي بنسټونو سره مرسته کول.

٤- په ټولنیزو مسلو کې د علمي پروژو تر سره کول.

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ټولنپوهنې تاریخ | SsPhSo26 | ۳ | ۱۹ | د لوېدیځ لرغونې فلسفه | SsPhSo43 | ۲ |
| ۲ | د هنر ټولنپوهنه | SsPhSo28 | ۲ | ۲۰ | میتودلوژی | SsPhSo44 | ۲ |
| ۳ | د ختیځ لرغونې فلسفه | SsPhSo33 | ۲ | ۲۱ | د کلیو ټولنپوهنه | SsPhSo45 | ۳ |
| ۴ | پراختیایي ټولنپونه | SsPhSo35 | ۲ | ۲۲ | د اسلامي پوهانو ټولنیزې نظریې | SsPhSo47 | ۳ |
| ۵ | د معرفت تیوري | SsPhSo36 | ۲ | ۲۳ | د مذهبونو تاریخ | SsPhSo52 | ۲ |
| ٦ | د اخلاقو فلسفه | SsPhSo37 | ۲ | ۲۴ | ښاري ټولنپوهنه | SsPhSo53 | ۲ |
| ۷ | د کورنۍ ټولنپوهنه | SsPhSo39 | ۲ | ۲۵ | اسلامي فلسفه ۱ | SsPhSo52 | ۲ |
| ۸ | د منځنیو پېړیو فلسفه | SsPhSo83 | ۲ | ۲٦ | د نوي عصر فلسفه ۱ | SsPhSo55 | ۳ |
| ۹ | اسلامي فلسفه ۲ | SsPhSo62 | ۲ | ۲۷ | سیاسي ټولنپوهنه | SsPhSo56 | ۲ |
| ۱۰ | د نوي عصر فلسفه ۲ | SsPhSo63 | ۳ | ۲۸ | دېموګرافي | SsPhSo58 | ۲ |
| ۱۱ | د ښځو ټولنپوهنه | SsPhSo65 | ۲ | ۲۹ | د ښوونې او روزنې ټولنپوهنه | SsPhSo71 | ۳ |
| ۱۲ | په ټولنیزو علومو کې د څېړنې لارې چارې | SsPhSo66 | ۴ | ۳۰ | د المان کلاسیکه فلسفه | SsPhSo72 | ۲ |
| ۱۳ | د ټولنیزو بدلونو ټولنپوهنه | SsPhSo68 | ۲ | ۳۱ | په ټولنپوهنه کې سیمینار | SsPhSo73 | ۲ |
| ۱۴ | هرمنوتیک | SsPhSo82 | ۳ | ۳۲ | د ښکلا پېژندنې فلسفه | SsPhSo74 | ۲ |
| ۱۵ | د لوېدیځ معاصره فلسفه | SsPhSo83 | ۲ | ۳۳ | د ټولنپوهنې نظریې ۱ | SsPhSo76 | ۳ |
| ۱٦ | ټولنیزې ننګونې | SsPhSo84 | ۲ | ۳۴ | فلسفۀ سیاسی | SsPhSo78 | ۲ |
| ۱۷ | د افغغاني ټولنې رغښت | SsPhSo85 | ۲ | ۳۵ | په فلسفه کې سیمینار | SsPhSo87 | ۲ |
| ۱۸ | د ټولنپوهنې نظریې ۲ | SsPhSo86 | ۳ | ۳٦ | مونوګراف | SsPhSo88 | ۵ |

**۳. د عمومي تاريخ ډيپارټمنټ**

**الف. معرفي**

دا ډيپارټمنټ په ۱۳۳٦ هجري لمريز کال کې د ادبياتو او بشري علومو د پوهنځي پـه چوکـاټ کـې تاسـيس شـو او تـر ۱۳۵۹ لمريز کال پورې د دغه پوهنځي په چوکاټ کې فعال و.

له ۱۳۵۹ کال راهيسې يې د تاريخ او فلسفې پوهنځي په چوکاټ کې د ژورناليزم، توکم او فلسفې له ډيپارټمنټونو سره يو ځـای فعاليت درلود او له ۱۳۷۱ لمريز کال څخه د عمـومي تـاريخ ډيپارټمنـټ د فلسـفې او ټولنپـوهنې، لرغونپـوهنې -انتروپولـوژي او معاصر تاريخ سره يو ځای د ټولنيزو علومو په پوهنځي کې فعاليت لري.

په ۱۳٦۴ هجري لمريز کال کې د دې څانګې په چوکاټ کې د تاريخ د ماسټرۍ پروګرام پيل شـو او تـر ۱۳۷۰ هجـري لمريـز کال پورې يې دوام درلود، چې له بده مرغه له ۱۳۷۰ لمريز کال وروسته د دې څانګې د ماسټرۍ د پروګرام فعاليت ودرېد.

د عمومي تاريخ ډيپارټمنټ د شپې او ورځې دوې برخې لري، د کريډيټ له بشپړولو او د مونوګرافونو له ليکلو وروسته د شپې او ورځې محصلين د تاريخ په برخه کې د عمومي تاريخ برخې د متخصصينو په توګه ټـولنې تـه وړانـدې کيـږي، چـې د عمـومي تاريخ د څانګې اصلي موخه د ژمنو، پوهو او پر وطن مينو ځوانانو روزنه ده.

**ب. موخې**

**ليدلوری**

د داسې تعليمي فرصتونو رامينځته کول، چې د عمومي تاريخ په برخه کې د زده کونکو پوهه، چلند او مهارتونه لـه خـورا لـوړ کيفيت څخه برخمن شي. په دې برخه کې به د عمومي تاريخ ډيپارټمنټ له خلاقـه انـد سره مـل د څېړنـې او تـدريس پـر مـټ د نوښتګرو، ژمنو او مسوليت منونکو انسانانو د روزنې په لټه کې وي.

مأموريت.

د عمومي تاريخ په ډګر کې داسې تعليمي فرصتونو رامنځته کول، څو محصلين د تاريخ په برخه کې له خـورا لـوړې پـوهې او ظرفيت څخه برخمن شي. په دې برخه کې به د عمومي تاريخ ډيپارټمنټ له خلاقـه انـد سره مـل د څېړنـې او تـدريس پـر مـټ د نوښتګرو، ژمنو او مسوليت منونکو انسانانو د روزنې په لټه کې وي.

**اساسي موخې**

د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو د پوهنځي په چوکاټ کې د عمومي تـاريخ ډيپارټمنـټ د جوړېـدو موخـه د هېـواد د تـاريخ مطالعه او څېړنه، د ملي عنعناتو او وياړونو ژوندي ساتل او د دې خاورې له وياړونو سره اشنايي.

دا ډيپارټمنټ د وطن د بچو د روزلو او د خپلو نيکونو د تاريخ او وياړونو د ورپيژندلو او د مسؤله، با احساسه او پوهو خلکو د روزلو لپاره ده، څو د وطن د بچيانو او د ګرانې خاورې په ساتنه کې مثبت رول ولوبوي.

په دې ډيپارټمنټ کې اوس هم هڅې روانې دي، چې ځوانان د تاريخ په علومو پوره پوه او له هغه سره اشنا شي. په پای کـې، د دې څانګې موخه د تاريخ د علم بډايه کول او د دې څانګې زده کونکو ته د تاريخ علم معرفي کول دي.

پر بنسټيې موخو سربيره، دا ډيپارټمنټ لاندې موخې هم لري:

۱- د تاريخ د علم د تدريس او څېړنې لپاره د متخصص پرسونل روزنه.
۲- راتلونکو نسلونو ته د هيواد د تاريخ په ورپيژندلو سره د ملي روحيې رامينځته کول.
۳- د هيواد د تاريخي ارزښتونو او تاريخي زېرمو د ساتلو لپاره د فعاله شخصيت لرونکو ځوانانو روزنه.
٤- د هغو کسانو روزنه چې د يو بل منلو روحيه او پراخ ليد ولري.

**د .تحصیلي نصاب (ډیپارټمنټ وال مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د شرق د تمدن تاریخ | SsH16 | ۳ | ۱۷ | د اسیایي هیوادونو تاریخ | SsH43 | ۲ |
| ۲ | د افغانستان لرغونی تاریخ | SsH25 | ۲ | ۱۸ | د اروپا تاریخ | SsH44 | ۳ |
| ۳ | د غرب د تمدن تاریخ | SsH26 | ۳ | ۱۹ | د اسلام د تمدن تاریخ | SsH45 | ۲ |
| ۴ | د افغانستان تاریخ | SsH32 | ۳ | ۲۰ | په تاریخ کې د څېړنې لارې چارې | SsH46 | ۳ |
| ۵ | د اسیایي هېوادونو تاریخ | SsH33 | ۳ | ۲۱ | د افغانستان تاریخ | SsH61 | ۳ |
| ٦ | د اورپا تاریخ | SsH34 | ۲ | ۲۲ | سیاسي او اقتصادي جغرافیه | SsH62 | ۳ |
| ۷ | دافغانستان تاریخ | SsH51 | ۲ | ۲۳ | د اسیایي هیوادونو تاریخ | SsH63 | ۳ |
| ۸ | د افغانستان د تاریخ زېرمې | SsH52 | ۳ | ۲۴ | د اورپا تاریخ | SsH64 | ۳ |
| ۹ | د اسیایی هېوادونو تاریخ | SsH53 | ۳ | ۲۵ | د اسلام د تمدن تاریخ | SsH65 | ۴ |
| ۱۰ | د اوروپا تاریخ | SsH54 | ۳ | ۲٦ | د افغانستان تاریخ | SsH72 | ۲ |
| ۱۱ | د هنر تاریخ | SsH55 | ۳ | ۲۷ | د منځني ختیځ تاریخ | SsH73 | ۲ |
| ۱۲ | د ایران معاصر تاریخ | SsH73 | ۳ | ۲۸ | د افریقا تاریخ | SsH74 | ۲ |
| ۱۳ | د روسیې معاصر تاریخ | SsH74 | ۳ | ۲۹ | د اورپا تاریخ | SsH75 | ۲ |
| ۱۴ | د هند د نیمې وچې تاریخ | SsH75 | ۲ | ۳۰ | د لرې ختیځ تاریخ | SsH77 | ۲ |
| ۱۵ | د اسیا د سویل ختیځ تاریخ | SsH77 | ۲ | ۳۱ | د امریکا د متحده ایالتونو تاریخ | SsH79 | ۳ |
| ۱٦ | د افغانستان تاریخ | SsH42 | ۳ | ۳۲ | مونوګراف | SsH79 | ۳ |

**۴. د افغانستان د معاصر تاریخ ډیپارټمنټ**

**الف. معرفي**

د ټولنیزو علومو پوهنځي په چوکاټ کې د افغانستان د معاصر تاریخ تدریس په ۵۰ لسیزه کې د عمومي تاریخ د څانګې تر چتر لاندې تر سره کېدو، په ۱۳٦۲ کال د افغانستان د نوي تاریخ ډیپارټمنټ د یوې خپلواکې علمي څانګې په توګه د افغانستان د معاصر تاریخ د موضوع د تدریس په موخه رامنځته شوه.

**ب. موخې**

**لیدلوری**

د تعلیمي فرصتونو رامینځته کول چې د افغانستان د معاصر تاریخ په برخه کې د محصلینو پوهه، چلند او مهارتونه لوړ کیفیت ولري.

**مأموریت**

د افغانستان د معاصر تاریخ د پېښو له اساسي مفاهیمو سره پوره آشنایي، د افغانستان د معاصر تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د پېښو سمه پېژندنه او تشخیص.

**اساسي موخې**

د تاریخ د علم موضوع له پخوا سره تړاو لري، مګر معاصر تاریخ نه ډېر لرغونی. په دې برخه کې محصلین کولای شي چې د خپل هېواد له نږدې ماضي حالاتو څخه خبر شي او پوه شي چې پاچاهانو، اشرافو، وزیرانو، لیکوالو کوم او څه کارونه کړي دي چې هېواد یې نن په دې حالت کې دی.

# د وترنري علومو پوهنځی




## ۱. پېژندنه

د وترنري علومو پوهنځی په ۱۳۵۲ ل د حوت په میاشت کې چې د ۱۹۷۴م فبروری کې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې جوړ شو. د وترنري مسلک نه یوازې دا چې د حیواني روغتیا، بلکې د عامې روغتیا له اړخه هم یوه ارزښتمنه رشته ده. د دې لپاره چې یو زیات شمېر ساري ناروغۍ هم د څارویو او هم د انسانانو ترمنځ مشترکې دي.

د وترنري علومو پوهنځی د ملي وترنري کادرونه، چې وشي کړای د حیواني ناروغیو مهمې ناروغۍ په تېره ساري ناروغیو، چې زیاته برخه یې د انسان او حیوان تر منځ مشترکې دي، تشخیص، درمان، مخنیوی، کنټرول او له منځه یوسي، روزي. په دې ډول د دې مسلک اړوند خلک نه یوازې دا، چې د حیواني ناروغیو درملنه، مخنیوی او دغه ناروغۍ له منځه وړي، بلکې د یوشمېر مهمو انساني ناروغیو لکه نري رنځ، بروسلوز او نورې ناروغۍ په همدې توګه د کورنیو اقتصادي کچې لوړونې یا ودې او د ملي اقتصاد په وده کې اساسي ونډه لري.

د دغه پوهنځي مسولین د پوهنځي د ودې او پرمختګ په موخه تل د مالي سرچینو د موندلو لپاره هڅې کړې، چې د همدغو هڅو په پایله کې پوهنځی او د کابل پوهنتون بریالی شوی، تر څو له (UNDP/FAO) سره د هکاري تړون وکړي. د FOA پروژې په مالي مرسته نوموړی پوهنځی د شاوخوا پنځلس کلونو په موده کې د کابل پوهنتون په یو مجهز پوهنځي باندې واوړي او د نوموړې پروژې په مالي مرسته وتوانېده، چې (۲۲) مجهز لابراتوارونه، تدریسي کلینیک او څو حیواني تحقیقي فارمونه جو کړي. په همدې توګه د دغې پروژې په مالي امکاناتو څخه په استفادې د پوهنځي یو زیات شمېر استادان د ماسټرۍ او دوکتورا له پاره مختلفو هېوادونو ته ولېږل. له بده مرغه باید یادونه وکړو، چې د تحملي جګړو له پیل سره د دې پوهنځي ټولې لاسته راوړنې له خاورو سره خاورې شوې.

د پوهنځي د نکروپسي لابراتوار تر بیا رغونې وروسته په کار پیل وکړ. په همدې توګه نوموړې مؤسسې د حیواني جسدونو او په همدې توګه د اضافي موادو له منځه وړلو، چې د مختلفو ناروغیو د لېږد یا انتقال خطر له ځانه سره ولري د جسدونو سوزولو یوه کوره هم اهدا کړه.

پوهنځی د علمي کارونو د پرمخ وړلو له پاره بریالی شوی، چې یو حیواني روغتون او تحقیقي فارم د کابل د دارالامان په سیمه کې جوړ کړي. د هغه قرارداد په پایله کې، چې د اوبلگونې، کرنې او مالدارۍ وزارت سره وشو د اروپا په مالي مرسته د مرکزي لابراتوار تر څنګ د زراعت له وزارت سره د حیواني صحت د پیژندنې ډیپارټمنټ، چې د (کلینیکي – جراحي واحد) په

وم یادېږي دوه ځانګړې ودانۍ د کوچنیو او لویو څارویو د روغتون په ډول جوړې کړې. دغه ودانۍ د قرارداد له مخې د (۳۰) کالو لپاره د وترنري پوهنځي ته ورکړل شوې ده. اوس په دغې ودانۍ کې د پوهنځي کادري روغتون فعالیت کوي.

په دغه موده کې له (۱۵) څخه زیات استادان د ماسټري او دوکتورا لپاره جاپان، اردن، د امریکا متحدو ایالتونو، هند او قزاقستان ته لېږل شوي دي.

دغه پوهنځی د معلوماتي ټکنالوجي او کمپیوټر یو فعال مرکز هم لري. د امریکا ګورنل پوهنتون (۲۴)کمپیوټره هم دغه مرکز ته ورکړي، د یادونې وړه ده، چې د پوهنځي د دغه مرکز نور لوازم د (USAID) موسسې له لوري تأمین شوي دي. محصلین په دغه مرکز کې د مهالوېش پر اساس پر مطالعې او انټرنیټي معلوماتو موندولو په موخه، چې په خپلو مونوګرافونو او سیمنارونو کې ور څخه استفاده کوي مصروف دي. دغه پوهنځی یو کتابتون لري، چې په هغه کې شاوخوا(۴۰۰۰) ټوکه درسي کتابونه، درسی مواد، علمي او معتبرې مجلې په انګلیسي، پښتو، دري او نورو ژبو کې موجودې دي. دغه کتابتون په رسمي وخت کې هره ورځ پرانستی وي، چې استادان، محصلین او نور مینه وال ور څخه ګټه اخلي.

هغه محصلین چې نوي په پوهنځي کې شاملیږي د شمولیت تر بریالۍ ازموینې وروسته، چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري اخستل کېږي کولای شي، چې په همدغه پوهنځي کې شامل شي. په پوهنځی کې زده کړې په لس سمسټرونو بشپړیږي. د پوهنځي د محصلانو له پاره هر کال د درسونو تر پیل کېدو مخکې د پوهنځي او پوهنتون د معرفۍ برنامه هم په نظر کې نیول کېږي. د دغه پوهنځي په لومړي ټولګي کې محصلین، پوهنتون شمول مضامین، لکه: ریاضي، فزیک، کیمیا،زولوجي،اسلامي ثقافت، انګلسي ژبه او نور مضامین زده کوي، چې د پوهنتون د نورو پوهنځیو استادان یې ورته تدریسوي.

د محصلینو اساسي درسونه په دوهم ټولګي کې پیل کېږي. دوی په دغه ټولګي کې د وترنري اناټومي، بیوشمي، فزیولوجي، د وترنري ایکولوجي او د وترنري هستولوجي تدریسېږي، چې د پوهنځي استادان یې تدریسوي. په درېیم ټولګي کې تخصصي مضامین دي، لکه: حیواني تغذیه، ویرولوجي، حیواني حفظ الصحه، د څارویو پالنه اوداسي نور زده کېږي. د وترنري کلینکي زده کړې په څلورم ټولګي کې پیل کېږي او د پنځم ټولګي تر پایه دوام مومي. په څلورم ټولګي کې محصلین اپیدومیولوجي ساري ناروغیو فارمکولوجي،کلینیکي تشخیص، د داخله ناروغو وترنري او داسي نور مضامین چې په هغو کې د څېړنې میتودولوجي او د یوې علمي څېړنې، د مثال په ډول مونوګراف لیکلو څرنګوالی ورزده کېږي. محصلین د لسم سمسټر په پای کې خپل مونوګراف، چې ساحوي جنبه لري د پایلک په توګه د حضوري داور، استادانو، محصلینو او نورو مینه والو په حضور کې دفاع کوي او خپل دیپلوم د وترنري طب د ډاکتر ( DVM)، چې د لسانس معادل (BSC) دی تر لاسه کوي.

د دې پوهنځي د فارغانو کاري ساحه د کرهنې وزارت، ښاروالي، د عامې روغتیا وزارت، سوداګرۍ وزارت، په غیرې دولتي مؤسسو کې د وترنرۍ برخه، دخوړو او کرنې نړیوال سازمان (FAO) او د خصوصي سکټور نورې برخې دي. د دغه پوهنځي یو شمېر فارغان په مختلفو هېوادونو کې د ډاکتر په توګه کار کوي. یوشمېر فارغانو د حیواني کلینیکونو درملتونونو جوړولو ته هم مخه کړې، چې په دې توګه هم خپل ژوند مخته وړي او هم خپلو هېوادوالو ته خدمت کوي.

**۲. تحصيلي موخې**

- د وترنري طبابت د زده کړې معيار لوړول او تشويق.
- وترنرانو او مالدارانو ته په دوامداره توگه روزنه ورکول او تخنيکي زده کړو ورښوول.
- د يوه تخصصي مرکز په توگه د حيواني صحي خدماتو لپاره زمينه برابرول، مشوره ورکول او د لابراتوارونو مشخصول، خصوصي او دولتي مؤسسو او مالدارانو ته.
- د ځوانو وترنرانو روزل، چې لوړې مسلکي زده کړې ولري، ترڅو هغه ستونزې، چې د حيواني صحت په برخه کې شته(تشخيص، درملنه، مخنيوی) دي، په هيواد کې مخنوی وشي.
- د څارويو د سلامتی او د هغو د محصولاتو د لوړولو په موخه غوره زده کړې او مهارتونه.

**الف. ليدلوری**

د وترنري علومو پوهنځی د کار تقاضا ته په کتو سره د زده کړې کيفيت لوړونې، معياري زده کړو، په وترنري علومو کې د علمي تحقيقاتو تر سره کول او دمهارتونو لوړول، چې غواړي د يوې مخکښې مؤسسې په توگه په ملي او نړبواله کچه وپيژندل شي.

**ب. دندې**

د وترنري د برخې علمي او مسلکي کادرونو روزل، چې لوړې زده کړې ولري، لوړ کيفيت لرونکي کادرونه، چې لوړ مهارتونه ولري، چې د وخت او زمان غوښتنې حل او هم کادري غوښتنو ته په ملي او بين المللي سطح ځواب وو ايي.

**ج. اساسي موخې**

- ټولنې ته د علم او پوهې په گانه سمبال ځوانان وړاندې کول.
- د څارويو د صحت ښه کول او محصولات يې لوړول.
- د انسان د روغتيا ښه والی، د هغو د درامد زياتوالی او په همدې توگه د انسانانو ژغورل د هغه ناروغيو څخه، چې د انسان او حيوان تر منځ مشترکې دي(زونوز).
- په واحد صحت کې گدون او د هغو تامين.
- د غذاي خونديتوب په موخه په اوږد مهاله پروگرامونو باندې کار کول.
- خلکو ته د وترنري روغتيايي خدماتو ارايه کول.
- د خلاقيت، نوښتونو او د عملي تحقيقاتو په مټ د خلکو د ستونزو د حل په موخه ځوان نسل ته انگېزه ورکول.

**۳. تفاهمليکونه**

د وترنري علومو پوهنځی تر اوسه درې تفاهمليکونه لاسليک کړې دي، چې په دي ډول دي:

- د علمي او تحقيقي همکاريو تفاهمليک، چې د کرهنې اوبو لگولو او مالداری وزارت او د لوړو زده کړو وزارت تر منځ لاسليک شوې ده.
- د اوبو لگولو، زراعت او مالداری وزارت او د لوړو زده کړو وزارت ترمنځ په اوږد مهال کې د زده کړو د زمينې مهيا کولو او مخکې وړلو تفاهمليک.
- د اوبو لگولو، کرهنې او مالداری وزارت، کابل پوهنتون او د ميهونيمل هوم مؤسسي تر منځ د ليوني سپي د ناروغی مخنيوي، کنټرول، د هغو د جمعيت مخنيوی، د واکسيناسيون د برنامې له لارې او د هغو د عقيم سازی تفاهم نامه.

**۴. ډیپارټمنټونه**

د وترنري علومو پوهنځی اوس مهال پنځه فعال ډیپارټمنټونه لري، چې هر یو یې په خپلې کاري ساحې کې، لکه د مضمونونو اړوند فعالیتونه، تدریس، څېړنه او د خدماتو ارایه کول مخکې وړي. ډیپارټمنټ د اکاډمیک بنسټ په توګه په خپلو اصولي اجراآتو کې خپلواک دی.

**۱-د پریکلینیک ډیپارټمنت**

**الف. پېژندنه**

د پریکلینک ډیپارټمنټ د وترنري طب اساسي مضامین لکه اناټومي، فزیولوجي، بیشیمي، طبي لاتین، هستولوجي او امبریولوجي په نظري او عملي توګه مخته وړي. دغه ډیپارټمنټ زیاتره د وترنري طب مخکښ مضمونونه تر خپل پوښښ لاندې راولي، د دې تر څنګ ډیپارټمنټ کولای شي په کادري روغتون په علمي برخه کې د فزیولوجیکي حیاتي پارامیترونه، بیوشیمیکي، هستولوجي او امبریولجي او د توپوګرافیک په جراحی کې د مخکښو مضامینو په توګه هم فعاله برخه واخلي. دغه ډیپارټمنټ لایق کادري علمي غړي لري، چې د دوکتورا او ماستری تر کچې لوړې زده کړې یې کړې دي. د ډیپارټمنټ مضمونونه کولای شي د ګټې د سرچینې په توګه په دغه ډیپارټمنټ کې کلنیکي او عملي استفاده ولري. پر دې سربېره د اناتومی په مضمون کې ډیپارټمنټ د بېلابېلو څارویو د موډلونو په تیارولو کې ونډه لري. همدارنګه د علمي او عملي څېړنو له لارې ډیپارټمنټ د خصوصي او دولتي سکتور د ستونزو په حل کې رول درلودلای شي. ډیپارټمنټ په ټوله کې ۷۰۴ درسي ساعتونه لري، چې له دې جملې، ۴۹۹ هغه یې نظري یا لکچر او ۲۴۶ یې عملي دي. ددغې ډیپارټمنټ د علمي کادر غړي په ټولو علمي او څېړنیزو برخو او ټولنې ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې ژمن دي. ډیپارټمنټ د بسیاینې لپاره اړونده سکتورونو ته د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د مضمونونو، مشورو ورکولو، د سروې د پروژو ترسره کولو، علمي او عملي څېړنو او زده کړه ییزو تربیوي پروګرامونو ډېرې لارې لري.

**ب. د زده کړې هدفونه**

- محصلین د بدن د غړو د جوړښت له پېژندلو، حیاتي پارامترونو، د غړو په دندو پوهېږي.
- محصلین د آزمایښت له ډولونو، حیاتي پارامترونو له سنجولو او غړو له دندو سره پېژندګلوي حاصلوي.
- محصلین د حجرې جوړښت، نسجونو، د جنین د انکشاف د پړاوونو په اړه معلومات حاصلوي.
- محصلین د توپوګرافی او غړو د موقعیت له لارې معلومات نه ترلاسوي او علمي پوهه په لوړو کورسونو کې تطبیقوي.

**۱. لیدلوری**

د پریکلینیک ډیپارټمنټ محصلین د وترنری په مسلکي زده کړو کې په عالي سویه روزي او هغوی له مهارتونو سره یې بلدوي، ترڅو تحصیلي دوره په بریالیتوب پای ته ورسوي.

**۲. ماموریت**

د پریکلینیک ډیپارټمنټ د باکیفیته تدریس د نوو او فعالو ډولونو له لارې، محصلین د ورځې د مسلکي او اړتیا وړ زده کړو په ترلاسه کولو د خدمت لپاره د هېواد د کار او پرمختګ بازار ته روزي.

**۳. اساسي او بنسټي هدفونه**

د پریکلینیک ډیپارټمنټ لاندې اساسي او بنسټي هدفونه تعقیبوي:

. په نتیجه ولاړ، د محصل محوره او د ورځې د مسلکي زده کړو په ترلاسه کولو له لارې د محصلینو روزنه.

. د ډیپارټمنټ په اړوندو مضمونونو کې د مسلکي مهارتونو پیاوړتیا.

. دعلمي اولاړښوونکوکانفرنسونود جوړولو له لارې دعلمي کادر دغړیو، تخنیکي کارکوونکو او محصلینو د ظرفیت لوړونه او د محصلینو لارښوونه.

. د تدریسي، څېړنیزو، خدمتونو وړاندې کولو، علمي او عملي ترفیعاتود چارو د مختـه وړلـو او د ډیپارټمنـټ، پـوهنځي او پوهنتون په علمي فعالیتونو کې ګډون.

. د داخلي، پوهنتون، سکتوري وزارتونو، خصوصي ادارو او متشبثینو په کمېټو کې فعال ګډون.

. په پوهنتون کې دننه او باندې له نورو مماثلو پوهنځیو او ډیپارټمنتونو سره هراړخیزه همکاري.

**ج. هوکړه لیکونه**

د پوهنځي له هوکړه لیک پرته مستقل هوکړه لیک نه لري.

**د) لابراتوارونه او زده کړییز وسایل**

ډیپارټمنټ د عملي زده کړو لپاره د بیوشیمي، فزیولوژي او اناتومي په وسایلو مجهز لابراتوارونه لري. د هستولوژۍ او امبریولوژۍ لابراتوارونه قسماً فعال او وسایلو ته اړتیا لري. دعلمي کادر زیاتره غړي د عملي چارو د مخته وړلو لپاره د کیمیاوي موادو، ریجینتونو او روغتیایي توکو له کمښت سره مخ دي.

**هـ. تحصیلي نصاب ( تخصصي مضامین)**

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | VS412 | د وترنرۍ فیزلوژيII | ۶ | ۵ | VS211 | د وترنرۍ اناتومي I | ۱ |
| ۲ | VS215 | طبي لاتین | ۷ | ۴ | VS311 | دوترنرۍ اناتوميII | ۲ |
| ۵ | VS214 | د وترنرۍ هیستولوژي او امبریولوژيI | ۸ | ۵ | VS313 | د وترنرۍ بیوشیميI | ۳ |
| ۳ | VS314 | د وترنرۍ هیستولوژي او امبریولوژيII | ۹ | ۳ | VS413 | د وترنرۍ بیوشیميII | ۴ |
| | | | | ۵ | VS312 | د وترنرۍ فیزیولوژيI | ۵ |

**۲. د پاراکلینیک ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د پاراکلینیک ډیپارټمنټ په باکتریولوژۍ، ویرولوژۍ، پارازیتولوژۍ، اپیدیمیولوژۍ، حیواني حفظ الصحې، پتالوژۍ او طیور ناروغیو په برخو کې په نظري اوعملي ډول د تدریس چارې په مخ وړي. دغه ډیپارټمنټ د وترنري طب زیاتره مضمونونه ترخپل پوښښ لاندې لري. ډیپارټمنټ د علمي او عملي څېړنو په برخه کې د ډاکټر او ماسټر په کچه علمي او مستعد کادري غړي لري.

ډیپارټمنټ په ټوله کې ۱۱۵۲ درسي ساعتونه لري چې ۶۴۰ هغه نظري یا لکچر او ۵۱۲ نور یې د کرېډیټ عملي ساعتونه دي. ډیپارټمنټ په ټولو مضمونونو کې دعلمي او عملي څېړنو لپاره ښه زمینه لري چې د ډیپارټمنټ بسیاینې کې ښه رول درلودای شي. د مسلکي او تخصصي کادر ظرفیتونه په دغه ډیپارټمنټ کې موجود دي، چې په دولتي او خصوصي سکتورونو کې لـه هغې کـار اخیستل کېدای شي.

ددغې ډيپارټمنټ دعلمي کادر غړي پـه ټولـو، علمـي، څېړنيـزو او خـدمتونو وړانـدې کولـو برخـو کـې ټـولنې تـه ژمـن دي. ډيپارټمنټ د بسيايني لپاره اړونده سکتورونو ته د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د مضمونونو، مشـورو ورکولـو، د سروې د پـروژو ترسره کولو، علمي او عملي څېړنو او زده کړه ييزو تربيوي پروګرامونو ډېرې لارې لري.

دغه ډيپارټمنټ د علمي مسؤوليتونو په څنګ کې د ډېر لـوړعلمي ظرفيـت او تـوان درلـودونکې دی او د حيـواني روغتيـا لـه سکتورونو (د کرنې، اوبولګولو او مالداری محترم وزارت)، د عامې روغتيا سکتور (دعامې روغتيـا محـترم وزارت) سره، د پاليسـيو اوستراتيژيو په جوړولو او د هغو په تطبيق کې کار کولای شي. له دې سربېره په ملي، سيمه ييزه او نړيواله کچه لـه معتـبرو نړيوالـو سازمانونو لکه، د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې نړيواله اداره (FAO)، (OIE)، (WHO) او نورو ګټو ادارو سره په کـاري مسـلک اړوندو ساحو کې همکاري؛ په نړيواله کچه د افغانستان د حکومت له موقف نه ملاتړ کوي او په بېلابېلوعلمي او راپور ورکونې پـه برخو کې خپل رول لوبولای شي. دغه ډيپارټمنټ د واکسينيشن د کمپاينونو، د پارازيتونو ضد ستراتيژيکو برنامو د وړاندې کولو او وقايوي برنامو په جوړولو او ډيزاين کې مهم رول نشي لوبولای. مهمه دا چې مالداري د حيواني روغتيا او توليد سره اړونـده نـه ده او په ټولنه کې د کورنيو عوايدو پياوړتيا، د روغتيايي خدمتونو له لارې د غذايي امنيت تأمين، د سالمو څارويود ساتنې لـه لاري د معيشيت د تأمين لارې، د توليد لپاره زياتې دي، چې ملي عوايد پياوړي کوي. سربېره پردې د ستونزو د پېژندلو له لارې دمهارتونو پياوړتيا، د مدرنوڅېړنيزوطريقو په وسيله د ستونزو منطقي حل لارو موندل، طرح او پروژوي څېړنې دډيزاين لپاره تياروي.

**ب. تحصيلي موخې**

ـ محصلان له ناروغيو سره؛ د ناروغيو له عواملو سره او له نسجي غير عاديتوب سره بلـدېږي. همدارنګـه د غړيـو غيـر نـارملې وظيفې پېژني.

ـ محصلان له تجربوي طريقو سره؛ د تشخيصي پاراميټرونو له سنجش سره او د نـاروغيو لـه عواملـو سره اشـنايي پيـدا کېـږي. همدارنګه پيتالوژيک حالات او د غړيو غيرنارملې دندې، نښې، خپربدل، وقايه او د ناروغو له کنټرول يره هم اشنايي پيدا کوي.

ـ محصلان د ناروغيو له انکشاف او مرحلو سره بلدېږي او د حفظ الصوي مسايلو په اړه هم معلومات پيدا کوي.

ـ محصلان د ناروغيو د عواملو تشخيص د تجربوي طريقو؛ مخنيوي او وقايې پـه اړه د معلومـات تـر لاسـه کـوي او دا علمـي ذخيرې په عالي کلينيکي کورسونو کې تطبيقوي.

**۱ . نظر يا لېدلوری**

پاراکلينيک ډيپارټمينټ محصليو ته ويترنري مسلکي زده کړې ورکوي، چې د تشخيص او وقايي له مهـارتونو سره بلـد شي او خپله تحصيلي دوره په بريا بشپړه کړي.

**۲ . دنده**

پاراکلينيک ډيپارټمينټ په باکيفيته تدريس سره په ډېرو فعالو طريقو او مالوماتو محصـلان سـمبالوي او د هيـواد د خـدمت او ابادۍ له پاره يې ټولنې ته وړاندې کوي.

**۳ . اساسي موخې**

پاراکلينيک ډيپارټمينټ دغه اساسي هدفونه تعقيبوي:

ـ پر محصل محوره زده کړو باندې د محصلانو روزل.

ـ د ډيپارټمينټ په اړوند مضمونونو کې د مسلکي مهارتونو غښتلي کول.

ـ د علمي سمينارونو او کنفرانسونو کې د پـه جوړولـو سره د علمـي کـادرونو، تخنيکـي کـارکوونکو او محصـلانو د ظرفيتونـو لوړول.

ـ د تحقيقي او تدريسي چارو پر مخ وړل؛ د خدماتو وړاندې کول او پر علمي ترافيعاتو باندې کار. د پوهنتون، پوهنځي او ډيپارټمينټ په علمي فعاليتونو کې ونډه.

ـ د پوهنتون، اړند وزارت او خصوصي سيکتور په چارو کې فعاله ونډه.

ـ په پوهنتون کې او له پوهنتون بهر له نورو پوهنځيو سره او ډيپارټمنتونو سره هر اړخيزه همکاري.

**ج . هوکړه ليکونه**

د پوهنځي له هوکړه ليک پرته مستقل هوکړه ليک نه لري.

**د . تحصيلي نصاب ( تخصصي مضمونونه )**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کورنيو څارويو اپيډميولوژي او بکترياي ناروغۍ | Vs832 | ۵ | ۸ | وترنري پرازيتولوژي III | Vs734 | ۳ |
| ۲ | د کورنيو څارويو ويروسي ناروغۍ | Vs932 | ۵ | ۹ | وترنري پتوفزيولوژي | Vs735 | ۵ |
| ۳ | وترنري باکتريولوژي I | Vs430 | ۵ | ۱۰ | وترنري پتولوژي I | Vs531 | ۲ |
| ۴ | وترنري باکتريولوژي II | Vs530 | ۵ | ۱۱ | وترنري پتولوژي II | Vs631 | ۳ |
| ۵ | د مرغانو ناروغۍ | Vs1033 | ۵ | ۱۲ | حيواني حفظ الصحه | Vs673 | ۲ |
| ۶ | وترنري پرازيتولوژيI | Vs534 | ۴ | ۱۳ | وترنري ويرولوژي | Vs736 | ۳ |
| ۷ | وترنري پرازيتولوژي II | Vs634 | ۳ | ۱۴ | | | |

**۵. لابراتوارونه او تجهيزات**

دغه ډيپارټمنت په پورته يادو شويو مضمونونو کې خپل تشخيصيه لابراتوارونه لري. د مايکروبيولوژۍ لابراتوارونه؛ د ويرولوژي، پارازيتولوژي، اپيډيمولوژۍ، ساري ناروغيو، پتولوژۍ، هستوپتولوژۍ، له مرګه وروسته توته کولو لابراتوارونه او وسايل او همدارنګه مجهز او فعال انسناتيور له ټولو لازمو سامانونو سره لري، چې علمي کارونه او تجربې په ښه توګه پرې تر سره کېدای شي؛ خو د دغو لابراتوارونو ځينې يې بشپړ فعاله نه دي او نورو تجهيزاتو ته هم اړتيا لري. د ډيپارټمينټ زياتره علمي کادرونه د کيميايي موادو، ريجنټرنو او روغتيايي موادو له کمبود سره مخ دي او د علمي کارونو پر وړاندې يې ځينې خنډونه هم رامنځته شوي دي.

**۳ ـ د کلينيک ډيپارټمينټ**

د کلينيک ډيپارټمينټ له مهمو د ډيپارټمينټونو څخه دی، چې کلينيکي مضامينو په درلودلو سره نه محصلانو سره د فراغت په دوره کې مرسته کوي، چې نور هم مسلکي او بلد شي. دغه ډيپارټمينټ اساسي مضمونونه مثلا: فارمکولوژي، توکسيکولوژي، کلينيکي تشخيص، جراحي، داخله طب او تريو جنولوژي نظري او عملي تدريسوي. په ټوله کې ۱۰۲۴ درسي ساعتونه لري، چې ۵۱۲ يې نظري او ۴۹۶ يې عملي دي.

د دغه ډيپارټمينټ د محصلانو د عملي کار له پاره تدريسي روغتون هم لري، چې په ورځني ډول هيوادوالو ته د ويترنری خدمات وړاندې کوي. پر دې سربېره محصلان د علمي کادر تر لارښوونې لاندې اړين مالومات تر لاسه کوي. کلينيکي مضمونونه

محصلانو ته د ناروغی تشخیص، وقایه او درملنه یې هم ور زده کوي. محصلان په کلینیک کې عملي کار کوي او علمي مهارتونه یې لا تقویه کېږي چې په راتلونکي کې ناروغ حیوانات په ښه توګه تـداوي کـړي. دغـه دیپارټمینـټ پـه علمـي برخـه کـې خپلـې ځانګړې وړتیاوې لري او له مختلفو سیکتورنو سره په کاري برخه کې همکاري کولای شي او مشورې ورکولای شي. همدارنګه د هیواد مالدارو وګړو ته د ویترنری په برخه کې خپل خدمات وړاندې کوي. دغه ډیپارټمینټ د زراعـت او مالـداری لـه سکتورونو سره د پالیسیو د تدوین، سټراتیژی، مقررو، لوحو، طرزالعملونو، لارښـودونو، سروې او تحقیقـي پـروژو پـه برخـه کـې ملګرتیـا او همکاري کوي. نوموړي ډیپارټمینټ د روغتیا له سکټور سره د زونوز ناروغی په کنټرول کې هم مرسته کـولای شي. د خصـوصي پانګونې سیکټورونه یې له روغتیایي او کلینیکي خدمتونو څخه د چرګانو، غواوو، پسونو او نورو فارمونو کې استفاده کـولای شي. دغه ډیپارټمینټ د چاپېریال ساتنې له مستقلې ادارې سره هم همکـاري لـري. پـر دې سربېـره پـه مشخصـو دورو کـې د علمـي او مسلکي ظرفیتونو لوړول یې بله ځانګړتیا ده، تر څو لا ښه خدمت وړاندې کړي. دا خدمت د لنډ مهاله کورسونو له لارې په علمي او روغتیاي برخو کې او د ورکشاپونو، علمي سمینارونو او کنفرانسونو په واسطه د دغه ډیپارټمینټ له خوا وړاندې کېږي. نومـوړي ډیپارټمینټ خپل تدریسي روغتون لري او له دې لارې شتمني تر لاسه کوي، چې د ملي عوایدو له تقـویې سره مرسـته کـوي او د هیواد اقتصاد په خپلو پښو دروي. په دې ډول محصلان په علمي پانګه سمبالوي او لهٔ عملي کارونو او د ستاژ لهٔ طریقـه د هغـوی مسلکي وړتیاوې زیاتوي. دا ډیپارټمنټ ټولنې ته د ښو خدماتو د تر سره کولو پهٔ سبب ښې لاسته راوړنې او عوایـد لـري چـې هـر کال یې د دولت خزانې ته پهٔ منظم ډول تسلیموي.

د دې څانګې ډېری کادري غړي د لوړې علمي سویې «دوکتورا» لرونکي دي او کم شمېر یې ماسټر کادرونه دي.

همدا ډول کادري غړي یې با استعداده او د مسلکي تجربې او کلینیکي مهارتونو په لرلو سره هره ورځ د ټـولنې پـه چـوپړ کـې دي.

دا ډیپارټمنټ د سهولوتونو پهٔ لرلو سره کولی شي چې د خصوصي او دولتي سکتورونو له پاره د علمـي او عمـلي څېړنـو ښـې زمینې را منځته کړي.

تر څنګ یې دا ډیپارټمنټ په ښوونیزو او روزنیزو پروژو کې بنسټیز رول لوبوي.

پر دې سربېره دا ډیپارټمنټ په سروې ګانو، وقایوي پروګرامونو، کمپاینونو او ستراتېژیو کې برخه اخلي.

ددې ډیپارټمنټ کادري غړي په ټولو علمي، څېړنیزو او د چوپړتیاوو د وړاندې کولو په برخه کې د ټولنې خدمت ته ژمن دي.

د دې ډیپارټمنټ د کاري ظرفیتونو عمده برخې درملنه، وقایه او د نـورو روغتیـایي چوپړتیـاوو وړانـدې کـول؛ وترنـري طـب، مسلکي مشوره ورکول، د زراعت د سکتور له پاره د علمي او عملي څېړنیزو پروژو تر سره کول، مالداري، تجارت، عامه روغتیا، د اوسېدو چاپېریال او نورې ادارې تشکیلوي. د روزنتون اداره د مسلکي خدمتونو، مشورې ورکولو، ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونـو د برابرولو له لارې ښه پر ځان بسیا ده.

**ب. زده کړیزې موخې**

- محصلین د کلینیکي موضوعاتو په اړه د کورسونو په اخیستلو سره کولی شي چې د ساري او غیر ساري ناروغیو په پېژندلو، د ناروغیو د را منځته کوونکو/عواملو په پیژندلو، د را منځته شویو ناروغیو په تشخیص، د درملنې او وقایې له پـاره د دقیقـو او سـمو درملو په کارولو پوه شي.

- د ناروغیو د را منځته کوونکو/عواملو او نورو د پیدا کېدو لاملونه، د نسجونو غیـر نورمـالیتی، د غـړو غیـر نورمـالې دنـدې او مسمومیتونه زده کوي.

- محصلین به په ازمایښتي روښونو، د تشخیصي پارامترونو په سنجش، د ناروغیو د رامنځته کوونکو/عواملو، د غړو غیرې نومالو دندو او پتولوژيکو حالاتو، د ناروغیو له نښو او نښانو، د روغتیایي خدماتو له پراخولو، کنترول او وقایې سره اشنایي پیدا کړي او په عملي ډول به ترې کار واخلي.

- محصلین به د تېرو کلونو زده کړي کلینیکي مهارتونه عملاً په کلینیک کې تطبیق کړي.

- محصلین به د ازمایښتي تشخیصي روښونو په واسطه د ناروغیو د رامنځته کوونکو/عواملو، د خپرېدو بهیر، د وقایې او مخنیوي په اړه مالومات تر لاسه کوي او خپلې علمي زده‌کړې به په کلینیکي کورسونو کې تطبیق کړي.

**۱ . لیدلوری**

د کلینیک اداره د زده‌کړیزو او تشخیصي علومو او د وترنري پوهنځي د زده کړیالانو مسلکي مهارتونو تقویه کوي او دوی له درملنې او وقایې سره اشنا کوي تر څو وتوانېږي چې خپلې ټولنې ته په ښه توګه چوپړ تر سره کړي.

**۲.دنده**

د کلینیک اداره د لوړ کیفیته او د فعالو روښونو پر بنسټ په تدریس سره چې په تجربه او پایله سربېره پر محصل-محوره مېتود ولاړ دی او په ورځنۍ مسلکي پوهې سره د هېواد د پرمختګ له پاره هڅې کوي.

**۳. بنسټیي موخې**

د کلینیک اداره لاندې اساسي اهداف تعقیبوي:

- محصلینو ته باکیفیته او معیاري تدریس چې د تجربو، پایلو او محصل محوره روښونو پر اساس را منځته شوی.

- د ډیپارټمنټ په اړوندو مضامینو کې د مسلکي مهارتونو تقویه.

- علمي کنفرانسونو په دایرولو او د لاربښوونیزو سمینارونو په وړاندې کولو سره، د علمي کادري غړو، تخنیکي کارکوونکو او محصلینو د ظرفیت لوړول.

- د تدریسي او تحقیقي کارونو مخکې وړل، د چوپړتیاوو وړاندې کول او په علمي ترفیعاتو باندې کار، عملي تحقیقات او د ډیپارټمنټ، پوهنځي او پوهنتون په علمي فعالیتونو کې برخه اخیستل.

- د پوهنتون، سکتوري وزارتونو، خصوصي ادارو، او متشبثینو په داخلي کومېټو کې فعاله برخه اخیستل.

- له نورو پوهنځیو او ډیپارټمنټونو سره؛ لکه د پوهنتون دننه او له پوهنتونه بهر کې اړخیزه همکاري.

**ج. هوکړه لیکونه**

تراوسه پورې په مختلفو برخو کې د زراعت، اوبو لګولو او مالدارۍ له محترم ریاست، د کابل له ښاروالۍ او د «میوانیمل هوم» له مؤسسې سره درې هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي.

**د. تحصیلي نصاب (تخصصي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | وترنري تریوجنولوژيI | VS829 | ۲ | ٦ | داخله وترنري طب I | VS928 | ۳ |
| ۲ | وترنري تریوجنولوژيII | VS929 | ۳ | ۷ | داخله وترنري طب II | VS1028 | ۴ |
| ۳ | کلینیکي تشخیص | VS825 | ۳ | ۸ | وترنـــــري فـــــارمکولوژی او | VS626 | ۴ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | توکسیکولوژي I | | |
| ۴ | وترنری جراحي I | VS927 | ۲ | ۹ | وترنـــــري فـــــارمکولوژی او توکسیکولوژي II | VS726 | ۴ |
| ۵ | وترنری جراحيII | VS1027 | ۵ | ۱۰ | | | |

**و. لابراتوارونه او ښوونیز تجهیزات**

ډیپارټمنټ د علمي کارونو او خداماتو د وړاندې کولو لپاره د تطبیقاتي لابراتوارونو او د تشخیص او درملنې له پاره د روغتـون لرونکې ده.

د فارمکولوژۍ، توکسیکولوژۍ او مصنوعي القاح لابراتوارونه چې اوس مهال فعال دي، د عملي کارونه له پـاره ځینـې سـامان الات لري، خو دغه لابراتوارونه تجهیزاتو ته ضرورت لري. د کېمیایي موادو، ریجنټونو او د روغتیایي اړینو توکو د نشتون لـه املـه ډېری علمي کادري غړي د علمي کارونو د مخکې وړلو په چار کې له ستونزو سره مخ دي.

**۴ . د روغتیا ساتنې او د غذایي موادو د تکنالوژۍ دیپارتمنت**

**الف.پېژندنه**

**د روغتیایي خوندیتوب او خوړو د ټکنالوژۍ ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د روغتیایي خوندیتوب او خوړو د ټکنـالوژۍ ډیپارټمنـټ د ټکنـالوژي، د خـوړو د روغتیـایي خونـدیتوب او د خوړنتوکـو د تحلیل او عدلي طب په برخه کې نظري او عملي درسونه پر مخ بیايي.نوموړی ډیپارټمنټ د خصـوصي او دولتـي سـکتور لپـاره د مجهزو او کاربدونکو لابراتوارونو درلودونکې دا ډیپارټمنټ په ټوله کې ۳۸۴ درسي ساعتونه لري، چې د هغو له ډلې څخه یې 224 نظري یا لکچر او ۱۶۰ ساعتونه یې عملي دي. د دې مضمونونو پر مټ د وترنري محصلین د خوړنتوکو له تولید، پروسس، ساتنې او کنټرول سره بلدېږي.

دا ډیپارټمنټ له عامې روغتیا وزارت، کرنې او مالدارۍ، نورم او سټندرډ ادارې، د حیواني خوړنتوکو کنټرول او کیفیت ادارې، د سوداګرۍ له وزارت، د خصوصي متشبثینو له ادارو او سازمانونو او نورو سکتورونو سره په ګډه د کار وړتیا لري. یـاد ډیپارټمنـټ له پورته یادو ادارو او سازمانونو سره په اړوندو چارو کې همکاري کوي. همداراز په مارکېټونو کې د خوړنتوکو د خوندیتوب په اړه د مشورو ورکولو، په نړیواله کچه د معیارونو د ټاکنې او د خوړو په برخه کې کار کوي او د سـتونزو د پېژنـدلو او لـه څېړنیـزو لارو چارو په ګټې اخیستنې په اړوندو برخو کې پرتې ستونزې حل کوي.

د دې ډیپارټمنټ ډېره وړتیا د روغتیایي خوندیتوب او د خوړن توکو د ټکنالوژۍ او عدلي طب په برخـه کـې ده. ډیپارټمنـټ هڅه کوي، چې د خوړو معیارونه له علمي اړخه وټاکي. یاده ډیپارټمنـټ د ماسـټري او دوکتـورا پـه کچـه د وړ او تکـړه کـادرونو درلودونکې ده. یاده ډیپارټمنټ د اړوندو سکتورونو د د هغو کمښتو غړیتوب لري، چې د نوموړي ډیپارټمنټ د مضامینو اړونـدې وي. د دې ډیپارټمنټ علمي کادرونه په دولتي او خصوصي سکتور کې پاموړ رول لري. ډیپارټمنټ په ټولو علمي، څېړنیزو برخو او د خدمتونو په وړاندې کولو کې ټولنې ته ژمنه ده. ډیپارټمنټ د پرځانبسانېنې لپاره وړ خدمتونه وړاندې کوي او علمي څېړنې تر سره کوي.

**ب. تحصیلي موخې**

- محصلین د روغتیایي خونـدیتوب او د خوړنتوکـو ټکنـالوژي د مضـمونونو د کورسـونو پـه مرسـته کـولای شي د خوړنتوکـو روغتیایي خوندیتوب او څرنګوالي معلومول.
- د خوړو د خرابېدو د لاملونو تشخیص او روغتیایي معیارونو پېژندل.
- محصلینو ته د ازمایښتي لارو په واسطه د تشخیصي پارامترونو سنجول ورزده کول، عملي لارې چـارې او پـه خـوړو کـې لـه تقلب کارۍ سره د بلدۍ لارې چارې ورښودل.
- محصلین د خوړو د ټاکنې او کنټرول مهارتونه زده کوي او هغه عملا تطبیقوي.
- محصلین له ازمویښتي تشخیصي تګلارو، د ناروغي زېږو لاملونو، د خـوړو د بهیـر لـه کنټـرول او پـه خـوړو کـې د تقلـب د مخنیوي په اړه معلومات حاصلوي او په ساحه کې علمي لارې چارې عملي کوي.

**۱. نظریه**

د روغتیایي خوندیتوب او خوړو د ټکنالوژۍ ډیپارټمنټ د وترنرۍ په برخه کې مسلکي مهارتونه او زده کړې په لوړو معیارونو تدریسوي، همداراز محصلینو ته زمینه برابروي، چې خپلې څېړنې په ښه توګه تر سره کړي، تر څو ټولنې ته وړ او غـوره خدمتونـه وړاندې کړي.

**۲. دنده**

د روغتیایي خوندیتوب او خوړو د ټکنالوژۍ ډیپارټمنټ د فعـالو تګـلارو پـه واسـطه باکیفیتـه تـدریس وړانـدې کـوي. یـاده ډیپارټمنټ هڅه کوي، چې د محصل محورۍ د پایلو پر بنسټ په هېواد کې د کار او بازار پراختیا زیاته کړي او په اړونده برخه کې هېوادوالو ته لا ډېر خدمتونه وړاندې کړي.

**۳. د تګلارې اساسي موخې**

د روغتیایي خوندیتوب او خوړو د ټکنالوژۍ ډیپارټمنټ لاندې اساسي موخې لري:

- معیاري او باکیفیته زده‌کړې، چې د مسلکي زده‌کړو په موخه پر محصل محورۍ ټینګار کوي.
- د څانګې د اړوندو مضمونونو د مسلکي مهارتونو پیاوړتیا.
- د علمي کنفرانسونو، سیمینارونو او لارښوونو په واسطه د علمي کادرونو، تخنیکي کارکوونکو او محصلینو د وړتیاوو لوړول.
- د ښوونیزو او څېړنیزو چارو پر مخ بیول؛ د خدمتونو وړاندې کول؛ پر علمي ترفیعاتو کار او د پوهنتـون او پـوهنځي پـه علمـي فعالیتونو کې برخه اخیستل.
- د پوهنتون، سکتوري وزارتونو، خصوصي او متشبثینو په کمېټو کې فعاله ونډه.
- په پوهنتون کې د ننه او له پوهنتون څخه بهر له ټولو څانګو څخه هراړخیزه همکاري.

**ج. هوکړه لیکونه**

د پوهنځي له هوکړه لیک پرته مستقل هوکړه لیک نه لري.

**د. تحصیلي نصاب (تحصصي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د خوړنتوکو ټکنالوژي | VS838 | ۴ | ۴ | د خوړتوکو روغتیایي خوندیتوب II | VS939 | ۳ |

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | د وترنري عدلي طب | VS841 | ۲ | ۵ | د خوړنتوکو د کيفيت کنټرول | VS1040 | ۴ |
| ۳ | د خوړنتوکـــــو روغتيـــــايي خونديتوب I | VS839 | ۴ | ٦ | | | |

**هـ. لابراتوارونه او ښوونيز تجهيزات**

ډيپارټمنټ د کاري ورتياوو په ترڅ کې د پلي کوونکو او تشخيصي لابراتوارونو درلودونکې ده، چې پر مټ يې عملي چاري تر سره کېږي.

د ټکنالوژي او خوړنتوکو د روغتيايي خونديتوب لابراتوارونه فعال دي او د عملي چارو د ترسراوي لپاره لازم وسايل پکې شته؛ خو دا لابراتوارونه لا ډېرو توکو او وسايلو ته اړتيا لري، چې د کمښت له امله يې اوس هم زيات علمي کادرونه په علمي څېړنو کې د کېمياوي موادو، ريجنټونو او خونديتوب د لازمو موادو له کمښت سره مخ دي.

**۵. د څارويو د روزنې ډيپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

په دې ډيپارټمنټ کې تر ډېره هغه مضمونونه تدريسېږي، چې د مالدارۍ د سکټور اړوند دي. په نوموړي ډيپارټمنټ کې د لويو څارويو روزنه، د کوچنيو څارويو روزنه، د مرغانو روزنه، جينيټيک او بايوميټري، نسل اخيستنه، ايکولوژي، د حيواني تغذيه، د کبانو او شاتو د مچيو روزنه او مونوګراف مضمونونه تدريسېږي. دا ډيپارټمنټ د دکتورا او ماسترۍ په کچه د وړ کادرونو درلودونکې ده. ډيپارټمنټ مجهز لابراتوارونه لري. په ياده ډيپارټمنټ کې ۷۳٦ کرېډيټونه تدريسېږي، چې له هغوی څخه يې ۴۸۰ کرېډيټونه نظري يا لکچر او نور ۲۵٦ کرېډيټونه يې عملي دي. کاري ورتيا يې تر ډېره بريده د مالدارۍ پر سکټور ولاړه ده، چې په هېواد کې يو له هغو سکټورونو څخه دی، چې ډېر عايد لري. دا ډيپارټمنټ کولای شي، دولتي او خصوصي سکټور ته د خدمتونو پر وړاندې کولو سره بسيايني ته ورسېږي او همداراز کولای شي، چې د پروژه‌يي، مشوره ورکولو، ښوونيزو او روزنيزو پروګرامونو له لارې ډېره ګټه تر لاسه کړي. د يادې څانګې علمي کادرونه په ټولو علمي، څېړنيزو چارو او د خدمتونو په وړاندې کولو کې ټولنې ته ژمن دي.

د ډيپارټمنټ مضمونونه محصلين د خوړو، روزنې او د څارويو له مناسبې ساتنې سره بلدوي. دا ډيپارټمنټ د خدمتونو له وړاندې کولو، د کرنې او مالدارۍ د سکټور له پياوړتيا، د کليو له پراختيا؛ د کوچنيو، لويو او منځنيو فارمونو له طرحې او ډيزاين، په کليو کې کورنيو ته د خرڅ خوراک له برابرولو، په کليو او سيمو کې د کاري زمينو له برابرولو، له لوږې ختمولو، د کورنيو د اقتصادي بنسټونو له جوړولو، د هېوا په کچه د فارمونو له جوړولو، د هغوی له مديريت او کارونې؛ فارم لرونکو او خصوصي متشبثينو ته د خوړو د کڅوړو له ورکولو، حيواني محصولاتو ته له بازار موندنې، کاري ځواک، په کليو کې د څارويو له لېږد راليږد، لوبو او ساعتېريو او د بدوي نسلونو له اصلاح او محصولاتو له ډېروالي سره سروکار لري. دا ډيپارټمنټ کولای شي په مشوره ورکولو، د کارندو علمي څېړنو او په نورو ډېرو برخو کې له ملي او نړيوالو سازمانونو او سکټورونو سره مرسته وکړي. همداراز ډيپارټمنټ دا وړتيا لري، چې د مهارتونو په لوړولو او د مډرنو څېړنيزو تګلارو په واسطه، ستونزو ته مناسبې او منطقي حللارې پيدا کړي. په ضمن کې ډيپارټمنټ د مسلکي وړتياوو د لوړولو په برخه کې د کورسونو دايرولو ته هم چمتو ده.

**ب. تحصیلي موخې**

- محصلین کولای شي د ډیپارټمنټ د کورسونو په مټ د غذا تولیدوونکي حیوانات وپیژني، د هغوی پـر روزنـه پـوه شي او د هغوی جینیټیکي جوړښت وپیژني.

- محصلین وکولای شي، چې معیاري، روغتیایي او سټنډرډ خواړه وپیژني.

- محصلین کولای شي د ازموینتي لارو پر مټ د فارم ساتلو د پارامیترونو له سنجولو او اوسنی یا عصري مالداري سره بلد شي همداراز وکولای شي، چې عملا ورځخه کار واخلي.

- محصلین د څارویو د روزنې له ګټې اخیستو خبر شي او عملا کار ورځخه واخلي.

**۱. نظریه**

د څارویو د روزنې ډیپارټمنټ محصلینو ته د باکیفیته او معیاري زده‌کړو زمینه برابره کړې ، چـې دوی وروزي چـې ټـولنې تـه باکیفیته خدمتونه وړاندې کړي.

**۱. دندې**

د څارویو د روزنې ډیپارټمنټ د محصل محوری پر بنسټ په فعاله بڼه معیاري زده‌کړې وړاندې کوي او له دې لارې په هېـواد کې کار، بازار او پراختیا ته زمینه برابروي.

تحصیلي موخې

- د څارویو د روزنې د ډیپارټمنټ مضامینو کورسونه به محصلین په دې وتوانوي چې د غذا تولیدوونکي څاروي، د حیوانـاتو روزنه او د هغوی په جنیټیکي جوړښتونو پوه شي.

- محصلین به د تغذیې صحي معیارونه او سټنډرډونه زده کړي.

- محصلین به د ډول ډول ازمایښتونو په مرسته د فارمونو د پارامترونو سنجش او له عصري مالداری سره بلدیت پیدا کړي او پـه عملي ډول به ترې استفاده وکړي.

- محصلین به د څارویو پالنې مهارتونه زده کړي او په عملي ډول به یې پلي کړي.

**۱. لیدلوری**

د څارویو د پالنې ډیپارټمنټ محصلینو ته د لوړو معیارونو او اوچت کیفیت تدریسي مواد اماده کـړي، تـر څـو محصـلین د لا غوره او لوړ کیفیته خدماتو په لرلو سره د ټولنې خدمت ته لا ښه چمتو شي.

**۲. دنده**

د څارویو د پالنې ډیپارټمنټ د محصل محوری پر بنسټ فعاله معیاري تدریس کـوي، تـر څـو د کـار بـازار او د هېـواد غـوره خدمت ته نوې مسلکي قوه وړاندې کړي.

**۳. بنسټي موخې**

د څارویو پالنې ډیپارټمنټ لاندې اساسي اهداف تعقیبوي:

- د محصل محوری پر بنسټ محصلینو ته معیاري او په لوړ کیفیت تدریس کول د هغوی د لا مسلکي زده‌کړو په موخه.

- ډیپارټمنټ پورې د اړوندو مسلکي مهارتونو غښتلي کول.

- د علمي کادرونو، تخنیکي کارمندانو او د محصلینو د لارښوونې موخه د علمي کانفرانسونو دایرول او د رهنمایي سـیمینارونو وړاندې کول.

- د تدریسي چارو مخته وړل، څېړنه، پر علمي ترفعاتو کار کول، اړینې څېړنې او د ډیپارټمنټ، پوهنځی او پوهنتون په علمي فعالیتونو کې برخه اخیستل.

- په داخلي کمېټو، پوهنتون، سکتوري وزارتونو، خصوصي ادارو او متشبثینو کې فعاله ونډه اخیستل.

- د پوهنتون دننه ټولو ډیپارټمنټونو، پوهنځیو او له پوهنتون څخه بهر له ورته ځانګو سره هر اړخیزې همکارۍ کول.

**ج. هوکړه لیکونه**

د پوهنځي له هوکړه لیک پرته مستقل هوکړه لیک نه لري.

**د. زده کړیز نصاب (تخصصي مضامین)**

| شمېره | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کرېډټ | شمېره | | کود نمبر | کرېډټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | وترنري ایکولوژي | VS321 | ۲ | ۷ | حیواني تغذیه II | VS622 | ۳ |
| ۲ | د اوزو او پسونو پالنه | VS518 | ۳ | ۸ | جنیټیک او بیومټري | VS319 | ۵ |
| ۳ | د لویو څارویو پالنه | VS416 | ۴ | ۹ | د څېړنې- مونوګراف لیکنې بنسټونه | VS824 | ۲ |
| ۴ | د کبانو او د شاتو د مچیو پالنه | VS723 | ۵ | ۱۰ | مونوګراف | VS1024 | ۲ |
| ۵ | د چرګانو پالنه | VS917 | ۳ | ۱۱ | حیواني نسل اخیستنه | VS520 | ۳ |
| ٦ | حیواني تغذیه | VS522 | ۵ | | | | |

**هـ. لابراتوارونه او تعلیمي مسایل**

نوموړی ډیپارټمنټ د عملي کارونو د ترسره کولو او ټولنې ته د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره په خپلو کارځایونو کې تطبیقاتي او تحلیلي لابراتوارونه لري.

د حیواني تغذیې او د څارویو د پالنې لابراتوارونه فعاله دي. د عملي کارونو د ترسره کولو لپاره اړین سامانونه او تجهیزات چمتو دي. دا لابراتوارونه لا نورو تجهیزاتو ته اړتیا لري. د علمي کادر زیاتره غړي د عملي کارونو په مخ ته وړلو کې د اړینو کیمیاوي موادو، ریجنټونو او روغتیایي موادو له کمښت سره مخ دي.

**۵. د ماسټرۍ پروګرام**

**الف. د کلینیکي حیواني طب د ماسټرۍ پروګرام پېژندنه**

کلینیکي حیواني طب د طبي علومو یو ډیپارټمنټ دی چې د څارویو د بیلابیلو ناروغیو د تشخیص ، وقایې، او درملنې سره سروکار لري. کلینیکي حیواني طب له کله نه چې په تاریخ کې ثبت دی همدومره مخینه هم لري.ددې طب ځینې برخې بې له شکه پخوانی تمدن لري. کلینیکي حیواني طب د طبي علومو یوه برخه ده چې د څارویو د سمې او مناسبې ساتنې له لارې د انسان روغتیا تضمینوي. د ناروغیو په بیلابیلو ډولونو چې څاروي اخته کیږي ډیری یې زونوز یا د انسانانو او څارویو ترمنځ مشترکې ناروغی دي. که چیرې دا ناروغی په خپل وخت تشخیص ، درملنه ، مدیریت او مخنیوی ونه شي نو د انسانانو او څارویو روغتیا ته او همدارنګه د هیواد اقتصاد ته یو لوی ګواښ دی. ددې ډول ناروغیو وقایه او درملنه مناسب پلان او فهم ته اړتیا لري چې ددې اسانتیاو او شرایطو د برابرولو لپاره د ماسترۍ په کچه لوړو زدکړو ته اړتیا ده له همدې امله د هیواد د کدرونو د پیاوړتیا لپاره د کلینیکي حیواني طب په برخه کې د ماسترۍ او دوکتورا په کچه باید لوړې زدکړې وشي.

د کلینیکي حیواني طب په ډیپارټمنټ کې د ماستری برنامې رسالت دا دی چې ددې ځانګي محصلین په دې برخه کې د مسلکي او هر اړخیزې زده کړې وروسته وکولای شي خپل اغیزمن نقش د هیواد په کچه چې ډیری خلک یې همدا کسب لري اغیزمن ثابت کړي.په لنډه توګه ویلای شو چې د کلینیکي حیواني طب په ډیپارټمنټ کې ماستران به هغه مجرب او تخصصي ـ کسان وي چې د مسلکي، تحقیقي،څېړنیزو او ښوونیزو چوپړتیاوو په ترسره کولو سره به په اړوند و سکتورونو کې ارزښتمن خدمات وړاندې کړي.

**ب. تحصیلي موخې**

د ماستری پروګرام د رامنځته کولو عمده ښوونیزې موخې دا دي:

کلینیکي حیواني طب د مسلکي او تخصصي کادرونو په روزنې سره غواړي د حیواني ناروغیو د درملنې او مخنیوي لپاره کادرونه وروزي چې دې برخه کې د پروګرام جوړولو وړتیا ولري.

ـ د نویو علومو او د ټولنې د ستونزو د هواري لپاره علمي څېړنې وشي.

د کادرونو (استادانو) د ظرفیت د لوړولو لپاره د لوړو زده کړو د موسسو لپاره د مسلکي او متخصصو کسانو وړاندې کول.

د اهل مسلک زده کړیالانو د ارتقا د لوړولو لپاره د علمي او تخنیکي معلوماتو وړاندې کول.

**ج. هوکړه لیکونه**

د پوهنځي له هوکړه لیک پرته مستقل هوکړه لیک نه لري.

**د) د ماستری پروګرام لابراتوار او ښوونیز تجهیزات**

د ماستری پروګرام محصلین د پوهنځي د مجهز لابراتوار او د دارالامان په سیمه کې تدریسي(کادري) روغتون څخه ګټه اخلي او ددې تجهیزاتو د لا ښه تجهیز او مدرن کولو لپاره ځینې وړاندیزونه په پام کې لري. همدارنګه د تشخیص په برخه کې د حیواني صحت د عمومي ریاست د لابراتوار څخه ګټه اخلي.

**هـ . تحصیلي نصاب**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | شخوندوهونکیو ځارویو داخله طب ۱ | VCM1101 | ۳ | ۶ | پرمختللي کلینیکي تمرینونه | VCM1103 | ۲ |
| ۲ | شخوندوهونکیو ځارویو داخله طب ۲ | VCM1201 | ۳ | ۷ | عفوني ناروغی | VCM1204 | ۲ |
| ۳ | د آسونو کلینیکي طب | VCM1302 | ۳ | ۸ | د وحشي ځارویو داخله کلینیکي طب | VCM1105 | ۲ |
| ۴ | د کوچنیو ځارویو کلینیکي طب | VCM1301 | ۳ | ۹ | حیواني جراحي | VCM1402 | ۳ |
| ۵ | د الوتونکو داخله طب | VCM1302 | ۲ | ۱۰ | تیزس | VMC1403 | ۸ |

# فارمسی پوهنځی



## ۱.د پوهنځي پېژندنه

د فارمسي پوهنځی په (۱۳۳۸ل) کال کې د طب پوهنځي په اډانه کې تاسیس شو. وروسته په (۱۳۴۲ل) کې له طب پوهنځي بېل او مستقل شو؛ خو په (۱۳۴۳ل) کال کې بیاځلې د علمي هویت د ساتلو له مخې په طب پوهنځي کې ورګډ شو. دا پوهنځی په دویم ځل د (۱۳۵۲ل) کال په لومړیو کې له طب پوهنځي بېل او په دې ډول د کابل پوهنتون د یوې ادارې په توګه ومنل شو، چې اداري چارې یې طب پوهنځي سمبالولې. موده وروسته په (۱۳۵٦ل) کال کې د طب پوهنځي له اداري چارو مجدداً بېل او د کابل پوهنتون په چوکاټ یو له دویمي واحدونو څخه شو.

د طبابت او د ناروغیو د تشخیص په برخه کې له پراختیا او پرمختیا سره یوځای، د فارمسي- ځانګې د معاصر ساینس او ټېکنالوژۍ تر سیورې لاندې هر اړخیزه وده کړې او د درملي خدمتونو په برخه کې په څو بُعدي ځانګې اوښتی دی. اوسمهال فارمسېستان نه یوازې په هېواد کې د درملو او خوراکي توکو د تولید، وېش او د کیفیت د کنټرول مسوولیت لري؛ بلکې د متخصصینو په توګه د درملتون او بیولوژیکي کلینیک د ساتنې او ترڅنګ یې د غوره طبي معاینې او د خدماتو په چمتو او وړاندې کولو کې اړین رول لوبوي.

پخوا د دې پوهنځي زده‌کړیزه دوره څلورکلنه وه او فارغان به یې د لېسانس B-Pharm په کچه ټولنې ته وړاندې کېدل؛ خو په (۱۳۸۴ل) کال کې په نصاب کې بدلون او د اوسني Pharm-D پرمختللی کریکولم په پام کې نیولو دا دوره پینځه کلنه شوه او فارغانو ته یې د Pharm-D سند ورکول کېږي.

دې پوهنځي په (۱۳۴۱ل) کال کې خپل لومړني فارغان ټولنې ته وړاندې کړي او ځیني یې د بېرته په همدې پوهنځي کې د علمي کادر په توګه منل شوي دي. د فارمسي پوهنځي فارغان د پورته یاد شویو موخو د پلي کېدو لپاره د عامې روغتیا، ملي‌دفاع، کورنیو چارو، سوداګرۍ، کرنې، پوهنې، له مخدره توکولو سره د مبارزې وزارتونو او د ښاروالۍ، چاپېریال ساتنې او د روغتیایي خصوصي سکټورونو اړوندو بېلابېلو اداري او مسلکي برخو کې په دندو ګومارل شوي دي. د تدریسي فعالیتونو ترڅنګ دې پوهنځي د فرانسې له لیون، د جرمني له دوسولدورف، د ایران له شهید بهشتي او تهران پوهنځي، د جاپان له توکیو او کیوتو له فارمسي پوهنځیو سره علمي همکاریو ته دانګلي دي. علمي نشرات د دې پوهنځي یو له نورو فعالیتونو څخه دی چې له پنځوسو کلونو راهیسې دوام لري.

دا پوهنځی یوه اساسي ودانۍ لري چې پکې د یاد پوهنځي ټولې څانګې، لابراتوارونه، کتابتون او د معلوماتي ټکنالوژي مرکز موجود دی. د پوهنځي د اړتیا د بشپړولو په موخه د پوهنځي ترڅنګ یوه الحاقیه ودانۍ، چې د لوړو زده کړو وزارت د پراختیایي بودیجې په مصرف رغول شوې، هم شته او د معیاري ټولګیو درلودونکې ده.

## ۲.د پوهنځي موخې

### الف. لیدلوری

د فارمسي پوهنځی ژمن دی، چې په راتلونکي کې د معیاري تدریس، موخنې څېړنې او د باکیفیته خدماتو د وړاندې کولو له مخې د سیمې او نړۍ په کچه یو له معتبرو پوهنځیو وګڼل شي.

### ب. ماموریت

د کابل پوهنتون د فارمسي پوهنځی په هېواد کې د فارمسي څانګې د معیاري زده‌کړو اسانه او مناسبې زمینې مساعدوي، ځو ځوانان له دې لارې خپلو علمي موخو ته ورسېږي، د اړتیا وړ پوهه او مهارتونه زده کړي او هېواد ته د خدمت جوګه شي.

### ج. بنسټي موخې

- د تخنیکي، علمي او عصري روشونو پر بنسټ د خوراکي توکو او درملو د تولید، تورید، وېش او کنټرول په برخه کې فعال رول لوبول (Industrial Pharmacy).
- په مسلکي او فني توګه د دولتي درملتونونو، روغتونونو (Hospital Pharmacy) او ښاري فارمسیو ( Community Pharmacy) چارو پر مخ وړل.
- د تدارکاتو او د درملو د خدماتو د چوپړ، د درملتون د پاملرنې (Pharmacy Care) او د درملو اړوندو معلوماتي او قانون جوړونې سیستم کې فعال رول لرل.
- د کلینیکي درملتونونو (Clinical Pharmacy) چارې پرمخ وړل او د روغتونونو د درلمو ارزول.
- بیولوژیکي معاینات ترسرول، له انتاني ناروغیو او مکروبونو سره مبارزه کول.
- د خوراکي او سینګاري توکو د تجزیې په لابراتوارونو کې د خوراکي او ارایشي توکو کیفي تحلیل او تجزیه.
- د طبي بوټو په اړه څېړنې او د هېواد د طبي بوټو د پلټنې، کارونې او ساتنې غوره لار لټول.
- د اپیدیمیولوژیکي او فارمسي چارو په څېړنه او مطالعه کې فعال رول لرل.
- د زهري موادو د پېژندلو، څېړلو، درملنې او وقایې وړتیا لرل؛ په عدلي طب، صنعتي فابریکو، د درملو او خوراکي توکو د تولید د توکسیکولوژیکي بېلګو تجزیه او تحلیل

## ۳.تواميتونه

دا پوهنځی د فرانسې له لیون پوهنتون سره علمي توامیت لري، چې په دې وروستیو کې بیا تازه شوی دی. همدار راز د کابل د طبي علومو له پوهنتون (ابو علي سینا)، خاتم‌النبیین پوهنتون، دعوت پوهنتون، میهن د عالي زده‌کړو موسسې، ابن سینا دولتي فارمسي شرکت، ناب د درمل جوړولو فابریکې، د افغانستان سټنډرد ملي ادارې، د پارتیسیپ کیت له دفتر او د افغانستان د هستوي انرژۍ له ادارې سره د همکارۍ هوکړه‌لیکونه لاسلیک شوي دي.

## ۴. ډیپارټمنټونه

دا پوهنځي شپږ ډیپارټمنټونه لري، چې په لاندې ډول دي:

**۱.د فارمکوگنوزي ډيپارټمنټ**

**الف) پېژندنه**

فارمکوگنوزي د فارمسي يو له بنسټيزو علومو څخه دی، چې د تاريخي لرغونوالي پر بنسټ اوسمهال په فارمسي علومو کې په يو مهم او اساسي بحث دی. دا علم چې پر طبي بوټو او د درملو پر هغو خامو موادو غږېږي، چې طبيعي منشاء ولري. له دې علم سره ژوره لېوالتيا، د دې درملو د سرچينو د مطالعې او د بېړنيو درملو د جوړولو په لور د يوې کړکۍ په توگه گڼل کېږي. څکه چې نويو درملو ته د لاسرسي، پراختيا او پرمختگ اساس د طبي بوټو په منظمه، علمي او ساينسي څېړنو پورې اړه لري. بې له شکه د فارمکوگنوزي ديپارټمنټ فعاليتونه د زده‌کړيز بهير د کيفيت د ښه‌والي ترڅنگ، د طبي بوټو په اړوندو زده‌کړيزو فعاليتونو کې د يو محرك عامل په توگه مهم رول لوبوي او په دې برخه کې د فارمسېسټانو د کنجکاوۍ حس او د تحليل وړتياوې لوړوي. په همدې دليل د فارمکوگنوزي ډيپارټمنټ د فارمسي پوهنځي له تاسيس سره يو ځای په (۱۳۳۸ل) کې جوړ او په فعاليت پيل وکړ.

ب) زده‌کړيزې موخې

**۱.ليدلوری**

د فارمکوگنوزي ډيپارټمنټ د طبي بوټو او لرغوني طبي زېرمو ته پـه پـاملرنې او لـه وروسـتيو علمـي لاسـته راوړنـو او معـاصر ټيکنالوژۍ څخه په گټې اخيستنې؛ هڅه کوي د هېواد روغتيايي سيستم کې ځانگړی ځای او دې سره په نړيواله کچه خپل حـدود پراخ کړي او هيله لري چې د هېواد په کچه په روغتيايي او فارمسي علومو کې غوره ځای تر لاسه او د سيمې د هېوادونو په کچه تر ټولو لوړ مقام وگټي.

**۱.ماموريتونه**

**د زده کړې په برخه کې**

- د منل شويو معيارونو سره د فارمکوگنوزي، فايتوتيراپي او نباتاتو ښوونه.
- د پرمختللو هېوادو له علمي پرمختگونو سره يوځای د فارمکوگنوزي په برخه کې پرمختگ.
- له معاصرو زده‌کړيزو روشونو څخه په گټې اخيستنې د زده‌کړيالانو د پوهې د کچې لوړونه او په فـارمکوگنوزي، فـايتوتيراپي او د نباتاتو په علومو کې د کيفيت د کنټرول طرزالعملونه.

**د څېړنې په برخه کې**

- د فارمکوگنوزي، فايتوتېراپي او نباتاتو په علمي څېړنو کيفي او کميتي پرمختگ.
- په اړوندو علومو کې د علمي څېړنو پراختيا او پر بنسټ يې اکاډميکو فعاليتونو ته لېوالتيا.

**د عامه خدمتونو په برخه**

- د هېواد په روغتيايي سيستم کې له طبي بوټو څخه د مناسبې او سمې کارونې تعميمول.
- د کيمياوي تحليل، معياري کولو او د طبي بوټو د کارونې له‌پاره د لابراتواري خدمتونو چمتوکول.
- د هېواد د طبي بوټو په مديريت او طبيعي پايښت کې مناسبه علمي ونډه اخيستل.
- زده‌کړيالان د علمي کارونو او مطالعاتي فعاليتونو په گډون د بوټـاني، فـارمکوگنوزي او فـايتوتراپي نظـري زده‌کـړې، پـه دې ډيپارټمنټ کې ترسره کوي.

**۳. بنسټيزې موخې**

۱. د طبي بوټو او د درملو د توليد له‌پار د نورو طبيعي منابعو د پېژندنې اړوند د مهارتونو پياوړتيا او ښوونه.

۲. په هېواد کې د طبيعي زېرمو، طبي بوټو او د دوی د پايښت د لارو چارو پېژندې په اړه د مهارتونو پياوړتيا او ښوونه.

۳. د درمل جوړولو لەپاره د نويو نباتي لوشنونو د موندلو او ترلاسه کولو اړوند علمي څېړنې ترسره کول.

**ج. تواميتونه**

ځانګړی توامیت نه لري.

**د) لابراتواز او زده‌کړيز وسايل**

د فارمکوګنوزي لابراتوار د طبي بوټو د باريوم تر څنګ په

UV apparatuseClavenger PH meter, apparatuse Sohexlate, HPLC,Microscope,Spectrophotometer

chamber, Rotatory evaporator Centrifuge مډرنو وسايلو سمبال دی او زده‌کړيالانو لەپار لاندې تجربې ترسره کوي:

- د طبي بوټو د ډولونو څېړل
- له طبي بوټو د مفر تېلونو ایستل
- د طبي بوټو د توصيفي تشخيصي ازمېښتونه
- په طبي بوټو کې د کیمیاویي موادو د اندازې د ټاکلو ازمېښتونه

**۲. د فارمسيوتيک ډيپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

دا ديپارټمنټ د فارمسي پوهنځي يو له اساسي ځانګو څخه ګڼل کېږي. د لومونيو موادو پېژندل او د لابراتوار او صنعت لـەپاره د درملو د جوړولو زده‌کړه يې له بنسټيزو موخو څخه دي. په دې ډيپارټمنټ کې د درملو ټول جامد، نيمه‌جامد، مايع او ګاز ډولونه تر څېړنې لاندې نيول کېږي او د درملو په جوړښت کې د محاسبو پلي کـول، د فارمسي- بنسـټيز عمليـات، د درملـو د فورمولېشـن طرحه، د درملو د شکلونو ترکيب، د بايوفارمسيوتيک مضامينو چمتو کول، د فارمسي صنعت، د طبي تجهيزاتـو او درملـو اداره او منېجمېنټ تدريسېږي. د درملو شکلونو ته اړوند علمي کارونه، همدارنګه د درملو ادار او منېجمېنټ او د درملو په فاربريکو کې د زده‌کړيالانو ستاژ په هم دې ځانګې پورې اړوندېږي. په دې توګه د پوهنځي فارغان کولی شي، چې د درملتون، د درملو د توليدي لابراتوارونو او فابريکو اړوندې چارې ترسره کړي.

**ب) زده‌کړيزې موخې**

**۱.ليدلوری**

يو علمي مرکز ته د ديپارتمنت ارتقا؛ متخصص او ژمن کادري غړو روزل؛ د علمي څېړنو رايجول او اکاډميک خدمتونه وړاندې کول.

**۲.ماموريتونه**

ديپارتمنت فارمسيوتيک، در راستای تحقق اهداف پوهنځی فارمسی از طريق برنامه‌ريزی آموزشی، پژوهشی و ارايۀ خدمات در تلاش خواهد بود، تا تمام توانايي خود را جهت مساعدت به فراګير شدن دانش فارمسی به کار ګيرد.

د فارمسيوتيک ډيپارټمنت، د زده‌کړيزو، څېړنو او د خدماتو برنامه‌ربزی له لارې به په دې هڅه کې وي؛ څو د فارمسي پوهې په خپرېدو کې له خپل ټول توانه کار واخلي.

**۳. بنسټيي موخې**

۱. دا پوهنځی د عصري درمل جوړنې په لور فعاله ګامونه اخلي، څو په ملي او نړيواله کچه د سټنډرډ لوړو ته ورسېږي.

۲. په هېواد کې دننه او بهر له علمي ټولنو سره د اړيکو ټينګول.

۳. د هېواد له درملو جوړولو صنعت سره دوامداره اړيکې ټينګول.

۴. د محصلينو او فارغانو د علمي سويې د لوړونې له‌پار لازم گامونه اخيستل.

۵. د هېواد د ستونزو د حل له‌پاره څېړنې ترسره کول.

۶. د ټولنې د اړتيا پر اساس د علمي او مشورتي خدمتونو وړاندې کول.

**ج. تواميتونه**

ځانگړی توامیت نه لري

**د. لابراتوار او زده‌کړیز تجهيزات**

لابراتوار فارمسيوتيک با داشتن وسايل مدرن همچون ماشين تابليت سازی، وسيلهٔ تعيين زمان متلاشی‌شدن تابليت‌ها، وسيلهٔ تعيين سختی‌تابليت‌ها، سنتريفيوژ، سپکتروفوتومتر و مايکروسکوپ دارای توانايی‌های ذيل می‌باشد:

د فارمسيوتيک لابراتوار د مډرنو وسايلو لکه د ټابلېټ جوړونې ماشين؛ د ټالبېټونو د وخت او کلکوالي ټاکلو وسيله؛ سنتريفيوژ، سپکټروفوټومټر او مايکوسکوپ لري. دا وسايل لاندې کارونه ترسره کوي:

- د فمي مايع درملو د شکلونو جوړول؛
- د سترگو او فمي څاڅکو جوړول؛
- د ټابلېټونو او گرانولونو جوړول؛
- د خالي کپسولونو ډکول؛
- بېلابېل کريمونه جوړول؛
- د درملو د شيافونو (Suppository) جوړول
- او د جوړ شويو ټابلېټونو د ځانگړنو ټاکل

**۳. مايکرو بيولوژي ډيپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

مايکروبيولوژي ډيپارټمنټ د پرازيتولوژي_ مايکولوژي په نوم يوه بله ډيپارټمنټ هم لري او د فارمسي- پوهنځي له شپږو ځانگو څخه يوه ده، چې د باکتريولوژي، پرازيتولوژي، ويرولوژي، ايميونولوژي، کلينکي مايکروبيولوژي او مايکولوژي مضمونو تدريس په نظري او تيوريکي ډول په غاړه لري. د پورتنيو موضوعاتو تدريس له محصلينو سره د ساري ناروغيو په پيژندنه، تشخيص، درملنې او مخنيوي کې مرسته کوي؛ څو محصلين له فراغت وروسته د دولتي او غير دولتي ادارو په روغتونونو او لابراتوارونو کې ښه خدمات وړاندې کړي. دا ډيپارټمنټ شپږ علمي کادرونه او يو لابراتواري تخنيکن لري، تل هڅه کوي چې د نوي تدريسي ميتودونو په کارولو سره مسلکي کادرونه وروزي. په ملي او نړيواله کچه د څېړنو ترسره کولو سره د دوی ساينسي- ظرفيتونو د لوړولو لپاره تازه عملي کارونه تر سره کړي. مايکرو بيولوژي ډيپارټمنټ ټولنې ته د متخصص کارکوونکو د روزنې سربيره د هغو درملو او محصولاتو چې د درملو او روغتيايي محصولاتو رياست لخوا لېږل شوي د نسبي ازموينو د پلي کولو مسووليت هم لري.

**ب. تحصيلي موخې**

**۱.ليدلوری**

د فارمسي پوهنځي مايکروبيولوژي ډيپارټمنټ د درملتون، کلينک او بيولوژيکي ډاکټيرانو، د طب او درملتون په برخې کې د ساينسي څېړنو لپاره يو عالي اکاډميک مرکز دی.

**۲.ماموریتونه**

دا ډیپارټمنټ هڅه کوي په فارمسي او بیولوژي کلینیک کې د فارمسسټ ډاکټرانو لپاره د مایکروبیولوژي په برخه کې، چې ورته اړتیا لري، د زده کړو او مهارت لوړو تر ټولو ښه زمینه مساعده کړي. په دې ډیپارټمنټ کې علمي څېړنې ترسره او ترې ملاتـړ کیږي او دا د انساني ځواک د ظرفیت لوړونې په برخه کې هـم خپلـې هڅـې کـوي. علمـي کادرونـه او تخنیکـي همکـاران یـې د Pharm-D دورې زده کړیالانو ته علمي او زده کړیـزې برنـامې پـه ښـه ډول پـلي کـوي، څـو دوی وکـولی شي د میکروبیولـوژي، پرازیتولوژي، مایکولوژي، ویرولوژي او ایمونولوژي اړوند مهارتونه او تیـوري زده کـړي. پـه دې ډیپارټمنـټ کـې (د روغتـون او صنعتي فارمسی) او بیولوژي کلینکي زده کړیالانو ته د انتانانونو د درملنې او وقایې او د میکروب او د بېلابېلو انتانونو د تشخیص له نظره د فارمسیوتیکي محصولات د کنټرول تدریس کېږي.

**۳. بنسټي موخې**

د رنځیوهنې مایکرو ارګانیزمونو او نورمال بوټې معرفي کولو په اړه د محصلینو د مهارتونو روزنه او پیاوړتیا.

په نظري او عملي ډول د میکروارګانیزمونو د نوي تشخیصي میتودونو تدریس .

د ساري ناروغیو د مخنیوي میتودنو د ترویج په اړه د محصلینو د مهارتونو روزنه او پیاوړتیا.

د محصلینو تر منځ د څېړنې کلتور ته وده ورکول او ددې کلتور تعقیب ته هڅول.

د درملو معقوله ګټه اخیستنې په برخې کې د محصلینو ښوونه او روزنه او د بدې پایلې یې لکه د مایکروبیل مقاومت زیاتوالی او د نوي مقاومت رامنځته کېدل.

د انټي بیوټیکونو په وېش او اداره کې اغېزمن ګډون.

د هېواد په روغتیایي مرکزونو کې د ساري ناروغیو په تشخیص او مخنیوي کې فعاله ونډه.

د مایکرو بیولوژي په ساحه کې د ساینسي څېړنو په پلي کولو کې فعاله ونډه.

د واکسین په تطبیق کې فعاله ونډه.

د ساري ناروغیو تشخیص، درملنې او مخنیوي لپاره روغتیایي ټیم سره اغېزمنه اړیکه.

د روغتیایي محصولاتو د نسجیت ازموینې ترسره کولو کې فعاله برخه اخیستنه.

**ج.توامیتونه**

ځانګړی توامیت نه لري.

**د. لابراتوار او زده کړیز تجهیزات**

ددې پـوهنځي لـه جوړېـدو راهیسـې د مـایکرو بیولـوژي لابراتـوار ددې وړتیـا لـري، چـې د پرازیتولـوژي، بـاکتریولوژي، مایکولوژي، ویروولوژي، معافیت او کلینکي مایکروبیولوژي پـه ځـانګو کـې د محصـلینو لپـاره عمـلي کارونـه تـر سره کـړي. دا لابراتوار د مختلفو ژوندي موجوداتو د کرلو لپـاره بیلابیـل مـډرن لابراتـواري وسـایل لـري؛ لکـه: الیـزا سـپکټروفوتومتر، کلتـوري مډیمونه، د عام انتاناتو لپاره تشخیصي ریجنټ، د کمپیـوټر سره نښلـول شـوي کمـره داره مایکروسـکوپونه او نـور وسـایل چـې د تشخیصي ازموینو تر سره کولو لپاره کارول کیږي.

لاندې وړتیاوې لري:

- پرازیتولوژي، باکتریولوژي، مایکولوژي، ویرولوژي، ایمیونولوژي او کلینکي مایکروبیولوژي په ځانګو کې محصلینو ته عملي کارونه ترسره کول.
- بیولوژیکي کنټرول( د تعقیم ازموینې) د تنظیمي معزز ریاست لخوا رالېږل شوي د درمل جوړونې مواد او وسایل.

- د سینانایډ محلولونو او جراثیمي درملو فارمونو د نسبیت ازموینې پلي کول.
- د مایکروبیولوژیکي، د میکروب ضد درملو او میکروبی مقاومت اړوند د ظرفیت لوړونې په موخه علمي څېړنې ترسره کول.

**۴. بیوشیمي- تغذیه ډیپارټمنټ**

**الف) پېژندنه**

دا ډیپارټمنټ د فارمسي پوهنځي یو له مهمو کلینیکي څانګو څخه ده. او تر ډېره د نورمال بیوشیمیکي اندکسونو او د بدن غړو ناروغیو مطالعې سره سرو کار لري.

**ب) زده‌کړیز موخې**

**۱. لیدلوری**

دا ډیپارټمنټ د لاندنی اقداماتو له لارې د پوهې زیاتوالی، د ژوند د بنسټیزو میکانیزمونو په پوهېدو کې پرمختګ او د خلکو د ژوند کیفیت او حالت ښه کول دي:

- غوره تعلیمي پروګرامونه چې په ملي کچه او د نړیوالو وړتیاوو سره کادرونه فارغوي.
- د پروګرامونو پېژندل او پیاوړي کول، چې د مهمو موندنو لامل ګرځي.
- د مسلکي سرچینې په توګه د ساینسي، عملي او څېړنیزو خدمات ترسره کول

**۲. ماموریتونه**

د دې څانګې ماموریت دا دی چې په روغتیا کې د حیاتي مالیکولونو او د تغذیې تولې بنسټېزې جنبې مطالعه کړي. موږ تمه لرو چې زده‌کړیالان او راتلونکي نسلونه مو د هېواد او نړۍ په کچه د غوره ظرفیت‌لرونکو متحصصینو څخه وي؛ د بیوشیمي او د مالیکولي-جنیتیک علمي ساحو ته پراختیا ورکړو، په داسې حال کې چې د ناروغانو له‌پاره د تغذیې او مناسب خوراکي رژیم کیفیت هم زموږ له بنسټیزو ماموریتونو څخه دی. د فارمسي پوهنځي د موخو د پلي کېدو په‌پار دا ډیپارټمنټ خپله توله هڅه کوي څو د بیوشیمي او تغذي علوم او پوهه عامه کړي.

د پورتني موخو د ترلاسي له‌پاره دا ډیپارټمنټ لاندې ماموریتونه لري:

- د عصري درملتونونو په لور حرکت او ملي و نړیوال ستندردونو ته د ظرفیت لوړونه.
- د هېواد دننه او بهر علمي تولنو سره اړیکه.
- د بیوشیمیکي بدلونو، میکانیزمونو، ناروغیو او د اغېزو مطالعه.
- د محصلینو او فارغینو د علمي ظرفیت لوړونې په موخه اړین اقدامات .
- په درملتون یا کلینیک کې پر ناروغ د درملو جانبي اغېز پلټنه.
- د تولنې د اړتیاوو اړوند اړینې علمي مشورې او خدمات.
- د متخصیصونو روزنه څو د زده کړې، څېړنې او روغتیا په برخو کې خدمات وړاندې کړي.

**۳. بنسټیې موخې**

- د حجرو مالیکولي مکانیزم تشریح او پوهه.
- د میتابولیک د کنټرول او مکیانیزم د اساساتو تشریح او پوهه.
- له بایوکمیکل تجربو څخه د پایلو تر لاسه کولو لپاره لومړني او لابراتواري مهارتونو او وسایلو کارول.
- د ژوند ښه کولو په موخه د خوړو رژیم رامنځته کول.

- د خوړو د فعالیت او تجزیې په اړه توضیح او پوهول
- د روغتیا او تغذیې په برخو کې څېړنې کول.

**ج) لابراتوار او زده‌کړیز تجهیزات**

د بیوشیمي-تغذیې څانګې لابراتور په موډرنو وسایلو، لکه: بم‌کالوري متر، د ګربر آله، د رطوبت د ټاکلو داش، د ایرې‌جوړونې داش، سانتریفیوژ، د مقطر اوبو ماشین، ملك انالایزر، مایکروسکوپ، ریفرکتومتر، سپکتروفوتومتر، الکترو فوریز، هورمون انالایزر، ستنیز کروماتوګرافي، CBC analyzer او Micro hematocrit سمبال دی. په دې لابراتوار کې د زده‌کړیالانو لپار لاندیني تجربې ترسره کېږي:

- په خوړو کې رطوبت، غوړ، ایره او پروتین معلومول.
- په شیدو کې د درغلیو معلومول.
- د غوړ څانګړنې معلومول.
- د خوړو تازه‌ګي معلومول.
- د ph معلومول.
- د خوړو انرژي معلومول.
- ساده بایو کیمیکل تجربې (کاربوهایدریتونه، غوړ او پروتینونه پېژندل).
- د وینې او ادرارو (بولو) کیمیاوي تجربه.
- د پښتورګو او صفرا کیسې د ډبرو تحلیل او ماتول.
- د وینې اندکس تعیین او ناروغیو تشخیص.

**۵. فارمکولوژي ډیپارټمنټ**

**الف) پېژندنه**

فارمکولوژي ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون د فارمسي پوهنځی یو له بنسټي ډیپارټمنټونو څخه دی، چې موخه یې د طب او درمل جوړونې له پرمختګونو سره سم محصلین د فارمکولوژي، فارمکوتراپي او توکسیکولوژي په پوهه سمبالوي؛ څو وکولای شي علمي وړتیا او عملي مهارتونه زده کړي.

**۱.لیدلوری**

د فارمکولوژي ریاست موخه دا ده، چې په هېواد او سیمه کې د روغتیایي خدماتو د کچې د لوړولو په موخه د معیاري تدریس او ساینسي څېړنو پر وړاندې کولو سره د فارمکولوژي، فارمکوتراپي او توکسیکولوژي څېړنو په برخه کې د باور وړ واحد په توګه وپېژندل شي.

**۲.ماموریتونه**

فارمکولوژي څانګې د ماموریت په اړوند برخو کې له فراغت وروسته د خدمتونه چمتو کولو لپاره د محصلینو فارمکولوژي، فارمکوتراپي او تکسیکولوژي پوهه لوړول؛ شامل دي. د ساینسي څېړنو پیل او ترسره کول، د روغتیایي سیسټم ښه کولو لپاره مسلکي خدمتونه وړاندې کول هم د یادې څانګې له ماموریت څخه دی.

**۳.بنسټیي موخې**

- د درملنې په بهیر کې اغیزمن ګډون.
- له درمولو معقوله ګټه اخیستنه.

- د درملو په ساتنه کې اغېزمن ګډون( د فارماکوتراپي پلانونو ډیزاین، نظارت او پلي کولو کې ګډون).
- د روغتیایي خدماتو د کچې لوړولو لپاره درملتون او توکسیولوژي کې د ساینسي څېړنو ترتیب او پلي کول.
- د ملکیتونو، د اغېزو میکانیزم، د استخراج طریقې، د زهرجنو موادو اندازه موندل او معلومول او د مسمومیت د مخنیوي او درملنې له میتودونو سره پېژاند.

**ج) لابراتوار او زده‌کړیز تجهیزات**

د فارمکولوژي لابراتوار دا تجهیزات لري: سپکتروفوټومتر، safte hood، د تجربو ترسره کولو لپاره ښیښې، برېښنایي داش، دیجیتل پیمانه او په څنګ کې یې د محصلینو لپاره د لاندې تجربو د ترسره کولو وړتیا لري:

- په لابراتواري څاوریو تجربې ترسره کول.
- په بیولوژیکي نمونو کې د زهرجنو موادو تشخیص لپاره ازموینې.

**٦. د درملو د کنټرول او کیمیک‌فارمسي ډیپارټمنټ**

**الف) پېژندنه**

لکه څنګه چې کیمیک فارمسي او د درملو کنټرول ډیپارټمنټ د فارمسي پوهنځي اختصاصي(مسلکي) ډیپارټمنټ ده. ددې څانګې مهمې موخې له کیمیاوي جوړښتونو او د بیولوژیکي اغېزو اړوند د محصلینو پېژاند، د درملو کیمیاوي او فزیکي ځانګړنو په هلکه په تحلیلي او تشریحي بڼه پوهېدل دي. سربېره پر دې د دې څانګې زده‌کړیالان د خامو موادو د چمتو کولو او د هغوی د ترکیبولو د میتودونو په هکله هم پوهه پیدا کوي.

د فارمکولوژیکي اغېزو سره مل د درملو د کیمیاوي جوړښت ؛ د درملو د کیفي او کمي کنټرول د طریقې او د درملو د تحلیل او تجزیې د ماشین پېژندنه او د کارونې د لارو چارو په اړه پوهاوی ترلاسه کول د دې څانګې یو له نورو موخو څخه ده.

**۱.لیدلوری**

د محصلینو روزنه زموږ اصلي دنده ده. موږ اراده لرو، چې د ښوونې او روزنې له لارې ټولنې ته صادق، وړ، تکړه او مسلکي کسان وړاندې کړو ، څو دوی وکولای شي خپل مسوولیتونه په غاړه واخلي او د کیفیت د کنټرول په برخه کې خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي.

**۲.ماموریت**

دا ډیپارټمنټ په خپل ټول توان سره له بېلابېلو زده‌کړیزو، څېړنیزو او د خدماتو د چوپړ له لارې د فارمسي علم د عامېدو لپار هڅه کوي. زموږ ماموریت د باکیفیته درملو ترلاسه کول او روغتیا ساتلو په برخه فعاله ونډه اخیستل دي؛کوم چې د انسانانو اساسي حق دی.

**۳. اساسي موخې**

- د فارمسي عصري زده کړو له لارې د خلکو روغتیا ښه کول او د درملو د کیفیت په هلکه څېړنې تر سره کول.
- د نړیوال پېژندل شوي روغتیایي محصولاتو او درملو د کیفیت، تحلیل او تجزیې په اړه د GLP( Good Laboratory Practice) وړاندې کول.
- د GLP، د درملو د کیفیت د تضمین، د کیفیت د کنټرول او اړوندو موضوعاتو په اړه روزنې.
- د هېواد دننه او بهر له ساینسي ټولنو سره اړیکې ټینګول.
- د محصلینو او فارغینو د علمي کچې د لوړولو په موخه اړین اقدامات.
- د هېواد د درملو د ستونزو د حل په موخه څېړنې تر سره کول.

- د فارمسي متخصیصینو د روزنې له لارې د زده کړې، څېړنې او کیفیت کنټرول په برخو د خدماتو چمتو کول.

**ج. تواميتونه**

ځانګړی توامیت نه لري.

**د. لابراتوار او زده‌کړیز تجهیزات**

د کیمیک فارمسي لابراتوار په موډرنو وسایلو لکه:

UV- visible spectrophotometer meter, Kejeldahl apparatuses, Polari ،IR chromatography, TLC

meter, Melting point apparatuses PH- سمبال دی او پکې لاندیني تجربې ترسره کېږي:

- د درملو ټاکلو او اندازې اړوند تجربې
- د درملو د ناخالصتوب ټاکلو اړوند تجربې
- د محصلینو لپاره د درملو ترکیب او تجربې پلي کول
- د فارمسیستکي محصولونو تجزیه او کنټرول.

**۵. تحصیلي نصاب ( تخصصي مضمونونه)**

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | KUPH842 | Pharmaceutical ethics | ۱۸ | 3 | KUPH423 | Pharmacology I | ۱ |
| 3 | KUPH522 | Pharmacognosy I | ۱۹ | 2 | KUPH424 | Microbiology I | ۲ |
| 3 | KUPH525 | Pharmaceutics II | ۲۰ | 3 | KUPH425 | Pharmaceutics I | ۳ |
| 2 | KUPH528 | Virology | ۲۱ | 3 | KUPH415 | Instrumental analysis | ۴ |
| 3 | KUPH623 | Pharmacology III | ۲۲ | 3 | KUPH523 | Pharmacology II | ۵ |
| 3 | KUPH626 | Pharmaceutic chemistry II | ۲۳ | 3 | KUPH524 | Microbiology II | ۶ |
| ۳ | KUPH625 | Pharmaceutics III | ۲۴ | 3 | KUPH526 | Pharmaceutic chemistry I | ۷ |
| 2 | KUPH629 | Toxicology I | ۲۵ | 3 | KUPH622 | Pharmacognosy II | ۸ |
| 2 | KUPH819 | Immunology | ۲۶ | 3 | KUPH631 | Parasitology | ۹ |
| 3 | KUPH826 | Pharmaceutic chemistry IV | ۲۷ | 2 | Kuph621 | Mycology | ۱۰ |
| 2 | KUPH948 | Biopharmaceutics and pharmacokinetics | ۲۸ | 2 | KUPH732 | Managing drug supply | ۱۱ |
| 3 | KUPH933 | Pharmacotherapy III | ۲۹ | 3 | KUPH733 | Pharmacotherapy I | ۱۲ |
| 3 | KUPH935 | Pharmaceutical quality control | ۳۰ | 3 | KUPH726 | Pharmaceutic chemistry III | ۱۳ |
| 2 | KUPH950 | Industrial Pharmacy | ۳۱ | 3 | KUPH725 | Pharmaceutics IV | ۱۴ |
| 3 | KUPH943 | Phytotherapy | ۳۲ | 3 | KUPH729 | Toxicology II | ۱۵ |
| 5 | KUPH1049 | Monograph | ۳۳ | 3 | KUPH833 | Pharmacotherapy II | ۱۶ |
| | | | | 3 | Kuph830 | Food control and analysis | ۱۷ |

# د فزیک پوهنځی



**۱. د پوهنځي پیژندنه**

د افغانستان په علمي ډګر کې د فزیک پوهنځی یوازینی بنسټ دی چې د فزیک پوهې د پرمختیا، د دغې پوهې په څانګو کې د تخصص رامنځته کولو او په افغانستان کې د څېړنو او خلاقیت په منظور تأسیس شوی دی، نوموړي پوهنځی د خپلو متخصصو او ژمنو کادرونو او فزیکي ظرفیتونو په همغږۍ او ملتیا هڅه او هاند کوي چې ټولنې ته د خدمت جوګه شي.

په ۱۳۲۱ لمریز کال چې د ساینس پوهنځی ایجاد شو، د فزیک دیپارتمنت هم د فزیک ډیپارټمنټ کې د متخصصو او د ثانوي ښوونځیو لپاره د فزیک ښوونکیو د روزنې په منظور جوړ شو، چې په دې برخه کې یې د قدر وړ خدمتونه کړي دي او دغه لړۍ او س هم روانه ده؛ د فزیک پوهې په برخه کې د متخصصو او متخصصو کادرونو اړتیا، د افغانستان په بېلابېلو ادارو او وزارتونو کې ورځ تر بلې په زیاتېدو ده، د اوسني وخت اړتیاوو او د فزیک په برخه کې د متخصصو د روزنې په منظور، د فزیک پوهنځی د کابل پوهنتون په چوکاټ کې په ۱۳۹۳ لمریز کال منظور شو او په ۱۳۹۵ لمریز کال په زمري میاشت کې دغه پوهنځي عملاً په خپل کار پیل وکړ، د دغه پوهنځي په چوکاټ کې لاندې درې ډیپارتمېنتونه فعالیت کوي:

- د فزیک او الکترونیک ډیپارتمېنت
- د نظري او عمومي فزیک ډیپارتمېنت
- د هستوي او اتومي فزیک ډیپارتمېنت

**۲.موخې (اهداف)**

**الف. لید لوری**

د فزیک پوهنځی د افغانستان د اکاډمیکې ټولنې د غړي په توګه غواړي چې د تدریس، څېړنو او ټولنې ته د تحصیلي خدمتونو له لارې د فزیک په برخه کې غښتلي کادرونه وروزي او په لوړې کمي کچه او کیفي څواک سره ټولنې ته د خدمت جوګه شي، چې په هېواد او سیمه کې د یوه علمي او اکاډمیک بنسټ په توګه وپېژندل شي.

**ب.ماموریت**

د فزیک پوهنځی د کار بازار اړتیاوو او تخصص پر بنسټ د غوره تدریس، څېړنو او خدماتونو له لارې د بېلابېلو ښوونیزو او څېړنیزو بنسټونو لپاره د متخصصو او مسلکي کادرونو په روزنه بوخت دی.

**ج. اساسي موخې**

۱. د تخصص په ملتیا د پوهې تولید؛
۲. د فزیک برخه کې دمتخصصو کادرونو روزنه؛
۳. د گټور تحصیلي نظام د پایلو پر بنسټ د کار موندنه؛
۴. د محصل‌محوره مېتودونو په ملتیا د استعدادونو وده او روزنه ؛
۵. د فزیک په بېلابېلوڅانگو کې د څېړنې کول او د څېړنو بنسټي کول؛

د یادونې وړ ده، چې زیاتو دندو او مکلفیتونو ته په کتو او د ښه خدمت په موخه، د پوهنځي اداره کوښښ کوي چې په اکاډمیکو او اداري برخو کې وړ، متخصص او ژمن افراد په دنده وگوماري .

**۳. توامیتونه**

د فزیک پوهنځی له پخوا راهیسې د کابل پوهنتون د فزیک ډیپارټمېنټ په چوکاټ کې د جرمني له پوهنتونونو سره د استادانو او محصلینو د راشه درشې، د استادانو او تخنیکي کارکوونکیو ترېنینگ، د لابراتوارونو تجهیز او د تحصیلي نصاب بیاکتنې او تعدیل په برخو کې تړونونه او پروتوکولونه درلودل، چې له دې اړخه یې وکولای شول، د پوهنځي ټاکلو موخو ته مناسب شرایط رامنځته کړي.اوس د پوهنځي ریاست د مستقیمو او غیر مستقیمو اړیکو له لارې هڅه کوي، چې له پخوانیو پروتوکولونو سربېره، د هند له پوهنتونو سره هم نوې راکړې ورکړې رامنځته کړي. د فزیک پوهنځی هڅه کوي چې له معتبرو بین المللي علمي او اکاډمیکو بنسټونو لکه د نظري فزیک له بین المللي مرکز(ICTP)، د اروپا له څېړنیز مرکز (CERN) او د اتومي انرژۍ له بین‌المللي اژانس سره اړیکې ټینگې کړي، چې په دې برخه کې ښې لاسته‌راوړنې لري. په همدې توگه پوهنځی په پام کې لري، چې د هېواد د هستوي انرژۍ له کورنیو بنسټونو لکه د علومو اکاډمۍ او سکتوري وزارتونو (د صنایعو او سوداگرۍ وزارت، د اوبو او انرژي وزارت، عامې روغتیا وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت او نورو) سره د خپلو څېړنیزو پروژو د تطبیق، په دوه اړخیزه توگه د تخنیکي کادرونو د ترېنینگ او روزنې په برخه کې هوکړه لیکونه لاسلیک کړي.

تر اوسه په کورنۍ کچه دغه پوهنځي د ابن سینا خصوصي پوهنتون او د افغانستان اتومي انرژۍ اداري او د کابل پوهنتون له انجنیري پوهنځي سره د علمي راکړې ورکړې هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي او کوښښ کېږي چې د لېسانس او ماسټرۍ دورې برنامو د پراختیا په منظور له بهرنیو او بین‌المللي بنسټونو سره د تخنیکي او علمي همکاریو هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړي.

لابراتوارونه او تحصیلي تجهیزات

- د میخانیک لابراتوار
- د برق او مقناطیس لابراتوار
- د نور لابراتوار
- د الکترونیک لابراتوار
- د هستې لابراتوار

**۴. د فزیک پوهنځي ډیپارټمېنټونه**

د فزیک پوهنځی درې دیپارټمېنټونه لري:

### ۱. د فزیک او الکترونیک ډیپارتمنټ

**الف. پېژندنه**

د فزیک او الکترونیک ډیپارتمنټ د کابل پوهنتون د فزیک پوهنځي په چوکاټ کې یو نوی رامنځته شوی ډیپارتمنټ دی چې د مخابرو او الکترونیکو څېړنو، علمي بنسټونو، د مخابراتو او معلوماتي ټېکنالوژی، د عامې روغتیا وزارت او د کرنې او اوبو لګولو، او اوبو او انرژۍ وزارتونو د اړتیاوو پر بنسټ ایجاد شوې ده، دغه ډیپارتمنټ د علمي او مجربو علمي کادرونو په مټ د فزیک پوهنځي په چوکاټ کې فعالیت کوي.

**ب. موخې**

**۱. لید لوری**

د فزیک او الکترونیک ډیپارتمنټ هڅه کوي چې د خپلو تدریسي خدمتونو (تدریس)، څېړنو، سلا او مشورو او د ټولنیزو پروژو په تطبیق سره، د فزیک په برخه کې غوره علمي کادرونه وروزي، چې خلکو ته په بشپړه توګه با کیفیته خدمتونه وکړي، چې د سیمي او هېواد په کچه یو علمي او اکاډمیک بنسټ شي.

**۲. ماموریت**

د فزیک او الکترونیک ډیپارتمنټ د کار بازار اړتیاوو او تخصصیوالي پر بنسټ د غوره تدریس، څېړنو او خدمتونو له لارې د بېلابېلو ښوونیزو او څېړنیزو بنسټونو لپاره متخصص او مسلکي کادرونه روزي.

**۳. اساسي موخې**

۱. د تخصصي پوهې په ملتیا د پوهې تولید؛
۲. د فزیک برخه کې دمتخصصو کادرونو روزل؛
۳. د ګټور تحصیلي نظام د پایلو پر بنسټ د کار موندنه؛
٤. د محصل‌محوره مېتودونو په مټ د استعدادونو وده او روزنه؛
۵. د فزیک په برخه کې څېړنې کول او د څېړنو بنسټیز کول؛

**ج.علمي توامیتونه**

د فزیک او الکترونیک ډیپارتمنټ اوس له کوم کورني یا بهرني پوهنتون یا علمي بنسټ سره علمي او تخنیکي توامیت نه لري، خو د فزیک پوهنځي ریاست په کچه د توامیتونه لاسلیکېږي، اوس کوښښ روان دی چې په خپلواکه توګه له صنعتي، علمي او څېړنیزو بنسټونو سره هوکړه‌لیکونه لاسلیک شي.

**هـ) تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | PTH3614 | دکوانتوم میخانیک ۱ | ۱۳ | ٤ | MA2301 | وېکتور انالیز | ۱ |
| ٤ | PHE3612 | دالېکترومقناطیسي تیوي | ۱۴ | ۲ | MA2304 | د توابع نظریه | ۲ |
| ۳ | PHN3605 | اتومي فزیک | ۱۵ | ۲ | CS2307 | کمپیوټر ۱ | ۳ |
| ٤ | PHT 3619 | د نسبیت خاصه تیوري | ۱٦ | ۲ | MA2302 | احتمالات | ۴ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | په فزیک کې د ریاضي مېتود ۱ | PH2405 | ۳ | ۱۷ | کمپیوټر ٤ | CS3610 | ۲ |
| ٦ | کمپیوټر۲ | CS2408 | ۲ | ۱۸ | د کوانټم میخانیک ۲ | PHT4715 | ٤ |
| ۷ | تفاضلي معادلې | MA2403 | ۳ | ۱۹ | هسته‌یي فزیک | PHN4706 | ٤ |
| ۸ | احصائیوي فزیک | PH2408 | ۳ | ۲۰ | د ذراتو فزیک | PHE4722 | ٤ |
| ۹ | کلاسیک میخانیک۲ | PTH2413 | ٤ | ۲۱ | کمپیوټر ۵ | CS4711 | ۲ |
| ۱۰ | په فزیک کې د ریاضي مېتود۲ | PH3506 | ٤ | ۲۲ | دجامداتو فزیک | PHE4814 | ٤ |
| ۱۱ | کمپیوټر ۳ | CS3509 | ۲ | ۲۳ | کمپیوټر ٦ | CS4824 | ۲ |
| ۱۲ | نیمه هادي آلې | PH2317 | ٤ | ۲۴ | د لیزر فزیک | PHE4823 | ۲ |

**۳. د اتومي او هسته یي فزیک ډیپارټمېنټ**

**الف) پېژندنه**

د اتومي او هسته یي فزیک ډیپارټمېنټ د کابل پوهنتون د فزیک پوهنځي په چوکاټ کې د دې پوهنځي یو نوی رامنځته شوی ډیپارټمېنټ دی چې د هستوي فزیک او انرژۍ په برخه کې د ټولنې د سوله ییزو موخو پر اساس، پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو، عامې روغتیا، اوبو او انرژۍ، صنایعو او معدف، مخابراتو د هستوي انرژۍ ادارې او نورو برخو د اړتیاوو پر بنسټ ایجاد شوې ده، دغه ډیپارټمنټ د مجربو علمي کادرونو په مټ د فزیک پوهنځي په چوکاټ کې فعاله ده.

**ب) موخې**

**۱. لید لوری**

د اتومي او هسته یي فزیک ډیپارټمېنټ هڅه کوي چې د خپلو ښوونیزو خدمتونو(تدریس)، څېړنو، سلا او مشورو او د ټولنېزو پروژو په تطبیق سره، د فزیک په برخه کې غوره علمي کادرونه وروزي چې خلکو ته په بشپړه توګه با کیفیته خدمتونه وړاندې کړيچې د سیمي او هېواد په کچه د یوه علمي او اکاډمیک بنسټ په توګه خپل ځای ومومي.

**۲. مأموریت**

د اتومي او هسته یي فزیک ډیپارټمېنټ د کار بازار اړتیاوو او تخصصیوالي پر بنسټ د غوره تدریس، څېړنو او خدمتونو له لارې د بېلابېلو ښوونیزو او څېړنیزو بنسټونو لپاره متخصص او مسلکي کادرونه روزي.

**۳- اساسي موخې**

۱. د تخصص په مټ د پوهې تولید؛
۲. د فزیک برخه کې دمتخصصو کادرونو روزل؛
۳. دګټور تحصیلي نظام د پایلو پر بنسټ د کار موندنه؛
٤. د محصل محوره مېتودونو په مټ د استعدادونو وده او روزنه ؛
۵. د فزیک په برخه کې د څېړنې کول او د څېړنو بنسټیز کول؛

**ج. توامیتونه**

د هسته یي او اتومي فزیک ډیپارټمېنټ اوس مهال له کوم کورنۍ یا بهرنۍ پوهنتون یا علمي بنسټ سره علمي او تخنیکي توامیت نه لري، خو د فزیک ریاست په کچه هوکړه لیکونه لاسلیک کېږي، کوښښ کېږي چې په راتلونکو کې په خپلواکه توګه له صنعتي، علمي او څېړنیزو بنسټونو سره هوکړه‌لیکونه لاسلیک شي.

**هـ. تحصیلي نصاب (تخصصي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | په فزیک کې د ریاضي مېتودونه۱ | MA.AP.0419 | ۴ | ۱۴ | د آفېس پروګرام | CS.IT.0244 | ۳ |
| ۲ | په فزیک کې د ریاضي مېتودونه۲ | MA.AP.0619 | ۴ | ۱۵ | ++Cپروګرامېنګ | CS.IT.0530 | ۴ |
| ۳ | حرارت او ترموډینامیک | --.--.0320 | ۴ | ۱۶ | نیمه هادي آلې | --.--.0631 | ۴ |
| ۴ | د فزیک د اساساتو لابراتوار | --.--.0321 | ۲ | ۱۷ | د الکترومقناطیس تیوري | --.--.0732 | ۴ |
| ۵ | موجي آپټیک | --.--.0422 | ۴ | ۱۸ | اتومي فزیک | --.--.0533 | ۴ |
| ٦ | د برېښنا لابراتوار | --.--.0423 | ۲ | ۱۹ | هستوي فزیک | --.--.0634 | ۴ |
| ۷ | کلاسیک میخانیک | --.--.0511 | ۴ | ۲۰ | الکترونیک لابراتوار | --.--.0735 | ۲ |
| ۸ | نسبیتی میخانیک | --.--.0748 | ۴ | ۲۱ | دکوانتم میخانیک۲ | --.--.0828 | ۴ |
| ۹ | د څپز نور لابراتوار | --.--.0625 | ۲ | ۲۲ | د انالوګ او ډیجیټل الکترونیک | 0745--.-- | ۴ |
| ۱۰ | د عددي محاسبې تخنیکونه | MA.AP.0526 | ۴ | ۲۳ | احصائیوي فزیک | --.--.0837 | ۴ |
| ۱۱ | د جامد حالت فزیک | --.--.0827 | ۴ | ۲۴ | د هستوي فزیک لابراتوار | --.--.0738 | ۲ |
| ۱۲ | د کوانتم میخانیک ۱ | --.--.0628 | ۴ | ۲۵ | | | |

**۵. د هسته یي فزیک د ماسټرۍ پروګرام**

**الف. پېژندنه**

فزیک پوهنځي خپله د ماسټرۍ دوره د هستوي او اتومي فزیک په برخه کې په کال ۱۳۹۸ کې تثبیت کړه او له نیکه مرغه په ۱۳۹۹ لمریز کال کې یې فعالیت پیل کړ، چې دغه پروګرام د کیفیت او کمیت له اړخه په افغانستان کې بې‌سیاله دی او کېدای شي د سیمې په کچه یې سیال کړو، په دغه پروګرام کې اپډېټ شوی تحصیلي نصاب، ژمن او متخصص کادر له کورنیو او بهرنیو امکاناتو څخه په استفادې سره کولای شي دغه برنامه د نړیوالو معیارونو په لوړه کچه کې ودروي.

**ب. موخې**

په ملي کچه د هستوي او اتومي فزیک د پوهې تولید، د هستوي پوهې د ښوونې پراختیا او هراړخیز انکشاف،په سیمه ییزه او نړیواله کچه د هستوي پوهې د څېړنو د مهارتونو لوړول، د بېخبناوو د متوازنې پراختیا په موخه د ملي څېړنیزو پروژو تطبیق لپاره د تحصیلي څېړنو او سلا مشورو آسانتیاوې برابرول. د هستوي فزیک د پوهې د عاملو لپاره د علمي کادرونو ارتقاء او دوی ته د پوهې په تولید کې ونډه ورکول .

د فزیک پوهنځي پورې اړوند او په ټوله کې د کابل پوهنتون د ستراتیژیو د پلي کولو په موخه د هستوي فزیک د ماسټرۍ دوره د هستوي او اتومي فزیک په ډیپارټمنټ کې پیل شوه، هستوي انرژۍ ته د سوله‌ییز لاسرسي قانون ته په پام د هستوي او اتومي فزیک ډیپارټمنټ د متخصص انساني ځواک روزنې برنامې په لاندې برخو کې فعالیت لري.

- هستوي بټۍ او هستوي سونتوکي؛

- هستوي طب ؛
- د کرنې په برخه کې هستوي څېړنې؛
- هستوي ساتنه.

د هستوي او اتومي فزیک دیپارتمنت له کورنیو او بهرنیو علمي بنسټونو سره د رامنځته شوې راکړې ورکړې پر اساس هڅه کوي چې د متخصصو او غوره استادانو په ګومارنې سره خپله اړتیا پوره کړي، هڅه کېږي چې د ګاونډیو هېوادونو له معتبرو پوهنتونو سره علمي راکړه ورکړه، د استادانو او محصیلینو تبادله، د ګډو څېړنیزو کارونو ترسره کولو په موخه د منابعو او لابراتوارونو ګډون او همدارنګه د تېزېسونو بشپړولو او نورو اړتیاوو په موخه اړیکې ټینګې شي، چې خپلې اړتیاوې پوره کړي.

### ۱. لید لوری

په ملي کچه د هستوي او اتومي فزیک د پوهې تولید، د هستوي پوهې د ښوونې پراختیا او هر اړخیز انکشاف او په سیمه ییزه او نړیواله کچه د هستوي پوهې په برخه کې د څېړنې د مهارتونو وده.

### ۲. ماموریت

د بېخبناوو د متوازنې پراختیا لپاره د ملي څېړنیزو پروژو تطبیق د تحصیل، څېړنې او سلا مشورو خدمتونو وړاندې کول. د هستوي فزیک د پوهې د عاملو لپاره د علمي کادرونو ارتقاء او دوی ته د پوهې په تولید کې ونډه ورکول .

### ۳. توامیتونه

د هستوي او اتومي فزیک ډیپارټمنټ د فزیک پوهنځې د پراختیایي موخو په چوکاټ کې خپلو موخو ته د رسیدو په منظور هڅه کوي د معتبرو ملي او بین المللي پوهنتونونو او نورو خصوصي او دولتي څېړنیزو او خدماتي بنسټونو همکاری جلب کړي، سربېره پر دې چې دغې اداري د افغانستان د هستوي او اتومي انرژۍ له اداري سره هوکړه لیک لاسلیک کړی و، په ژر به له درېیو نورو بین المللي بنسټونو سره د علمي څېړنیزو فعالیتونو او خدمتونو هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړي، چې خپل تحصیلي خدمتونه لا پسې ښه او ګړندي کړي.

### هـ. تحصیلي نصاب (تخصصي مضمونونه)

| ګڼ | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼ | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پرمختللی هستوي فزیک | Phmn101 | ۴ | ۸ | د هستوي نیوترون او راکتورونو فزیک | Phmn308 | ۴ |
| ۲ | د پرمختللي کوانتوم میخانیک | Phmn102 | ۴ | ۹ | راډیو ایزوتوپونه | Phmn309 | ۳ |
| ۳ | پرمختللی احصائیوي میخانیک | Phmn103 | ۳ | ۱۰ | پرمختللی هستوي لابراتوار | Phmn310 | ۲ |
| ۴ | الکترو‌ډینامیک | Phmn204 | ۳ | ۱۱ | د څېړنې روش | Phmn411 | ۳ |
| ۵ | په پرمختللي فزیک کې د ریاضي مېتود | Phmn205 | ۴ | ۱۲ | د ماسټرۍ تېزېس | Phmn412 | ۸ |
| ٦ | مالیکولي او اتومي فزیک | Phmn206 | ۴ | ۱۳ | کمپیوټر (اختصاصی) | Phmn413 | ۳ |
| ۷ | د هستوي تشعشعاتو ډیټېکتورونه | Phmn307 | ۳ | ۱۴ | | | |

# کمپیوټرساینس پوهنځی



**۱. د پوهنځي پېژندنه**

د کمپیوټر ساینس پوهنځی په (۱۳۸۸ل) کال کې د لوړو زده‌کړو وزارت د مخکیني ستراتیژیک پلان له مخې د اوسني وخت او عصري غوښتنو مطابق د مسلکي کادرونو د روزنې په موخه د یو مستقل پوهنځي په توګه د کابل پوهنتون په اډانه کې تاسیس شو. دغه پوهنځی په (۱۳۷٦ل) کال کې ساینس پوهنځي ته د کمپیوټرساینس څانګې د ارتقاء په پایله کې منځ ته راغلی. په دې پوهنځي کې د زده‌کړې موده اته سمستره یعنې څلور کاله ده، چې پکې لومړي دوه کاله څلور سمستره عمومي او د پای په دوو کلونو کې څلور سمستره اختصاصي دروسونه په درې رشتو (د سافټویر انجینیزي، معلوماتي ټیکنالوژي او معلوماتي سیستمونو) کې ورکول کېږي.

د دې پوهنځي نوې ودانۍ د جاپان په مرسته په درې پوړونو کې رغول شوې او په (۱۳۹۴ل) کې تر پرانیستې وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې؛ چې د درسي ټولګیو، لابراتوارونو، کتابتون، د کنفرانس، اداري او د استادانو د خونو لرونکې ده.

**۲. د پوهنځي موخې**

د کمپیوټر د سافټویر، انجنیری، مدیریت، د کمپیوټري شبکو د امنیت او د معلوماتي سیستمونو د مدریت په برخه کې د مسلکي اشخاصو او کادرونه روزل د دې پوهنځي له اساسي او بنسټیزو موخو څخه دي. د دې پوهنځي زده‌کړیزې موخې په لاندې ډول خلاصه کولی شو:

- د بېلابېلو کمپیوټري علومو په برخه کې د بنسټیزو او مسلکي تیوریو درک او د دې تیوریو په پلي کولو کې د کمپیوټر د تشخیص، ډیزاین، تطبیق او د بېلابېلو سیستمونو د ساتنې له ګټورو تخنیکي وسایلو څخه کار اخیستل.
- د مسایلو د ارزونې او تحلیل وړتیا لرل؛ په ټاکلي وخت د ګټورو لارو ټاکل، په شفاهي او لیکنۍ بڼه له نورو سره د اړیکو ټینګولو مهارتونه لرل او د کمپیوټر د بېلابېلو سیستمونو او د معالوماتي ټېکنالوژي د ډیزاین له‌پاره په فردي او ګروپي پروژو کې د کار وړتیا.
- له کمپیوټر او د بېلابېلو سیستمونو څخه یې د کارونې او د ضررونو د مخنیوي پرمهال د مسلکي، تخصصي، قانوني، ټولنیز او اخلاقي مسوولیتونو اخیستولو وړتیا لرل او د ټولنې د هوساینې په موخه د کمپیوټري سیستمونو په کار اچول، د بشري ټولنې له بېلابېلو برخو سره ګډې هڅې او له ټېکنالوژۍ څخه د یوې موخې نه؛ بلکې د یو وسیلې په توګه کار اخیستل.

**الف. لیدلوری**

د کمپیوټر ساینس د پوهنځي له جوړېدو څخه زموږ موخه د علمي او څېړنیزو مطالعاتو له‌پاره د یو غوره مرکز جوړول دي. پر دې بنسټ په ملي، سیمه‌ییز او نړیواله کچه یومعتبر علمي بنسټ نه یوازې د یو معیاري نصاب په چوکاټ کې د کمپیوټري علومو باکیفیته زده‌کړې چمتو کوي، بلکې د هېواد د اړتیا د پوره کولو په‌پار ګټورې حللارې هم لټوي. نو پر دې بنسټ د کمپیوټر ساینس پوهنځي د جوړېدو موخې او مقصدونه په لاندې ډول دي:

د غوره زده‌کړیز، علمي او څېړنیز بنسټ په توګه د کمپیوټر ساینس پوهنځي جوړېدل.

د ملي، سیمه‌ییزو او نړیوالو منل شویو معیارونو په پام کې نیولو سره د کمپیوټري زده‌کړو یو معتبر مرکز تاسیسول.

د ګډځانګیزو څېړنو عامول او د افغانستان د اقتصاد په ساتنې او غوړېدو کې د ګډون په موخه د مسلکي متخصصانو ترمنځ نوښتګر فعالیتونه ترسره کول.

په نړیوالو علمي څېړونو کې برخه اخیستل او همداراز د کمپیوټر ساینس د علم خپرولو کې فعاله ونډه اخیستل او په هېواد او سیمه کې د کمپیوټر د پوهانو ترمنځ د نوښت او څېړونو عامول.

**ب. ماموریتونه**

د پوهنځي فعالیتونه په لاندي ډول دي:

په لوړ علمي کیفیت سره د لېسانس، ماسټر او ډاکټر په درجو په کچه ټولنې ته د کمپیوټر ساینس فارغانو وړاندې کول، څو وکولی د څېړنکو، ښوونکو او متشبثینو په توګه خپلې ټولنې ته د خدمت جوګه شي.

ټولنې ته د داسې فارغانو وړاندې کول څو وکولی شي په ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله کچه مهارتونه او اړتیاوې تجربه او تشخیص کړي.

د کمپیوټر ساینس پوهنځي د استقلالیت او مالي خان‌بسیاینې له‌پاره هڅې.

**ج. بنسټي موخې**

لکه څنګه چې کمپیوټر ساینس یوه نوې پوهه او په دوامداره توګه د ودې او پراختیا په حال کې ده او دا ایجابوي چې په زده‌کړیزو موسسو کې د دې پوهې زده‌کړیالان له نویو علمي لاسته راوړنو او پرمختګونو سره اشنا او د لازمو مهارتونه په خپلولو کې یې ملتیا وکړو څو تر فارغېدو وروسته کورنۍ اړتیاوې بشپړ او ټولنې ته د خدمت جوګه شي. په همدې بنسټ د وخت له غوښتنو او د هېواد د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د پوهنځي زده‌کړیز نصاب ته هر ځلې کتنه کېږي.

د لوړو زده کړو د دولتي او خصوصي بنسټونو او موسسو، مخابراتي شبکو او د سوداګریزو او دفتري چارو د شرکتونو د اړتیا وړ راټول شویو اطلاعاتو تر ژورې او کره مطالعې وروسته دې پایلې ته ورسېدو چې د پوهنځي نصاب د هېواد اړتیاوې په ځان کې نشي‌رانغاړلی او دا ایجابوي، چې په زده‌کړیز نصاب او محتوال کې داسې بدلون راولو چې د هېواد د اړتیاوو او غوښتنو ځواب‌وونکی وي.

**۳. تړامیتونه**

د هېواد له دننه او بهره له ځینو پوهنتونو او زده‌کړیزو بنسټونو سره د همکارۍ ګڼ هوکړه‌لیکونه لاسلیک شوي، چې ځینو ته یې دلته نغوته کوو:

د سویلي افریقا د کېپ‌ټاون پوهنتون له کمپیوټر ساینس پوهنځي سره د همکاریو هوکړه‌لیک.

د استونیا هېواد د تالین پوهنتون له کمپیوټر ساینس پوهنځي سره د همکاریو هوکړه‌لیک.

د هند د ډهلي پوهنتون له کمپیوټر ساینس پوهنځي سره د همکاریو هوکړه‌لیک.

**۴. ډيپارټمنټونه**

د کمپيوټر ساينس پوهنځی څلور څانګې لري، چې له دې څلورو څخه يې درې څانګو(د سافټويز انجينيری، معلوماتي ټېکنالوژي او معلوماتي سيستمونه) زده‌کړيالان فارغ او بېلابېلو برخو کې روزلي دي. څلورمې څانګې (د کمپيوټر ساينس ډيپارټمنټ) په ځانګړې توګه زده‌کړيالان نه لري؛ خو د لومړنيو دوو زده‌کړيزو کلونو کې په عمومي مضمونونو کې فعاله ونډه لري؛ همدارنګه د کابل پوهنتون نورو پوهنځيو ته د مرستيال مضمون په توګه په مارکېټ کې له موجود او مخکې جوړ شويو پروګرامونو څخه د تدريس له‌پاره ګټه اخيستل کېږي.

**۱. د سافتوير انجينيری ډيپارټمنټ**

الف. پېژندنه

په دې کې شک نشته چې کمپيوټر او پروګرامونه يې ډېرې ګټې لري او هيڅوک يې له دې ګټو سترګې نه‌شي پټولی. په همدې خاطر يې د انسانانو د ژوند په ټولو چارو سيوری غوړلی او کارونه يې ورځ په ورځ ډېرېږي. زموږ د ګران هېواد په دولتي او نادولتي ټولو ادارو کې له کمپيوټر او پروګرامونو يې څخه کار اخيستل کېږي. په دې کې ځيني پروګرامونه عمومي دي چې د نړۍ مشهورو شرکتونو جوړ کړي او په ټولې نړۍ کې ترې وګړي ګټه اخلي. خو ځيني پرواګرمونه ځانګړي دي، چې دولتي او نادولتي ادارې ورته اړتيا لري، غوره ده چې د هېواد دننه جوړ شي. دا پروګرامونه چې د هېواد دننه جوړېږي، کېدای شي په سيمه‌ييزو ژبو وي، د يوې ادارې هره اړتيا ته پکې پام کېږي او په راتلونکي کې په اسانی او کم لګښت سره (Update) کېدای شي. خو زموږ په هېواد کې تر اوسه دا ځانګړي پروګرامونه په ډېر لوړ لګښت له بهر څخه راوړل کېږي. نو پر دې بنسټ دا اړتيا حسېږي څو مسلکي کسان د کمپيوټر د سافټوير جوړونې په برخه کې وروزل شي. همداراز د لوړو زده‌کړو وزارت په ستراتيژيک پلان کې د چارو د اسان ترسره کېدو په موخه د سافټويرونو کارونې ته اشاره شوې ده. دا چې په اوسنيو شرايطو کې دا سافټويرونه له بهرنيو شرکتونو پېرل شوي دي، ډېری وخت له ستونزو سره مخامخ دی. د افغانستان د اړتياوو درکول او د سافټويرونو ساتل او کارولو له‌پاره مسلکي کسانو ته اړتيا ده، ځکه چې له مالي او امنيتي اړخه تر ډېره وخت پر بهرنيو شرکتونو تکيه نه‌شي کېدای. له بله اړخه د سافټوير جوړول داسې يو صنعت دی، چې فابرېکې او خامو موادو اړتيا نه لري. کمپيوټر ته د يو سافټوير جوړول؛ پروګرام ليکنې او مسلکي پوهې ته اړتيا لري. موږ د دې کار له‌پار مسلکي کسانو اړتيا ولرو، چې د پروګرام ليکنې له ژبې، تخنيکونو، د جوړول ميتود او د سافټوير له پراختيا سره اشنا وي. که مو په دې برخه کې مسلکي کسان ولرو؛ کولی شو دا سافټويرونه د هېواد دننه جوړو کړو او خپل ګران هېواد پر داسې يو صنعت تبديل کړو، چې د خامو موادو کارونې ته يې اړتيا نه وي.

د سافټوير اينجينری ډيپارټمنټ په همدې خاطر تاسيس شوې، څو د وخت د غوښتنو مطابق د سافټويرونو د جوړښت، ساتنې او بيا نوي‌کولو په برخه کې مسلکي کسان وروزي او ټولنې ته يې وړاندې کړي. د دې څانګې د علمي کادرونو شمېر اتو تنو ته رسېږي، چې له ډلې يې دوه تنه د دوکتورا او شپږ نور يې د سافټويز اينجينری په برخه کې د ماستری زده‌کړيزو درجو لرونکي دي. دا ډيپارټمنټ هڅه کوي څو ټول علمي کادري غړي يې د دوکتورا په زده‌کړيزې درجې سمبال شي. دا علمي کادري غړي د تدريس ترڅنګ د څېړنې، تاليف، ژباړې، د پراختيا مسووليت او د نصاب د نوي‌والي دندې هم پر غاړه لري.

ب. موخې

د سافټوير اينجينري څانګې بنسټيزه موخه د کمپيوټر د سافټويرونو د جوړونې، پراختيا او ساتنې په برخه کې د مسلکي او کادري کسانو روزل دي. پرته له سافټويره کمپيوټر هېڅ کار نه‌شي ترسره کولی؛ نو ځکه سافټوير اينجينري د کمپيوټري علومو يوه مهمه او اساسي برخه ګڼل کېږي.

پر دې بنست د دې څانګې د زده‌کړیز نصاب تمرکز د سافټویر پر جوړولو دی. په دې زده‌کړیز نصاب کې د سافټویرونو ټولې مرحلې لکه جوړولو، ازموینه، د کارولو او ښه‌کولو تختنیکونه شامل دي. په دې خاطر چې د کمپیوټر سافټویرونه له اوسنیو معیارونو سره مطابقت ولري او له بله اړخه د مارکېټ د اړتیا ځواب‌ویونکی وي نو په جوړېدو کې یې هم له وسایلو او هم تخنیک نه ګټه اخیستل کېږي. نو ځکه هغه مسلکي مضمونونه؛ چې د پروګرام لیکنې د ژبې زده‌کړې او هغه تخنیکونه او لارې‌چارې چې د معاصرو پېچلو سافټویرونو په جوړولو کې کارېږي؛ په ځان کې رانغاړي او دا ټول د دې څانګې په زده‌کړیز نصاب کې ځای پر ځای شوي دي. همداراز د سافټویر د کیفیت د کنټرول او د هغه وسایلو تخنیکونه، چې د امنیتي میکانیزم لرونکي سافټویرونو په جوړولو کې استعمالېږي، هم په دې زده‌کړیز نظام کې شامل دي.

د هر رشتې او مسلک بنسټیزه غوښتنه دا ده چې فارغان یې له ذهني او مسلکي اړخه د ټولنې او وطن په خدمت کې وي؛ نو ځکه د فارغانو ذهني او مسلکي چمتووالی د هر زده‌کړیز نصاب په لومړتوبونو کې راځي. د سافټویر انجینیرۍ څانګې نصاب له همدې اصل څخه د پیروۍ په موخه د اساسي او اختصاصي مضمونونو لرونکی دی.

د دې څانګې په زده‌کړیز نصاب کې د دې ډیپارټمنټ استادانو فعاله ونډه اخیستې او د نصاب اوسنی حالت د دې استادانو د زحمتونو پایله ده. په دې زده‌کړیز نصاب کې د سافټویرونو سیستماتیک جوړول ته ډېر ارزښت ورکړل شوی دی. ځکه چې د اوسني پېچلو سافټویرونو د جوړولو پروسه مغلقه او اوږده ده او د سافټویر تحلیل، ډیزاین، پروګرام لیکنې، ازمېښت، د کیفیت کنټرول او د لګښت و محاسبې تخمین د سیستم سرچینو ته اړتیا لري. پورتنیو ملحوضاتو ته په پاملرنې دا ډیپارټمنټ د سافټویر انجینیري په نوم نومول شوې.

**۱.لیدلوری**

د سافټویر انجینیرۍ ډیپارټمنټ ژمنه ده چې د کمپیوټر د سافټویر او د ژمن و کادري متخصصینو په روزلو کې د هېواد په کچه غوره معتبر علمي، اکاډمیک او څېړنیز بنسټ وي.

**۲. ماموریتونه**

د سافټویر انجینیري ډیپارټمنټ د کمپوټر د سافټویرونو د تولید او په دې علم کې د علمي او ژمن کادرونو د روزنې موخې ته د رسېدو له‌پاره لاندیني ماموریتونه لري:

- د مسلکي او اساسي تیوریو تدریس او د کمپیوټر د سافټویرونو د تولید په برخه کې د مسلکي او کادري کسانو د روزنې په برخه کې له دې تیوریو، میتودونو او تخنیکونو ګټوره استفاده؛ چې له تخنیکي، ذهني او عملي اړخه د کمپیوټر په مرسته د ستونزو د حل او تحلیل وړتیا ولري.
- د متخصصو کادرونو د روزنې له‌پاره داسې زده‌کړیز چاپیریال چمتو کول چې د کمپیوټر او بېلابېلو کمپیوټري سیستمونو د کارولو پرمهال مسلکي، حقوقي، ټولنیز او اخلاقي مسولیتونه په غاړه واخلي څو د رامنځته شویو زیانونو مخه ونیسي او له بېلابېلو بشري ټولنو سره یوځای له کمپیوټري سیستمونو او ټېکنالوژۍ څخه د ټولنې د هوساینې او خدمت له‌پاره ګټه اخیستل.
- د هېواد او ټولنې د علمي او اقتصادي پرمختګ په موخه د کمپیوټر د سافټویرونو د تولید په برخه کې علمي څېړنې ترسره کول،

**۳. بنسټي موخې**

د کمپیوټر د سافټویرونو پراخه کارونه د سافټویر جوړونې د پروسې پر ارزښت ټینګار کوي؛ خصوصاً د افغانستان په څېر هېواد چې د ودې په حال کې دی او د کمپیوټر او سافټویر کارونه پکې ورځ تر بلې زیاتېږي. د کمپیوتر د سافټویر جوړونه یو داسې صنعت دی چې پکې له خامو موادو ګټه نه اخیستل کېږي او د کار زمینه وګړو ته مساعدېږي؛ همداراز دا صنعت د هېواد په اقتصاد کې هم مرسته کولی شي.

نو پرته له شکه د سافټویر جوړونې په برخه کې د مسلکي کسانو روزنه یو اړتیا ده، څو پـه دې برخـه د ټـولنې اړتیـاوې بشـپړې کړای شي. اوسمهال د هېواد دولتي او نادولتي اداري د خپل اړتیا وړ سافټویرونه په زیات لګښت سره له بهره راوړي. دلته د یادونې وړ ده چې د کمپیوټر د سافټویرونو لګښت له کمپیوټر څخه ډېر دی؛ حتا د ځینو سافټویرونو قیمـت میلیونونـو ډالـرو تـه رسـېږي. فلهذا اړتیا ده چې د سافټویر انجینیرۍ څانګې زده‌کړیز نصاب جوړ او له مخې یې دا رشته تدریس شي.

د دې څانګې زده‌کړیز نصاب د هېواد او د مارکېټ د کاري ساحو اړتیا ته په کتو، جوړ او ترتیب شوی. په دې نصاب کې هـر مضمون د محصلینو د اړتیاوو پر اساس ټاکل شوی دی. د دې اړتیا د پوره کېدو له‌پاره د ځینو نړیوالو پوهنتونو درسي نصابونه کتل شوي او د استادانو نظریې یې راخیستل شوې؛ همداراز د کمپیوټر ساینس د پوهنځي د فارغانو، د ماسترۍ د محصلانو او د نظر د خاوندانو نظرونه هم په پام کې نیول شوي دي.

ج.توامیتونه

د سافټویر انجینیرۍ ډیپارټمنټ څانګړی توامیت نه لري، خو د کمپیوټر ساینس پوهنځي د توامیتونو یو جز دی.

**د. لابراتوار او زده‌کړیز تجهیزات**

دا ډیپارټمنټ د یو مجهز لابراتوار درلودونکی دی.

**هـ. زده‌کړیز نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | شي ګرا پروګراملیکنه | CS311 | ۴ | ۱۲ | د الګوریتم تحلیل او ډیزاین | CS611 | ۴ |
| ۲ | د سافټویر انجینیرۍ بنسټونه | CS411 | ۴ | ۱۳ | د وېب پراختیا او ډیزاین ۲ | CS612 | ۳ |
| ۳ | د لومړنیو معلومات رغښت | CS511 | ۴ | ۱۴ | ماشین‌لرنینګ | CS613 | ۴ |
| ۴ | د ډیکسټاپ د برنامو پراختیا | CS512 | ۴ | ۱۵ | د سیستم تحلیل او ډیزاین | CS614 | ۴ |
| ۵ | مصنوعي ذکاوت | CS513 | ۴ | ۱۶ | ابري محاسبې | CS615 | ۴ |
| ۶ | د وېب پراختیا او ډیزاین ۱ | CS514 | ۳ | ۱۷ | پروژه او سیمینار | CS811 | ۵ |
| ۷ | څېړنه او پروژه | CS711 | ۵ | ۱۸ | د سافټویرونو امنیت | CS812 | ۲ |
| ۸ | د سافټویر پروژو مدیریت | CS712 | ۴ | ۱۹ | د سافټویرونو له کیفیته ډاډ | CS813 | ۴ |
| ۹ | د ویب شامل انکشاف | CS713 | ۳ | ۲۰ | د موبایل پروګرام لیکنه ۲ | CS814 | ۳ |
| ۱۰ | د موبایل پروګرام لیکنه ۱ | CS714 | ۳ | ۲۱ | اختیاري ۲ | CS815 | ۳ |
| ۱۱ | اختیاري ۱ | CS715 | ۳ | | | | |

**۲. د معلوماتي ټېکنالوژۍ ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د ټېرو پینځه ویشتو کلونو پرمختګ د دې سبب شوی چې د کمپیوټر په علم کې د مسلکي اشخاصو له‌پاره غوښتنې زیاتې شي او په پایله کې دا اړتیا حس شوې چې د معلوماتي ټېکنالوژۍ رشتې له‌پاره یو ټاکلی اکاډمیک پروګرام په پام کې ونیول شي. په دې برخه کې پراختیا دې سبب ګرځېدلې چې په معلوماتي ټېکنالوژي او مخابراتي رشته کې مسلکي کسـان ورزول شي. دا چټکـه وده په کمپیوټري شبکو، بې‌سیمه شبکو، انټرنېټ، وېبپاڼو او تطبیقي پروګرامونو کې د تخنیکي پرمختګونو له امله رامنځته شـوی دی. په داسې حال کې چې د کمپیوټر ساینس او د کمپیوټر انجینیرۍ په څېر پروګرامونو زده‌کړه د دې نویو روشونو ځواب‌ویونکي دي؛ خو پر دې برخو عمل کول یو څه تت دی. په پایله کې د کارکوونکو استخداموونکي دې ستونزې ته ځیر شول او غوښته یې وکـړه

چې د دې څانګې فارغان په مستقیمه بڼه د دوی اړتیاوې نه‌شي پوره کولی؛ نو باید نوې څانګې رامنځ ته شي، چې دې غوښتنو ته ځوابویونکي وي. د بېلګې په توګه د کمپیوټر ساینس او د کمپیوټر انجینیرۍ په څانګو کې ډېرې زده‌کړیز پروګرامونه د سیستم او شبکو د ادارې عملي او مشخص مهاروتونو پر زده‌کړو تمرکز نه کوي؛ په داسې حال کې چې دا د ډېریو ادارو یوه اړتیا ده، چې دا کسان د معالوماتي ټېکنالوژۍ د بنسټونونو د کنټرول وړتیا ولري او کنټرول یې کړي. په ورته وخت کې د وبپاڼو په پراختیا کې پر اړین مهارتونو او فرصتونو بحث نه کېږي؛ چې په انټرنیټ کې شته او حتا د موضوعاتو ډېر تیوریکي ماهیت او د کمپیوټر ساینس پر تیوریکي پروګرامونو ډېر ټینګار د دې سبب ګرځېدلی چې د دې څانګې فارغان د موسسو د کارې کړنو په معلومات ونه‌لري او و نه‌شي کولی اړین ملاتړ ترلاسه کړي. نن ورځ، اقتصادي سازمانونه او لوی، متوسط او کوچني شرکتونه خپل معلوماتي ټکنالوجۍ او معلوماتي امنیت زیربنا سره خورا تړلي دي او د دې زیربناوو پیاوړتیا ته دېره لیوالتیا لري. د دې ډول موسسو لپاره د باور وړ او خوندي شبکو چمتو کول د سوداګریز بریالیتوب لپاره یو اړین عامل ګڼل کیږي.

د پورتنیو ټولو مواردو په پام کې نیولو سره په (۲۰۰۸ز) کال کې د معلوماتي ټېکنالوژۍ ډیپارټمنټ د کمپیوټر ساینس پوهنځي په چوکاټ کې د یو کلیدي او اساسي څانګې په توګه جوړ شو. د دې څانګې ماموریت دا چې د زده‌کړیالانو لپاره د معیاري زده‌کړو زمینه مساعده کړي، څو وکولی شي له خپل مسلکي پوهې او تحلیلي مهارتونو له مخې د ادارو د اړتیاوو پر اساس په بریالي ډول مناسبې حلارې چمتو او پلي کړي.

په ورته وخت کې دا ډیپارټمنټ هڅه کوي څو له نړیوالو پوهنتونو او شرکتونو سره د اکاډمېکې همکارۍ له لارې خپل زده‌کړیز نصاب لا ښه او معیاري کړي. د دې څانګې زده‌کړیز نصاب داسې جوړ شوی چې د افغانستان د نن او راتلونکي اړتیاوو ته ځواب ویونکی دی.

**ب. زده کړیز موخې**

د دې ادارې بنسټیزه موخه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د مسلکي کادرونو روزل دي. د دې څانګې نصاب هم همدې موخې ته متوجه ده او د دې موخې سره سم د نصاب د طرحې اصلي محور دی.هغه کسان چې له دې څانګې څخه فارغ شوی وي کولای شي په مختلفو ادارو کې لکه: د سیستم مدیرانو، د شبکې مدیرانو، د شبکې انجینران، د شبکې متخصصین، د شبکې امنیت متخصصین، د معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست رییسان، معلوماتي ټکنالوژۍ او مخابراتي ټکنالوژۍ مشاورین په توګه دندې ترسره کړي.

**۱.لیدلوری**

- د معلوماتي ټکنالوژۍ د نصاب او د منلو وړ معیارونو پر بنسټ د باکیفیته او اغېزمنو زده کړو په وړاندې کولو سره په ملي، سیمه اییز او نړیواله کچه د غوره شهرت رامنځته کول.
- داسې کسان فارغول چې په ملي او سیمه ییزه کچه د معلوماتي ټکنالوژۍ مهارتونه او مسلکي اړتیاوې د ځایي اړتیاوو او د معلوماتي ټکنالوژۍ په اړه د لیدونکو لیدونو سره سم د معیاري معلوماتي ټکنالوژۍ نصاب پر بنسټ پوره کول.
- د نړیوالو څېړنیزو ټولنو برخه ګرځېدل او په فعاله توګه د کمپیوټر ساینس کې برخه اخیستل. د افغان کمپیوټر ساینس پوهانو ترمنځ څېړنې او نوښت ته وده ورکول.

**۲. ماموریت**

- د معلوماتي ټېکنالوژۍ د زده‌کړیزو معیارونو د منل شوي (ACM / IEEE IT2017) نصاب او د افغانستان د کار د بازار او اړتیاوو له مخې د بریالي مسلکي لارښوونو پر بنسټ له لوړو مهارتونو سره د محصلینو فارغول.

- زده کړیز چاپیریال چمتو کول، چې له زده کړیالانو سره مرسته کوي څو مسلکي مهارتونه، څېړنه، رهبري ، د ستونزو حلول، دوامداره زده کړې او کاري مهارتونه زده کړي.
- د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د اړینو مسلکي مهارتونو سره متخصصین فارغول، چې وکولای شي حلالرې او تخنیکي زیربنا چمتو کړي. همدا رنګه د پلان، ډیزاین، جوړونې، پراختیا، مدیریت، ساتنه او خوندیتوب لپاره باوري او شفاف سیستمونو په جوړولو د قوي، باثباته او اقتصاد کې له افغانستان سره مرسته وکړي
- د معلوماتي تکنالوژۍ د نظري او عملي علومو وړاندې کول، چې کولای شي د معلوماتي ټکنالوژۍ تولنیزې اغېزې او اخلاقو ته په پام سره د افغانستان د ګټو لپاره په انډول څېړنیزو پروژو کې د خپلې پوهې په پلي کولو سره د فارغانو ګډون او ملاتړ تضمین کړي.
- د نوي ټکنالوژۍ په ګټه اخیستنې سره زده کړیالانو ته روزنه ورکول؛ څو تجربې یې ښه او تولید ډېر شي.
- د پیچلو ستونزو د حل له پاره د هارډویر، سافتویر او مجازي کولو شرایطو کې د وروستي ټکنالوژیو او رامنځته شوي وسیلو په کارولو د زده کړیالانو وړتیا لوړول.
- د افغانستان د کار بازار لپاره د معلوماتي تکنالوژۍ د متخصصینو پیدا کول او په بهرنیو متخصصینو تیکه له منځه وړل.
- د هغو فارغانو روزنه چې د معلوماتو او سیستم تحلیل، اسنادو او د معلوماتي تکنالوژۍ سیستمونو ډیزاین کولو وړتیا ولري.
- داسې وړ کسان فارغول چې د پروژې پلان جوړونې، ارزونې او پلي کولو وړتیا ولري.
- فارغینو لپاره د ټکنالوژۍ په برخه کې په کورنیو او بهرنیو نړیوالو موسسو کې د لا لوړو زده کړو زمینه برابرول.

**۳. بنسټي موخې**

د معلوماتي ټېکنالوژۍ زده‌کړیز نصاب د ځینو موسسو له لوري د ځینو سروېګانو په نظر کې نیولو سره جوړ شوی دی، چې پکې د متخصصینو د اوس او راتلونکو څوکالو اړتیاوې په پام کې نیول شوي دي. نو پر دې بنسټ دې څانګې د خپل، د کمپیوټر ساینس پوهنځي، کابل پوهنتون، د لوړو زده کړو او د مخابراتو او معلوماتي ټېکنالوژۍ وزارتونو ټول اکامیکې موخې په خپل زده‌کړیز پروګرام کې طرح او ډیزاین کړي، څو تر یوه حده د هېواد اړتیاوې بشپړې کړي.

د نورو هېوادونو مطالعې او تجربې دا جوتوي چې په معلوماتي ټېکنالوژۍ څانګې کې مسلکي کسانو ته اړتیا ورځ تر بلې په ډېرېدو ده. د افغانستان په څېر مخ پر ودې هېوادونه هڅه کوي چې معاصرې ټېکنالوژۍ ومني او د دولتي او خصوصي ادارو د کاري سیستم یوه برخه یې وګرځوي؛ څو وکولی شي ګټور الیکترونیکي خدمات وړاندې کړي؛ نو پر دې بنسټ په دې څانګې کې متخصص او مسلکي کسانو شتون ته اړتیا ډېره حسېږي.

اوسمهال ډېری دولتي او خصوصي ادارې د بهرنیو هېوادونو د معلوماتي تېکنالوژۍ متخصصین په دندو ګوماري، څو یې اداري کمپیوټري سیستمونه ډیزان، پلي، اداره او ساتنه وکړي. د دې حقیقت د درکولو پر اساس، دا ډیپارټمنټ خپله ټوله هڅه کوي، چې یو داسې زده‌کړیز سیستم ډیزاین او پلي کړي، چې د هېواد د ټولو ادارو د اړتیاوو ځوابوونکی وي.

په پایله کې اوسمهال د دې څانګې او پوهنځي ډېری فارغان په ډېریو دولتي او نادولتي ادارو کې پر دندو بوخت دي او په دې برخه کې یې د بهرنیو د ګومارنې کچه په کافي اندازې کمه کړې ده. د اوسني بیاکتل شوي نصاب او پروګرام په پلي کولو سره به د هېواد د راتلونکي ډېری اړتیاوې بشپړې شي او د دې څانګې فارغینو ته به ښه کاري زمینه مساعده شي او همدارنګه دغه کړنه به د افغانستان پر اقتصاد او کاري مارکېټ ژوره اغېزه وکړي.

**ج. توامیتونه**

د معلوماتي سیستمونو اداره له اړوند ځانګو سره مستقیمه اړیکه نه لري. ټول رسمي، تدریسي-، څېړنیز او نورې اړیکې د کمپیوټر ساینس له پوهنځي او کابل پوهنتون له ادرس څخه کېږي.

**د. لابراتوار او زده کړیز تجهیزات**

دا ډیپارټمنټ د عملي درسونو لپاره دوه مجهز لابراتوارونه لري.

**هـ. زده‌کړیز نصاب ( تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کمپیوټري شبکه ۱ | CS324 | ۵ | ۱۰ | کمپیوټري شبکه ۴ | CS621 | ۴ |
| ۲ | د کمپیوټر مهندسي | CS423 | ۵ | ۱۱ | د شبکې پروګرام لیکنه | CS622 | ۴ |
| ۳ | کمپیوټري شبکه ۲ | CS424 | ۴ | ۱۲ | دICT د پروژو مدیریت | CS625 | ۴ |
| ۴ | کمپیوتری شبک ۳ | CS521 | ۵ | ۱۳ | بیسیم او موبایل شبکه | CS722 | ۴ |
| ۵ | د شبکې عامل سیستونه | CS524 | ۵ | ۱۴ | د سایبري امنیت اساسات | CS723 | ۴ |
| ٦ | د شبکې د الګورتمونو او لومړنیو معلواتو جوړښت | CS515 | ۴ | ۱۵ | پروژه او د څېړنې لارې چارې | CS725 | ۴ |
| ۷ | محاسبات ابری | CS822 | ۴ | ۱٦ | برېښنایي حکومتولي | CS825 | ۲ |
| ۸ | پرمختللي سایبري بنستونه | CS823 | ۴ | ۱۷ | علمي چارې | CS826 | ۲ |
| ۹ | پروژه | CS824 | ۴ | | | | |

**۳. د معلوماتي سیستمونو ډیپارټمنټ**

**الف. پېژاند**

معلوماتي سیستمونه د کمپیوټر ساینس په برخه کې یو له مهمو برخو څخه ده. د ژوند په ټولو برخو کې د معلوماتو ذخیره کول، ترتیبول او بیا کارولو په شمول د زده کړې، څېړنې، نوښت، روغتیا، سوداګرۍ، امنیت او داسې نور د شخصي-او ټولنیزو چارو لپاره ډېر مهم دي. د کار پلانول، اغېزمنې پرېکړې کول، د پروژو پلي کول او د بنسټونو دګډون تنظیمول ټول په معلوماتو او د هغې په سم ترتیب پورې اړوندېږي. معلوماتي سیستمونه په پورته ټولو مواردو کې د کارونې وړ ده. ددې ساحې په مرسته مسلکي کسان کولای شي د ارقامو او ډیټا پر بنسټ اغېزمن او مستند کار وکړي. دیټا او معلومات د معلوماتو سیستمونو په مرسته تحلیل کېدای شي او د معیاري قواعدو په پام کې نیولو سره د ډیټابیس په نوم کمپیوټري سیستمونو کې زیرمه کېدای شي. ورته زیرمه شوي معلومات د څېړنې، مېچ کولو، پرتله کولو، راپور او نورو برخو لپاره کارول کېږي. د ځانګې سیستمونو د جوړولو او په موثره توګه د کارولو په موخه د کابل پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي په چوکاټ معلوماتي سیستمونه جوړ شوي دي.

د کابل پوهنتون د معلوماتي سیستمونو ډیپارټمنټ د علمي او مسلکي کارکوونکو د روزنې او همدا رنګه د معلوماتي سیستمونو په ځانګړې ډول د کمپیوټر ساینس په برخه کې د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره فعاله ده. دا علمي موسسه اوسمهال (۱۳۹۸ه.ش) د لېسانس او ماسترۍ دورې لپاره معیاري پروګرامونه لري. په دې ځانګې کې ځانګړي تدریسي موضوعات دا دي:

- د ډیټابیسونو ډیزاین او پراختیا.
- د ویبپاڼو او سیستمونو ډیزاین پراختیا (ویب ډیزاین).

- په نوو برخو کې تخنیکي پروګرامونه
- د ګرځنده سیستمونو پروګرامونه او پراختیا.
- د معلوماتو ذخیره کولو او کارولو په برخه کې کار. (Data Warehouse & Data Mining).
- د طبیعي ژبې ډیټاسایټونو سره کار کول (Natural Language Processing).
- ځایي معلوماتو سره کار کول او ابری ویب چاپیریال کې تطبیقول. (Spatial Data Analysis).

**ب. موخې**

د معلوماتي سیستمونو د څانګې موخه په د یلدې څانګې لیوالو کسانو د ساینسي مسایلو او تخنیکي مهارتونو تشریح کول. د معلوماتي سیستمونو حانګه یوه څانګړې مسلکي ډیپارټمنټ ده او کمپیوټر ساینس کې د معلوماتو سیستم یو له بنسټیزو څانګو څخه شمېرل کېږي. دا ډیپارټمنټ نوي نصاب ته اړتیا لري. د دې څانګې علمي کادرونه غوره مسلکي وړتیاوې، د څېړنې او تدریس تجربه لري. اکثریت یې په دې برخه کې د ماسترۍ او دوکتورا سند لرونکي دي. د معلوماتي سیستمونو د څانګې علمي کادرونه له مهمو مسوولیتونو څخه د دې څانګې د علمي برنامو لپاره د نصاب رامنځته کول دي

د دې څانګې د پروګرامونو نصاب د اړتیا او پلان له مخې مخکې له مخکې چمتو شوی، چې د کار بازار د اړتیا په پام کې نیولو سره د معلوماتي سیستم اړوند موضوعات په کې شامل دي. هغه زده کړیالان چې د دې څانګې له بیلابیلو پروګرامونو څخه فارغ شوي په داسې ډول زده کړې کوي، چې د عملي کار په ګډون د معلوماتي سیستمونو په برخه کې له پیل څخه پرمختللې درجو پورې اړوند علمي او مسلکي زده کړې دي. دې څانګې پورې اړوند ټول مسلکي کورسونه عمومي مسایل، پرمختللي او عملي موضوعات شامل دي .

**۱. لیدلوری**

د معلوماتي سیستمونو ډیپارټمنټ د عصري علومو د پراختیا په رڼا کې او د کمپیوټر ساینس پوهنځي له نورو اړوندو څانګو سره په همغږۍ او د خپلو وړتیاوو د چوکاټ په نظر کې نیولو سره لاندې نظرونه وړاندې او پلي کوي:

- په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه د ښه شهرت رامنځته کول او د دې څانګې زده کړیالانو ته د کیفیت او اغېزمن اکاډمیک خدماتو چمتو کول.
- مسلکي او اکاډمیک کارمندانو ته د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا په کچه روزنه ورکول تر څو دوی وکولای شي په ټولنې کې د تدریس، څېړنې، پراختیا ، سوداګرۍ، مدیریت او داسې نورو برخو مې فعالیت وکړي.
- د معلوماتي سیستمونو په برخه کې د څېړنې او نوښت پراختیایي فعالیتونو کې برخه اخیستل او د هېواد په کچه په پورته ذکر شویو قضیو کې له اړوند ارګانونو سره هنغږي کول.
- په نړیوالو څېړنو کې مثبت رول لوبول. په سیمه او نړۍ کې د کمپیوټر ساینس او معلوماتي سیستمونو په برخه کې د تخنیکي څېړنیزو ټولنو غړیتوب.

**۲. مأموریت**

د دې څانګې ماموریتونه چې د تخنیکي ټیم او د اکاډمیک کارکونکو لخوا تر سره کیږي، په لاندې ډول دي:

- د معلوماتي سیستمونو په برخه کې په نړیواله کچه منلي شوي معیارونو او عصري علومو په سویه زده کړیالانو روزنه.
- دمسلکي پوهې د زده کړې لپاره د دې څانګې زده کړیالانو ته مناسب چاپیریال برابرول څو وکولای شي خنیکي څېړنه، مدیریت، د ستنزو حل، متشبثیت او نور په دوامداره او ښه ډول زده کړي.
- د معلوماتي سیستمونو په برخې کې لکه مطالعه، وړاندیز کول، پلان جوړول، دیزاین، پراختیا، مدیریت او د معلوماتو ساتلو په برخو کې مسلکي او متخصص فارغین وړاندې کول. او همدا رنګه د تخنیکي ستونزو او تخنیکي زیربناوو لپاره د مناسبو حللارو موندلو سره د هېواد ګټور او دوامداره پرمختګ په لور مرسته وکړي.

- د هېواد په لويو څېړنيزو پروژو کې د دې څانګې د محصلينو او فارغانو لخوا د اړونـدو علومـو تخنيکـي او عمـلي تيـوري وړاندې کول.
- د رياست د تعليمي پروګرامونو د ملاتړ، ارزونې او پراختيا په برخه کې له دولتي بنسټونو او خصوصي سکتور سره همغږي؛ خو د څانګې فعاليتونه ښه شي او همدا رنګه د کاري بازار د اړتياوو په اساس د څانګې زده کړيالان وروزل شي.
- د سوله ييز چاپيريال برابرولو په موخه د کمپيوټر ساينس معلوماتي سيستم د علومو تطبيق او شريکول.
- د کمپيوټر هاردوير او سافتوير په برخه کې د تخنيکي وسيلو کاروني او هـم د معلومـاتي سيسـتمونو او کمپيـوټر سـاينس نويـو پروګرامونو سره د زده کړيالانو پېژاند.
- او په پای کې د افغانستان د کاري بازار لپاره د څانګې په ښه شويو برخو کې فارغين وړاندې کول. تر څو په افغان متخصصينو باندې د بهرنيو متخصصينو تکيه زياته شي.

**۳.بنسټيزې موخې**

معلومات په ټولو شخصي، ټولنيزو، تاريخي، سوداګريزو او نورو مسلو کـې خـورا مهـم اصـل دی. زمـوږ ورځنـي فعاليتونـه د معلوماتي سيستمونو لخوا مسقيم اغېز کېږي. معلوماتي سيستم کولای شي په فزيکي يا کمپيوټري بڼه له يوې څانګړي سيستم سره تړاو ولري. انټرنټ ورو ورو د انسان د ورځني اړتياوو څخه شمېرل کېږي. د معلوماتو سيستمونه په مسـتقيم ډول د انټرنـټ لخـوا د ويبپاڼو او ډيټابيسونو له لارې کارول کېږي. ددې اوصولو په پام کې نيولو سره په دې برخو کې د متخصصينو لپاره د بازار مونـدنې اړتيا په ساده ډول ارزول او احساسېږي. د معلوماتي سيستمونو د څانګې فارغين به افغاني ټولنې ته د ډيټابيس، د ويبپـاڼې ډيـزاين او پروګرام جوړولو په برخه کې د مسولو متخصصينو په توګه وړاندې شي او د شخصي، دولتي ادارو په ګډون به د ټولنې اړتيـاوې پوره کوي. په اصل کې ددې څانګې محتوا او نصاب د دې ټولو مسايلو او د ټولنې د اړتياوو په رڼا کې طرحه شوی او هڅه شوې، چې له نوې ټکنالوژۍ سره په تفاهم درسي او عملي پروژې پلي کړي.

**ج. توامیتونه**

د معلوماتي سيستمونو اداره له اړوند څانګو سره مستقيمه اړيکه نه لري. ټول رسمي، تدريسي، څېړنيز او نورې اړيکـې د کمپيـوټر ساينس له پوهنځي او کابل پوهنتون له ادرس څخه کېږي.

**د. لابراتوار و او زده کړيز تجهيزات**

دا ډيپارټمنټ د عملي درسونو لپاره يو مجهز لابراتوارلري.

**هـ. تحصيلي نصاب( تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ديتابيس بنسټونه | CS331 | ۴ | ۱۰ | د ساينس معلومات(ديتا) | CS531 | ۴ |
| ۲ | پروګرام ليکنه او ساينسي ديتا | CS332 | ۴ | ۱۱ | موبايل ټکنالوژي او پروګرام ليکنه | CS532 | ۴ |
| ۳ | د انټرنټ ټکنالوژي او ويب پروګرام ليکنه | CS432 | ۴ | ۱۲ | ب معلوماتي سيستم | CS533 | ۴ |
| ۴ | عامل سيستم | CS433 | ۴ | ۱۳ | مديريت پروسس‌های تجارتی (BPM) | CS534 | ۳ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | د معلوماتو لټون | CS631 | ۴ | ۱۴ | انجینری نرم‌افزار | CS535 | ۴ |
| ٦ | موبایل پروګرامونو پراختیا | CS632 | ۴ | ۱۵ | دیتای ویرهاوس | CS732 | ۴ |
| ۷ | ویب خدمتونه | CS633 | ۴ | ۱٦ | ادارهٔ دیتابیس | CS733 | ۴ |
| ۸ | ساختارهای معلومات اولیه و الگوریتم | CS634 | ۴ | ۱۷ | دمعلوماتي سیستمونو امنیت | CS734 | ۴ |
| ۹ | د انسان او کمپیوترتعامل (HCI) | CS635 | ۴ | ۱۸ | دیتامایننګ | CS832 | ۴ |

**۴. کمپیوټر ساینس پوهنځی**

**الف. پېژاند**

د کمپیوټر ساینس پوهنځی په خپلواکه توګه زده کړیالان نه لري، په لومړیو دوو کلونو کې په فعاله توګه په عمومي موضوعاتو کې برخه اخلي. او له مخکې چمتو شوي پروګرامونه د کابل پوهنتون پوهنځیو ته د مرستندویه او پوهنتوني موضوعاتو په توګه وړاندې کوي.

**ب. موخې**

دې څانګې د کابل پوهنتون په نورو پوهنځیو کې د کمپیوټر د عمومي او لومړنیو مهارتونو روزنه د خپل ښوونیز هدف په توګه ټاکلې ده؛ څو د کابل پوهنتون د پوهنځیو زده کړیالان د تخصصي پوهې او مهارتونو تر څنګ د کمپیوټر په برخه کې هم لومړني مهارتونه او پوهه ولري.

**۵. ماستری پروګرام**

**۱. د معلوماتي ټکنالوژۍ ماستری پروګرام**

الف. پېژاند

د کمپیوتر ساینس پوهنځی په هېواد کې یوازینی دولتي پوهنځی دی، چې د ماستری پروګرام لري. دا پروګرام په ۲۰۱۴ م کال د استونیا د تالین پوهنتون په مرسته او همکاری پیل شو او اوس د یاد پوهنځي د استادانو لخوا پر مخ وړل کېږي.

ب. زده کړیز موخې

د معلوماتي ټکنالوژۍ ګټه اخیستنه او کارول په ډېری څانګو لکه: دولتي دفترونه، سوادګری، عامه او خصوصي سکتور خدماتو کې مدغم شوي. سازمانونه د معلوماتي ټکنالوژۍ په زیر بنا تکیه کوي او د معلوماتي ټکنالوژۍ زیربنا له هر وخت څخه ډېر مهم شوی. هغه ادارې چې په افغانستان کې فعالیت کوي د پرمختللي زده کړې او خورا متخصص متمرکز مهارتونو سره په دې برخې کې د متخصصینو موندلو په برخه کې په سختو شرایطو کې دي؛ نو په پایلې کې دوی په افغانستان کې د کار کولو لپاره له نورو هېوادونو څخه دمعلوماتي ټکنالوژۍ متخصصین استخدام کوي. د همدې موخې لپاره په پوهنځي کې د ماستری پروګرام جوړ شوی؛ څو په کمپیوټري چارې کې د ټولنې د اړتیا وړ مهارتونه پوره کړي.

ج. توامیتونه

په استونیا کې له تالین پوهنتون سره د همکارۍ هوکړه لیک لرل.

د. لابراتوار او زده کړیز تجهیزات

د کمپیوټر ساینس پوهنځی پنځه مجهز لابراتوارونه او یو ډیټا سنټر لري. هره ډیپارټمنټ جلا لابراتوار لري. د معلوماتي سیسټم پروګرام د عملي کار لپاره یو لابراتوار او د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې د ماسترۍ پروګرام کورسونو د عملي کولو له پاره هم لابراتوار لري.

**هـ. تحصیلي نصاب(تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | دیټابیس | MSIT104 | ۳ | ۵ | د څېړنې میتودولوژي | MSIT303 | ۳ |
| ۲ | د لوی سیسټم انجینیري | MSIT105 | ۳ | ٦ | عملي چارې | MSIT305 | ۳ |
| ۳ | استراتژیک مدیریت ICT | MSIT203 | ۳ | ۷ | د پروژې مدیریت | MSIT205 | ۳ |
| ۴ | د سیستم مهندسي او یو پارچه کونه | MSIT204 | ۳ | ۸ | | | |

**۲. د معلوماتي سیسټم د ماسترۍ پروګرام**

**الف. پېژندنه**

د کابل پوهنتون د معلوماتي سیسټمونو ډیپارټمنټ د علمي او مسلکي زده کړیالانو د روزنې او همدارنګه د معلوماتي سیسټمونو په برخه کې په ځانګړې ډول د کمپیوټر ساینس په برخه کې د علمي څېړنو د ترسره کولو له پاره فعاله ده. دا اکاډمیکه اداره اوسمهال د ماسترۍ معیاري برنامې هم لري.

**.ب. تحصیلي موخې**

معلومات په ټولو شخصي، تولنیزو، تاریخي، سوداګریز او نورو مسلو کې خورا مهم اصل دی او زموږ ورځنۍ فعالیتونه مستقیم د معلوماتو سیسټمونو لخوا اغېزمن کېږي. معلوماتي سیسټمونه په فزیکي یا کمپیوټري بڼه او یا هم له یوې ځانګړې سیسټم سره تړاو لري. د معلوماتي سیسټمونو د څانګې فارغین د معلوماتي بانکونو(ډیټابیس)، ویب پاڼې ډیزاین او پروګرام کولو په برخې کې د مسوولو متخصصونو په توګه د افغانستان ټولنې ته وړاندې شوی. او په دې څانګو کې به د ټولنې شخصي-، حکومتي او کارپورټ اړتیاوې پوره کړي. له همدې امله ددې څانګې محتوا او نصاب د همدغو ټولو مسایلو او د ټولنې د اړتیاوو په رڼا کې طرحه شوی او هڅه شوې ده، چې د درسونو او پروژو په ګډون موضوعات له نوې ټکنالوژۍ په تفاهم سره پلي کړي.

**ج.توامیتونه**

د معلوماتي سیسټمونو اداره له اړوند څانګو سره مستقیمه اړیکه نه لري. ټول رسمي، تدریسي-، څېړنیز او نورې اړیکې د کمپیوټر ساینس له پوهنځي او کابل پوهنتون له ادرس څخه کېږي.

**د. لابراتوار او زده کړیز تجهیزات**

دا ډیپارټمنټ د عملي درسونو لپاره یو مهجز لابراتوار لري.

# دکیمیا پوهنځی



**۱.د پوهنځي پیژندنه**

د کیمیا اوسنی پوهنځی په ۱۳۲۱ کال کې د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي په اډانه کې د کیمیا د څانګې په توګه تاسیس او په فعالیت یې پیل وکړ .د طبیعي علومو د پوهنځي د جوړېدو خبره داسې مهال رامنځته شوه، چې له یوې خوا په منځنیو او عالي لېسو کې د زده کوونکو د زیاتوالي له امله د استادانو کمښت او له بلې خوا د صنایعو نسبي پراختیا او پرمختګ ته په کتو د طبیعي علومو په بېلابېلو برخو کې د متخصصینو د کمښت موضوع مطرح شوه. له همدې امله د پورته اړتیاوو د پوره کولو لپاره ، دا پوهنځی د کابل پوهنتون د دریم پوهنځي په توګه د ساینس پوهنځی په نوم تاسیس شو، چې بیا وروسته د طبیعي علومو پوهنځي په نوم ونومول شو.

په هغه وخت کې محصلین په (کیمیا او بیولوژي) او (ریاضي او فزیک) څانګو کې زده کړې کولې .په ۱۳۴۸ کال کې د پوهنځیو په اکاډمیک جوړښت کې بدلون راغی، چې پر بنسټ یې په نصاب کې اصلاحات رامنځته شول او نصاب نور اختصاصي یا ځانګړي اړخونه خپل کړل، چې په پایله کې یې د فزیک، کیمیا، بیولوژي او ریاضي په څانګو کې جلا څانګې جوړې شوې. د یادولو وړ ده چې په ۱۳۴۹ کال کې د کیمیا څانګې په چوکاټ کې د صنعتي کیمیا، کیمیا او ریاضیاتو څانګې تاسیس شوې. د یادونې وړ ده چې په هغه وخت کې د کیمیا ډیپارټمنټ د کیمیا د انستیتوت په نامه یادېده.

د پوهنځی له جوړېدو مخکې د دې څانګې اړوند لابراتواري فعالیتونه د هغه مهال د عامه ګټو مدیریت کې ترسره کېدل. دغه مدیریت د هغه وخت د وسایلو او تجهیزاتو په کارولو سره د کورنیو او بهرنیو متخصصینو په واسطه د معدني او ساختماني موادو د تحلیل او تحلیل دنده ترسره کوله.

د ساینس پوهنځی له تاسیس وروسته، یاده ډیپارټمنټ له خپلو ټولو وسایلو او تجهیزاتو سره دغې نوې جوړې شوې مؤسسې ته ولیږدول شوه او د محصلینو د تطبیقاتو لپاره ترې کار واخیستل شو. د تطبیقاتو فعالیتونه د کیمیا د څانګې په ودانۍ کې چې پل باغ عمومي سیمه کې موقعیت لري، متمرکزې وې. په ۱۳۲۳ کال کې د کیمیا توصیفي تحلیل لابراتوار او په ۱۳۲۴ کال کې د مقداري تحلیل او د غیرعضوي موادو د برابرولو لابراتوار او په ۱۳۴۰ کال کې د فزیکي کیمیا لابراتوار، رامنځته شول. د پل باغ عمومي ودانۍ د پوهنځي د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د لا پراختیا ظرفیت نه درلود نو له همدې امله پوهنتون په ۱۳۵۴ کې د نوي

ودانۍ د طرحې او ډیزان چارې پیل کړې. د دې ودانۍ ساختماني او منتاژ کارونه چې په عصري څېړنېز او تطبیقاتي لابراتوارونو، ، درسي خونو، ادیتوریم، دفترونونو او عصري زېرمتونونو سمبال وو ؛ په ۱۳۶۱ کال کې ختم کړل او ودانۍ د ۱۳۶۲ کال په پسرلي کې په رسمي ډول پرانیستل شوه.

د کیمیا پوهنځی د یوه جلا پوهنځي په توګه په ۱۳۹۲ کال کې د ساینس د پخواني پوهنځي د وړاندیز او د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو د انسجام ریاست په تایید او د لوړو زده کړو وزارت د رهبري شورا په منظورۍ د فزیکي او اکاډمیکو شرایطو بشپړولو له امله، د پوهنځي کچې ته پراختیا وکړه. د ۱۳۹۵ کال د اسد له ۱۰ څخه په رسمي توګه د جلا پوهنځي په توګه په فعالیت پیل وکړ .

د کیمیا پوهنځي فارغان توانېدلي چې د پوهنې وزارت په منځنیو او لوړو زده کړو مؤسسو کې د استادانو په توګه دنده ترسره کړي چې ښې پایلې یې درلودلي دي. سربیره پردې، د کیمیا په برخه کې د متخصصینو په توګه، دوی د هیواد په ټولو تولیدي مؤسسو کې خپلې دندې په ښه توګه ترسره کوي. همدارنګه د کانونو او صنایعو وزارت په لابراتوارونو کې د کیمیاوي موادو د تحلیل او تجزیې په برخه کې، د اوبو او برېښنا په وزارت کې د اوبو د تحلیل په برخه کې، د مالیې په وزارت کې د ګمرکونو اړوند لابراتوارونو او نورو تولیدي او تجزیوي رابراتورونو کې خپلې دندې په ښه توګه سر ته رسوي.

**۲. موخې**

**الف. لرلید**

د کیمیا او د صنعت او تولید (صنعتي، خواړه، درمل جوړونې او طبي مواد) په برخو کې د متخصص کادرونو روزنه چې د پوهنځي فارغان کولای شي د سپکو صنایعو(خوراکتوکي او مینځتوکي، صنایع، شیشې، سمنټ، ټوکر او نور) د نورم او ستندرد لابراتوارونو، کان کیندنې او صنایع، انرژي او اوبه، چاپېریال او ګمرکونه او د لوړو زده کړو مؤسسو کې، وګمارل شي، یو با اعتباره او پیژندل شوي ځای ته د پوهنځي لوړتیا او په صنعتي چارو کې د خدمتونو وړاندې کولو او په اکاډمیک چارو کې د هیواد اقتصادي ودې سره هم مهاله تولید ته، پوهنځی ژمنتیا لري. د لوړ کیفیت ښوونیز سیستم چمتو کول چې د افغانستان د ودې او پرمختګ اړتیاوې پوره کړي.

**ب. ماموریت**

په معتبرو علمي مجلو کې د علمي – څېړنیزو مقالو په خپرولو، د درسي کتابونو او مرستیال درسي کتابونو لیکل او ژباړه او له اړتیا سره سم د څېړنیزو – علمي پروژو د جوړولو لپاره د علمي او څېړنیزو اسانتیاوو برابرول، ښه تدریس، د علمي – څېړنیزو کانفرنسونو تنظیمول، د با کیفیته څېړنو او خدمتونو وړاندې کول، د ټولنې له اړتیاوو سره سم د استادانو او محصلینو د علمي څېړنیزو کانفرنسونو دایرول، چې داسې فارغان ټولنې ته وړاندې شي چې په افغاني ټولنه کې د کاري مارکیټ مطابق فعاله ګډون ولري.

**ج) بنسټي موخې**

د کیمیا د پوهنځي اساسي موخې په لاندې ډول دي :

- له نړیوالو معیارونو سره سم په معیاري او مسلکي ډول د کیمیا تدریس .
- د کیمیاوي علومو په برخه کې د عملي او څېړنیزو کارونو ترسره کول .
- د مسلکي ښوونکیو روزنه او ټولنې ته وړاندې کول.
- په هیواد کې د لوړو زده کړو لپاره د متخصص او مسلکي کارمندانو روزنه.
- په ټولنه کې د کیمیاوي صنعت وده.
- د سیمې او نړۍ هیوادونو ته د ښه ښوونې لپاره د اړیکو رامینځته کول.
- د سیمې او نړۍ له نورو پوهنتونونو سره د ساینسي تړونونو لاسلیک.
- د کیمیا اړوند څانګو سره د تفاهملیکونو لاسلیک .

**۳. دیپارتمنتونه**

د کیمیا پوهنځي څلور ډیپارټمنټونه لري؛

**۱. د عمومي او غیرعضوي کیمیا ډیپارټمنټ**

**الف. پیژندنه**

د عمومي کیمیا او غیر عضوي کیمیا د ډیپارټمنټ موخه د کیمیا په برخه کې د عصري علومو له پرمختګونو سره سم د محصلینو روزنه چې له هغوی به په ټوله کې د کیمیاوي صنایعو، سپکو صنایعو، په ښوونځیو او لوړو زدکړو کې د کیمیا مضمون په تدریس کې کار اخیستل کیږي.

**ب. تحصیلي موخې**

په سیمه او نړۍ کې د صنعت او ټیکنالوژۍ د ودې سره هم مهاله په کار کې د ریښتینولۍ سره د متخصص او اغیزناک کاري ځواک روزنه .

د استادانو او محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره د منظم او ممکنه پلان جوړول، لکه د ساینسي-ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول.

د ماسټرۍ او دوکتورا درجو ته د استادانو ظرفیت لوړول.

**۲.دنده**

د هوساینې د ترلاسه کولو او د هیواد د پرمختګ او د ملي ارزښتونو ساتلو په موخه، علمي اړتیاو ته د ځواب ویلو لپاره د ژمن او صادق کادرونو روزنه.

د دیپارټمنت یو معتبر علمي او اکاډمیکې کچې ته لوړول او په سیمه ایزه کچه د عمومي او غیر عضوي کیمیا په برخه کې د بنسټي څیړنو ترسره کول.

**۳.بنسټي موخې**

- د کیمیا محصلینو او نورو اړوندو پوهنځیو لپاره د عمومي او غیر عضوي کیمیا مسلکي تدریس .

-- د محصلینو لپاره د عمومي او غیر عضوي کیمیا د تطبیقاتو پلي کول .

- د ډیپارټمنټ لپاره صادق، بریالي، او مسلکي کادرونو روزنه .

د محصلینو لپاره د استادانو او محصلانو لخوا د علمي- څېړنیزو سیمینارونو وړاندې کول .

د کیمیا په ټولو برخو کې د عملي تطبیق او کار لپاره د زده کونکو لپاره هر اړخیزې همکاري.

**ج. لابراتوارونه او تعلیمي وسایل**

د عمومي او غیر عضوي کیمیا ډیپارټمنټ د محصلینو لپاره د عملي کارونو د تدریس په برخه کې درې لابراتوارونه لري چې په کې د عمومي کیمیا لابراتوار، د غیر عضوي کیمیا لابراتوار، او د عمومي کیمیا څېړنیز لابراتوار پکې شامل دي.

**۲. د فزیکي کیمیا ډیپارټمنټ**

**الف. پیژندنه**

د فزیکي کیمیا ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون د کیمیا د پوهنځي له بنسټي څانګو څخه شمیرل کیږي، ددی ډیپارټمنټ موخه دا ده چې محصلین د فزیکي کیمیا پوهې په برخه کې د عصری علومو له پرمختګونو سره سم سمبال کړي چې له هغوی به په ټوله کې د کیمیاوي صنایعو، سپکو صنایعو، په ښوونځیو او لوړو زدکړو کې د کیمیا مضمون په تدریس کې کار اخیستل کیږي.

**ب. موخې**

**۱.لرلید**

په سیمه او نړۍ کې د صنعت او ټیکنالوژۍ له ودې سره هم مهاله په کار کې د ریښتینولۍ سره د متخصص او اغیزناک کاري ځواک روزنه .

د استادانو او محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره د منظم او ممکنه پلان جوړول، لکه د ساینسي-ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول.

د ماسټرۍ او دوکتورا درجو ته د استادانو ظرفیت لوړول.

**۲.ماموریت**

د هوساینې د ترلاسه کولو او د هیواد د پرمختګ او د ملي ارزښتونو ساتلو په موخه، علمي اړتیاو ته د ځواب ویلو لپاره د ژمن او صادق کادرونو روزنه.

د دیپارتمنت یو معتبر علمي او اکاډمیک ځای ته لوړول او په سیمه ایزه کچه د عمومي او غیر عضوي کیمیا په برخه کې د بنسټیزو څېړنو ترسره کول.

**۳.بنسټي موخې**

د فزیکي کیمیا محصلین او نورو اړوندو پوهنځیو لپاره د عمومي او غیر عضوي کیمیا مسلکي تدریس .

د زده کونکو لپاره د فزیکي کیمیا تطبیقاتو پلي کول .

د ډیپارټمنټ لپاره صادق، بریالي، او مسلکي کادرونو روزنه .

د محصلینو لپاره د استادانو او محصلانو لخوا د علمي- څېړنیزه سیمینارونو وړاندې کول .

د کیمیا په ټولو برخو کې د عملي تطبیق او کار لپاره د زده کونکو لپاره هر اړخیزې همکاري.

**ج. لابراتوارونه او تحقیقي وسایل**

د فزیکي کیمیا ډیپارټمنټ د محصلینو لپاره د عملي کارونو د تدریس په برخه کې لابراتوار لري، چې له محصلینو سره د کیمیا د تدریس تر څنګ په څېړنیزو او عملي کارونو کې هم مرسته کولای شي.

**۳. د عضوي کیمیا ډیپارټمنټ**

**الف. پیژندنه**

د عضوي کیمیا ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون د کیمیا د پوهنځی یو له بنسټیزو ډیپارټمنټونو څخه شمیرل کیږی، ددی ډیپارټمنټ موخه دا ده چی محصلین د عضوي کیمیا پوهې په برخه کې د عصری علومو له پرمختګونو سره سم سمبال کړي چې له هغوی به په ټوله کې د کیمیاوي صنایعو، سپکو صنایعو، په ښوونځیو او لوړو زدکړو کې د کیمیا مضمون په تدریس کې کار اخیستل کیږي.

**ب. موخې**

**۱.لرلید**

په سیمه او نړی کې د صنعت او ټیکنالوژۍ له ودې سره  سم په کار کې د ریښتینولی سره د متخصص او اغیزناک کاري ځواک روزنه .

د استادانو او محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره د منظم او ممکنه پلان جوړول، لکه د ساینسي-ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول.

د ماستری او دوکتورا درجو ته د استادانو ظرفیت لوړول.

**۲.ماموریت**

د هوساینې د ترلاسه کولو او د هیواد د پرمختګ او د ملي ارزښتونو ساتلو په موخه، علمي اړتیاو ته د ځواب ویلو لپاره د ژمن او صادق کادرونو روزنه.

د دیپارتمنت یو معتبر علمي او اکاډمیک ځای ته لوړول او په سیمه ایزه کچه د عمومي او غیر عضوي کیمیا په برخه کې د بنسټیزو څېړنو ترسره کول.

**۳.بنسټیزې موخې**

د فزیکي کیمیا زده کونکو او نورو اړوندو پوهنځیو لپاره د عمومي او غیر عضوي کیمیا مسلکي تدریس .

د محصلینو لپاره د فزیکي کیمیا تطبیقاتو پلي کول .

د ډیپارټمنټ لپاره صادق، بریالي، او مسلکي کادرونو روزنه .

د محصلینو لپاره د استادانو او محصلانو لخوا د علمي او ښوونیز سیمینارونو وړاندې کول .

د کیمیا په ټولو برخو کې د عملي تطبیق او کار لپاره د زده کونکو لپاره هر اړخیزې همکاري.

**ج. لابراتوارونه او تعلیمي وسایل**

د عضوي کیمیا ډیپارټمنټ د محصلینو لپاره د عملي کاري روزنې په ډیپارټمنټ کې دوه لابراتوارونه لري چې یو یې د عضوي کیمیا عملي لابراتوار او بل یې د استادانو او محصلینو لخوا د ساینسي څېړنو لپاره څېړنیز لابراتوار دی.

**۴. د تحلیلي کیمیا ډیپارټمنټ**

**الف. پیژندنه**

د تحلیلي کیمیا ډیپارټمنټ د کابل پوهنتون د کیمیا د پوهنځی یو له بنسټیزو څانګو څخه شمیرل کیږی، ددی ډیپارټمنټ موخه دا ده چی محصلین د تحلیلي کیمیا پوهې په برخه کې د عصری علومو له پرمختګونو سره سم سمبال کړي چې له هغوی بـه په ټوله کې د کیمیاوي صنایعو، سپکو صنایعو، په ښوونځیو او لوړو زدکړو کې د کیمیا مضمون په تدریس کې کار اخیستل کیږي.

**ب. موخې**

**۱.لرلید**

په سیمه او نړۍ کې د صنعت او ټیکنالوژۍ د ودې سره هم مهاله په کار کې د ریښتینولی سره د متخصص او اغیزناک کاري ځواک روزنه .

د استادانو او محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره د منظم او ممکنه پلان جوړول، لکه د ساینسي ـ ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول.

د ماستری او دوکتورا درجو ته د استادانو ظرفیت لوړول.

**۲.ماموریت**

د هوساینې د ترلاسه کولو او د هیواد د پرمختګ او د ملي ارزښتونو ساتلو په موخه، علمي اړتیاو ته د ځواب ویلو لپاره د ژمن او صادق کادرونو روزنه.

د دیپارتمنت یو معتبر علمي او اکاډمیک ځای ته لوړول او په سیمه ایزه کچه د عمومي او غیر عضوي کیمیا پـه برخـه کـې د بنسټیزو څېړنو ترسره کول.

**۳.بنسټي موخې**

د فزیکي کیمیا زده کونکو او نورو اړوندو پوهنځیو لپاره د عمومي او غیر عضوي کیمیا مسلکي تدریس .

د محصلینو لپاره د فزیکي کیمیا تطبیقاتو پلي کول .

د څانګې لپاره صادق، بریالي، او مسلکي کادرونو روزنه .

د محصلینو لپاره د استادانو او محصلانو لخوا د علمي = څېړنیزو سیمینارونو وړاندې کول .

د کیمیا په ټولو برخو کې د عملي تطبیق او کار لپاره د زده کونکو لپاره هر اړخیزې همکاري.

**ج) لابراتوارونه او تعلیمي وسایل**

د تحلیلي کیمیا ډیپارټمنټ د محصلینو لپاره د عملي کاري روزنې په ډیپارټمنټ کې درې لابراتوارونـه لـري چې د تشریحي تحلیل لابراتوار، د کمیتي تحلیل لابراتوار او د استادانو او محصلینو د ساینسي څېړنو لپاره یو څېړنیز لابراتوار لري .

په پام کې ده چې په راتلونکي کې د کیمیاوي ټکنالوجی یوه ډیپارټمنټ جوړه شي چـې فـارغ ورکـوونکې بـه نـه وي. د دې څانګو عمومي اهداف د هوساینې د ترلاسه کولو لپاره د ژمنو او صادقو کادرونو روزنه ، د هیواد د پرمختګ لپـاره علمـي اړتیـاوې پوره کول او ملي معیارونو ته غاړه ایښودل .. د ساینسي او اکاډمیکو خدمتونو چمتو کولو او په سیمه ایزه کچه د کیمیا په برخه کـې د بنسټیزو څېړنو ترسره کولو په برخه کې د ډیپارټمنټونو وده کول او په نړیواله کچه معتبر علمي ځای ته رسول دي.

ه) تحصیلي نصاب ( تخصصي مضمونونه)

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | غیر عضوي کیمیا۱ | CH201 | ۳ | ۲۵ | غیر عضوي کیمیا۲ | CH212 | ۳ |
| ۲ | عضوي کیمیا۱ | CH202 | ۳ | ۲۶ | عضوي کیمیا۲ | CH213 | ۳ |
| ۳ | تحلیلي‌توصیفي کیمیا | CH203 | ۳ | ۲۷ | تحلیلي‌توصیفي کیمیا | CH214 | ۳ |
| ۴ | د غیر عضوي کیمیا لابراتوار۱ | CH204 | ۱ | ۲۸ | د غیر عضوي کیمیا لابراتوار۲ | CH215 | ۱ |
| ۵ | د عضوي کیمیا لابراتوار۱ | CH205 | ۱ | ۲۹ | د عضوي کیمیا لابراتوار۲ | CH216 | ۱ |
| ٦ | د تحلیلي توصیفي کیمیا لابراتوار | CH206 | ۱ | ۳۰ | د تحلیلي توصیفي کیمیا لابراتوار | CH217 | ۱ |
| ۷ | محاسبوي کیمیا | CH207 | ۲ | ۳۱ | محاسبوي کیمیا | CH221 | ۲ |
| ۸ | د کوردنیشن کیمیا | CH301 | ۲ | ۳۲ | فزیکي کیمیا ۲ | CH311 | ۳ |
| ۹ | عضوي کیمیا۳ | CH302 | ۳ | ۳۳ | عضوي کیمیا۳ | CH312 | ۲ |
| ۱۰ | مقداري تحلیلي کیمیا | CH303 | ۳ | ۳۴ | د مالیکول ساختمان | CH313 | ۳ |
| ۱۱ | فزیکي کیمیا ۱ | CH304 | ۳ | ۳۵ | غیرعضوي کیمیاوي ټکنالوژي | CH314 | ۳ |
| ۱۲ | د عضوي کیمیا لابراتوار۳ | CH305 | ۱ | ۳٦ | انسترومنتالی تحلیلي کیمیا | CH315 | ۲ |
| ۱۳ | د تحلیلي مقداري کیمیا لابراتوار | CH306 | ۱ | ۳۷ | تحلیلي مقداري کیمیا | CH316 | ۳ |
| ۱۴ | د فزیکي کیمیا لابراتوار ۱ | CH307 | ۱ | ۳۸ | د غیرعضوي کیمیا د ټکنالوژی لابراتوار | CH317 | ۱ |
| ۱۵ | کیمیای کوانت | CH308 | ۳ | ۳۹ | د فزیکي کیمیا لابراتوار۲ | CH318 | ۱ |
| ۱٦ | نانوشیمي | CH309 | ۲ | ۴۰ | د تحلیلي مقداري کیمیا لابراتوار | CH319 | ۱ |
| ۱۷ | بیوشیمی | CH401 | ۲ | ۴۱ | کیمیاوي کنتیک | CH412 | ۲ |
| ۱۸ | رادیوشیمی | CH402 | ۲ | ۴۲ | طبیعي موا | CH413 | ۲ |
| ۱۹ | سپکتروسکوپی | CH403 | ۲ | ۴۳ | کرست شیمي | CH414 | ۲ |
| ۲۰ | الکتروشیمي | CH404 | ۳ | ۴۴ | ملونه مواد | CH415 | ۲ |
| ۲۱ | کلوئید کیمیا | CH405 | ۲ | ۴۵ | پولیمیر | CH417 | ۲ |
| ۲۲ | د چاپیریال ساتنې کیمیا | CH406 | ۲ | ۴٦ | بیوشیمي | CH418 | ۲ |
| ۲۳ | د عضوي کیمیا ټکنالوژي | CH409 | ۳ | ۴۷ | مونوګراف | CH419 | ٦ |
| ۲۴ | الکتروشیمي لابراتوار | CH410 | ۱ | ۴۸ | دعضوي کیمیا د ټکنالوژی لابراتوار | CH411 | ۱ |

# د چاپېریال پوهنې پوهنځی



### ۱.د پوهنځي پېژندنه

په چاپېریال کې ستونزې، ککړه هوا او ترې راپيداکېدونکې ناروغۍ په ګرده نړۍ کې هره ورځ بشري ژوند ګواښي او له امله يې هر کال زرګونه انسانان مري. د چاپېریال ځينې پېښې ناڅاپي وي او وړاندوينه او مخنيوی يې ستونزمن؛ لکه زلزله، سيلۍ او توپانونه، وچکالي، د اقليم بدلون او نور. خو د چاپېریال (هوا، اوبو، خاورې او ځمکې) ککړتيا، د اوزون طبقې نرې‌کېدلو او د ځمکې کُرې د تودېدلو غوندې ځينې چاپېریالي پېښې له بشري فعاليتونو راپورته کېږي، چې ټولې د صنعتي فعاليتونو او له طبيعي زېرمو، د فوسليي انرژۍ له زېرمو او نانوېدونکې انرژۍ څخه په بې‌بريده کاراخيستنې سره رامنځته شوې دي. په نولسمه پېړۍ کې بشر په صنعت او ټېکنالوژۍ کې مهم کشفيات وکړل. بشر د صنعت او ټېکنالوژۍ ترلي ورونه يو په بل پسې پرانيستل، خو د بې‌دوامه صنعت د پراختيا او د نانوېدونکې انرژۍ د سرچينو د بې‌بريده کارونې ورانوونکو پايلو ته يې ونه کتل؛ دې بهير ورو ورو د ژوند چاپېریال داسې زيانمن کړ چې اوس يې رغول ناشوني ښکاري. که انسانان د چاپېریال د زياتېدونکې ککړتيا د عواملو مخه ونه‌نيسي او د پايدارې پراختيا پر اساساتو عمل ونه کړي، پايلې به يې خطرناکې وي.

په همدې خاطر لوړی د چاپېریال پوهنې ملي اداره رامنځته شوه چې د چاپېریالي پېښو خطرونه اداره او مخه يې ونيسي او هم د چاپېریال د ناڅاپي پېښو خطرونه راټيټ کړي. د هېواد پوهنتونونو او علمي بنسټونو د چاپېریال ورځ په ورځ زياتېدونکو ننګونو ته په کتو د چاپېریال پوهنې، طبيعي زېرمو، د پېښو د مدېريت پوهه خپره کړه، څېړنې يې وکړې او د دې څانګو ډيپارټمېنټ يې جوړ کړ. همدغسې، د علمي ټولنې او کاري بازار اړتياو ته په کتو په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په ځمکپوهنې پوهنځي کې د «چاپېریال ساتنه او د پېښو مدېريت» په نامه ډيپارټمېنټ جوړ شو. دا ډيپارټمېنټ په افغانستان کې د چاپېریال پوهنې او د پېښو د مدېريت لومړنی رسمي ډيپارټمېنټ شو.

ورپسې د وخت له اړتيا سره سم د کابل پوهنتون د پراختيايي پلان او د اکاډميکو برخو د اختصاصي کولو پر بنسټ د کابل پوهنتون استادانو د لوړو زده‌کړو وزارت په همکارۍ د چاپېریال پوهنې د خپلواک پوهنځي د جوړېدو وړانديز وکړ، چې د وزيرانو په شورا کې تصويب، او په کابل پوهنتون کې د چاپېریال پوهنې پوهنځی جوړ شو.

دا پوهنځی درې ډيپارټمنټونه «چاپېریالي علوم، د طبيعي زېرمو مدېريت او د پېښو مدېريت» لري.

۲. د پوهنځي موخې

**الف. لیدلوری**

د عصري ساینسي پوهې په مرسته د نوي نسل داسې روزنه چې د مهارتونو او ابزارو په مټ د موادو سرچینې وپېژني او د دې سرچینو د طبیعت مطابق د پایدارې پراختیا لپاره کار ترې واخلي، د طبیعي او انساني آفتونو او چاپېریالي ننګونو مخنیوی وکړي، پلان او تیاری ورته ونیسي، په اړه یې لاس په کار شي، په هېواد کې ژوند ته لاره پرانیزي.

**ب. ماموریت**

په افغانستان کې د کثیرالرشتوي مرکز په توګه د علم، روزنې، تطبیقي څېړنې، د معلوماتو مدېریت او مسلکي ظرفیت لوړونې په برخه کې د طبیعي زېرمو او چاپېریال په ځانګو کې تخصصي خدمت کول.

**ج. بنسټي موخې**

د چاپېریال‌پوهنې پوهنځی د ستراتیژیک پلان د مسودې پر بنسټ د دې پوهنځي آره موخه ټولنې ته د داسې متخصصانو روزنه ده چې د چاپېریال او طبیعي زېرمو ستونزې او طبیعي آفتونه او پېښې اداره کړای شي. د دې پوهنځي له فارغانو دا تمه کېږي چې د چاپېریال اوسنی او راتلونکې ننګونې او ستونزې هوارې کړي.

د چاپېریال‌پوهنې پوهنځی د چاپېریال‌پوهنې د علومو، د طبیعي زېرمو د مدېریت او د پېښو مدېریت په ځانګو کې د لېسانس په کچه داسې ځوان کهول په نوي علم او زده‌کړو، مهارتونو او تخنیکي وسایلو سره روزي چې له سرچینو څخه د هغوی د طبیعت مطابق کار واخلي، د پایدارې ودې او پراختیا لپاره پلان جوړ کړي، د چاپېریال پوهنې خوندیتوب او ژغورنې ته چمتو شي، د بشر په لاس رامنځته‌شویو پېښو، طبیعي پېښو او چاپېریالي ګواښونو چاره وکړي، په هېواد کې ژوند ته لاره برابره کړي، د دې پوهنځي په مهمو او بنسټي موخو کې لاندې موارد یادولای شو:

- محصلان اساسي طبیعي علوم، د چاپېریالي علومو بنسټونه، طبیعي زېرمې او د پېښو مدېریت زده کوي.
- د محصلانو د کمپیوټر او انګلیسي ژبې مهارتونه ښه کېږي.
- په راتلونکي کې یې محصلان د اوبو د زېرمو، د کانونو او کاني زېرمو د مدېریت، د پېښو د خطرونو د کمولو او مدېریت، د چاپېریال، د هوا ککړتیا، د نوېدونکې انرژۍ او زرغونې حلالرې په برخو کې د لېسانس په سویه متخصصان کېږي.
- محصلان د طبیعي زېرمو، د چاپېریال پوهنې نړیوالو قوانینو، نړیوالې تودوخې او د پېښو د خطرونو کمولو اړوند د چاپېریال‌پوهنې او خوندیتوب ملي او نړیوال قوانین، پالیسۍ او معاهدې زده کوي.
- محصلان د چاپېریالي اغېزې ارزونه او له اقلیمي بدلونونو سره جوړجاړی زده کوي.
- محصلان د طبیعي زېرمو، د ژوند د تنوع خوندیتوب، د څړځایونو د ویجاړېدنې وقایې، د ویجاړو څړځایونو د احیا او بیارغونې، د ژویو ژوند، ځنلګونو او برسېرنو او ژورو اوبو په اړه ښه او زیات معلومات ترلاسه کوي.
- محصلان د طبیعي او انساني پېښو لکه وچکالۍ، نېزونو، واورې ښویېدنو اړوندې پالېسۍ او ښه مدېریت زده کوي.
- محصلان احصایه، لیکوالي او تخنیکي راپور لیکل زده کوي.
- محصلان د چاپېریال ارزښت او د طبیعي زېرمو اقتصاد زده کوي.
- محصلان د پېښو د خطرونو د کمولو او خنثی کولو ټېکنالوژي او د پېښو د خطرونو کمولو کې د خلکو ونډه اخیستنه او هڅول زده کوي.

**۳. تواميتونه**

- په ۱۳۹۹ کال کې د چاپېريال پوهنې پوهنځي او آغاخان بنسټ ترمنځ د استوګنځيو، علمي څېړنو، د محصلانو انټرنشيپونو، د چاپېريال پوهنې پوهنځي د علمي کادر غړيو د ظرفيت لوړونې په برخه کې د همکاريو هوکړه وشوه.
- د چاپېريال پوهنې پوهنځي او د Oxford Management Policy شرکت اړوند ACT پروګرام ترمنځ د ۲۰۱۶ کال له پيل د ۲۰۱۹ تر پايه هوکړه شوې وه.
- د ملګرو ملتونو چاپېريال پوهنې اداري (UNEP) له چاپېريال‌پوهنې پوهنځي سره بې رسمي سنده همکاري کړې دي، چې پوهنځي ته د (بې کمپيوټرونو) کمپيوټرلب جوړوول او د افغانستان د چاپېريال پوهنې د معلوماتو مرکز تجهيزول پکې وو.
- په ۲۰۱۷ کال کې د قرغېزستان د مرکزي آسيا امريکايي پوهنتون، د تاجکستان د کانونو او مېتالورجي پوهنتون او چاپېريال‌پوهنې پوهنځي ترمنځ د علمي او څېړنيزو همکاريو هوکړه لاسليک شوه او لا شته. د هوکړې پر بنسټ يې د USAID په مالي همکارۍ د اوبو زېرمو، د آمو اوبو راګرځولو حوضې پر مدېريت څېړنې شوې دي.

**۴. ډيپارتمېنتونه**

افغانستان تل د چاپېريال، طبيعي زېرمو او طبيعي پېښو له ننګونو سره مخ دی، د چاپېريال‌پوهنې پوهنځی ورته د متخصصو مدېرانو د روزلو لپاره رامنځته شو. د چاپېريال‌پوهنې پوهنځي بنسټ د کاربازار د غوښتنې او د ټولنې اړتياوو ته په کتو د اکاډميکې تشې د ډکولو لپاره کېښودل شو.

د چاپېريال پوهنې پوهنځی چې جوړ شو، د ځمکپوهنې د ننه د چاپېريال پوهنې او د پېښو مدېريت په نامه فعاله ډيپارټمنټ له دې پوهنځي سره يوځای شوه. د چاپېريال‌پوهنې پوهنځی دغه درې ډيپارتمېنتونه لري: د چاپېرياڵي علومو ډيپارتمېنت (Environmental Sciences)، د طبيعي زېرمو د مدېريت ډيپارتمېنت (Natural Resources Mangement) او د پېښو مدېريت ډيپارتمېنت (Disaster Management).

**۱. د چاپېريالي علومو ډيپارتمېنت**

**الف. پېژندنه**

د چاپېريالي ستونزو د هوارولو لپاره د چاپېريال پوهنې پوهنځي د ننه د چاپېريالي علومو ډيپارتمېنت جوړ شو، چې اوسنی اړتياوې په مسلکي ډول پوره کړي او د چاپېريالي ستونزو او ننګونو د مخنيوي لپاره مسلکي او مدېريتي چارې ومومي.

تر څو لسيزو جګړې وروسته افغانستان له چاپېريالي ناورين سره مخ شوی دی، په دې ناورينونو کې د ژوند د تنوع بدلونونه، د اقليم بدلېدلو اغېزې، ځنګل‌وهنې، د خوړو خونديتوب نشتوالی، د بېدياوو زياتېدل، د څړځايونو کمېدل، په ښارونو کې د نفوس چټک زياتېدل، د زېرمو او خاورې ويجاړېدل او د اوبو کمېدل دي. مثلاً څو ټولنيز او اقتصادي عوامل د افغانستان اوبه ګواښي. په طبيعي ډول په ګران هېواد کې د بشري فعاليتونو لپاره د سيندونو له اوبو کار اخيستل کېږي او د ډېرو سيندونو اوبه له باران او د هندوکش د لړۍ د کنګلو له ويلېدو راوځي. د دې غرونو زياتره کنګل کمېږي. چاپېريالي علوم پر چاپېريالي ستونزو راتم دي او موخه يې د چاپېريال ساتنه ده. دا يو ګډځانګيز علم دی له بيولوژۍ، کېميا، ځمکپېژندنې، فيزيک او کمپيوټر غوندې علومو او معلوماتو سره ناشلېدونکې اړيکه لري. دا يوه تطبيقي ډيپارټمنټ ده، نو ځانګړتياو ته په کتو يې مهمه موخه چاپېريالي ستونزې هوارول، د انسان او چاپېريال اړيکه او له دې ابزارو علمي استفاده ده. پر دې مو خبروي چې طبيعي پروسې څرنګه کار کوي، د انسان په لاسوهنه څومره زيانمنېږي او چاپېريالي ستونزې راپيدا کوي.

د چاپېريالي علومو ډيپارتمېنت پر محصل راچورلېدونکی او مسلکي ډيپلوم ورکوي چې د تيوری او عمل انډول پکې ساتلی دی. د دې ډيپلوم موخه محصلانو ته پراخه فيزيکي، بشري، او د ځمکې د مکاني اړخونو او خپل چاپېريال په اړه پوهه ورکول دي. محصلانو ته پکار ده چې پر ساينس، رياضي، ځمکني نظام، انسان-چاپېريالي اړيکه، د جغرافيايي معلوماتو د سيستم پر جوړولو او کارونه، او د علمي مېتودونو پر کارونه پوه شي. د لېسانس د دې سند موخه ساينسپوهان دې ته آماده کول دي چې د علمي مېتودونو په مټ چاپېريالي ستونزو ته چاره ومومي.

**ب. موخې**

**۱. ليدلوری**

د هېواد په کچه په ټولو اړينو امکاناتو او وسايلو د چاپېريالي علومو ډيپارتمېنت مجهزول. داسې باوري څېړنيکول چې د چاپېريالي علومو په برخه کې ټولنې، هېواد او سيمې ته چاپېريالي علمي خدمتونه او څېړنې وړاندې کړي.

**۲. ماموريت**

د چاپېريال ښه مدېريت او په اړينو عصري مهارتونو د ځوان نسل روزنه. د چاپېريالي علومو د متخصص نوي نسل ښوونه او روزنه، د چاپېريالي مدېريت لپاره د تخنيکي پاليسي جوړوونکي ځوان کهول روزنه.

۳. بنسټي موخې

د دې پروګرام په بشپړولو سره به محصلان لاندېنۍ وړتياوې ولري:

- مسلکي پوهه، پر چاپېريالي ستونزو د پوهېدو لپاره مصطلحات او د چاپېريالي ستونزو اړوند معلومات خپرول.
- د چاپېريالي پروژو پر وخت د بشپړولو لپاره خپلواک يا هم د ټيم د غړي په توګه فعاليت کول.
- په ګډېځانګيز رغښت کې ګډو موخو ته د رسېدو لپاره په نظر او چلن کې د رهبری او مسلکي مهارتونه ښودل.
- په کمي او کيفي مېتودونو د سرچينو او ډېټا شننه او د چاپېريالي ستونزو د حل لپاره د جغرافيايي معلوماتو له تخنيکونو کار اخيستل.
- له مشخصې ډلې او عامو هېوادوالو سره د خبرو او اړيکو ټينګولو لپاره په مسلکي وينا او ليکنه کې پر ملي او انګرېزي ژبه پوره واک.
- د چاپېريالي، اقتصادي او ټولنيزو اغېزو، وړانديزشويو فعاليتونو او هغو زيان‌اړوونکو فعاليتونو د اغېزو ارزونه چې ټولنه او د راتلونکې ثبات زيانمنوي.

**ج) تحصيلي نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | چاپېريـــــالي ککړتيـــــا او ټېکسيکولوژي | EnES0312 | ۳ | ۱۵ | د اقليم او ټولنې بدلون | EnES0628 | ۳ |
| ۲ | ايکولوژيکي احصايه | EnES0313 | ۳ | ۱٦ | چاپېريالي انجينيري | EnES0629 | ۳ |
| ۳ | د چاپېريال پوهنې اخلاق | EnES0314 | ۳ | ۱۷ | د چاپېريال جيوفيزيک | EnES0630 | ۳ |
| ٤ | خاورېپېژندنه | EnES0315 | ۳ | ۱۸ | د خونديتوب بيولوژي | EnES0631 | ۳ |
| ۵ | د چاپېريال او اوبو کېميا | EnES0317 | ۳ | ۱۹ | د چاپېريالي اغېزو ارزونه | EnES0632 | ۳ |

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | GIS II | EnES0519 | ۳ | ۲۰ | د خاورو ککړتيا | EnES0733 | ۳ |
| ۷ | ايکولوژي | EnES0523 | ۳ | ۲۱ | د طبيعي زېرمو اقتصاد | EnES0734 | ۳ |
| ۸ | چاپېريالي روغتيا | EnES0524 | ۳ | ۲۲ | د رودي اوبـــو راګرځولـــو د حوزو پروسه | EnES0735 | ۳ |
| ۹ | تطبيقي هايدرولوژي | EnES0525 | ۳ | ۲۳ | د چاپېريالپوهنې قانون | EnES0736 | ۳ |
| ۱۰ | چاپېريالي حکومتولي | EnES0527 | ۳ | ۲۴ | نوېدونکې انرژي | EnES0738 | ۳ |
| ۱۱ | د هوا ککړتيا | EnES0839 | ۳ | ۲۵ | د چاپېريـــــال پـــــوهنې کارزده‌کړه/ تابعيت | EnES0841 | ۳ |
| ۱۲ | مونوګراف | EnES0840 | ۶ | ۲۶ | چاپېريالي مدېريت | EnES0842 | ۳ |
| ۱۳ | اقليم پېژندنه | EnES0418 | ۳ | ۲۷ | د چاپېريال جيولوژي | EnES0420 | ۳ |
| ۱۴ | GIS-I | EnES0419 | ۳ | ۲۸ | د اتموسفېير کېميا | EnES0422 | ۳ |

**۲. د طبيعي زيرمو د مدېريت ډيپارتمېنت**

**الف. پېژندنه**

د افغانستان طبيعي زېرمې د لوېدلي اقتصاد پـه سـبب د بې‌خرتـه ګټې‌اخيسـتنې، د پاليسـو او سـم څـار د نشـت او د ځمکـې د کمزوري مدېريت او امنيتي ننګونو له امله اغېزمنې شوې دي. شاوخوا په سـلو کـې لـه ۷۰ تـر ۸۰ افغانـانو ورځنـی ژونـد د کرنـې، مالدارۍ او کانونو پر طبيعي زېرمو ولاړ دی. د افغانستان د طبيعي زېرمو مدېريت ته زياتې ستونزې ورپېښې دي، لکـه د ځنګلونـو وهل، په سپېرو ډاګونو بدلېدل، د ژوند د تنوع او استوګنځيو له منځه‌تګ، ککړتيا، طبيعي پېښې، په اوبولګولو د خاورې تروېدل او د جګړو ناوړه اغېزې. د دې ټولو ستونزو لامل دا دی چې افغانستان پـه وچـه کـې پـروت دی. د طبيعـي زېرمـو مـدېريت پيـاوړې اقتصاد، ټولنيزې ودې، سولې، ښې حکومتولۍ او روڼتيا ته لار جوړوي. په طبيعي سيسـتمونو لـه دايمـي معيشـت پرتـه کـورنۍ او ټولنې له لوی ګواښ سره مخ دي، او دغسې حالاتو جرمونه هم زيات کړي دي.

که وګړي طبيعي ايکوسيستم او طبيعي منظرو ته ورنيژدې کوو، د طبيعي زېرمو مدېريت او ساتنه يې لومړی ګام دی. پر دې مو بايد سر خلاص وي چې د ټولنې او کورنيو ورځنی ژوند په دې زېرمو پورې تړلی دی.

د افغانستان د کرنې، مالدارۍ، کان‌کيندنو، ځنګلونو، انرژۍ او توريزم غوندې برخو کې د روانې پرمختيا لپاره داسې کسان پکار دي چې د افغانستان د طبيعي زېرمو، ايکوسيستمونو او طبيعي منظرو څار، پاليسي جوړونـه او مـدېريت وکـړي. د طبيعـې زېرمـو د مدېريت ډيپارتمېنت د طبيعي زېرمو د مدېريت هراړخيز پايښتي روش رامنځته کوي. د دې مدېريت په مټ له طبيعي زېرمو څخـه په دې پروګرام کې د ټولو ګټه‌اخيستونکو وګړيو ګټې په يو بل پورې تړلې دي. د طبيعي زېرمو د مدېريت ډيپارتمېنت د ايکولوژۍ او ساينسي سرچينو پر تخنيکي پوهه ولاړ دی؛ په تېره د هغو سرچينو پر ظرفيت چـې د انسـانانو ودې او ژونـد تـه دوام ورکـوي. د طبيعي زېرمو مدېريت کې د لېسانس موخه داسې فارغان رامخته کول دي چې د افغانستان د طبيعي زېرمو د سيستماتيک مـدېريت وړتيا ولري. په دې مدېريت کې د طبيعي(بيوفيزيکي، ټولنيزو-سياسي او اقتصـادي) زېرمـو د کـارونې څـو اړخونـه، د توليـد او د مستقيمو مصرفوونکو موخو (د خوړو خونديتوب، ګټه‌کول، خطر منل) ، او هم د پرمختيايي ټولنې موخو (د بېوزلۍ کمولو، د نوي

نسل هوساینې، د چاپېریال پوهنې) ته رسېدل پکې راځي. پر دې سربېره د نړیوالـو خطرونـو پېژنـدل، لکـه اقلیمـي بـدلون چـې د طبیعي زېرمو شته‌والی او پرمختیا اغېزمنولای شي، هم مهم دي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوري**

د طبیعې زېرمو د خوندیتوب او دایمي پرمختیا د مدېریت په برخه کې د زده‌کړو او روزنې، علمي څېړنو، د معلوماتو مـدېریت او مسلکي پوهې د خدماتو یو عالي او جامع مرکز ګرځېدل.

**۲. ماموریت**

د متنوع علمي زده‌کړو د یوې داسې ټولنې پـر پـښـو درول چـې د ټـولنې ودې او دایمـي پرمختیـا تـه د علمـي څېړنـو، طرحـو جوړولو، د طبیعي زېرمو منظم مدېریت او دایمي پرمختیا لپاره اړینه پوهه، مهارتونه او نظریات رامنځته کړي.

**۳. بنسټي موخې**

د طبیعي زېرمو مدېریت ډیپارټمېنټ پر محصل ولاړ او مسلک‌جوړوونکی ډیپلوم ورکوي چـې تیـوري او عمـل پکـې اغـېزلي وي. د دې ډیپلوم موخه دا ده چې محصلان د طبیعي زېرمو د ننګونو او ستونزو ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او ایکولوژیکي اړخونـه ښه وپېژني. دلته د طبیعي علومو په تخصصي ډیپارټمنـټ کـې بنسـټي پوهـه او پېژنـدګلوي او د مـدېریت او پالیسـی پـر بنسـټ د پرېکړې وړتیا ډېره اړینه ده. د دې پروګرام په بشپړېدو محصلان لاندېنۍ وړتیاوې پیدا کوي:

۱. د طبیعي زېرمو په مدېریت او طرحوجوړولو کې همکاري او پرېکړې زده‌کول، چې په ایکولوژیکو، فیزیکي، اقتصادي او ټولنیزو حالتونو پورې اړوند معلومات وبله مدغم او بېلابېل ګډونوال سره یوځایوي.

۲. د طبیعي زېرمو مدېریت کې جلا یا د ډلې د غړي په توګه د پروژې په پر وخت پایته رسولو کې فعالیت کول.

۳. په لیدلوري او کړنو کې د رهبرۍ او مسلکي مهارتونو کارول.

۴. د کمپیوټري ټېکنالوژۍ او جغرافیایي معلوماتي سیستم د مرکزي مهارتونو په مټ د طبیعي زېرمو د ایکولوژیکي، ټولنیزو او اقتصادي یا سیاسي اړخونو د ارقامو راټولول او شننه.

۵. له مشخصې ډلې او عامو هېوادوالو سره د خبرو او اړیکو ټینګولو لپاره په مسلکي وینا او لیکنه کې پر ملي او انګرېزي ژبه پوره واک.

۶. د عملي مدېریت د ننګونو د له منځه‌وړلو لپاره پر هغو محصلانو د نویو تعلیمي، تیـوریکي او څېړنیـزو مفـاهیمو تطبیقـول چې پر یوه ټاکلې طبیعي زېرمه کار کوي.

**ج. نصاب تحصیلی (مضامین تخصصی)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د طبیعي سرچینو د مدیریت اساسات | EN.NRM0106 | ۳ | ۱۶ | د طبیعي سرچینو ساتنه | EN.NRM0638 | ۳ |
| ۲ | د ځنګلونو او څړځایونو مدیریت | EN.NRM0316 | ۲ | ۱۷ | د طبیعي سرچینو د اداري او پالیسی اساسات | EN.NRM0637 | ۳ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | د انرژۍ سرچینې | EN.NRM0319 | ۳ | ۱۸ | د طبیعي سرچینو دوامدار انکشاف | EN.NRM0636 | ۳ |
| ۴ | محیطي کیمیا | EN.NRM0321 | ۳ | ۱۹ | د طبیعي سرچینو انکشاف او غدایي خوندیتوب | EN.NRM0635 | ۳ |
| ۵ | د خاورې مدیریت | EN.NRM0322 | ۳ | ۲۰ | طبیعي سرچینې او له ځمکې د استافدې مدیریت | EN.NRM0741 | ۳ |
| ٦ | د مدیریت بنسټونه | EN.NRM0320 | ۲ | ۲۱ | د ایکو سیسیټم د خدمتونو اقتصاد | EN.NRM0742 | ۳ |
| ۷ | د اوبو د مدیریت اساسات | EN.NRM0425 | ۳ | ۲۲ | دافغانستان د طبیعي سرچینو قانون | EN.NRM0746 | ۳ |
| ۸ | د طبیعي سرچینو ارتباطات | EN.NRM0427 | ۲ | ۲۳ | تطبیقي ایکولوژي | EN.NRM0743 | ۳ |
| ۹ | کوچنی ا قتصاد | EN.NRM0424 | ۳ | ۲۴ | د طبیعي سرچینو ګرځندویي | EN.NRM0744 | ۳ |
| ۱۰ | جی آی اس-II | EN.NRM0530 | ۳ | ۲۵ | د افغانسان طبیعي سرچینې | EN.NRM0849 | ۳ |
| ۱۱ | د ژوند تنوع | EN.NRM0534 | ۳ | ۲٦ | د طبیعي سرچینو شخړې او مشارکت | EN.NRM0847 | ۳ |
| ۱۲ | د چاپېریال حکومتولي | EN.NRM0533 | ۲ | ۲۷ | د طبیعي سرچینو تطبیقات او تجربې | EN.NRM0850 | ۳ |
| ۱۳ | د طبیعي سرچینو اقتصاد | EN.NRM0529 | ۳ | ۲۸ | چاپېریالي اخلاق | ENES0318 | ۲ |
| ۱۴ | تطبیقي هایډرولوجی | EN.NRM0532 | ۳ | ۲۹ | د چاپېریال جیولوجي | ENES0423 | ۳ |
| ۱۵ | د ټولنې د اقلیم بدلون | EN.NRM0639 | ۳ | | | | |

**۳. د پېښو مدېریت ډیپارتمېنت**

**الف) پېژندنه**

په ۱۹۷۱ کال د کې پېښو ته د چمتووالي ډیپارتمېنت د پېښو مدېریت د ملي ادارې د دخیلولو لپاره جوړ شو. د پېښو مدېریت ملي اداره داسې اورګان دی چې په دې برخه کې یې له نړیوالې ټولنې ډېرې مرستې ترلاسه کړې دي.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

پایدارې پراختیا ته د بیړني وضعیت او مسلکي پوهې د لېږد لپاره د پېښو مدېریت کې د محصلانو ښوونه او روزنه.

**۲. ماموریت**

د نړیوال منل شوي نصاب مطابق له نوې ټېکنالوژۍ او مجهز لابراتواره په استفادې محصلانو تـه د نـوي، ګټـور او تخصصي-علم ښودل.

**۳. بنسټي موخې**

د پېښو مدېریت ډیپارټمېنټ پر شاګرد او کار ولاړ تدریسي اکاډمیک پروګرام دی، چې د عملي او تیوریکي کار انډول پکې ساتلی دی.

د دې پروګرام په بشپړولو سره محصلان لاندیني وړتیاوې مومي:

د پېښو مدېریت او چاپېریالي علومو کې مسلکي، علمي او تیوریکه پوهه لرل.

محصلان ګروپي او راتلونکې سنجوونکي مهارتونه زده کوي چې د پېښو مدېریت کې سیمه‌ییزو او نړیوالـو سـتونزو تـه چـاره موندلای شي.

محصلان د پېښو مدېریت کې کمپیوټري پوهه او د جغرافیایي معلوماتو مهارتونه تطبیقولای شي.

د پېښو مخنیوي، کمولو او بیړنیو او عادي حالتونو کې د پېښو د لیکنې، بیانولو، څېړنې، پلان‌جوړونې او مـدېریت د مهـارتونو زده کول.

په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د پېښو په مخ کې د پیاوړیو ټولنو په جوړولو کې د ټولنې د فعال غړي او خپلواک زده‌کـوونکي او مشر په توګه په مسؤولیت کار کول.

**ج. د زده‌کړو نصاب (تخصصي مضمونونه)**

| کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه | کریډیټ | کود نمبر | د مضامینو نومونه | ګڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | EnDM 0519 | GIS-II | ۱۷ | ۳ | EnDM 0312 | د جغرافیې بنسټونه | ۱ |
| ۳ | EnDM 0524 | بیړنی حالت او روغتیا | ۱۸ | ۳ | EnDM 0313 | احصایوي ایکولوژي | ۲ |
| ۳ | EnDM 0525 | جګړه، کډوالي او لانجې | ۱۹ | ۳ | EnDM 0314 | د چاپېریال پوهنې اخلاق | ۳ |
| ۳ | EnDM 0526 | د پېښو او آفتونو ارزونه | ۲۰ | ۳ | EnDM 0315 | د مدېریت بنسټونه | ۴ |
| ۳ | EnDM 0527 | صنعتي او ټېکنالوژیک آفتونه | ۲۱ | ۳ | EnDM 0317 | اقلیمي او هایدرولوژیک آفتونه | ۵ |
| ۳ | EnDM 0619 | ریموټ سېنسېنګ | ۲۲ | ۳ | EnDM 0423 | علمي تحقیق | ٦ |
| ۳ | EnDM 0628 | جیولوژیکي انجینیري | ۲۳ | ۳ | EnDM 0419 | GIS-I | ۷ |
| ۳ | EnDM 0629 | د پېښو د خطرونو د کمولو څارنه | ۲۴ | ۳ | EnDM 0418 | د پېښو په اړه خبرداری او چاره یې | ۸ |
| ۳ | EnDM 0630 | د پېښو د خطرونو کمول | ۲۵ | ۳ | EnDM 0420 | جیوفیزیک | ۹ |
| ۳ | EnDM 0632 | د اقلیم او ټولنې بدلون | ۲٦ | ۳ | EnDM 0421 | بشري خوندیتوب او چاپېریالي بدلونونه | ۱۰ |
| ۳ | EnDM 0838 | د پېښو مدېریت قوانین او پالیسی | ۲۷ | ۳ | EnDM 0422 | پېښې او ټولنه | ۱۱ |
| ٦ | EnDM 0840 | مونوګراف | ۲۸ | ۳ | EnDM 0733 | د آفتونو نقشه کښل | ۱۲ |
| ۳ | EnDM 0841 | انټرشیپ | ۲۹ | ۳ | EnDM 0734 | د پېښو مدېریت اداره | ۱۳ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | بیړنی مدېریت او چمتووالی | EnDM 0735 | ۳ | ۳۰ | د نړیوالو پېښو مدېریت | EnDM 0839 | ۳ |
| ۱۵ | پـه غرنیـو سـیمو کـې د پېښـو خطرونه کمول او پرمختیا | EnDM 0738 | ۳ | ۳۱ | څواکمن ښارونه | EnDM 0843 | ۳ |
| ۱٦ | په افغانستان کې آفتونه او پېښې | EnDM 0739 | ۳ | ۳۲ | د څېړنې مېتودولوژي | EnDM 0737 | ۳ |

۵. لابراتوار و کتابتون

د چاپېریال پوهنې پوهنځی یو کتابتون، یو لابراتوار او یو څېړنیز مرکز لري.

**الف.د چاپېریالي څېړنو مرکز**

په ۲۰۱٦ کال د افغانستان د چاپېریالي معلوماتو مرکز (AEDS) د چاپېریال پوهنې د نړیوال پروګرام (UN Environment) او د چاپېریال پوهنې ملي ادارې (NEPA) په همکارۍ د چاپېریال پوهنې په پوهنځي کې جوړ شو.

دا مرکز د افغانستان د چاپېریالي معلوماتو د ساتنې او مدېریت لپاره جوړ شـو چـې لـه خونـدي کړیـو معلومـاتو یـې اسـتادان، محصلان او ملي او نړیوال څېړونکي کار واخلي.

دا مرکز یو ډېټابېس لري چې د ملي او نړیوالو ادارو تولیدکړي معلومات او ډېټا پکې په هارډ او سافټ بڼه ساتل کېږي. دا مرکز له ځینو کتابتونونو او ډېټابېسونو لکه MAP-X ،OARE او نورو سره نښتی او چاپېریالي څېړنې او ترېنګونه کوي.

**ب. کتابتون**

د چاپېریال پوهنې پوهنځي کتابتون د درسي کتابونو، ژورنالونو، تخنیکـي راپورونـو تېزېسـونو او مونوګرافونـو هـارډ او سـافټ کلېکسیونونه لري. ډېر درسي کتابونه یې په انګرېزي ژبه دي. دا پوهنځی له ځینو آنلاین کتابتونونو، لکـه د سـاینس، انجینـیرۍ او طب ملي اکاډمۍ، ICIMOD ،OARE ،ACKU او نورو ته لاسرسی لري. د دې پوهنځي استادان او محصـلان د نړیوالـو معتـبرو پوهنتونونو سلګونو آنلاین مسلکي کورسونو ته لاسرسی لري.

**ج.لابراتوار**

د اوبو د څېړنو لابراتوار عصري وسایل لري چې په ساحه کې فیزیکي پارامترونه ټاکلای شي. د اقلیمـي معلومـاتو د ثبـت او د هوا د څرنګوالي د تحلیل لوړ کیفیته وسایل هم لري. په دې لابراتوار کـې Land Mapper وسـیله هـم شـته، چـې د جیولـوژیکي فورمېشن د ساحوي څېړنې او خاورې د ځانګړتیاو معلومولو لپاره کارول کېږي.

# د ښکلو هنرونو پوهنځی




**۱.د پوهنځي معرفي**

د ښکلو هنرونو پوهنځی د ټولنې د اړتیاوو له علمي او اکاډمیکو معیارونو سره سم د هنري تخلیقاتو په موخه د هیواد د هنري او لرغونو اثارو د ارزښتونو د ساتنې او پراختیا، د استعدادونو د ودې او د ځوانو محصلینو د پوهې د کچې لوړولو په موخه د تیاتر، تصنیف او ترانو، ښکلایزو هنرونو، ګرافیک ډیزاین، نقاشي، سینما، ننداریزو ادبیاتو او انځورګرۍ په برخو کې، د جمالیاتي ذوق د ودې او پراختیا، او د هنري کارونو د کیفیت د کچې د لوړولو او د ګالریونو او موزیمونو د بډایه کولو په موخه، د هنر په مختلفو برخو کې د مسلکي متخصصینو روزنه لکه؛ د هېواد د ښوونې او روزنې لپاره د مسلکي ښوونکو د روزنه، د لوبغاړو، ترانه ویونکیو روزنه د راډیو او ټلویزیون، تیاتر او سینما لپاره، د انځورګرانو، لیکوالانو، ښکلایزو هنرمندانو، انځورګرانو او تکړه ګرافیک ډیزاینرانو د روزنې لپاره په ملي او نړیواله کچه جوړ شوی دی.

**۲. موخې**

**الف. لیدلوری**

دوامداره پرمختګ د لوړو زده کړو د قوانینو له غوښتنو سره سم چې په اخلاقي اصولو او د هیواد په اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ولاړ وي. د نویو او معاصرو نړیوالو علمونو څخه برخمن کېدل، د پوهې او هنر د تولید وړتیا، په غوره او پراخو انساني سرچینو ، ملي او ټولنیزوه پانګه د ملي ارزښتونو خونديتوب او را منځته کېدل .او همدارنګه د سالمې او هر اړخیزې ادارې درلودل، مسلکي علمي پوهه، له فساد، تبعیض او تعصب څخه لرې د مساوي فرصتونو رامینځته کول، او همدارنګه له چاپیریال او فرصتونو څخه په ګټه اخیستنې او د څیړنې، ارزښتمنو اثارو د را منځته کولو، د جشنونو او نندارتونونو د جوړولو په ډګر کې د لومړي مقام د ترلاسه کولو هڅې. د هنر او فرهنګ د تلپاتې او ګړندۍ ودې لپاره په سیمه ایزه او حتی لوړه کچه د ارزښتناکو علمي او هنري کارونو تولید ته په پام سره. همدانګه له یوه موخیز او مطلوب چاپېریال څخه برخمن کېدل؛ د څیړنې، د ارزښتناکو اثارو پنځولو، د جشنونو او نندارتونونو په ترسره کولو سره د چټکې او دوامداره ودې په پام کې نیولو سره په سیمه کې لومړي مقام ته رسیدل.

**ب. دندې**

- د انسان په نړیوال او بې شانه هنر کې د علم د تقویې او اغېزمنتیا او د ټولې د خوندیتوب، د ټولنې د ستونزو د حل، هوساینې ته د رسېدو، د علم او هنر د عاملو او خپرېدو په موخه د علمي معیاراتو په پام کې نیولو سره د ګټورې او کارندې څېړنې تـر سره کول.

- د علمي ودې او د علمي غړو د پوهې او مهارتونو د پیاوړتیا له لارې د همکارۍ فضا رامینځته کول. -

د پوهنځي د کچې لوړول، په څېړنیزو پروژو کې (په ځانګړې توګه مـلي څېړنیـزې پـروژې)، د ګـډو نړیوالـو څېړنیـزو پـروژو زیاتول او د څېړنې او زده کړې په برخه کې د نړیوالو اعتبارونو ترلاسه کول.

**ج. اساسي موخې**

- د هنري زده کړو د کیفیت دوامداره ښه والی.

- د اکادمیک کارمندانو پراختیا او پیاوړتیا او د دوی خوځښت او فعالیت، د دوی د وړتیا تر بریده.

- د ځانګو دایمي ترتیب (رنګول، جوړول، اصلاح او ترکیب).

- د محصلینو له ظرفیت څخه اعظمي استفاده.

- د پوهنځي د څېړنې پراختیا.

- د ټولنې د ستونزو د حل او د ټولنې د ریښتینو اړتیاوو د پوره کولوپه موخه په پوهنځي کې د څېړنې وده او پراختیا،

- د چاپېریال ښه کول (د تلپاتې او دوامداره کړنو په ګډون) له موجوده څېړنیزو ظرفیتونو څخه د اعظمي استفادې په موخه،

- د خدماتو په وړاندې کولو کې د سیالۍ ځواک رامینځته کول او ساتل.

- د خدمتونو د وړاندې کولو چټکتیا.

- د بشري سرچینو پراختیا او پیاوړتیا.

- د پوهنځي لپاره د پلان جوړونې، د فرهنګي برنامو د پلي کولو په برخه کې د پراخ لید سیاست کارول.

- د هنر او فرهنګ په حوزه کې د ساستونو، کړنو او پرېکړو د یو لاس کول.

**۳. توامیتونه**

دا پوهنځی د تاجکستان د فرهنګ او هنر له انستیتیوت سره توامیت لري.

**٤. ډیپارټمنټونه**

دا پوهنځی اته دیپارتمنتونه لري چی هر یو یی په لاندی ډول تشریح کیږي.

**۱. د نقاشۍ ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د نقاشۍ ډیپارټمنټ په ۱۳۴۵ کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي په چوکاټ کې د نقاشۍ د کورسونو په جوړولو سره را منځته شو او په ۱۳۵۷ هجري لمریز کال کې یې د لومړۍ دورې محصلین فارغ کـړل. د دې ډیپارټمنـټ بنسـټ ایښودونکي استاد امان الله حیـدرزاد، عنایـت اللـه شـهراني او د هغـه وخـت ولسمشرـ سردار محمـد داود خـان وو. د انځـورګرۍ ډیپارټمنټ په ۱۳٦۳ هجري لمریز کال کې د موسیقۍ، تصویري او ګرافیک هنرونو ډیپارټمنټ په جوړولـو سره پـه یـوه پـوهنځي بدله شوه.

### ب. زده کړه یزې موخې

#### ۱. لیدلوری

د نقاشۍ ډيپارټمنټ د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو د پوهنځي په چوکاټ کې د ځېرک، نوښتګر، زړه سواندي، ژمن او مسلکي نسل د روزلو او د هنري اثارو د رامنځته کولو په موخه کار کوي. دا ډيپارټمنټ د مسلکي متخصصينو د روزلو په برخه کې هڅه کوي چې د انځورګرۍ کميتي او کيفيتي کچې ته وده ورکړي او د دې ډيپارټمنټ روزل شوې طبقه به د هدف لرونکو متخصصينو په توګه د دې فرهنګ، ملي او ديني هويت په خپرېدو کې لوی رول ولوبوي.

#### ۲. ماموريت

د نقاشۍ په برخه کې د مسلکي او ځيرکو متخصصينو روزنه.

په افغانستان کې د نقاشۍ د زده کړو د خدمتونو معياري کول.

د نقاشۍ ډيپارټمنټ د کميت او کيفيت له پلوه د يوه بنسټ په توګه چې په ملي او نړيواله کچه له تعليمي اعتبار سره معرفي کول او ځانګړي هنري وياړونه تر لاسه کول.

د هيواد په لوی فرهنګي او هنري مديريت کې برخه اخيستل، د اثارو د جوړولو له لارې د ملي او اسلامي کلتور او ارزښتونو پراختيا او پياوړتيا.

#### ۳. اساسي موخې

- د ټولنې، په ځانګړې توګه د هنرمندانو او انځورګرانو لپاره د ځانګړو او ګټورو اثارو څېړنه، تاليف او ژباړل.
- د زده کوونکو لپاره د انځورګرۍ ګټور پروګرامونه.
- د انځورګري يا انځوريزو اثارو د بيا رغونې او ترميم په موخه د رنګ د جوړولو، د رنګ د تجزيې او نورو مرستندويه موادو د جوړولو لپاره د لابراتوارونو را منځته کول او پرمختللي کول.
- د استادانو او محصلينو د پوهې او تجربې د کچې د لوړولو په موخه له بهرنيو او کورنيو بنسټونو سره تواميتونه.
- په هر سمستر کې يا لږترلږه په کال کې يو ځل د زده کونکو د اثارو ننداريې ته ايښودل.
- له بهرنيو او کورنيو بنسټونو سره دوه اړخيزه اړيکې.
- په هر سمستر کې يو ځل د کال د غوره زده کونکو د کارونو نندارتون جوړول.

### ج. تواميتونه يا اړيکې

د افغانستان له معاصرو هنرونو سره توامیت.

### د. تحصيلي نصاب (تخصصي مضامين)

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نقاشي | F.A.P 136 | ۷ | ۱۲ | نقاشي | F.A.P236 | ٦ |
| ۲ | کمپوزيشن | F.A.P 105 | ۱ | ۱۳ | کمپوزيشن | F.A.P205 | ۱ |
| ۳ | رسامي | F.A.P 117 | ۳ | ۱۴ | رسامي | F.A.P217 | ٤ |
| ۴ | نقاشي | F.A.P436 | ٦ | ۱۵ | نقاشي | F.A.P536 | ٦ |
| ۵ | مينياتوري نقاشي | F.A.P125 | ۱ | ۱٦ | کمپوزيشن | F.A.P505 | ۱ |

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | رسامي | F.A.P417 | ٤ | ۱۷ | رسامي | F.A.P517 | ۲ |
| ۷ | نقاشي | F.A.P336 | ٦ | ۱۸ | اناتومي | F.A.P504 | ۲ |
| ۸ | کمپوزيشن | F.A.P305 | ۱ | ۱۹ | د خط نقاشي | F.A.P505 | ۱ |
| ۹ | انځورګري | F.A.P317 | ۲ | ۲۰ | ميناتوری نقاشي | F.A.P506 | ۱ |
| ۱۰ | معاصر هنرونه | F.A.P23 | ۱ | ۲۱ | نقاشي | F.A.P836 | ۵ |
| ۱۱ | نقاشي | F.A.P736 | ۵ | ۲۲ | انځورګري | F.A.P717 | ۲ |

**۲. د تزيني هنرونو ډيپارټمنټ**

**الف. پيژندنه**

د تزيني يا ښکلايزو هنرونو ډيپارټمنټ، چې پخوا د مجسمه جوړونې په نامه هم يادېده، په ۱۳۴۷ هـ ش کال کې د تزيني هنرونو او ماډل جوړونې په برخه کې د يوه کورس په توګه د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي په چوکاټ کې جوړ شو. په کال ۱۳۵۴ کې د ښکلو هنرونه ډيپارټمنټ چې د تزيني هنرونو، نقاشی او ګرافيک ډيزاين کورسونه يې درلودل د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي په چوکاټ کې د يوه جلا ډيپارټمنټ په توګه را منځته شو د همدې کال په اوږدو کې د ښکلو هنرونو په ډيپارټمنټ کې د ويډيويي او تمثيل کورسونه هم اضافه شول.

د ۱۵۲ کريډيټونو په پاس کولو سره د دې ډيپارټمنټ زده کونکي د ليسانس په کچه د تزيني هنرونو ، موزائيک، کاشي کاری، سراميک او د تاريخي اثارو او ابداتو بيا رغونه چې د عامه ځايونو په معماری، تزيني کولو او تنظيمولو کې کارول کېږي. همدارنګه دا تخصص د سکې، مډالونو (رسمي او دولتي نښو)، د سياليو د يادګاري مجسمو يا د اتلولی کپونو، او ورته برخو په توليد کې هم کارول کيږي. د دې ډيپارټمنټ فارغان به د اطلاعاتو او کلتور وزارت په څانګو لکه د تاريخي ابداتو، موزيمونو او ګالريو په رياست کې په دندو ګومارل کيږي او په ورته وخت کې په مسلکي او غير مسلکي ښوونځيو کې د ښوونکيو په توګه ګومارل کيږي. د تزيني هنرونو ډيپارټمنټ يو موزيم لري چې د تزيني هنرونو يو شمير اثار په کې ساتل کيږي.

**ب. موخې**

**۱. ليد لوری**

د تزيني هنرونو ډيپارټمنټ د کابل پوهنتون د ښکليو هنرونو د پوهنځي په چوکاټ کې د ځيرک، نوښتګر او مسلکي نسل د روزلو او د ارزښتناکو اثارو د رامنځته کولو په موخه کار کوي. دا ډيپارټمنټ د مسلکي متخصصينو د روزلو په برخه کې د تزيني هنرونو د کميت او کيفی کچې د ښه والی په برخه کې هڅه کوي او د دې برخې روزل شوي متخصصين به د دې هېواد د فرهنګي، ملی او مذهبی هويت په انعکاس کې لوی رول ولوبوی.

**۲. ماموريت**

- د اسلامي ډيزاينونو په برخو کې د ښارونو او چاپيريال د ښکلا لپاره د تزيني هنرونو رامينځته کولو، او همدارنګه کاشي کاری، موزايک جوړولو او د تاريخي ابداتو د بيا رغولو په برخو کې د مسلکي کارمندانو روزنه.

- په افغانستان کې د تزيني هنرونو، اسلامي ډيزاينونو، تطبيقي هنرونو لکه موزايک سيراميک په برخو کې د تعليمي خدماتو معياري کول ترڅو د نړيوالو معيارونو سره سمون ولري.

- د تزیني هنرونو ډیپارټمنټ په کمیت او کیفیت سره د یوې ادارې په توګه په ملي او نړیواله کچه د تعلیمي اعتبار سره معرفي کول او د هغې د وړتیا او په نړیواله کچه د بې شمیره ویاړونو ترلاسه کول.

- د هیواد په لوی فرهنګي او هنري مدیریت کې ګډون، د هنري شاهکارونو د جوړولو له لارې د ملي او اسلامي کلتور او ارزښتونو پراختیا او پیاوړتیا.

**۳. موخې**

- له نړیوالو نورمونو خصوصا د اسلامي هیوادونو د لیدونو په پامنیوي د تزیني او انتزاعی هنرونو جوړول او زده کړه.

- د ټولنې د عیني او ذهني شرایطو په پامنیوي د یادګارونو، چوکونو، پارکونو او د دولتي او خصوصي موسسو او سازمانونو لپاره د تزیني کارونو ډیزاین کول.

- د بیلابیلو ځایونو لکه: (کورونو، رستورانتونو، هوټلونو، جوماتونو، ښوونځیو او نورو سپیڅلو ځایونو) د ښکلي کولو لپاره په مختلفو میتودونو سره د تزیني نمونو ډیزاین او اجرا کول.

- دسپورتي لوبو د مختلفو سیالیو او جشنونو لپاره د مډالونو او افتخاري جامونو ډیزاین کول.

- د استوګنې کورونو، دفترونو او کاري چاپیریال لپاره د نویو کوچنیو نماوو ډیزاین او تولید.

- په نندارتونونو کې د خرڅلاو او ننداري لپاره د مجسمو او ښکلایزو توکو را منځته کول.

- ودانیو له انجنیرانو او مهندسانو سره د قالبونو او نماوو په جوړولو کې همکاري.

- د تزیني او حجمي هنرونو لپاره د ورکشاپونو جوړول.

- د سینمایي فلمونو په تولید کې همکاري چې خمیرې یا نورو موادو ته ورته وي د صحنو یا عموما د حجم په جوړولو کې همکاري.

- د تعلیمي موسسو او د پوهنې محترم وزارت له لارې فارغانو ته د کار پیدا کول.

**ج. تحصیلي نصاب (تخصصي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اسلامي ډیزاینونه | F.A.D 04 | ۱۰ | ٤ | موزائیک | F.A.D 06 | ۱۲ |
| ۲ | د ډبرې او لرګي طراحي | F.A.D 02 | ۱۸ | ۵ | د نړۍ د هنر تاریخ | F.A.D 07 | ۱٦ |
| ۳ | دراونګ | F.A.D 05 | ۱۵ | ٦ | سرامیک | F.A.D 03 | ۹ |

**۳. د ګرافیک ډیزاین ډیپارټمنټ**

**الف. پیژندنه**

د ګرافیک ډیزاین ډیپارټمنټ په ۱۳۵۴ کال کې د نقاشۍ او مجسمه جوړونې په ډیپارټمنټ کې د یوه مضمون په توګه تدریسېدو او په ۱۳۵۹ کال کې د نورو ډیپارټمنتونو ترڅنګ په رسمي ډول تاسیس شو. د هنر دغه ډګر یو له هغو هنرونو څخه دی چې په نړیواله کچه منل شوی او ځانګړې اهمیت لري.

**ب. تحصیلي موخې**

- د هنر ځانګړي پیغام رسولو لپاره د بصري مینځپانګې رامینځته کول

- د ځانګړي هنري پیغام رسولو له لارې بصري ارتباط چمتو کول

**۱. لید لوری**

په ملي او نړیواله کچه د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو د پوهنځي د ګرافیک ډیزاین هنر د کاري بازار او د ټولنې د اړتیاو په برخه کې په ملي او نړیواله کچه د یوازیني علمي بنسټ په توګه ثبت او بېژندل.

**۲. ماموریت**

- د ګرافیک ډیزاین په ډیپارټمنټ کې د مسلکي او روڼ اندو متخصصینو روزنه.
- په افغانستان کې د ګرافیک ډیزاین تعلیمي خدماتو معیاري کول.
- د ګرافیک ډیزاین ډیپارټمنټ دکمیت او کیفیت له پلوه په ملي او نړیواله کچه د یوې تعلیمي ادارې په توګه معرفي کول.
- د هیواد په لوی کلتوري مدیریت کې ګډون، د کارونو د جوړولو له لارې د ملي او اسلامي کلتور او ارزښتونو پراختیا او پیاوړتیا.

**۳. اساسي موخې**

- د وخت له شرایطو سره سم د نصاب نوي کول او پراختیا.
- د څېړنې، لیکنې او ژباړې وده او پراختیا.
- د ښخ بنایي پروژو جوړول، د مسلکي ټولګیو او هنري کارګاوو لابراتوار سوداګری لابراتوار، ډیجیټل او لاسي چاپ.
- درسي مواد او توکي.
- د علمي او مسلکي کادرونو بشپړول.
- د څېړونو د سرچینو پیاوړتیا.
- د نړیوالو ژبو پیاوړتیا.
- د لنډ مهاله برسیو چمتو کول.
- له ملي او نړیوالو بنسټونو سره دوه اړخیزه همکاري او توامیتونه.
- لږ تر لږه په کال کې یو ځل د محصلینو او استادانو د کارونو د نندارتونونو د جوړولو پلان.
- د ځان بسیاینې په لور ګامونه پورته کول او د دولت او نا دولتي همکاری راجلبول.

**ج. لابراتوار او زده کړه یز توکي**

د ګرافیک ډیزاین ډیپارټمنټ له فوتوګرافي ډیپارټمنټ سره یو ګډ لابراتوار لري چې د ۵۰ پایې کمپیوټر درلودونکی دی، د دې ډیپارټمنټ اکثر صنوف د محصلینو د تدریس لپاره پروجکتور لري.

**د. تحصیلی نصاب (تخصصي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د تجسمي هنرونو بنسټونه ۱ (لیدنیز توکي) | FA-GD02 | ٤ | ٦ | میناتوري | FA-GD07 | ٦ |
| ۲ | د تجسمي هنرونو بنسټونه 2 (تناسب) | FA-GD03 | ۳ | ۷ | دراونګ طراحی | FA-GD08 | ۱۸ |
| ۳ | د تجسمي هنرونو بنسټونه 3 (رنګ) | FA-GD04 | ۳ | ۸ | الستریشن | FA-GD09 | ۹ |
| ۴ | دیجیتل ګرافیک ۱ | FA-GD05 | ۱۲ | ۹ | خوشنویسي | FA-GD10 | ۵ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | دیجیتل ګرافیک ۲( عملي ) | FA-GD06 | ۱۲ | | | | |

**٤. د تیاتر ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

د تیاتر ډیپارټمنټ په ۱۳۵۹ کال کې د نورو ډیپارټمنټونو ترڅنګ را منځته شوه. او اساسي موخه یې د هنرونو لکه تیاتر، راډیو، تلویزیون او سینما په برخه کې د ځوانو او لوستو کادرونو روزل دي. له دې ډګر څخه د هېواد په کچه یو زیات شمېر روزل شوي هنرمندان ځلېدلي او دا مهال د هنرونو پوهنځي، د افغانستان ملي راډیو او ټلوېزیون، دکابل تیاتر ریاست، د افغانستان د فلمونو ریاست او په نورو هنري بنسټونو کې په دندو ګمارل شوي دي حتی د راډیو، تلویزیون او سینما د غوره استازو په ګډون.

دا ډیپارټمنټ خپل محصلین په دوو برخو (هنر او تمثیل) کې فارغوي. د تیاتر ډیپارټمنټ محصلین کولی شي خپل د لیسانس مونوګرافونه په دوه لارو (عملي او نظري) د لاربنود استاد تر نظر لاندې بشپړې کړي او د لیسانس سند له امتیازاتو څخه ګټه پورته کړي.

د دې ډیپارټمنټ محصلین د هغه نصاب په رڼا کې چې د لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي نصاب په رڼا کې را منځته شوی داسې موضوعات زده کړي چې له فراغت وروسته د ښه کار زمینه ورته برابره شي.

هغه محصلین چې له دې ډیپارټمنټ څخه فارغ شوي؛ دوی کولای شي په مسلکي توګه فلمونه، سریالونه، تلویزیوني او راډیویي پروګرامونه جوړ کړي او د دې ډیپارټمنټ له هنري ډیپارټمنټ څخه فارغ شوي محصلین کولای شي په فلمونو، سریالونو، تلویزیوني خپرونو او نورو هنرونو کې کار وکړي او په دې توګه ټولنې ته د خدمت جوګه شي.

د دې ډیپارټمنټ یو شمېر فارغان د اطلاعاتو او کلتور وزارت په هنري څانګو، د ملي تیاتر ریاست، د افغان فلم ریاست، دولتي او خصوصي تولیدخونو، د افغانستان په غږیزو او تصویري رسنیو او نورو فرهنګي او هنري څانګو کې کار او خدمت وکړي.

د تیاتر ریاست له ملي او نړیوالو بنسټونو سره د دوه اړخیزو همکاریو تړونونه او توامیتونه لري، چې په رڼا کې تیاتر ډیپارټمنټ د یادو بنسټونو له مادي او معنوي همکاریو برخمنه شوې ده.

**ب. موخې**

**۱. لید لوری**

د تیاتر ریاست ژمن دی چې په راتلونکي کې د مسلکي تیاتر هنرمندانو د روزنیز مرکز په توګه د پام وړ فعالیتونه تر سره کړي، څو د ټولنې له لومړنیو اړتیاوو سره سم د تیاتر هنرمندان په معیاري ډول وروزي او وړاندې کړي.

**۲. ماموریت**

- د تیاتر په برخه کې د مسلکي او فکري متخصصینو روزنه.
- په افغانستان کې د تیاتر ښوونیز خدمتونو معیاري کول.
- د تیاتر ریاست په کمي او کیفي لحاظ د یوې داسې اداري په توګه معرفي کول چې په ملي او نړیواله کچه د تیاتر اعتبار لري.
- د هیواد په لوی کلتوري مدیریت کې برخه اخیستل، د تیاتري کارونو د تولید له لارې د اسلامي او ملي فرهنګ او ارزښتونو پراختیا او پیاوړتیا.

**۳. اساسي موخې**

د تیاتر ډیپارټمنټ لاندې بنسټي موخې لري، چې له مخې یې، خپل روزنیز پروګرامونه تنظیموي، چې موخه یې د دې ډیپارټمنټ د محصلینو او استادانو د تخصصي پوهې وده ده.

- د دې ډیپارټمنټ د محصلینو د استفادې په موخه د تیاتر په برخه کې د څېړنو، تالیفاتو او ژباړې وده او پراختیا.
- د استادانو لپاره د بهرنیو ژبو پیاوړتیا او د بهرنیو ژبو تدریس ته د محصلینو هڅول.
- له بهرنیو او کورنیو بنسټونو سره دوه اړخیزه اړیکې او تړامیتونه.
- لږ ترلږه په کال کې یو ځل د محصلینو تیاتر فستیوال تنظیمول.
- د وخت د شرایطو او د ټولنې له موثریت سره سم د ډیپارټمنټ د نصاب را منځته کول او تعدیل.
- د دې ریاست د نندارتون تالار په عصري ځراغونو او توکو سمبالول او د لازمو درسي موادو د بشپړولو هڅه.
- د مسلکي اشخاصو په جذب سره د ډیپارټمنټ د علمي کادر د بشپړولو هڅه.
- د خودکفایی او په ځان بسیا کېدو لپاره هڅې او د دولتي او نا دولتي همکاریو راجلبول.
- د تخصصي لوبغاړو او ډایرکټرانو د روزنې لپاره هڅه کول چې د تیاتر هنر له لارې د ټولنیزو ستونزو او نیمګړتیاو او کلتوري مسلو انعکاس کولو وړتیا ولري.

**ج) تړامیتونه**

- د ښکلو هنرونو پوهنځي د تیاتر د ډیپارټمنټ په ناروې کې له برګن پوهنتون سره دایمي همکاري لري او د برګن پوهنتون تل د تیاتر له ډیپارټمنټ سره د تخنیکي وسایلو د بشپړولو او ترمیمولو په برخه کې مادي او معنوي مرستې کړې دي. تیاتر، د جشنونو د ترسره کولو ملاتړ کوي.
- په افغانستان کې د دوستو هېوادونو د فرهنګي مرکزونو لکه د ګویته انستیتوت، برتانوي شورا یا برتش کنسل ، GIZ او په کابل کې د فرانسې د کلتوري مرکز، له تیاتر ډیپارټمنټ سره د ننداریزو او فرهنګي برنامو په تنظیم کې تل همکاره وه او ده.
- د سره او سپین ګروپ او پروانه کلتوري او هنري موسسې په ګډون د ډیپارټمنټ د هنري برنامو د تنظیمولو په برخه کې له کورنیو هنري ډلو سره کاري هوکړه لیک او همکاري.
- له اطلاعاتو او کلتور وزارت او د ملي تیاتر له ریاست سره د همکارۍ او ګډو هنري کارونو هوکړه لیک. په حقیقت کې په ډېری برنامو کې (د تیاتر ډیپارټمنټ او د ملي تیاتر ریاست) د همکارۍ پروګرامونه دوام لري.

**د) اکادمیک نصاب (ځانګړي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | هنر ۱(اساسات) | FA- TD0101 | ۷ | ۱۲ | څېره جوړونه | FA- TD0112 | ۳ |
| ۲ | هنر ۲(لومړنی) | FA- TD0102 | ۸ | ۱۳ | تخنیک ګدی ګردانی | FA- TD0113 | ٤ |
| ۳ | هنر ۳(منځنی) | FA- TD0103 | ۸ | ۱۴ | د وینا فن | FA- TD0114 | ٦ |
| ۴ | هنر ٤(عالی) | FA- TD0104 | ۹ | ۱۵ | د تیاتر کره کتنه | FA- TD0115 | ٤ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | تمثیل۱(اساسات) | FA- TD0105 | ۷ | ۱٦ | امپروایزیشن | FA- TD0116 | ۲ |
| ٦ | کارګردانی۲(لومړنی) | FA- TD0106 | ۸ | ۱۷ | د راديويي نندارو کارګرداني | FA- TD0117 | ۳ |
| ۷ | کارګردانی۳(منځنی) | FA- TD0107 | ۸ | ۱۸ | د تلويزيوني نندارو کارګرداني | FA- TD0118 | ۳ |
| ۸ | کارګردانی٤(عالی) | FA- TD0108 | ۹ | ۱۹ | د راديويي نندارو هنرمندتوب | FA- TD0119 | ۳ |
| ۹ | د صحنې جوړول | FA- TD0109 | ۲ | ۲۰ | د تلويزيوني نندارو هنرمندتوب | FA- TD0120 | ۳ |
| ۱٠ | نندارېز ادبیات | FA- TD0110 | ٤ | ۲۱ | ژوندی انیمیشن | FA- TD0121 | ۲ |
| ۱ | د ډرامې تجزيه او تحليل | FA- TD0111 | ٤ | | | | |

**۵. د سینما ډیپارټمنټ**

**الف پیژندنه**

د تیاتر او سینما ډیپارټمنټ د استادانو د هڅو په پایله کې د سینما ډیپارټمنټ په خپلواکه توګه د ښکلو هنرونو د پوهنځي په چوکاټ کې د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو ریاست د ۱۳۸۷ کال د ۳۳٦۷/٤۳۳٠ نېټې د ۱۳۸۷/۳٠/۱۱ نېټې د فرمان له مخې جوړه شوه. او لومړی نصاب یې چمتو شو.

د سینما د ډیپارټمنټ د لومړي دور محصلین چې شمېر یې شلو تنو ته رسېده، د تیاتر او سینما له دویم ټولګي څخه جلا او په خپلواک ډول یې د سینما ټولګیو ته مخه کړه. په دې ډیپارټمنټ کې درسي نصاب داسې ترتیب شوی چې په لومړي او دوهم کال کې د سینما اساسات او تیوري تدریسیږي او د درېیم او څلورم کال محصلین په ګروپونو ویشل کیږي او په حقیقت کې د استادانو تر څارنې لاندې فلمونه جوړوي. د تعلیمي کال په پای کې، محصلین اړ دي چې د خپل ډیپلوم د دفاع لپاره یو لنډ فلم جوړ کړي.

د سینما ډیپارټمنټ د نصاب له مخې چې د لوړو زده کړو وزارت د محترم مقام له خوا تصویب شوی، محصلینو ته داسې موضوعات تدریس کېږي چې له فراغت وروسته به په ټولنه کې د ښه کار زمینه ورته برابره کړي. د دې ډیپارټمنټ فارغان په ډله ایزو رسنیو لکه تلویزیوني چینلونو، راډیوګانو، پرډکشنونو او ټولنیزو رسنیو کې کار کوي.

### ب زده کړه یزې موخې

#### ۱. لید لوری

د سینما ډیپارټمنټ د ښکلو هنرونو د پوهنځي په چوکاټ کې کار کوي د یو متفکر او مسلکي نسل او د سینمایي او اساسي مضامینو د را منځته کولو په موخه د ښکلو هنرونو د پوهنځي په چوکاټ کې کار کوي، دا ډیپارټمنټ د سینماګرافي ، کارګرداني، فلم لیکنې، د سینما د تیورۍ او تدوین په برخو کې د مسلکي متخصصینو د روزنې په برخه کې د سینمایي اثارو د کمي او کیفي کچې د لوړولو په موخه هڅه کوي او د دې ډیپارټمنټ روزل شوې طبقه د هدف لرونکو متخصصینو په توګه د دې خاورې د کلتوري، دیني او ملي پېژندنه او منعکسولو کې لویه ونډه لري.

#### ۲. ماموریت

- د سینما په سکتور کې د مسلکي او وړ متخصصینو روزنه.
- په افغانستان کې د سینما ښوونیزو خدمتونو معیاري کول.
- سینما ډیپارټمنټ له کمي او کیفي اړخه د یوې معتبرې ادارې په توګه د سینمایي اعتبار په درلودو سره په ملي او نړیواله کچه معرفي کول.
- د هیواد په لوی کلتوري مدیریت کې برخه اخیستل، د فلم جوړولو له لارې د ملي او اسلامي کلتور او ارزښتونو پراختیا او پیاوړتیا.

#### ۳. اساسي موخې

لکه څنګه چې زموږ ټولنه د سینمایي فلمونو د جوړولو او خپرولو، او تلویزیوني خپرونو لپاره خوځنده بشري ځواک ته اړتیا لري نو ددې ځواک د روزولو لپاره د سینما هنر په چوکاټ کې د روزلو ضروروت لیدل کېږي، دې ته په کتو سره چې په افغانستان کې ډېرې هنري تحصیلي سرچینې نشته نو د دې اړتیاوو پوره کول هم څه نا څه ګران دي، د سینما ډیپارټمنټ په برخه کې د فلم جوړونې، کارګردانۍ او کیسه یزو او مستندو فلمونو د جوړل د محصلینو لپاره اهمیت لري. څو د دې ډیپارټمنټ محصلین اسلامي ټولنې، افغاني فرهنګ او خلکو ته په ژمنتیا او احساس سره د اړتیا وړ تخصص لکه، فلنامه لیکلو، کارګردانۍ او انځور ګرۍ په برخو لپاره هڅه وکړي او دا لارې چارې ورته برابرې شي.

### ج. توامیتونه

د ۲۰۱۷ کال په پسرلي کې د سینما ریاست د افغان فلم له ریاست سره د پنځه کلنې همکارۍ تړون لاسلیک کړ.
- له ګویته انستیټیوټ سره د تفاهم لیک لاسلیک.
- له نما رسنۍ سره د تفاهم لیک لاسلیک.
- له رویا فلم سره د تفاهم لیک لاسلیک.
- د هنر له اکاډمۍ د همکارۍ د تفاهم لیک لاسلیک.

### د. لابراتوار او زده کړه یز توکي

- مجهز ه د فلم ایډیټینګ سټوډیو.
- د فلمونو ننداري او د محصلینو د فلم فیستیوالونو د ترسره کولو لپاره سمبال سینما هال.

### هـ . تحصیلي نصاب (ځانګړي مضامین)

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د فلم کارګرداني | C 01 | ۲۷ | ٦ | د فلم طراحي (د کیسې | C 06 | ۲ |
| ۲ | د فلم نامې لیکل | C 02 | ٦ | ۷ | د سینما تاریخ | C 07 | ٦ |

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | سینماتوګرافی | C 03 | ۵ | ۸ | د فلم تحلیل | C 08 | ٦ |
| ۴ | په سینما کې غږ | C 04 | ۴ | ۹ | د تلویزیوني خپرونو کارګرداني | C 09 | ۸ |
| ۵ | د فلم تدوین | C 05 | ٦ | | | | |

**٦. د تصنیف او ترانو ډیپارټمنټ**

**الف. پېژندنه**

په ۱۳۴۷ کال کې د ښکلو هنرونو په ډیپارټمنټ کې د شرقي او غربي موسیقۍ برخه جوړه شوه. د شرعي اصولو په پام کې نیولو سره په ۱۴۰۱لمریز کال کې دغه ډیپارټمنټ د (تصنیف او ترانې) د ډیپارټمنټ په نامه شوه او په کریکولم کې یې تغیرات راغلل.

دا ډیپارټمنټ، د ۱۳٦۰ کال په پیل کې د یوې رشتې په توګه تدریس کیده وروسته د یوه خپلواک دیپارتمنت په توګه فعال شو.

**ب. موخې**

**۱. لیدلوری**

د تصنیفونو او ترانو ډیپارټمنټ د ځیرکو او تکړه استعدادونو د روزنې او د ارزښتمنو او باهدفه ترانو د رامنځته کولو په برخه کې فعالیت کوي. دا ډیپارټمنټ په تصنیف او ترانو ویلو کې د مسلکي متخصصینو د روزنې په برخه کې هڅه کوي چې د کړنو کمیتي او کیفیتي کچې ته وده ورکړي او د دې ډیپارټمنټ لوستې او رسیدلې طبقه به د هدف لرونکو متخصصینو په توګه د دې خاورې د فرهنګي، دیني او ملي هویت په پېژندنه او معرفي کې لویه ونډه ولري.

**۲. ماموریت**

- د تصنیفونو او ترانو په برخه کې د مسلکي او وړ متخصصینو روزنه.
- په افغانستان کې د تصنیفونو او ترانو د ښوونیزو خدمتونو معیاري کول.
- له کیفي او کمي اړخه د یوې معتبرې ښوونیزې ډیپارټمنټ په توګه د تصنیفونو او ترانو د ډیپارټمنټ معرفي کول.
- د هیواد په لوی کلتوري مدیریت کې ګډون، د تصنیفونو او ترانو د تولید له لارې د ملي او اسلامي کلتور او ارزښتونو پراختیا او پیاوړتیا.

**۳. اساسي موخې**

دا ډیپارټمنټ په هېواد کې د تصنیفونو او ترانو ویلو تر ټولو لوی علمي بنسټ په توګه په هېواد کې د ترانو او تصنیفونو په برخه کې د نوښت دنده او رسالت تر سره کوي. د دې ارزښتناک ماموریت د درک کولو په موخه، د دې اکاډمیک محیط غړي هر یو د ډیپارټمنټ د فعالیتونو په پلان کولو او تنظیم کولو کې د پام وړ ونډه لري او دا ګډون ورځ تر بلې پیاوړی کیږي.

**ج) لابراتوار او زده کړه یز توکي**

د تصنیفونو او ترانو ډیپارټمنټ د معیاري تدریس په موخه په کمپیوټر لابراتوار، د غږ ثبتولو ستوډیو، اړوندو وسایلو، معیاري درسي خونو سره سمبال ده.

**د) تحصیلي نصاب (ځانګړي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | په کلاسیک سبک ترانې ویل | S01.M | ۲۰ | ۵ | سلفیژ | S05.M | ۳ |
| ۲ | ډله یز وبلل | S02.M | ۱۲ | ٦ | غزل | S06.M | ٤ |
| ۳ | تصنیف او ترانه جوړونه | S03.M | ٤ | ۷ | د تصنیف او غږ تاریخ | S07.M | ٦ |
| ۴ | د لحن او غږ اساسات | S04.M | ٦ | ۸ | د افغانستان اتوموزیکولوژي | S08.M | ٦ |

**۷. د ننداریزو ادبیاتو ډیپارټمنټ**

**الف. د ډیپارټمنټ پیژندنه**

د ډراماتیکو ادبیاتو ډیپارټمنټ په ۱۳۸۵ کال کې د تیاتر ډیپارټمنټ په چوکاټ کې د دراماتورګی په نامه د ننداریزو ادبیاتو د یوې برخې په توګه را منځه شوه او په ۱۳۹۲ کال کې د فلم او ډرامې لیکنې ډیپارټمنټ تر نامه لاندې د ډیپارټمنټ کچې ته پورته شوه. ۱۳۹۵ کال د ډراماتیک ادبیاتو د ډیپارټمنټ په نامه ونومول شوه. د فلمنامې لیکلو، نمایشنامه لیکلو، کیسه یزو ادبیاتو مضامین په عملي توګه او د کره کتنې، د اسطورې او حماسې ننداریز اړخونه، د عامه فرهنګ او ادبیاتو، د لیکوالۍ د قالبونو موضوعات په نظري توګه تدریس کیږي.

د دې ډیپارټمنټ فارغان د ډراماتیکو ادبیاتو د تاریخ، ډراماتیکو اثارو او کیسو د جوړولو تر څنګ له کره کتنې او څېړنې سره هم اشنا دي. دا ډیپارټمنټ د محصلینو د مهارتونو او وړتیاوو د پیژندلو په موخه د ډراماتیکو ادبیاتو د محصلینو کلنۍ فیستیوال جوړوي. ننداریز ادبیات په اصل کې د تیاتر، سینما، ادبیاتو او ژورنالیزم د ډګرونو تر منځ یو پل دی او په اصل کې د ادبیاتو او د دریځ د بوختې نړۍ ترمنځ منځګړیتوب دی. د دې ډیپارټمنټ د لیسانس په کچه د تدریس شوي کریډیټ شمیر ۱۳٦ کریډیټ دی.

**ب. زده کړه یزې موخې**

**۱. لیدلوی**

د ډراماتیکو ادبیاتو ډیپارټمنټ د ځیرکو او مسلکي کسانو د روزلو او د ډراماتیکو اثارو د جوړولو لپاره کار کوي. دا ډیپارټمنټ هڅه کوي چې د باهدفه مسلکي متخصصینو د روزلو په برخه کې، د تیاتر کارونو کمي او کیفیتي کچې ته وده ورکړي او د دې ډیپارټمنټ روزل شوې طبقه به د هدف لرونکو متخصصینو په توګه د دې خاورې کلتوري، ملي او مذهبي هویت په انعکاس کې لوی رول ولوبوي.

**۲. ماموریت**

د ډراماتیکو ادبیاتو په برخه کې د مسلکي کارپوهانو او وړ کسانو روزنه.

په افغانستان کې د ننداریزو ادبیاتو د تعلیمي خدمتونو معیاري کول.

د ډراماتيکو ادبياتو ډيپارټمنټ په کميتي او کيفي لحاظ د يوې داسې ادارې په توګه معرفي کول چې په ملي او نړيواله کچه تعليمي اعتبار ولري.

د هيواد په لوی کلتوري مديريت کې برخه اخيستل، د تياتر کارونو د توليد له لارې د ملي او اسلامي کلتور او ارزښتونو پراختيا او پياوړتيا.

**۳. بنسټيزې يا ستراتيژيکې موخې**

- د ننداريز متن د چمتو کولو، د غږ او تصوير په توليد کې د متخصص کارمندانو روزنه.
- د ډراماتيکو متونو د پېژندنې او انعکاس په برخه کې د څېړونکو او مسلکي کارکوونکو روزنه.
- د فکري او پوهنيز تعامل روح ته وده ورکول.
- د کلتوري، ژبنيو او توکميز توپيرونو د منلو په موخه د ننداريزو او کيسه يزو ادبياتو پر مټ د ظرفيت را منځته کول.
- د ډراماتيک ادبياتو په برخه کې د ستونزو، ټولنيزو ناخوالو او کلتوري مسايلو انعکاس په نړيواله ژبه او معيار.

**ج. لابراتوار او زده کړه يز توکي**

د ننداريزو ادبياتو ډيپارټمنټ د وسايلو به حساب ډېر څه نه لري، يوازې د ننداريزو ادبياتو ورکشاپ دی چې پنځه ډيسټاپ کمپيوټرونه، فوټوکاپي ماشين، دوه پراجکټورونه، دوه سکينرونه او يو پرنټر لري. د ننداريزو ادبياتو ورکشاپ د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د دې برخې تجهيز په پلان کې لري.

**د. د ډراماتيک ادبياتو تحصيلي نصاب (ځانګړي موضوعات)**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ډرامه ليکنه ۱ ( بنسټونه) | FA-DL0302 | ۲ | ۹ | قالب های نګارش | FA-DL0107 | ۲ |
| ۲ | فلم نامه ليکنه ۱ (بنسټونه) | FA-DL0303 | ۲ | ۱۰ | فلم نامه ليکنه ۳ | FA-DL0533 | ۷ |
| ۳ | کيسه يز ادبيات ۱ | FA-DL0204 | ۴ | ۱۱ | عامه فرهنګ او ادبيات | FA-DL0110 | ۴ |
| ۴ | ډرامه ليکنه ۲ | FA-DL0431 | ۴ | ۱۲ | فلم نامه ليکنه ۴ (عملي برخه) | FA-DL0836 | ۷ |
| ۵ | فلم نامه ليکنه۲ | FA-DL0432 | ۴ | ۱۳ | په ننداريزو ادبياتو کې کره کتنه | FA-DL0705 | ٦ |
| ٦ | کيسه يز ادبيات ۲ | FA-DL0337 | ۲ | ۱۴ | ډرامه ليکنه ۴ | FA-DL0835 | ۷ |
| ۷ | ډرامه ليکنه ۳ | FA-DL0533 | ۷ | ۱۵ | د حماسې او اسطورې ننداريز اړخونه | FA-DL0608 | ۲ |
| ۸ | په عرفاني ادبياتو کې ننداريز اړخونه | FA-DL0409 | ۲ | ۱٦ | ښکلا پېژندنه | FA-DL0723 | ۲ |

### ۸. د فوتوگرافۍ ډیپارټمنټ

#### الف. پیژندنه

په ۲۰۱۷ کې، د انځورگرۍ ډیپارټمنټ د گرافیک ډیزاین ډیپارټمنټ کې د مضمون په توگه تدریس شوه. خو پـه ۲۰۱۲ کـال کې یې د یوې خپلواکې ډیپارټمنټ په توگه کار پیل کړ. دا ډگر یو له هغو هنرونـو څخـه دی چـې د نـړۍ پـه کچـه منـل شـوی او ځانگړی اهمیت لري، عکاسي کولای شي یو ساینس، صنعت او هنر وگڼل شي، په تعلیمي ځانگو (ښوونځیو او پوهنتونونو) کـې د هغې کارول او کارول خورا مهم دي.

د دې ډیپارټمنټ فارغان کولی شي په ټولو چاپي او بصري رسنیو (خبری سایټونو، ټلویزیونونو، لیکلي رسنیو، وزارتونو، مـلي شورا، بانکونو، ریاستونو لکه (ملي راډیو او تلویزیون، ملي موزیم، ملي آرشیف، ملي محافظت)، د هنرونـو پـه لـوړو برخـو کـې وگمارل شي. ښوونځی، تولیدات، دوی کولی شي شخصي دندې هم پیل کړي، لکه په شخصي، رسمي حلقو یا کورنیو او بهرنیـو موسسو کې د عکس اخیستنې سټوډیو درلودل، یا په خپلواکه توگه کار کوي. زموږ په ټولنه کې د عکاسي مضمون تدریس خـورا اغیزمن دی، موږ کولی شو پدې برخه کې. زده کونکو ته وړتیـا ورکـوي چـې پـه معیـاري ډول د عکـس اخیسـتنې پـه برخـه کـې (رپورټ، پورټ فولیو او پروژه) چمتو کړي.

په څلورو کلنو (اتو سمسترونو) کې محصلین په (۱۴۸) کریډیټ کې (۳۳) مضمونونه د استادانو تر څارنې لانـدې (پـه دننـه او بهر کې مسلکي او په نظري او عملي ډول) زده کوي.

#### ب. زده کړه یزې موخې

#### ۱. لیدلوری

د انځورگرۍ ډیپارټمنټ د ښکلو هنرونو د پوهنځي په چوکاټ کې د رونې اندو، څېرکو او مسـلکي کسـانو د روزنـې لپـاره کـار کوي. دا ډیپارټمنټ د هنري انځورونو او ژورنالیزم په برخو کې د مسلکي متخصصینو د روزنې او د دې ډیپارټمنټ د روزل شـویو متخصصینو د هنري انځوریزو کارونو د کمي او کیفیتي کچې د ښه کولـو لـه لارې بـه د دې خـاورې د کلتـوري، مـلي او مـذهبي هویت په منعکس کولو کې روی رول ولوبوي .

#### ۲. ماموریت

- د عکاسۍ په برخه کې د مسلکي او څېرکو متخصصینو روزنه.
- په افغانستان کې د عکاسۍ هنر د زده کړې خدماتو معیاري کول.
- په ملي او نړیواله کچه د یوې معتبرې ښوونیزې ادارې په توگه په کمیتي او کیفیتي لحاظ د عکاسۍ ډیپارټمنټ معرفي کول.
- د هیواد په لوی کلتوري مدیریت کې گډون، د انځـورگرۍ د هـنر لـه لارې د مـلي او اسـلامي کلتـور او ارزښـتونو پراختیـا او پیاوړتیا.

#### ۳. اساسي موخې

- د وخت او شرایطو په رڼا کې د نصاب تعدیل.
- د څېړنې، لیکنې او ژباړې وده او پراختیا.
- د زیربنایي پروژو په لاره اچول، د مسلکي ټولگیو او انځوریزو کارگاوو د لابراتوارونو مجهز کول.
- د درسي توکو تجهیز.
- د علمي او مسلکي کارکوونکو استخدام.
- د نشراتي سرچینو را منځته کول.

- د نړیوالو ژبو پیاوړتیا.
- د لنډ مهاله برسیو را منځته کول.
- له ملي او نړیوالو بنسټونو سره دوه اړخیزه تړامیتونه او همکاري.
- لږ تر لږه په کال کې یو ځل د محصلینو او استادانو د کارونو د نندارتونونو پلانول.
- د ځان بسیاینې لور ته ګام پورته کول او د دولتي او نادولتي همکارۍ راجلب کول.

**ج) تړامیتونه**

- د آلمان د ګویت انسټیټیوټ له دې ډیپارټمنټ سره د څو عکسونو کمرو سټینډونو، کمپیوټرونو او پرنټرونو په سمبالولو کې همکاري کړې او لنډ مهاله پروګرامونه یې هم جوړ کړي دي.
- د دریم سترګو عکس ژورنالیزم مرکز چې د دې ډیپارټمنټ د عملي او نظري موضوعاتو په تدریس کې د ښوونکي په توګه همکاري کوي.
- د پرموټ پروګرام چې د USAID لخوا تمویل کیږي، د ډیجیټل ګرافیک روزنې او د نندارتون شرایطو په برخه کې د عکاسي زده کونکو مسلکي پوهې ته وده ورکولو لپاره یو پروګرام چمتو کړی.

**د) لابراتوار او زده کړه یز توکي**

د عکاسۍ ډیپارټمنټ د ګرافیک ډیزاین ډیپارټمنټ سره یو ګډ لابراتوار لري چې ۵۰ کمپیوټرونه لري. د دې ډیپارټمنټ اکثره استادان د پروجکټور په مرسته زده کوونکو ته درس ورکوي.

**هـ) تحصیلي نصاب (ځانګړي مضامین)**

| ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ | ګڼه | د مضامینو نومونه | کود نمبر | کریډیټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د عکاسی تاریخ | FA.PH 02 | ۴ | ۷ | دیجیتال ګرافیک TTGC 2 | FA.PH 08 | ۸ |
| ۲ | فوتوګرافي 1 | FA.PH 03 | ۸ | ۸ | د عکس اېډېټ 1 (فوتوشاپ) | FA.PH 09 | ۸ |
| ۳ | فوتوګرافي 2 | FA.PH 04 | ۸ | ۹ | د عکس اېډېټ 2 (لایت ) | FA.PH 10 | ۴ |
| ۴ | فوتوګرافي 3 | FA.PH 05 | ۸ | ۱۰ | عکس اخیستنه | FA.PH 11 | ۴ |
| ۵ | فوتوګرافي 4 | FA.PH 06 | ۱۰ | ۱۱ | د فلم اېډېټ (پریمیر) | FA.PH 12 | ۴ |
| ۶ | دیجیتال ګرافیک TTGC 1 | FA.PH 07 | ۸ | | | | |

### ۹. د ښکلو هنرونو د پوهنځي د ننداریزو او تجسمي هنرونو د ماسټر پروګرام

**الف. پیژندنه**

د ښکلو هنرونو پوهنځی له څلورو لسیزو راهیسي د کابل پوهنتون په چوکاټ کې فعالیت کوي او د فراغت په څلویښتو دورو کې یې زیات شمیر د لیسانس سند لرونکي ځوانان ټولنې ته وړاندې کړي دي.

دې پوهنځي د لوستي کادر د فرهنګي او هنري بنسټونو د اړتیا په پام کې نیولو او د دې پوهنځي د هنر برخې د فارغانو د ډیرېد لیوالتیا په صورت کې د ماسترۍ کچې ته د لوړو زده کړو وزارت د (٦٤٤٧)ګڼې او ۱۳۹۱/۱۱/۱۰ نېټې په رڼا کې ارتقا وکړه او د تجسمي هنرونو د ماسترۍ برنامې د ځینو اړتیاو په پار د تجسمي او ننداریزو هنرونو نامه ته بدلون وموند.

په څلور دوره فراغت سره یې ټولنې ته د ۷۰ په تعداد متخصص محصلین ټولنې ته د خدمت په پار وړاندې کړي.

**ب.د ماسټر پروګرام موخې**

د بشري منابعو روزنه چې د هنر د زده کړې په مرکزونو کې د کار کولو لپاره اړین دي، د رسنیو او هنري تولید په فکري او کلتوري ملاتړ سره د بصری هنرونو پروګرام یو مهم او بنسټیز هدف دی. چمتو دي چې په فعاله توګه په تعلیمي فعالیتونو کې برخه واخلي او په لوړه ټولنیزه کچه خدمات ترسره کړي.

بصری او پرفارمینګ هنرونه په تعلیمي، علمي، کلتوري او رسنیزو برخو کې کار کوي او د نقاشۍ، ګرافیک ارتباط، عکاسي، فلم، انځوریزۍ او فلم ډیزاین له لارې، دوی د ټولنې د پوهې او هنر کچه لوړوي او د کلتوري خود کفایت لپاره اغیزمن کیږي.

**۱. لیدلوری**

څرنګه چې د افغانستان ټولنه د خپلو هنري او کلتوري خپرونو د چمتو کولو او خپرولو لپاره مسلکي او با استعداده بشري منابعو ته اړتیا لري، نو د انځوریزو او ننداړو هنرونو د اړتیاوو په چوکاټ کې د دغو ځواکونو د روزنې اړتیا احساسیږي. په ځینو پروګرامونو کې د ځانګړو اړتیاوو او د دې اړتیاوو د پوره کولو لپاره د اکاډمیکو برخو د نشتوالي په پام کې نیولو سره، د هیواد د لوړو زده کړو په سیستم کې د ښکلو هنرونو په برخه کې د ماسترۍ پروګرام شتون اړین ګڼل کیږي. د ماسټر پروګرام د بشري منابعو د را منځته کولو او تولید لپاره مینه برابروي چې په خپلو ژمنو سره، د اړتیا وړ خلاقیت، تخصص او د کلتوري او هنري فعالیتونو له لارې د تولیدي پروګرامونو دکیفیت د ښه کولو لپاره له اسلامي ټولنې سره د تعهد پر بنا هنري فعالیتونه تر سره کړي.

**۲. ماموریت**

د افغانستان د کلتور او تاریخ پراخوالي او ژورتیا دا غواړي چې دغه بنسټ په نه ستړي کیدونکو هلو ځلو سره د هنر د زده کړې زمینې برابرې کړي او په دې توګه د هنر زیات مینه وال او مسلکي کسان ټولنې ته وړاندې کړي. همدارنګه، د خپلو تاریخي اثارو د ساتنې په ترڅ کې، هڅه کوي چې د هنر نوي اثار جوړ او د خپلو خلکو خدمت ته یې وړاندې کړي.

**ج. همکارې موسسې**

ځینې بنسټونه لکه "ګوېټه انسټیټیوټ، برټیش کنسل او د فرانسې کلتوري مرکز" د ورکشاپونو په جوړولو، کلتوري پروګرامونو، د تدریسي موادو کمښت، د تجسمي هنرونو د ماسټر پروګرام کې همکاري کوي.

**د. تحصيلي نصاب (تخصصي مضامين)**

| ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ | ګڼه | د مضامينو نومونه | کود نمبر | کريډيټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | محيطي هنر | FA-MA- 14 | ۳ | ۳ | دد هنري اثارو تحليل | FA-MA- 16 | ٦ |
| ۲ | هنري خوځښتونه | FA-MA- 15 | ٦ | ۴ | فرهنګ پېژندنه | FA-MA- 17 | ۳ |

# د کابل پوهنتون کمېټې

**د نظم او دسپلین کمېټه**

دغه کمېټه د پوهنتون په کچه جوړه شوې ده، د پوهنتون د ریاست تر مخامخ لارښوونې او څار لاندې فعالیت کوي چې تر ډېره په پوهنتون کې د شخړو او ستونزو د حل په لټه کې ده او په دې اړه خپلې پرېکړې کوي.

**د ستراتیژیک پلان کمېټه**

دا کمېټه په ۱۳۹۵هـ ل کال کې د کابل پوهنتون د ریاست په لارښوونه جوړه شوې ده، چې د ستراتیژیك پلان له عملي کېدو څارنه کوي. ددې کمېټې ناستې د کابل پوهنتون د علمي مرستیالیت تر مستقیمې لارښوونې لاندې ترسره کېږي او د کابل پوهنتون مالي او اداري مرستیال یې هم غړی دی. تر څنګ یې د محصلینو چارو مرستیال، د ریاست د دفتر امر او د هر پوهنځي یو استازی په دغه کمېټه کې غړیتوب لري او غونډې یې په کابل پوهنتون کې جوړېږي.

د دې کمېټې مهمې دندې: د وضعیت ربښتینې ارزونه، د ستراتیژیک پلان د تدوین په موخه د شته منابعو ارزونه او د پلان د جوړولو لپاره د هغو تحلیل او تجزیه، د کابل پوهنتون د کالني پلان ارزونه او د ښه والي لپاره یې د وړاندیزونو او بدلونونو راوستل. د تدوین په برخه کې د لیدل شوو پرمختګونو راپور ورکول، په کلنۍ توګه د ستراتیژیک پلان له ترتیب راپور ورکول، همدا راز د هغو دندو مخ ته بېول چې د کابل پوهنتون د علمي شورا له لوري دغه کمېټې ته سپارل کېږي.

**د تقرر او انفکاک کمېټه**

دغه کمېټه په کابل پوهنتون کې له مهمو کمېټو ګڼل کېږي چې د استادانو اړوند چارې مخ ته وړي او د علمي مرستیال تر مستقیمې لارښوونې لاندې فعالیت کوي. د کمېټې به سر کې علمي مرستیال، د استادانو چارو امر د منشي په توګه او د هر پوهنځي یو لوړرتبه استاد یې د غړي په توګه فعالیت ترسره کوي.

**نوموې کمېټه لاندې مکلفیتونه لري**

د هغو پرېکړو تدقیق او څارل چې د پوهنځي د علمي شورا او څانګې له لوري د علمي کادر د مقرری په تړاو ترسره شوې دي، د هغو پرېکړو تدقیق او څارل چې د علمي کادر د انفکاک په اړه څانګې او پوهنځي د علمي شورا له لوري ترسره شوې دي، د نورو هغو پوهنتونو د علمي کادر د تقرر په اړه د پوهنځي د علمي شورا او څانګې د پرېکړ ارزونه او تدقیق چې له کابل پوهنتون سره علمي همکاري لري. د هغو بیا تقرر په اړه د پوهنځي د علمي شورا او څانګې د پرېکړو ارزونه او تدقیق، همدا راز د نورو هغو دندو ترسره کول چې د قانون په چوکاټ کې دغه کمېټې ته سپارل کېږي.

**د ترفیعاتو کمېټه**

دغه کمېټه د کابل پوهنتون د علمي مرستیال تر مستقیمې لارښوونې لاندې فعالیت کوي. په کمېټه کې علمي مرستیال د مشر، د استادانو چارو امر منشي او د هر پوهنځي یو استازی د غړي په توګه فعالیت کوي. دا کمېټه په هره میاشت کې لږ تر لږه یوه غونډه کوي چې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

د ملکي عالي لوړو زده کړو د قانون په چوکاټ کې د هغو پرېکړو په اړه بحث کول چې د څانګې او د پوهنځي د علمي شورا له لارې د استادانو چارو امریت ته رالېږل شوې دي. د هغو پوهنتونو د ترفیع د مضوعاتو طرح او ارزونه چې له کابل پوهنتون سره همکاري لري او د یادو پوهنتونونو د څانګې، د پوهنځي د علمي شورا او استادانو چارو امریت له لوري یې چارې مخ ته وړل شوې وي. دا کمېټه همدا راز د ترفیع لپاره د استاد د رالېږل شوې دوسیې له بشپړوالي څخه ډاډمنوي، ټولو هغو مواردو ته پام کوي چې د دوسیې د بشپړتیا لپاره د لوړو زده کړو وزارت د هغو سپارښتنه کړې ده، د دوسیې د تکمیل په صورت کې یې د نورو اړوندو

چارو لپاره د پوهنتون علمي شورا ته لېږي، پرېکړې د جلسې د منشي له لوري د غونډو په کتاب کې ثبتېږي، همدا راز نورې هغه چارې مخ ته وړي چې د لوړو زده کړو وزارت د قانون په چوکاټ کې دغه کمېټې ته سپارل کېږي.

**د نصاب کمېټه**

دغه کمېټه د کابل پوهنتون له مهمو کمېټو ګڼل کېږي. د پوهنځي په کچه د جوړو شوو فرعي کمېټو په سر کې راځي او د علمي مرستیال تر مستقیمه لارښوونه لاندې فعالیت کوي. په دې کمېټه کې د هر پوهنځي یو لوړرتبه استاد د با صلاحیته استازي په توګه غړیتوب لري. ددې کمېټې غونډې اړتیا ته په کتو جوړېږي او که یې اړتیا پېښه شي بېړنۍ غونډې کوي.

**ددې کمېټې دندې**

د پوهنځیو د تسوید شوي نصاب د ستونزو مشخصول او تدقیقول او ددې نصاب د عمومي اړتیاوو ارزونه، د تسوید شوي نصاب د روزنیزو اړتیاوو تدقیق، ارزونه او حل، د پوهنځیو له لوري د وړاندیز شوې تحصیلي برنامې د بریا لپاره د امکاناتو ارزول، د اړوندو اشخاصو او بنسټونو ارزونه، په کابل پوهنتون کې د تحصیلي څانګو د رامنځته کېدو د اړتیاوو ارزونه، په وړاندیز شوي نصاب کې د محصلینو لپاره د کاري حوزو ارزونه او تدقیقول، د عملیاتي مسایلو، درسي وسایلو او نورو مواردو په پام کې نیولو سره د پیاوړي علمي کادر به حضور کې د تدریس چارې ارزول او په دې برخه کې له نړیوالو او سیمه ییزو تجربو ګټه اخیستل. همدا راز ددغه پرمختګونو د عملي کولو لپاره د شرایطو برابرول او تر څنګ یې د نورو هغو دندو مخ ته وړل چې د قانون په چوکاټ کې دغه کمېټې ته سپارل کېږي.

**د تضمین کیفیت د ارزونې کمېټه**

د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو د لایحې د اتلسمې مادې پر بنسټ د لوړو زده کړو وزارت ټول بنسټونه باید د خپل کیفیت د لوړولو او ښه کولو لپاره د تضمین کیفیت یوه کمېټه ولري.

د همدې مادې پر بنسټ د کابل پوهنتون هم په **۱۳۹۳**هـ ل کال کې د خپلو فعالیتونو په چوکاټ کې دغه کمېټه جوړه کړه. له همغه پیله بیا تر دې دمه یاده کمېټه په منظمه توګه خپلې غونډې لري او د کابل پوهنتون د کیفیت د لوړولو لپاره هڅې کوي. ددې کمېټې ریاست د علمي مرستیالیت له لوري مخ ته وړل کېږي او **۲۲** غړي لري چې له هر پوهنځي یو با صلاحیته استازی ددې کمېټې غړیتوب کوي. په لنډه توګه دغه کمېټه لاندې مکلفیتونه لري:

په تحصیلي بنسټونو کې د کیفیت د ښه والي لپاره هڅې، د پوهنتونو د پوهنځیو او څانګو د ارزونې د پروسې څارنه، د پوهنځیو او څانګو د ارزونې د راپور ارزول، د لوړو زده کړو وزارت له ستراتیژیک پلان سره پوره بلدتیا، د اړوند تحصیلي بنسټ له ستراتیژیک پلان او د اعتبار ورکولو د پروسې له اړوندو اسنادو سره پوره بلدتیا، د تحصیلي بنسټونو په ټولو برخو کې د عملیاتي پلان تطبیق او نورو هغو پروګرامونو عملي کول چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري دغه کمېټې ته سپارل کېږي.

دغه کمېټه همدا راز د قانون په رڼا کې دغه دندې ترسره کولی شي: د زده کولو او ورز ده کولو د پروسې له حدودو څارنه او ارزونه، په تحصیلي بنسټ کې د انفرادي عملیاتي پلان او تدریسي پلان ښه کول، د پوهنتون د علمي شورا تر تایید وروسته د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت ریاست ته د هغه راپور د لېږلو او نشراتو له پروسې څارنه چې د هر سمستر په پای کې لېږل کېږي. د تدریس د چارو څارنه او د تدریس د کیفیت د لارښوونې پر بنسټ لوړو زده کړو وزارت ته د پوهنتون د علمي شورا تر تایید وروسته د راپور ورکول، په هر سمستر کې د درسي موادو ارزونه، د لکچر نوټونو او نورو درسي توکو ارزونه هم د دوی دنده ده چې تر څنګ یې د اصلاح او غوراوي لپاره هڅه وشي. د تحصیلي بنسټ د نظم او دسپلین څارنه، د لوایحو، مقرراتو، طرزالعملونو د تطبیق څارنه هم ددغه کمېټې پر غاړه ده.

**تر لیسانس پورته(فوق لیسانس) پروګرامونو د انسجام بورډ**

دغه بورډ په کابل پوهنتون کې د تر لیسانس پورته (ماسټري او دوکتورا) پروګرامونو د مشرۍ، انسجام او تنظیم په موخه جوړه شوې ده. دا برخه په ۱۳۹۲هـ ل کال کې هغه مهال جوړه شوه چې په دغه پوهنتون کې د ماسټرۍ لومړنی پروګرام پیل شو. دا برخه اوس هم خپلوفعالیتونو ته ادامه ورکوي. یاده کمېټه د علمي مرستیالیت تر مستقیمې لارښوونې او مشرۍ لاندې فعالیت کوي، په کابل پوهنتون کې خپلې جلسې کوي او تر لیسانس پورته پروګرامونو د کیفي او کمي ځېړنو د کیفیت لوړېدو لپاره هڅه کوي.

له بلې خوا دغه بورډ د پوهنتون په کچه د ماسټرۍ او دوکتورا د برنامو د تدریس چارې څاري او هغه ارزوي. ددې بورډ غړي د پوهنتون د هغو پوهنځیو یو یو لوړرتبه استاد دی چې عملا د ماسټرۍ یا دوکتورا برنامې لري.

**د برېښنايي زده کړو کمېټه**

د لوړو زده کړو وزارت له نړیوال تحصیلي نظام سره د همغږیتوب په موخه په الکترونیکي زده کړو ټینګار کوي او د همدې موخې لپاره د کابل پوهنتون په چوکاټ کې هم د الکترونیکي زده کړو د پراختیا هڅې روانې دي او دغه کمېټه د یادو چارو د مخ ته بېولو مسوولیت لري. دغه کمېټه په ۱۳۹۶هـ ل کال کې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې جوړه شوې ده. دا چې زموږ په هېواد کې په ټولو سیمو کې په یو ډول الکترونیکي زده کړو ته لاسرسی نشته خو له دې سره سره دغه کمېټې هڅه کوي چې تولو ته مساوي خدمات وړاندې کړي او الکترونیکي زده کړې شاګرد محوره دې نو دې ته د زمینې برابرول هم اړینه مسئله ده چې ددې کمېټې پر غاړه ده.

**د ازموینو کمېټه**

د ازموینو کمېټه د علمي مرستیال تر مشرۍ او لارښوونې لاندې فعالیت کوي او د ازموینو د څارنې او تنظیم په برخه کې مهمه کمېټه ګڼل کېږي. دا کمېټه په کال کې څلور غونډې کوي، غړي یې د پوهنځیو د علمي شورا له لوري معرفي کېږي، چې په دې لړ کې د سمسټر شل سلنې او فاینل ازموینو له بهیر په پسرلي او مني کې څارنه کوي.

**د تحصیلي نصاب د عملي کولو د څارنې کمېټه**

د اکاډمیک نظام په لار کې تر ټولو ستره ستونزه دا ده، چې د مضمونونو لپاره د ځانګړو شویو کرېډېټونو پر بنسټ په ټاکلي وخت کې د څانګو، پوهنځیو او پوهنتون لخوا نصاب نه بشپړېږي او په دې برخه کې خنډونه وي. کابل پوهنتون د تحصیلي نصاب د تطبیق له پروسې د څار په موخه د نصاب د څار کمېټه جوړه کړې ده، چې غړي یې د پوهنتون د علمي شورا له لوري ټاکل کېږي او لاندې مکلفیتونه لري:

د پوهنتون په کچه د تحصیلي نصاب د تطبیق له پروسې څارنه، محصلانو ته په ترتیب پوښتنپاڼې وېشل، د دې پوښتنپاڼو ټولول او د مهالوېش پر بنسټ د هغو تحلیل او ارزونه، د وړاندیزونو ټولول، د ټاکل شوي نصاب د هر مضمون په تړاو په فردي توګه د محصلینو شکایتونه او وړاندیزونه اورېدل، هغو استادانو ته د مکتوبونو لېږل چې د غیر موجه دلیلونو له امله یې خپل نصاب نه وي بشپړ کړی، د خپلو فعالیتونو راپور جوړول او هغه د محصلانو چارو مرستیالیت ته لېږل، چې دغه مرستیالیت یې پر بنسټ نور اجرات وکړي او د پوهنتون علمي مرستیال ته یې ولېږي.

**د مشاور او اروايي درملنې مرکز**

د مشاورې او اروايي درملنې مرکز چې د کابل پوهنتون په شمال لویدیځه برخه کې د هلکانو لیلیې شاته پروت دی، د ۱۳۹۸هـ ل د ورې پر یوولسمه پرانیستل شو. نوموړی مرکز د لوړو زده کړو د پرمختیایي پرګروامو HEDP په واسطه د نړیوال بانک له پروژو څخه پرانیستل شو. له اداري او تشکیلاتي پلوه د کابل پوهنتون د محصلینو چارو معاونیت د محصلینو چارو د امریت تر لاس

لاندې دی، خو له علمي پلوه د ارواپوهنې او روزنیزو علومو له پوهنځي سره په ګډه خپلې چارې پرمخ بیایي. د نوموړي مزکر موخې په لویه کې پر درېو برخو وېشل ش وي دي.

۱- د کابل پوهنتون محصلینو ته د اروایي ستونزو پر مهال سلا مشورې وکول، له محصلینو سره د هغو د ژوند د کچې په لوړاوي او ستونزو ( د کار، زده کړو، کورنیو ستونزو، ودونو او ...)، ډیپریشن او نورو ټولنیزو کاواکیو په حل کې مرسته

۲- له محصلینو سره د هغوی د کړو وړ، اروایي ظرفیت لوړونې، له نشه ییزو له زیانونو څخه د خبرونې او پر وړاندې یې له مبارزې او نورې د مسلکي مهارتونو د پروګرامونو تنظیمونه.

۳-د ارواپوهنې پوهنځي محصلینو ته د عملي چارو، جلسو جوړونې، د اروایي ستونزو پر مهال د وړاندې کېدونکیو خدماتو په اړه معلومات ورکول.

دا مرکز هره ورځ د سهار له اتو د مازیګر تر پنځو بجو پورې د محصلینو پر مخ پرانیستی وی. محصلین کولای شي چې له هره پلوه د یوه خوندي چاپېریال په توګه پکې خپلې ستونزې له اروایي مشاورینو سره شریکې او په اړه یې علمي مشورې ترلاسه کړي.

### د څېړنو او پالیسی ملي مرکز

د څېړنو او پالیسی ملي مرکز د کنراډ اډناور جرمني بنسټ لخوا د کابل پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت په مرسته پر ۲۰۰۳ م کال تاسیس شو. نوموړی مرکز د حقوقو او سیاسي علومو، اقتصادی او ټولنیزو علومو، سولې او د شخړو دحل درې ډیپارټمنټونه لري، چې په ټول هېواد کې یې نړیوالو تجربو په رڼا کې د متخصصینو د افکارو او تجربو د شرېکونې په برخه کې بېلابېلې پروژې، سمنیارونه، سمپوزیمونه، ګردي مېزونه او کانفرنسونه جوړ کړي دي.

د څېړنو او پالیسی ملي مرکز د هېواد په کچه لومړی مرکز دی چې د استادانو او محصلینو تر منځ یې د علمي څېړنو نوی څېړندود معرفي کړ.، دې مرکز د هېواد د کورنیو بېلابېلو مسالو په اړه نظر سنجی هم کړي دی. د دې مرکز رییس او د ډیپارټمنټونو امران د کابل پوهنتون استادان دي.

د څېړنو او پالیسی ملي مرکز له ۱۳۹۸ هـ ل کال راهسې په نړیوالو ژورنالونو کې د مقالو د خپراوي په موخه په کابل او ولایتونو کې استادانو او محصلینو ته اته روزنیز ورکشاپونه دایر کړي دي، چې تر سل ډېرو استادانو پکې ګډون کړی و.

# په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز(ACKU)

**بنسټي موخې**

- د فرهنګي خدمتونو تبادله، د مطالعې د فرهنګ دودونه او د څېړنیزو اسانتیاو برابرونه.
- د سکن او ډیجیټل خدمتونو له لارې په کور دننه او بهر افغانانو ته د ټول چاپي او برېښنایي خپرونو( د ورځپاڼو کلیکسیونونو، جریدو، مجلو، پوسټرونو، نقشو، انځورونو، د سروې ګانو پایلو) او غږیزو، انځوریزو رسنیو او هغو مؤسسو کارونو وړاندې کونه چې د افغانستان لپاره په دې برخه کې کار کوي.
- افغانانو ته د عامه پوهانو او روزنیز خدمتونو وړاندې کول.
- د کتابتونو تاسیس او غښتلي کونه
- د مطالعې د فرهنګ دودونه
- د ادبي و کلتوري، علمي و څېړنیزو او د خبرو اترو او بحثونو لپاره د کورسونو، ورکشاپونو او سمینارونو جوړونه
- د ملت جوړونې، پرمختګ، ثبات، د سولې د ټینګښت او زغم په لار کې د پوهانو، څېړونکیو او کارپوهانو د نظرونو د تبادلې
- اسانچاري

دا مرکز د ۱۳۹۲هـ ل د ورې پر اوومه پرانیستل شو.

په دې مرکز کې دا مهال پر پرمختللیو ډیجیټلي وسایلو سربېره تر ۱۷۰ زرو ریات چاپي او برېښنایي اثار پراته دي چې د افغانستان له بډایو مرکزونو څخه شمېرل کېږي. زیاتره اثار یې په پښتو، دري او انګریزې ژبو دي. دا اثار له دولتي ادارو، د ملګرو ملتونو له ادارې، نادولتي ادارو، نړیوالو څارونکیو او کورنیو او بهرینو څېړونکیو څخه راټول شوي دي، چې غوښنه برخه یې د افغانستان په روغتیایي، کرنیزو، د بشري حقونو، قوانینو ټولګې، د جهاد د مهال مطبوعات او نور کلتوري میراثونه دي.

دا مرکز په څلورو برخو کې کار کوي.

- د کتابونو را ټولونه ا و د افغانستان د معلوماتو د مرکز د کلیکسیونو بډاینه
- د خپرونو او (ABLE)کتابتونو پراختیا
- علمي او څېړنیزو اسانتیاو برابرونه
- د کلتوري کانفرنسونو او سمینارونو جوړونه

**کتابتون**

د څه باندې ۱۷۰ زره اثارو پر ساتنې، ډلبندۍ او تنظیم سربېره په پرله پسې ډول د نویو خپرېدونکیو اثارو لړلیک جوړونه دې مرکز په کارونو کې راځي. دا مرکز له کورنیو او بهرنیو بازارونو څخه مونوګرافونه، کلیکسیونونه او نور څېړنیز اثار هم ترلاسه کوي، سره له دې چې زیاتره اثار ورته د بېلابېلو مراجعو څخه ډالۍ کېږي، ټول راټول شوي اثار د امریکا د کانګرس د کتابتون په طریقه په لړلیک کې شامل او تنظمیږې. دا ټولې چارې د د انګلو امریکن معیاري سیستم له لارې ترسره کېږی. چې ټولو ت لاسرسی د دې اډرس(/www.acku.edu.af.) له لارې ممکن دی. پر دې سربېره د انځورنو ارشیف، د چاپي خپرونو ډیجیټلونه او له محصلینو، څېړونکیو او نورو مراجعه کوونکیو لپاره د مطالې او څېړنې ځانګړنې خونې هم لري

**وړ/ABLE**

د کتابونو د خپراوي، دکتابتونو د تاسیس او د مطالعې د فرهنګ د دودونې په موخ د افغانستان د معلوماتو د مرکز «وړ» پروګرام لومړی ځل د ۱۳۷۵ هـ ل د تلې له نهمې/ ۱۹۹۶میلادي د اکتوبر پر لومړۍ په ټول هېواد کې پیل شو. «وړ»کتابتونو د ځایي خلکو ښوونکیو، هټۍ والو او سپین ږیرو له خوا اداره کېدل. په دې کې د بېلابېلو علمي، ادبي، ټولنیزو چارو، روغتیا، سوداګرۍ، کسب

د زده کړې، کرنې، تاریخ، د کورنیو چارو، چاپېریال ساتنې او ښوونې روزنې اړوند کتابونه شامل دي. وړ کتابتون هر کال د همدې مرکز له خوا غني کېږي او نور کتابونه پرې ور زیاتېږي.

**څېړنیز واحد**

د افغانستان د معلوماتو په مرکز کې د څېړنېز واحد د رامنځته کېدا موخه دا ده چې د دې مرکز په کتابتون کې له پرتو علمي اثارو کې څخه پوهانو او څېړوننکیو ته د څېړنو لپاره د استفادې اسانتیاوې برابرې شي. د دې مرکز مهم هدف په افغانستان کې د څېړنې حالت ښه کول دي په دې ډول چې په ملي او نړیوالو ژبو څېړنې وشي او د کورنیو او بهرنیو څېړونکیو د لاسرسي وړ شي. د افغانستان د معلوماتو د مرکز د څېړنیز واحد دې موخې د ترلاسي لپاره دا موخې پالي.

- دا مرکز په د افغان ټولنې د کلتور، سیاست، اقتصاد او... په برخو کې د علمي- څېړنیزو سمینارونو او بحثونو کوربه توب کوي او ورسره ورسره د دکورنیو او بهرنیو څېړونکیو نویو موندونو ته هرکلی وایي.
- د معیاري څېړنو او د ځوانو څېړونکیو د وړتیا لوړونې په موخه هڅه کوي چې د مرکز له سرچینو د استفادې لارسازي وکړي.
- په څېړنیزه برخه د کورنیو او بهرنیو څېړونکیو د یوه نیټ ورک رامځته کول.
- د افغانستان د معلوماتو د مرکز څېړنیز واحد دا ټولکي او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

- انتقادي مطالعه
- د کمي او کیفي څېړندود
- د سناد تحلیل
- د افغانستان د معلوماتو په مرکز کې له پرتو سرچینو سره بلدتیا پر دې سربېره د افغانستان د معلوماتو مرکز د څېړنو او سمنیارونو لپاره د مېلمنو څېړونکیو هرکلی هم کوي او د څېړنې لارسازي ورته کوي.

**ارتباطات**

د افغانستان د معلوماتو د مرکز د ارتباطاتو برخه د افغان ټولنې سیاست، کلتور، اقتصاد او... برخو کې د علمي بحثونو کوربه توب هم کوي. په دې برخه کې ویناوالي، ملي او نړیوال کانفرنسونه، روزنیز ورکشاپونه، د انځوریز نندارتونونه او کلتوري بحثونه جوړوي. د دې پروګرامونو موخه د افغانستان د معلوماتي مرکز د اطلاعاتي سرچینو او د افغانستان په د کورنیو او نړیوالو څېړونکیو او هنرمندانو د اثارو معرفي ده.